# حضرت باچاخان
# ژوند او فلسفه

لیک :- ایکنات سوارن

ترجمه :- غني خټک

# حضرت باچاخان

# ژوند او فلسفه

لیک :- ایکنات سوارن

ترجمه :- غني خټک

ټول حقونه محفوظ ساتلي شــي

دکتاب نوم          حضرت باچاخانُ ژوند اوفلسفه

رومبنې اشاعت          کال ۱۹۹۳ء

شمیر          یو زر (۱۰۰۰)

کاتب .          شمس العارفین عارف

پرنسټو

چاپ کوونکي اداره :          پښتوادبي سوسائټي.اسلام آباد
(رجسټرډ)

دملاویدو درک .          ۵۶۰ - بي - جي۔۳۔۱ / ۷ اسلام آباد
560-B-G-7/3-1

قیمت ۷۰ روپلے

د محترم ډاکټر حبیب الله رفیع به ډرناري کې

20/3/94

# فهرست عنوانات


| صفحه نمبر | عنوان | نمبر شمار |
|---|---|---|
| ۱ | پس منظر او پیش منظر | ۱ |
| ۲۰ | پېژند ګلو | ۲ |
| ۴۰ | جشن | ۳ |
| ۵۵ | ایسټ انډیا کمپنی او په هندوستان د انګریزانو قبضه | ۴ |
| ۷۷ | د تیراه د وادۍ تباهي | ۵ |
| ۹۹ | ګائیډز کښې د کمیشن پیشکش | ۶ |
| ۱۱۳ | بهادر او غضب ناک پښتون | ۷ |
| ۱۳۸ | د باچاخان ارمان | ۸ |
| ۱۶۳ | اې پښتنو تا سو ته وائیم | ۹ |
| ۱۷۷ | د پښتون د ژوند هنداره | ۱۰ |
| ۱۹۳ | پښتون او د خدائي خدمتګار فلسفه | ۱۱ |
| ۲۲۳ | د قیصه خوانی شهیدان | ۱۲ |
| ۲۵۵ | مهذب څوک دي۔ انګریز که پښتون؟ | ۱۳ |
| ۲۷۵ | حضرت باچاخان او د بنګال مسلمانان | ۱۴ |
| ۲۹۶ | دوه ګاندهیان، دوه شخصیتونه، دوه ملګري یو فلسفه | ۱۵ |
| ۳۲۷ | د باچاخان د جدوجهد نتیجه | ۱۶ |
| ۳۶۶ | د حضرت باچاخان سره دوه نیمې ګهنټې | ۱۷ |

# انتساب

د خپل مرحوم پلار عبدالغفورخان

په نوم

چې یو دروند پښتون، یو ځلنده

مینه ناک او رنګیز بنیادم ؤ.

# پوهنه کرښې

علم او زده کړه له یو بل څخه لاس ته راځي او د دې د حاصلولو هم بیلې بیلې ذرائع وي چې په کښې یوه اهمه ذریعه پر دې ارزښت لرونکي تصنیفات د استفادې حاصلولو په غرض خپلې مورنۍ ژبې ته راړول وي. چې داسې بیا عام وګړي استفاده ادکتړه ترې حاصله کاندي.

په پښتو ژبه کښې که له یوې خوا نثري لیک چندانې پریمانه نهٔ دي نو له بلې خوا بیا د بهرنۍ ژبې ارزښت لرونکي تصانیف مورنۍ ژبې ته راړولو پام لرنه هم چندانې په زړهٔ پورې نه ده. خو د علم، معلومات، ودې او استفادې حاصلولو تقاضا دا چې د هرې بهرنۍ ژبې لیک له کوم څخه چې استفاده او وده لاس ته راځي. باید چې مورنۍ ژبې ته را واړول شي چې د عام وګړي په علم، مطالعه او معلوماتو کښې له اضافه علاوه استفاده هم ور حاصله شي.

د ستر او درومند باچا خان ځلانده او روښانه شخصیّت نه خوله پښتنو پټه دې او نه له بهرنو البته حیف له دې د باچا خان د حق ادائیني او ذمه واری چې څومره په ځپله په پښتنو پرېوځي. نو د دې ادائنه لکه څنګه چې په کار دو هم هغسې په زړه پورې نه ده ځکه چې په کار وُو او دې چې دَ باچا خان په هکله تصانیف په مورنۍ ژبه کښې د هر پښتون په کورکښې نه یوائې د عقیدت په توګه بلکې د استفادې حاصلولو په غرض هم پرانه وای.

لکه څنګه چې تخلیقي او تحقیقي ګران کارونه دي نو دغه راز ژباړه کول هم څه آسان کار نه دې له یوې خوا که یو پردې د امریکې او سپیدونکې ښاغلی ایکنات سوارن د ستر او درونډ باچا خان په حیث " د غره هومره د ټک انسان" سپیځلي او ځلانده شخصیّت په رښتني اړخ ګوتې پورې کړې دي نو له بلې خوائې بیا د قلم د حقیقي حیثیّت ادائینه هم کړې ده.

هم دغه راز په هم دې ترخ کښې ښاغلي عبدالغني خان خټک بیا له یوې خوا نه یوازې

مصنف د پېرزوینې د احترام د حق ادائېدنه وکړه بلکې له بلې خوا یې له ستر باچا خان سره د خپلې مینې او عقیدت فریضه هم ترسره کړه هیله کړم چې پښتانه به د نیاغلي ایکناث سوارن د زیار... د ستر مشر باچا خان د مبارز او بناغلي عبدالغني خان خټک له پېرزوینې استفاده حاصله کاندي.

په درناوي
عبدالفتح پښتون
۲۳ رمئی ۱۹۹۳ء

○ ○

# یو (تاریخي) اقدام

محترم عبدالغني خان خټک صاحب زما یو ښه ملګری دې د یوې لارې لارروي څه چې لیوني یو زړه هم د خټک صاحب په تحریک پښتون ورور ولي نومې تنظیم کښې ودګلو شوې ووم. ډېره موده مو یوځائې د اسلام آباد د پښتنو په ډیره اوره ورځني "هیواد" او ورځ پانه "وحدت" ګرځولې دې. د پښتو ادبي سوسائټۍ اسلام آباد د قیام او استحکام د پاره هم مونږ یوځائې اووه کاله هلې ځلې کړې دي.

د ملګری غني خان د شخصیت په شان د هغه لیکونه هم سپیځلي او ساهو دی. هغه د پښتو او پښتنو د ودې او ترقۍ د پاره عملي او صحي هلې ځلې کوي. هم د دې مقصد د تر سره کولو د پاره هغه وخت په اردو پښتو او انګریزۍ کښې لیکل کړي دي. د هغه د نورو لیکولو پشان دا لیک هم ما د بلوڅې کراچۍ په مختلفو کښو کښې ښتې وو. خټک صاحب چې د کوم کتاب ترجمه کړې

ده دا په علمي ادبي او سياسي حلقو کښې ډير مشهور او معروف دي په پښتو کښې دَ دې ترجمه کول په خپله يو تاريخي اقدام دې. ژوندۍ ژبې تل پخپله سينه کښې د نورو ژبو تورو له ځائې ورکوي هم په دې اساس ځان ژوندې ساتي. پښتو هم يو ژوندۍ ژبه ده. په خپل ماحول کښې نورو ژبو ته ځائې ورکولو صلاحيت هم لري. هم دَ ترجمو سره دَ دوه ژبو کلچر يو شي او چې په کومه ژبه کښې ترجمه کيږي هغه ډيره وده مومي.

محترم ختک صاحب دا کار او زيار دَ قدر وړ او ستائينې جوګه دې. زهٔ هيله لرم چې پښتانهٔ به دا کتاب دَ زړهٔ په مينه واخلي او ژورهٔ لوسته به پې وکړي. او دَ خپل قامي رهبر باچا خان دَ ژوند او فلسفې نه به ځان خبر کړي. او نوې سباوُن ته به ځان په علمي توګه تيار کړي او په محترم ختک صاحب به روحانې خوشحالي پيرزو کړي. چې د هغه جذبې تاندې او حوصلې هسکې شي او د دې روسنو هغه ليکو نه له ترتيب ورکړي چې دوه په انګريزه کښې وخت په وخت ليکلي دي.

زۀ د خټک صاحب دا اقدام تاریخي د قدرور او ستائنې جوګه ګڼم او مبارکي ورته وایم او د هغه د خوشحاله ژوند د پاره لاس په دعا یم

اقبال حسین افکار

۱۰ر جون ۱۹۹۳ء

اسلام آباد

# مزل او منزل

د جون میاشت او د ۱۹۱۲ء کال د برصغیر دَ مسلمانانو په تاریخ کښې یو خاص مقام لري ځکه چې هم په دغه نیته مولانا ابوالکلام آزاد دَ مسلمانانو د بیدارئ په لړ کښې د خپلې رسالې "الهلال" اجراً کړې وه. تر دغې وخته پورې د مسلمانانو عمومي مزاج د سر سید احمد خان د فکر لاندې دَ انګریزانو په باره کښې مصالحانه وُو. خو په پښتونخوا کښې حالات داسې نه وُو. ځکه چې د لته څو کاله اګاهو د ترنګزو حاجي صاحب خپلې هلې ځلې شروع کړې وې او ستر زور شوی او د جنګ آزادئ لوئ جنګیال باچا خان دوئ سره په ۱۹۱۱ء کښې ملګرې شوې وُو. د لته کښې زما اراده د باچا خان په ژوند او جد و جهد د یو بېل مضمون نه ده ځکه چې دا هر څه به تاسو نه په دې کتاب کښې ملاوُ شي. خو یو څو خبرې درته ضرور

# ل

**کول** غوارم چې د کتاب د مطالعې په وخت ناسو ته وړاندې وي. د کتاب ترجمه نګار په خپله یو عملي سړې دې. د ذیات مصروفیّت او محدودو وسیلو باوجود دهٔ دَ پښتون د رونیانه منتقبل شمع بله کړې ده که هرڅومره د نیا یې تنه ده خو دې پرې کله دَ اُمید او کله دَ حوصلې تیل واچه وي. او دغې نک تور چار پیر چل رونیانه کړي. بل خوا چې په چا کتاب لیکلې شوې دې هغه هم د استقامت او عمل یو غرور. هغه په خپله وائی" زهٔ په هر خدائې خدمتګار کښې یقین، عزم او عمل لیدل غوارم" دا غوښتنه نن هم د هر پښتون نه کیږي ځکه چې د باچا خان د پښتنو د ټکالیو او یو والي خوب لا هغسې بې تعبیره دې.

د برصغیر په تاریخ کښې خو دهٔ ته د اوږد سیاسي جدو جهد اعزاز حاصل وُو. خو دا منفرد اعزاز هم دَ دهٔ په قسمت کښې لیکلې وو. چې په خپله مړینې هم پښتون قام ته خپل مقصد وریادکړو. او په خپله جنازه یې د لر او بر پښتنا نهٔ

را غونډ کړل. اوس به دا خوارۀ وارۀ او ترمې ترمې پښتانه کله یو موټی کیږي. دا د باچاخان ارمان وُو او دا لا هغسې نیمګړې پروت دې. دَ کتاب دَ مطالعې دوران کښې دې دا خبره ښاسو پيښې نظر وي چې پښتون قام ته دې منزل نه رسيدلي دي او دوئ ته دا منزل په سر پروت دې که هر څو مره لاره اغزنه ده یا نښې نښانې ښې تتې دي. یا کله زمونږ د څنې ملګرو ساه. ښې ساه شي. خو راځه چې د کلکه اراده اوکړو چې دا منزل به مونږ په ډيره مړانه او استقامت په دې اُمید کوُو چې رانلونکې وخت زمونږ ه دې. انشاء الله.

انجنيئرجان نثار

# پس منظر او پیش منظر

بسم الله الرحمن الرحیم

لکه څنګه چې د کتاب د نوم "حضرت باچاخان ژوند او فلسفه" نه ښکاره ده دا کتاب په اصل کښې د هغه حالاتو او واقعاتو یو تاریخ دې، د کومو ترڅه چې انګریزان برصغیر ته را ورسیدل او د وخت تیریدو سره سره د سوداګرانو نه حکمرانانو کښې بدل شول او بیا چې کله د برصغیر په اسنوګنو کښې د غلامۍ نه د مرګه خلاصولو احساس را پیدا شو او دې لړ کښې ئې د آزادۍ کوم تحریک شورو کړو. دې تحریک کښې د حضرت باچاخان په کردار رڼا اچول شویده. اګرچې دا تفصیلي تاریخ نه دې د تاریخ یو آوټ لائن دې، یوه خاکه ده څو دومره پراخه ده چې لوستونکي ترنه ډیر څه زده کولې شي.

د دې کتاب د لوستونه مونږ دا نتیجه اخذ کولې شو چې حضرت باچاخان یو داسې وخت کښې د پښتون اولس د منظم کولو کوشش اوکړو کله چې انګریزي واکدار د پښتون اولس د تنظیم او د سپلن سخت خلاف وو ولې چې انګریزي واکدار د اولسي تنظیم د قوت او دې

قوت کښې دَ دوئ واک اختیار او اقتدار ته د پښو خطره نه ښه خبر وُو۔ موږ دا ګورو چې دَ حضرت باچا خان د مشرۍ لاندې پښتون وګړي د برصغیر په آزادۍ کښې یو فیصله کن کردار ادا کوي.

زۀ دا ګڼم چې ښاغلي ایکنات سوارن په رومبنۍ وار ښه په ایماندارۍ سره د برصغیر د آزادۍ په تحریک کښې د حضرت باچا خان او دَ پښتون دَ کردار ستائنه کړې ده۔ لکه څنګه چې د دې کتاب د مطالعې نه موږ ته دا معلومیږي چې ښاغلي ایکنات سوارن د اعلیٰ درجې هندو دانشور دې او د آزادۍ د تحریک او دې تحریک کښې د شاملو کردارونو مطالعه هغه ډیره دَ نزدې نه کړې ده او په دا وجه د هغه رائې یو سند لري۔ او د احترام جوګه ده۔ دا په پښتون د ښاغلي ایکنات سوارن یو احسان دې چې ډیر پټ اړخونه ئې را ورانده کړي دي او بیا په تیره تیره ئې دَ باچاخان د ژوند او جد وجهد قیصې په داسې خونده ور ډول بیان کړې ده چې په خپله پښتون دانشور او لیکوال او سه پورې داسې کامیاب کوشش نه دې کړې۔ دا کتاب پښتون لیکوال ته دا بلنه ورکوي چې دې هم داسې تحقیقي

کارونو ته لاس واچوي او دَ پښتون د تاریخ په لړکښې د پښتنو مشرانو په کردار او د تاریخي واقعاتو او پيښو نه پلو پورته کړی.

اوسه پورې چې د پښتون اولس څومره هم تاریخي پلټنه شوې ده دې کښې دیر کردار هغه خلکو ادا کړې دې چې د پښتون سره يې قدم په قدم دښمني کړېده د پښتون حق يې خوړلې دې. او نن چې پښتون ـــ دَ يو پلار نيکه اولاد په خپله ځمکه د بې بسۍ حالت کښې ترمې ترمې پروت دې دا د هغه خلکو دَ انتقامي سیاست او کاروايو نتيجه ده.

انګريز دعوی لري چې ټوله نړۍ کښې دا ذیات مهذب قام دې. انګريز واکدار به هغه وخت هم دا وئيل او نن هم دا وائي چې موږ غلام اُلسونو ته دَ ژوند تيرولو چل ښودلې دې. نن وخت دا خبره ثابته کړې ده چې څوک د چا حقونه خوري هغوی مهذبه نه شي کیدې. بناغلي ايکنات سوارن دا حقیقت په ګوته کړې دې چې.انګريز د پښتون خلاف کومې وحشيانه کاروائۍ کړي دي هغه د يو مهذب قام کاروايۍ نشي کيدې.دهٔ دا خبره ثابته کړې ده چې پښتون د انګريز نه زيات مهذ به دې. د تيراه په وادۍ کښې چې انګريزانو

کومې ورانکارۍ کړې دي دَ هغوی له کبله مونږ دا نه شو وئیلې چې انګریز کښې څه سړېنوب یا انسانیت هم شته دوی د خپل واک او اختیار او اقتدار لپاره غزولو دپاره هر جرم جائز او روا اوګڼلو. مونږ په دې خبره ویاړو چې مونږ دَ دوی لمن سورۍ سوړې کړه ـ او انګریز خپله هم دا حقیقت تسلیموي.

د دې کتاب بل اړخ دَ دې دا پښتو ترجمه وه چې مونږ بې لولو. آیا ژباړن بنه ترجمه کړې وه او که نیمګړې وه دا دَ لیکوالو او دانشورانو کار دې چې په تول بې وتلي او رائې بې قائمه کړي. څما خپل خیال دې چې همیشه یو کار کښې د نور ښه کیدو ګنجائش موجود وي. بیا غلي ژباړن هم د ترجمې دا ګران او مشکل کار محض دقامي جذبې لاندې کړې دې چې پښتون وکړې د خپل زور قوت او توان یو جهلک اوویني او دې تر نه خپله هم څه توانائي حاصله کړي. او د لیکوال دا جذبه هم څما په نزد د ستائنې وړ ده چې پښتو ژبه کښې د یو معیاري او مقصدي کتاب اضافه اُکړې شي. د دې په لوستو به ډېر لوستونکي په دې نتیجه را ورسي چې ترجمه کوونکې ښه کافي حد پورې په خپل دې مقصد کښې کامیاب شوې دې.

دا به نامناسبه نه وي که په دې موقع زه دَ پښتو ژبې شاعرانو او ليکوالو او دانشورانو په حفله ځنې او وائيم دې حقيقت کښې دَ دوئمې خبرې ګنجائش نشته چې نن پښتو ژبه په کوم مقام ولاړه ده. دا ښه مقام دې يا بد، لوړ مقام دې يا پست دا مقام دې نه شاعرانو او ليکوالو ور بخښلې دې دا د شاعرانو او ليکوالو دَ جدوجهد نتيجه ده چې نن پښتو ژبه ژوندۍ ده او دَ ودې کولو او نور پر مختګ ښه پراخه امکانات يې ځان له زيږولي دي.

دَ پښتو ژبې بدقسمتي دا ده چې دا چرته سرکاري ژبه نه ده پاتې. افغانستان کښې دې نه کال نولس سوه دوه ديرشم درې ديرشم کښې هغه وخت سرکاري سرپرستي حاصله شوه چې دَ افغانستان سرکاري او دفتري ژبه اوګرځولې شوه.

په مجموعي توګه پښتون د مودو راسې دومره دَ دباؤ لاندې پاتې شوي دې چې د خپلې ژبې نه په منظم توګه ودې ورنکړې شوه. د کال نولس سوه اوه څلويښتم نه پس کله چې پاکستان په وجود کښې راغلو. پښتو ژبه ارادتاً په دې غرض نظر انداز کړې شوه. چې دا د خلکو هيره شي او داسې پاليسي اختيار کړې شوې چې پښتون د خپلې مورنۍ ژبې په حواله سره دکمترۍ په احساس کښې مبتلا کړې شو. دا هغه دکمترۍ د احساس نتيجه ده چې لوستي کسان

چې وکیلان، استاذان، ډاکټران، سرکاري افسران کلرکان د کالجونو او یونیورسټو ځلمي طالب علمان او په صوبائي او مرکزي سطح دَ پاکستان په سیاست کښې بوخت سیاستدانان او د صوبائي او قومي اسمبلو غړي د پښتو د لیک لوست نه تر ډیره حده نابلد پاتې شول ـ داسې

دُ پښتو ژبې په حواله د هغوی احساسات مړه شول ـ کله چې د یو قام لوستي وګړي د مجبورۍ دې حالت ته راورسي دَ هغه قام پوره وجود په خطره کښې پریوځي.

داسې دَ مایوسه حالاتو کښې زموږ ه شاعرانو او لیکوالو دَ پښتو ژبې بیرغ اوچت ساتلې. دا څه کمه کارنامه نه ده. دې شاعرانو او لیکوالو خپلې شاعرۍ کښې یوازې دَ یار زلفې نه دي ستائیلي دوی دَ قامي غیرت د ژوندي ساتلو کار هم کړې دې. چونکه زموږ شاعران اکثر نثر هم لیکي په دا وجه زهٔ دا ضرورت محسوسوم چې دَ دوی پام پښتو ژبه کښې د نثر په لور راواړوم ولې چې د یوې ژبې دَ اوچت معیار او پست معیار تعیّن دَ دې ژبې د نثري پنګې په بنیاد کولې شي. ضرورت د دې خبرې دې چې زموږ لیکوال د سائنس، معاشیات، سیاسیات، نفسیات او تاریخ او په نورو موضوعاتو قلم اوچت کړي او دې سره سره د پښتون د ژوند ژواک کره کتنه په دې غرض اوکړي

.چې د نړۍ اولس ته دَ پښتون اصلي مخ اُښودلی شي.
ولې چې غیر پښتون لیکوال د همیشه راسې زمونږ په
بابله سګینې غلط فهمۍ پیدا کړې دي. او مونږ بې د یو
غیر معیاري او وحشي قام او وحشي په حیث متعارف کوي.
بل دَ دې کتاب په حواله زۀ دَ ځنه لیکوالو او شاعرانو
د دې خبرې سره اتفاق نه کوم چې، مونږ غیر سیاسي
یو" پښتون شاعر او لیکوال د همیشه راسې قامي او سیاسي تحریکونو
کښې سرګرم پاتې شوې دې او د قام د راهنمایۍ کار بې
کړې دې دؤمره که تې دا موقف اختیار کړي چې مونږ غیر
سیاسي یو نو د پښتون وګړي د راهنمایۍ کار به څوک کوي؟
آیا د یو شاعر بقول دا هغه کیفیت خو نه دې.

*تھا جو ناخوب تبدریج وہی خوب ہوا*
*کہ غلامی میں بدل جاتا ہے قوموں کا مزاج*

دا خبره خو ذهن مني چې یوه ټولنه یا یو شاعر یا ادبي
شخصیّت د چا سیاسي مشر یا سیاسي ګوند طرف داره نه وي
او د سیاسي چارو په حقله خپل یو آزاد فکر لري ولې دا
څنګه کیدې شي چې د قام تر ټولو ستر که وره طبقه دې
د سیاسي عمل او د زمانې د سیاسیاتو نه بیخي غیر جانبداره
پاتې شي.دا خو د قام د ذهن مرګ دې. په دې وجه زۀ
دا ضروري ګڼم چې دا د یو شاعر او لیکوال قامي فرض

جوړېږي چې د ټولي چارو په حقله د پښتون وګړي پوهه زیاته کړي.

موږ ته چرې هم دا حقیقت نه دی هېرول په کار چې پښتون د غیر موافق سیاسي حالاتو له کبله ډېرو بدو حالاتو کښې ګیر دی. پښتون چې نن څومره د بدې بسی حالاتو کښې ایښې دی داسې چرې هم نه وو. دا د شاعرانو لیکوالو دانشورانو او لوستي ټولو فرض جوړیږي چې د پښتون د بنه کیدو او د دې بدو حالاتو نه د ایستلو فکر اوکړي.

د بناغلي رحمت شاه سائل د وینا مطابق :-

ع دا وګړې په وجود څومره غني دې
خو په برخه جوارګر دې تاواني دې
نار تار پروت دې چا راټول نکړو سائیله
د پښتون وطن ګرېوان د لیوني دې

د پښتون وطن ګرېوان کله د لیوني ګرېوان شو؟ د پښتون وطن ګرېوان هله ریښې ریښې شو کله چې د افغانستان د پښتو حکمرانانو امیر دوست محمد او شاه شجاع ترمېنځه د ټولسي صدۍ په دریمې دهائۍ کښې د اقتدار جنګ د پنجاب حکمران رنجیت سنګه ته په پېښور د قبضې کولو موقع په لاس ورکړه.

دغه موده کښې بین الاقوامي سیاسي رسه کشي کښې افغانستان

دُ خپل کمزوري سیاسي او معاشي حالاتو په وجه د خپل یووالي او استحکام دفاع اُ نکړې شوه - او د انګرېز سامراج د لاسه په کال اتلس سوه دري نوي کښې دَ پښتون د تاریخي وحدت په سینه د ډیورنډ کرښه را ښکلې شوه او پښتون قام ټوټې ټوټې کړې شو- نن هم پښتون په څلورو ټوټو کښې تقسیم کړې پروت دې یعنې دَ افغانستان مملکت (۲) قبائلي سیمې (۳) جنوبي پښتونخوا او شمالي پښتونخوا-

د انګریزانو او روسانو تر منځه چې نولسمې او دَ شلمې صدۍ څلورمې د هاى پورې کوم جنګ شوې چې دَ "ګریټ ګیم" په نامه یادیږي دې دور کښې چې افغان اولس څومره بې بسه وو دَ هغې نه هم ډیر زیات بې بسه نن دې ـ نن چې کوم ناموته په یو ویشتمې صدۍ کښې په فخر او ویاړ سره د قدم کېښودلو ارادې لري پښتون نن هم مات کوډ دې او د پښتون سیمې نه دَ درد، غم، بې بسۍ چغې اوریدې شي او د بدو حالاتو یو زړه چاوډونکي تصویر پیش کوي د تیرو څوارلسو کلونو راسې د افغان جنګ او د بین الاقوامي سازشونو په نتیجه کښې افغان پخپله د افغان ملا ماته کړیده افغانستان د یو آزاد مملکت په حیث په مکمل ډول تباه شوې دې دَ دې سیاسي، معاشي او اولسي اداره را نړیدلې ده دَ اپریل ۱۹۹۲ء راسې د بناغلي ډاکټر نجیب د حکومت

د دا نسکوریدو نه پس د افغانستان د آزادۍ د پاره جنګیدونکي مجاهدین په خپلو کښې لاس په ګریوان دي. او د افغانستان په خاوره د ماشومانو، نورسرو، سپین ږیرو او ځلمو وینه بې دریغه بې ځایه بهولې شي.

د افغانستان د تباهۍ او بربادۍ اثرات د دې په نتیجه کښې د سیاسي زوال، معاشي او اقتصادي بربادتیا اثرات نیغ په نیغه د پاکستان په پښتون را پریوتي دي. او د افغان اولس ـ لر او بر ټول سیاسي، اقتصادي او اولسي نفسیات دَ یوې خونړیه تباهۍ سره مخ دي. ن افغانان برباد هم دي او حیران هم ـ د افغان اولس دَ دوباره تعمیر او دَ دوی دوباره وحدت هسه به د کوم ځایځنه شورو کولې شي او څنګه دا کار ممکن کیدې شي. دا هغه سوالونه دي چې زمونږ نه جواب غواړي. پښتون به څو پورې تیاړو کښې پروت وي؟ او دَ ده ګریوان به څو پورې شلیدلې دې؟ سوال دا دې چې څو پورې دې داسې تار تار پروت وي نو دې څه مستقبل لري؟ دې د خپل وجود دفاع کولې شي؟ د پاکستان په خاوره په یوه څمکه د پلار نیکه اولاد پښتون په دریو ټوټو کښې ولې څه جواز لري؟ او د لر او بر پښتون ترمینځه شلید لې ترون به څنګه بحال کولې شي؟

دا داسې سوالونه دي چې دَ ټولو باشعوره پښتنو ته

جواب غواړي چې داسې د پښتون قام د دوباره احیا په عمل کښې اجتماعي او نړولیز شعور په کار را وسېږي شي — او دا حقیقت نن هم او د نن نه سل کاله پس هم او دَ همیشه همیشه د پاره ذهن کښې ساتل په کار دَه چې دَ یو قام احیا هله ممکن کیدې شي چې دې د خپل واک او اختیار خاوند وي او د خپلې ودې او پر مختګ په حقله د فیصلې کولو قوّت او اختیار لري۔ خپل تهذیب، ژبې، ادب او ثقافت نه وده ورکولې شي او که یو قام داسې نه شي کولې نو هغه آزاد قام نه شي بللې۔

دَ دې کتاب په رڼا کښې مونږ ګورو چې د نیادو هم داسې پس منظر کښې حضرت باچا خان پښتون ته د سیاسي شعور او پوهې ورکولو دَ کار ابتدا وکړه۔ دې غیر معمولي شخصیت د پښتون دې عظیم او تل تر تله دَ احترام جوګه مشر په داسې وخت کښې چې دَ فرنګي واکمن واک او اختیار ښه مضبوط وَو دَ پښتون د راویښولو سفر شورو کړو۔ دهٔ دا سفر دَ ژوند آخري لمحو پورې جاري اوساتلو۔

دې کتاب کښې چې ښاغلي ایکاف سوارن دَ حضرت باچا خان دَ ژوند کومه خاکه راکښلې دَه۔ دا د هغوئ د اوږد او سترې ستوماڼه جد وجهد یو پړق دې۔

حضرت باچا خان څه کړي دي او څه یې غوښتل، داتپوس

ډیر تفصیلي جواب غواړي. دا هم کیدې شي چې مونږ دې تفصیلي جواب کښې د هغه د شخصیّت سره انصاف ونکړې شو بیا هم چې کله مونږ دَ هغه د سیاسي جدو جهد جاج اخلو نو دا زمونږ فرض جوړیږي. چې د تنقید په شوق کښې دَ هغه ذات دَ بې ځایه تنقید ښکار نکړو.

د پښتون قام په نزدې تاریخ کښې ډیر ځلنده ستوري پیدا شوي. دَ مثال په توګه حضرت بایزید انصاري چې په پیر روښان مشهور دې، خوشحال خان خټک، دریا خان او ایمل خان، میرویس نیکه احمد شاه اَبدالی، حاجی ترنګزئی صنوبرحسین کاکاجی، فقیر ا پې، خان شهید عبدالصّمد خان ـــ دا ټول هغه شخصیتونه دي چې دخت په وخت بې پښتون دَ خوب نه را بیدار کړې دې ـــ دا د پښتونخوا په مختلفو سیمو کښې زیږولي دي. دا لوړ شخصیتونه دي او مونږ ښې ډیر په فخر سره د نړۍ د نورو قامونو د مشرانو سره مقابله کولې شو. دا دَ افسوس خبره ده چې دَ دې نوموړو او لوړو مشرانو دَ ژوند، جد و جهد او کارنامو تفصیلات اوس هم په تیارو کښې پرانه دي چې ژورو لټون او تحقیق غواړي.

د حضرت باچا خان د جد و جهد او د انګریز سره دَ ډغرې دهلو تیصه د لچسپه هم ده او عبرتناکه هم. دلچسپه په دې وجه چې ده په تش لاس د انګریز مقابله اُکړه او

عبرتناکه څکه چې دوانګریز ته ماتې ورکړه. د آزادۍ په تحریک کښې د دوی جد وجهد او د خدائي خدمتګارو قربانو یو نوې روح واچولو او د انګریز فخر او غرور ېې په خاورو کښې اولړلو.

د انګریز سره مقابله کول د دیوال سره ډغره وهل وو انګریز یو عیار، چالاک او طاقتور حکمران وو. دوی نه یواځې دا چې پښتون مفتوح کړي وُو بلکه د دوی قامي وحدت ېې ټکړې ټکړې کړې وو. چې د دوی مارشل قوت مات کړې شي. او د خپل قوت او سیاسي چالونو په ذریعه دوی پښتون د هندوستان په سیاست کښې راګیر کړې وُو حالانکه حقیقت دا دې چې د پښتون زمکه د هندوستان برخه نه ده. د پښتون خاوره ځان ته جدا تشخص لري دا د هندوستان او وسطي ایشیا په مینځ مینځ کښې ځانته بیله خاوره ده — پښتانهٔ هندوستانیان نه دي او نه په تاریخ کښې چرته هندوستانیان یاد شوي دي. د انګریز د راتلو نه اګاهو د پښتون تجارتي تړون همیشه شمال سره پاتې شوې دې. دې لړ کښې زهٔ د علامه اقبال د یو شعر حواله ورکول ضروري ګڼم وائي چې:

آسیا یک پیکر آب و گل است :: ملت افغان درآن پیکر دل است
از کشاد او کشاد آسیا :: از فساد او فساد آسیا

ایشیا د خاورې یو وجود دې. د دې وجود زړهٔ افغان

ملّت دي. که دا زړهٔ خوشحاله وي ټوله ایشیا به خوشحاله وي اوکه دلته فساد وي نو ټوله ایشیا کښې به فساد وي.

دَ ایشیا دا زړهٔ دَ افغانانو دا وطن انګریز قصاب غوڅ کړو او یو جغرافیائي وحدت ئې په بیلو بیلو ټوټو کښې تقسیم کړو. لاَ انګریز دا تقسیم اوسه پورې موجود دې دَ تشویش خبره دا ده چې پښتون دا تقسیم ډیر زر په ذهني طور هم اُمنلو او دغه شان دې نور زیات کمزورې شو. څنګه داسې خفیفتونه دي چې د هغوی هیرول یا نظرانداز کول به پښتون تام نه په راتلونکو وختونو کښې ډیر زیان اُرسوي. په کار ده چې دَ پښتون راتلونکو نسلونو ته دا علم وي چې پښتون همیشه نسلي تاریخي کلتوري، لساني، جغرافیائي او اقتصادي وحدت پاتې شوې دې. دَ ډیورنډ د کرښې باوجود شپون او پاونده په دې مجبور دې چې په ژمي کښې به تر ډیره اسمٰعیل خان او بنوں راځي او په اوړي کښې به تر هلمند او مزار ځي.

چې کله انګریز د پښتون په سینه دَ ډیورنډ کرښه راښکله نو پښتون ئې په ټکړو ولیش کړو. بیا د ډیورنډ کرښې نه دیخوا پښتون ئې په ټکړو برخو کښې ولیش کړو. دا ولیش او تقسیم د جبر لاندې په عمل کښې راغلي دې او په دا وجه

څه اخلاقي يا قانوني جواز نه لري او په دا وجه پښتون دا حق لري چې خپل وحدت تر لاسه کړي.

د پښتون د تقسيم خلاف د افغانستان اميرانو څه اُنکړې شول ځکه چې يو خو هغوی کښې د انګريز سره د مقابلې کولو قوت نه وُو. او په بل لور دَ افغانستان اميرانو د خپلې حکمرانۍ په قيمت د پښتون وحدت نظر انداز کړو او دې سره سره افغانستان کښې د شخصي حکومت په وجه جمهوري شعور او پوهې وده اُنکړې شوه او په دا وجه د افغانستان په اميرانو د پښتنو د قبضه شوې سيمو بيا تر لاسه کولو لړ کښې څه اولسي دباؤ هم نه وو. افغان حکمرانان نه پوهې دا چې په عمومي ډول غلي پاتې شول بلکه د ډيورنډ کرښې نه لاندې پښتون به يې "سکِ انګليسي" بللو او دغسې دَ خپل پښ وسه رونړو سره يې نفرت پيدا کړو.

مطلب دا شو چې دَ انګريز د لاسه دَ پښتون غير قانوني او غير اخلاقي تقسيم پښتون په ذهني ډول تسليم کړو. او دا دَ پښتون تمام زرګونو کلونو زوړ تاريخ کښې تر ټولو لويه الميه ده. اګر چې د ډيورنډ کرښه کال

اتلس سوه درې نوي کښې رانښکلې شوې وه. او اوس دَ دې کرښې سل کاله پوره شول. سل کاله عمر سل کاله وخت د قامونو په ژوند کښې

هیڅ وخت نه دې. دا د تاریخ په پیمانه محض یو څو ورځې دي خو بیا هم پښتون په دومره لږه موده کښې ډیر وجود دې حد پورې هیر کړو چې یوه نمونه د هندوستان برخه جوړه شوه.

دا هغه پس منظر وو چې حضرت باچا خان په کښې د عدم تشدد په بنیاد ډیر جد و جهد شورو کړو. ده د خدائي خدمتګارو په شکل کښې پښتون منظم کړو. ده زیږلي خلقو ته احترام ورکړو او هغه کسان چې د پښتون په ټولنه کښې به ورته په سپک نظر کتلي شول. ده خدائي خدمتګارانو کښې ځائې کړل. او داسې حضرت باچا خان اولني پښتون مشر دې چې پښتون قام یې د لاندې نه پورته کړو، یو قوت یې ترې جوړ کړو او د انګریز سره یې اُجنګولو. ده د لوئې او وړوکې، اعلیٰ او پست پښتون ترمینځه ذهني تقسیم ختم کړو. د بنیادم او بنیادم ترمینځه مکمل مساوات د پښتنې ټولنې روح دې. د انسان او انسان ترمینځه فرق او امتیاز د هندوستاني ټولنې مزاج دې چې انګریز دې ته نور تقویت ورکړو.

کله چې حضرت باچا خان اصلاحي او اولسي کارونه شورو کړل، انګریز په دې نه باوره شو انګریزان د یو منظم او د عدم تشدد په لاره روان پښتون نه یریدل او په دا

وجه هغوی دا چرې نه غوښتل چې پښتون یو سیاسي قوّت جوړ شي - انګرېز حکمران دَ باچا خان خلاف کاروائۍ تندې کړې او دَ دې کاروایو په نتیجه کښې بې باچاخان دې ته مجبوره کړو چې د کانګرس ملګرتیا ته بې لاس اوږد کړو او بیا باچاخان دَ برصغیر تقسیم پورې د کانګرس ملګرې پاتې شو- د کانګریس سره د ملګرتیا په نتیجه کښې دَ پښتون رخ په نا محسوس ډول د جنوب په لور اُوګرځیدو.

د حضرت باچاخان خدائي خدمتګار تحریک د کانګریس سره دَ متحده هندوستان د آزادۍ جدّو جهد په داسې طریقه څخ په وړاندې بوتلو چې په زرګونو پښتانه جیلونو ته د ننه کړې شول او په سوونو مجاهدینو د سرونو قربانۍ ورکړې- دې عمل که په یو لور پښتون ته سیاسي شعور ورکړو او د انګرېز نه د آزادۍ موندلو خواهش لور نود شو په بل لور د پښتون تمام دماغ برخې ـــــ لو او بر پښتون دَ یو بل نه لرې شوي دَ دوی تر مینځه فاصله نوره زیاته شوه - دا په اصل کښې د غیر فطري عمل یوه غیر فطري نتیجه را پیدا شوه- که څنګه چې ما عرض کړې وو چې پښتون د هندوستان سره دَ دې نه وړاندې څه تړون نه وُو- او دا ضرور شوي چې پښتون د حکمران په حیث په هندوستان ورننوتي دې- که چرې د انګرېز جبر حضرت باچاخان دَ

کانګرېس سره اتحاد ته نه وو مجبوره کړې. نو کومه وینه چې پښتون د متحده هندوستان د آزادۍ د پاره توئې کړه دا وینه که د پښتون قام د وحدت د پاره نو ئې کړې شوې وه او د باچا خان په خېر لوړ مشر په قیادت کښې د پښتون وحدت د پاره دا دومره لویه قرباني ورکړې شوې وه. نو دا به د یوې غیر معمولي کامیابۍ نتیجه کرځېدلې وه او پښتون به خپل قامي وحدت ترلاسه کړې وو. او مونږ دا خبره په یقین سره کولی شو چې نن به پښتون د دې سیمې تر ټولو مضبوط قوّت وو.

اوس هم د پښتنو مشرانو دا فرض دې چې د پښتون قامي وحدت حاصلولو د پاره هلې ځلې اوکړي. ځکه چې ترڅو پښتون تقسیم وي، بې مرکزه وي، بې وحدته وي هغه وخت پورې د پښتنو قامي احترام او وقار نه شي په ځائې کېدې. یوائې دا نه چې پښتون قام او پښتنه سیمه به تباه وي بلکه د کمزورې، برباد او منتشر پښتون په وجه ټوله ایشیا ر‌نځوره پرته وي.

زه لاس په دعا یم چې الله تعالی دې مونږ ټولو پښتنو ته ــ که د لر دي او که د بر، که د قبائیلي سیمې پښتون دې او که جنوبي پښتونخوا یا شمالي پښتونخوا ــ دا توفیق، شعور، حوصله او ایمان راکړي چې مونږ

تول سبه په مړانه او ایماندارۍ سره د پښتون وحدت تر لاسه کولو د پاره شعوري جدو جهد اُکړو ولې چې د قامي وقار، عزت او خپل واک او اختیار ته بل هیڅ څه برتر او اعلیٰ تر نشته۔

تل دې وي پښتون او پښتون ولي۔

محمد افضل خان

مشر

پښتونخوا قامي پارټي

دروشخیله - سوات

# حضرت باچاخان

# ژوند او فلسفه

## پیژندګلو

## حضرت باچاخان په عدم تشدد عمل کوونکی د اسلام سپاهی

لکه څنګه چې د سرخط نه څرګندیږي د کتاب نوم "حضرت باچاخان ژوند او فلسفه" دې. دا د

A MAN TO MATCH HIS MOUNTAINS

ترجمه ده. دا نباغلي ایکناث سوارن لیکلې دې چې په امریکه کښې میشته یو نومورې عالم او فاضل شخصیّت دې په حضرت باچاخان کتاب لیکل نه یواځې په پښتنو یو احسان دې بلکه دا پښتنو لیکوالو، دانشورو ته د فکر بلنه ورکوي. چې که یو غیر پښتون په پښتون راهنما د احترام دَجذبې لاندې داسې کتاب لیکلې شي ــ پښتون په خپله داسې ولې نشي لیکلې ؟

ښاغلي ایکنات د باچاخان سره لیدل کتل کړي دي مرکې ئې ورسره کړي دي او وائي چې زهٔ د هغوی نه ډیر زیات متاثره یم او هم دا وجه ده چې ما پرې کتاب اولیکلو او دا یوه فریضه مې سر ته اُورسوله.

ښاغلي ایکنات امریکې ته د تلو نه آګاهو بهارت کښې یو نیکوال وو، یو مفکر وو او د انګریزۍ ادب پروفیسر وو." د خپل هیواد د غرونو هومره دنګ انسان" نه علاوه دوۍ په ګاندهي جي هم کتابونه لیکلي دي او دَ نورو کتابونو مصنّف هم دے او امریکه کښې د نړۍ د لویو لویو مذهبونو روحاني روایاتو په بابله لیکچرے هم ورکوي.

د یوې ژبې نه بلې ژبې ته څه مواد اړول ډیر ګران کار دے. څو که دا ګران کار څوک اُوکړي نو ژبه وده اُمومي. ژبه نورهٔ زیاته مړه پښه شی. وائي چې ترجمه یو فن دې او زهٔ دا دعوی نشم کولې کني زهٔ د دے فن نه واقف یم. دا یوه جذبه ده چه زه پې اُپاړولم او په دې حقله مې د میاشتینزې" پلوشه" مدیر ښاغلي عبدالفتح پښتون سره خط وکتابت اوشو او د هغوۍ دَ ذاتي دلچسپۍ په وجه دا ګران کار آسان شو. زهٔ بې دَ زړهٔ دَ اخلاصه مننه کوم چې د پلوشې په پاڼو بې ځا دې کوښش ته په یو باقاعده

دول ځانې ودکړو دا یوه اوږده سلسله ده چې دَ خپل هیواد دَ غروبو هومره د ننګ انسان د سوخط لاندې شائع شوې وه او قریبًا دوه کاله کښې سرته اُورسیده. دا د غني کل په نوم شوې وه. چې اوس د غنی ختک د نوم لاندې کتابي شکل کښې شائع کولې شي دَ دې وضاحت ضرورت ځکه محسوس کړې شوچې د لوستونکو په ذهن کښې څه ابهام پیدا نشي. او لوستونکي ترنه څه نوند هم واخلي.

دا په حضرت باچاخان د یو مستند کتاب ترجمه ده. ډیر امکان دی چې د حضرت باچاخان په بابله دَ څیړونکو په کار به هم راشی.

د دنیا ټولې ژبې خپلو کښې خویندې دي او هغه ژبې مخ په وړاندې ځي چې دَ نورو ژبو نه څه واخلي او د ترجمې په شکل کښې ئې ځان کښې ځائې کړي. د یونیمګړي ادیب په حیث خو زهٔ دا نشم وئلې چې د پښتو ژبې په لر کښې چا د ترجمې نبه او زیات کار کړے او د ترجمې معیارئې څهٔ دے؟ او دومره پوهه یم چه پښتو ژبې کښې د نورو ژبو ترجمې ډیرې کمې دي. وائي چې یوه ښه ترجمه هغه کنړلې شي چې د اصل ګمان پرې اوشي. دا یوګران او مشکل شرط دې او یریږم چې و لوستونکو ته دلا به مانه نه کړي نشم. خو بس توکل دے. دا به ځما سوه د لوستونکو

ملګرتيا وي چې دوی ځما د ترجمې غلطۍ معاف کړي او که ضرورت کنړي چې نبه د زړه د اخلاصه پرې تنقيد اوکړي او رهنمائي مې اوکړي.

د حضرت باچا خان په بابله يکل شوي د دې کتاب څلور حصې او څوارلس بابونه دي.

د بناغلي بيکوال د لنډې پيژندګلو نه پس او د سريزې او مقدمې نه وړاندې د حضرت باچا خان خدای بخښلي ستر خواهش څرګند کړې شوې دې. حضرت باچا خان وائي چې ځما يو لوي خواهش دې. دا خواهش څه دے؟ وائي چې:-

۴- زه دا شريف، تورزن او په وطن مئين اولس د بهرما د ظلم او زياتي نه آزادول غواړم چې د چا د لاسه دوئ بې عزته شوي او سپک شوي دي.

۵- زۀ د دوی د پاره يوه آزاده نړۍ قائمول غواړم چې چرته دوی په امن کښې اوسيدې شي او چې چرته دوی په خندا او خوشحالۍ وخت تيرولې شي.

۶- زۀ هغه ځمکه بيکلول غواړم چرته چې وړاندې د دوئ تباه شوي کورونه آباد وو او د بې رحمو او ظالمانو غيرو خيانو/ د لاسه لا تباه شوي نه وو.

۶- زهٔ غواړم چې لاس کښې مې جارو وي او د دوی کوڅې پرې جارو کړم- زه د دوی کودونه په خپلو لاسو صفا کول غواړم-

۶- زهٔ د پښتون د جامو نه د وینو داغونه وینځل غواړم-

۶- نهٔ نړیه نه نیودل غواړم چې راشي اُکوري څما د دې غرونو او راغونو اُولس څومره ښائسته دې او بیا زهٔ دا اعلان کول غواړم چې څوک داسې ښته چې د دوی نه زیات مهذبه، ادبناک او متمدن دی-

ښاغلي لیکوال د حضرت باچاخان د دې خواهش څرګندونې نه پس سریزه کښې لیکلي دي چې د باچاخان په بابله د دے کتاب د لیکلو دوه وجې دي- یوه خو دا چې د هغوی سره زه ډیر عقیدت لرم او که دې لړ کښې را نه څهٔ غلطي شوي وي چې د هغې تلافي اوکړې شم- او دوئیمه وجه د موجوده حالاتو سره تعلق لري-

ښاغلي ایکنات لیکي چې دا د دوئیم نړیوال جنګ موده وه او زهٔ د ناګپور په یونیورسټۍ کښې د ګریجویشن طالب علم وُوم- ناګپور د بهارت په مینځ کښې پروت دې او د قطب، سویل، ختیز او مغرب له اړخه د راتلونکو لارو

لوی جنکشن دی.

د ناګپور په سویل کښې " واردها" نومې یوه قصبه ده چې د ناګپور نه نوي میله لرې پرته ده. دلته ګاندهي جي د خپلو نږدې نږدې عقیدت مندو سره استوګن ؤو. د بهارت د آزادۍ د تحریک مشران به دلته اکثر تلل راتلل او دا ټول مشران به په ناګپور نیږدل زۀ به هره هفته د ناګپور د ریل ګاډی سټیشن ته تلم او اکثر به مې " واردها" ته تلونکي سیاسی مشران لیدل او دغه شان ما نهرو، سردار پټیل، مولانا آزاد، اچارېه کرپلانی، بیګم سروجینی نیډو، سی. وی راجګوپال، اچاریه راجندره پرشاد چې روستو د بهارت صدر اُنا کلې شو او په یوه خاص موقع مې خان عبدالغفار خان هم اولیدو زۀ د دۀ په لیدو ځکه ډیر زیات خوشحاله شوم چې دې په حقیقت کښې ځما ډیر خوښ وو باچا خان د ګاډي د دریمې درجې ډبې نه را کوز شو دې یو لوړ رنګ انسان وو او ماته یو ډیو په نظر راتلو. ډیره موده په جیل کښې د پاتې کیدو په وجه لږ کمزورې ؤو خو دا شپږ فټه او درې اِنچه رنګ انسان بیا هم ډیر طاقتور ښکاریدو. د دۀ په تلو

کښې یو خاص شان او ښائست وو. خو دې چپ چاپېره ساده بوده وو. ښځې ماشوم غونډې وُو. دې دومره ساده وُو چې زړه مې غوښتل چې دَ دهٔ سره کښېنم او خبرې اترې ورسره اوکړم.

خو په دغه موقع ما د دوی سره د خبرو اترو کولو زړهٔ ځکه اونکړې شو چې زهٔ خپله هم ځلمې او بې زړهٔ وُوم. خو ما چې د دوی متعلق څهٔ اوریدلی وُو په لیدوئې تصدیق اوشو. هغه دا چې د ګاندهی کېږ چاپېره څومره مشران وو دوی ټولو کښې یو باچا خان یواځے مشر وُو چې په ګاندهی ښهٔ پوهیدو او دا ایکې یو کس وو چې د ګاندهی په قدم یې قدم ایښې وو بلچا خان یو شته من انسان وو. خپلې ځمکې یې ځا منو ته حواله کړې او ده خپل ژوند د الله تعالیٰ او د خپل غریب او ناداره اولس خدمت ته اُسپارلو. ده ساده جامې اَغوستې دې یو وړوکې پنډوکې ئے لاس کښې وُو. بس یو ملنګ وُو داسې یو کس وو لکه چې هرڅه ئې په شا کړې وي. نه لکه چې د یو سل ژرو پښتنو مشر وی.

ښاغلې لیکوال لیکي چې زهٔ منم چې په دې خبره زهٔ ډیر حیران وُوم چې هغه ټول سیاسي مشران چې

دِ آزادۍ په تحریک کښې دګاندهي ملګري دي او په دهٔ
پسې روان دي دوئ ټول کښې یو باچا خان داسې دې
چې د سیاسي نظریې نه علاوه هم دګاندهي ملګرې دې.
او غالبًا چې هم دا وجه ده چې د باچا خان سره ځما
دومره مینه او عقیدت پیدا شوې وو. باچا خان کال
ټول سوه ټول کښې د ګاندهي ملګرې شو او د دې نه
پس په یوه موقع هم دَ ګاندهي کوښې نه کړو. زهٔ دَ
بهارت، د ټولو مشرانو هم ښائینه کوم څو هغوۍ دګاندهي
روحاني حیث او نه پیژندے شو او هغوۍ په ایمانداري
سره دا خبره منله هم ـ ټول بهارت کښې یو خان داسې
کس وو چې د ګاندهي په روحاني اصلیت پوه او رسیدلې
وو.

یو وخت داسې وو چې ما د ګاندهي په قوت ځان
د رسولو کوشش کولو. زهٔ حیران ووم چې داسې وړکوټي
انسان کښې دومره قوت او طاقت او اثر له کومې ځنې
راغې؟ او په دې لړ کښې ما د باچا خان نه تپوس
اوکړو. ماته بیا ډیره روښنو دا معلومه شوه چې دَ
ګاندهي قوت په دې خبره کښې پروت وو چې دهٔ
ځان بیخي هیر کړې وو. او ځان ئے نشتې کړې وو

خو خان زهٔ ډير په ساده ټکو کښې پوهه کړم چې زهٔ د ګاندهي سره ځکه مټکرې شوې يم چې "ګاندهي ځان الله نه سپارلې دې." ورورستو دې سټ خان هم داسې اوکړل چې د خپل اولس په خدمت کښې ئې ځان خاورې ايرې کړو. دَ دې نه دا حقيقت هم جوړيږي چې که يو انسان غواړي او لټون کوي نو د خپل ځان په لټولو خپل ځان کښې څومره زيات قوّت پيدا کولے شي. څومره اثرناک کيدې او تل تر تاله ژوندې پاتې کيدې شي.

دا زهٔ ډير په افسوس سره وايم چې بهارت د آزادۍ د دې نوښت جنګيالي د پاره هيڅ اونکړې شول. د آزادۍ نه سمدستي ورورستو بلچا خان او د دهٔ مټکرې پاکستان کښې په دې وجه اُزپلے شول چې دې د بهارت د تمام پرستو مشرانو ... ملګرنياپې کړې دهٔ. د بهارت د پاره دَ دهٔ سره لاس کول ممکن نه وو. زهٔ اُميد کوم چې دا کتاب به د هغې کمۍ څه نه څه تلافي اوکړې شي.

د باچا خان په بابله د کتاب ليکلو دوئيمه وجه دا دهٔ چې ځما باور دې چې دې نړولې نړۍ نه او په خاص ډول اسلامي هيوادونو نه د ننن د نه د بهر راونو يوه لاره

په ګوته کړې شی. باچا خان په نړۍ کښې د عدم تشدد تر ټولو لوی تفسیر دې. دې یو پوخ مسلمان ؤو. د ده په ژوند کښې د اسلام هغه څیره ښکاره ده چې غیر اسلامی هیوادونو ته هغه په نظر نه راځي. مسلمانان خپله هم د هغې حکمت سره بلد نه دي کوم چې عدم تشدد کښې پټ دې.

د حضرت باچا خان ژوند د دې ښکاره ثبوت دې چې د اسلام په دائرې کښې دننه د تشدد یو بې بدل عدم تشدد دې. پښتونخوا چرته چې دې ستر خان کار اوکړو پنځه کم سل نیصده مسلمانه ده. د ده د عدم تشدد پوځ. خدائي خدمتګاران ټول مسلمانان وو. د ده د تحریک بنیاد د اسلام په پخوانې اصولو اړه لرله چې نړۍ واله ورورولۍ په کار ده. خدای ته ځان سپارل په کار ده او د الله تعالیٰ خدمت د هغه د مخلوق د خدمت په ذریعه کول په کار ده.

حضرت باچا خان وائي چې دا ځما پوخ باور دې چې "اسلام د عمل، یقین او مینې او محبت نوم دې" د مینې او محبت په قوت سره اِنساني معاملې بدلیدې شي. محبت د یو روحاني قوت نوم دې او چې کله په دې عمل اوکړې

شي نو دا غصه اد کړ که او نفرت په مینه کښې بدلولې شي.

د خان ټول ژوند او عمل په دې ژور اُصول اړه لرله دهٔ د یو سل زرو پښتنو مسلمانانو یو داسې پوځ تیار کړو چه په دغه اُصول ئې باور وو. د ده خدائي پوځ د بهارت نه شهنشاهیت ختمولو کښې یو زبردست کردار اُلوبولو. که چرې د ده په مثال عمل اوکړې شي نو نه یواځې مغربي دنیا. بلکه هغه ټول مسلمانان چې مینځني ختیځ کښې په تشدد اخته دي په دې ځان پوهولې شي چې دَ اسلام لوئې لوئې مذهبي قدرونه د عدم تشدد سره سمون خوري او دَ عدم تشدد . . . برکت لوې لوې شخړې هواربدې شي.

د سریزې په پایه او مقدمې نه وړاندې بناعلي لیکوال دا کتاب د امریکې اولس په نوم منسوب کړې دې او دا خیال ئې ښکاره کړې دې چې که "د امریکې اولس توت حوصله او فلسفه د عدم تشدد سره ملګرې شي نو تاریخ نه یوه بله لاره ښودلې شي!

د کتاب په مقدمه کښې لیکل شوي دي چې د ملکهٔ وکټوریه کړوسې او د بهارت وائسرائې لوئس فرانس البرټ ولټر نکولس ماونټ بیټن چې د برصغیر د ویش په لړ

کښې کراچۍ کښې د خلکو نه ډک د اسمبلي هال په ډاګه ناست وُو. دلته لیډل چې اسمبلي د ګډیوالو پنجابیانو خانانو، د سویلي قبیلو د مشرانو نه ډکه ده. دې کښې بلوچیان هم وُو. او سندهیان هم او پښتانه هم دغلته موجود وو. دې هال کښې ټول نوموړي مسلمانان مشران لیاقت علی خان، خواجه نظام الدّین، اسکندر مرزا او د وائسرائے سره نژدې د اولنی اسلامي جمهوریے جوړیدونکي ګورنر جنرل باوقاره محمد علی جناح موجود وُو.

خو دویم کښې یو نوموړي مسلمان مشر عبدالغفار ن موجود نه وُو. دا هغه شخصیت وُو چه انګریزانے یرولي وو او په ترته کښې ئې د ټولو نه زیات جنګیالي اُولس پښتون یو فوځ فوځي قوت کښې بدل کړې وُو چې فلسفه یې عدم تشدد وه د پښتونخوا اولس د دې شخصیت ډیر زیات عزت او لحاظ کولو او دې ئے بادشاه خان د"خانانو باچا"بلله .ل بهارت کښې دې په دویم ګاندهي مشهور وې ځکه چې ذ دَه او د ګاندهي طریقه یوه وه.

ماونټ بیټن نه به دا خبره څه عجیبه ښکاره شوې وي چې هغه کس چې د آزادۍ په کوشش او جدو جهد کښې د هر یو مسلمان مشر نه وړاندې وړاندې وو

هغه دِ اسمبلۍ کښې موجود نه وې و لې ماونږ بیـښه به ځکه کونه په خوله او حیران شوې نوې چې خان چې یو سپیځلې او پوخ مسلمان وو د برصغیر د ولس مخالف وو.

یو څو کـلنې وروستو ماونږ بیاهم خپل رائل ایئر نورس جهاز کښې نوې دلي ته روان شو دغه شپه دَ نیمې شپې د آزادۍ یوه بله دستوره کیدو نکې وه. دغلته نوې دلي کښې هم د بهارت د آزادۍ د تحریک نوموړې مشران اسمبلۍ کښې موجود وُو ولې هغه کس چې د چا په غږ به لکونه اولس حرکت کښې راتلل ګاندهي ناځه د دستورې د ځائې نه په سوونو میلونو لرې وو. دځ هم د دستورې مخالفت کړې وو. او دغه ورځ یې عبادت او روژې کښې تیره کړې وه.

د باچاخان د پارهٔ د آزادۍ مقصد دَ دې نه سِوا څه کیدې شو چې دا به وروستو پاتې پښتنو ته څه ورکړې؟ پښتون پسمانده وو. اوس هم نالوسته وو. او دیو بل نه بدل اخستل د دوی د عقیدې برخه وه رونړه، نربوران او قبیلې په یو بل اخته وې او بیا یه تیره تیرهٔ څو د انګریزانو خلاف د خپل وطن په حفاظت او

د فاع کښې پښتون د وينو په سمندر پورې رنې دې.

کال آنس سوه يوکم شپيتم (١٨٥٩ء) کښې سرنيول چيمبر لين د پښتنو خلاف د يوهم په دوران کښې لندن ته يوه چټهۍ کښې ليکلي وو چې:

" په پولو د جنګ يو غټ زيان دا دې چې په سوؤنو کورنۍ تباه او بربادې شي خو خومره پورې چې د وحشي قبائليو تعلق دے. د دوی په نزد حق د هغه چا دې چې څوک زور آور وي. په دې وجه د دوی په لر کښې يواځنې لاره دا ده چې دوی ټولو ته تکليف او رسولې شي" او که چرې د تهذيب په خوالې سره دوی ته په ورکړې شوي سزا اعتراض اوشی نو ځواب يې دا دې چې د وحشيانو او ځناورو قبائلو سره په مهذبه توګه جنګ نه شي کيدې او که مونږ د دوی کودو نه تباه نکړل او د دوی فصلونه مو خراب نه کړل نو د دې مقصد به دا وي چې د دوی سره جنګ نه شي کيدې.

د پورته ټکو نه د هغې دوړې جاج اخستې شي کومه چې د هغه وخت نه اوسه پورې انګريزانو د پښتنو سره جائزه کړله. د دوی خيال وو چې پښتانه کم مهذبه، غير انساني، وحشي، ظالم، ځناور د پړانګ پيشو

خیر بې رحمه، غداران او قاتلان دي. د دوی په خیال کښې د پښتون سره د ظلم دویه ساتل جائزه وه د دوی ګناه دا وه چې دوی د خیبر د درې نه اخواه د بخواله غرونو کښې استوګن وو. خیبر بهارت ته د رسیدو دروازه وه او د ایمپائر د دولت او امارت یو غټه وسیله. انګریزانو په هر قیمت دا دروه قابو کښې ساتل غوښتل. او پښتون هم چې آزادی ته د قدر په نظر ګوري. د خپلې آزادی ساتلو پخه اراده کړې وه.

انګریزان به د پښتون د نوم نه بریدل. دا ویره د انګریزانو مازغو کښې د کال اتلس سوه دوه څلویښتم (۱۸۴۲ع) د جنوری د یو ځ سمی راسې پرته وه چې کله د اتلس آرمۍ پنځه څلویښت سوو نوځیانو کښې ایکې یو کس ژوندې پاتې شو او د خپل بد بخت قصه یې تاریخ ته او سپارله د هغې نه پس د انګریزانو او پښتنو ترمینځه اتیا کاله کوریلا جنګ اوشو او د دوی کرکه د یو بل خلاف نوره سخته او پخه شوه. انګریزانو د پښتنو په کلو برغلونه اوکړل په دوی یې بمبارۍ اوکړې د دوی فصلونه یې تباه کړل. دوی او وهل او نکول په جیلونو کښې یې واچول ټول برصغیر

کښې یو پښتون داسې نام وو چې د زړګونو په شمېر کښې د انګرېزانو په جیلونو کښې بندي وو. انګرېزانو دوی نه د یو بل خلاف رشوتې او بډې ورکړې خو د انګرېزانو ټولې طریقې او سازشونه په دغه سیمه ناکامه شول د انګرېزي ایمپائر د پاره د پښتنو وطن هغه یوازېنې وطن وُو چې دوی په مکمل ډول فتح نه کړې شو او دا دَ انګرېز په زړهٔ ډېر لوئي ارمان باقي شوي دې.

د پښتنو په بابله د انګرېزانو یوه عقیده پخه وه هغه دا چې" امن باقي کیدې نه شي او انګرېزي فوځ به یو ځل بیا په خوشونشو غرونو دیرې اچوي' د انګرېزی ایمپائر پوځ دُحمکې په ټڅو براعظمونو پروت وو او په دوی کښ پښتونخوا هغه سیمه وه چې انګرېزي فوځ کښې پرونکي" بللے شوه.

دَ انګرېزي تاج ایمپائر جوړوونکو د پارهٔ تاریخ دا ډېر یو عجیبه کار اوکړو چې د دغه پروونکي" ځمکې د زړهٔ نه یې یو داسې کس را برسیره کړو چې هغه خپل اولس د عدم تشدد قائل کړلو. او د عدم تشدد په قوت یې انګرېز د برصغیر نه په ایستلو مجبوره کړو په دې خبرهٔ سرې یقین نه راځي. داسې د هیڅ ګمان نه کیدو چې

د پښتنو د توريې ځمکې نه به داسې يو شخصيّت را پاڅي او دومره لويه کارنامه به کوي څو دا کار شوې دې دا د تاريخ ډېره لويه غير معمولي واقعه ده څو نظر انداز شويده او چا ورته خيال نه دې کړې

د باچاخان وروستو پاتې تباګلو د انګريز بخت په ختې کړو. دې پښتنو ته هغه وخت د تربه اولس کوته په خوله پاتې شو چې کله دوئ خپلې نوبکې چړې او سنګينونه کينول او ايمپائر د زور او جبر مقابله يې د عدم تشدد د په ذريعه اوکړه.

کال نولس سوه ديرشم کښې د عدم تشدد تحريک نه په چپو وو، د سر نيول چيمبر لين د رپورټ زيات زرۀ ور يو بل رپورټ کښې دا تجويز کړې شوې وو چې " په ځناورو د ځناورو حکومت په کار دې" د انګريزانو په نظر کښې د باچاخان عدم تشدد د دهوکې نه سوا هيڅ نه وو. د هغوی نکر دا خبره نه منله چې دا څنګه کيدې شي چې پښتون به د عدم تشدد نه کار واخلي. د ګاندهي جي عدم تشدد هم ا هغوی د پاره ديو آفت نه کم نه وو ولې د هندوانو د امن ناکه مزاج سره عدم تشدد د سمون خوړو.

د هغوی په نظر کښې پښتون هر څه کیدې شو خو د عدم تشدد پیروکار نشو جوړیدې. د هغوی په خیال کښې داسې وئیل او ځان داسې ښکاره کول ټوله دهوکه غداری او عیاری وه.

دغه وجه ده چې د برصغیر د ازادئ په تحریک کښې انګریزانو په باچا خان او د ده د عدم تشدد په فوځ ډیر ظلمونه اوکړل. داسې وخت هم راغلې دې چې ټوله نړه نه به د دغې صوبې د حال احوال هډو څه پته نه لګیده چې کله به کلهمه صوبه د دنیا د سترګو نه پټه اوساتلې شوه دغه وخت کښې به انګریزي فوځ د دوی سره د ظلم او زیاتي هره یوه چاره په کار راوسته. که څوک دا تاثر نري چې انګریز بهارت کښې یو نرم او رحم دِله دشمن وو هغوی حله. داسې خیال کوي چې د هغه ظلم علم ورته نشته چې کوم په باچا خان او په پښتون شوې دې دیرشمے او څلویښتے سن کلیزه کښې پښتنو ډیرې زیاتي زعملې او برداشت کړې دې. د دوی پوره پوره کلي تباه کړې شوي دي د دوی فصلونه تباه کړې شوي او د زړګونو په شمیر کښې جیلونو ته تللی او عجیبه عجیبه بې عزتي او سپکاوې یې شوې دې باچا خان خپله هم د انګریزانو په ...کاله قید خوړلې

دي او اکثر به ځان نه يواځې بندي وو. حقيقت دا دی چې هغه د انګريزانو په وخت کښې يوه ورځ آزاده او بله ورځ په جيل کښې تيره کړې ده.

خو پښتون په خپل عدم تشدد قائم پاتې شو او د خپلې آزادۍ نو لاسه کولو په لړ کښې په ګڼ شمير کښې مړه شول او تکليفونه ئې اوزغمل.

د بهارت اولس چې خپله هم د عدم تشدد په لاره روان وو. خو د پښتون عدم تشدد نه حيران وو جواهر لال نهرو چې د بهارت رومبنې وزير اعظم وو په دې خبره يقين نه کولو چې هغه پښتون چې د خپل ... شوم يا ورور نه زيانه مينه د خپل ټوپک سره کوي. څوک چې د ژوند پرواه نه کوي او د مرګ نه يريږي او معمولي بې عزتۍ او سپکاوې بدله په مرګ اخلي ځنګه په نه خه وخت کښې د عدم تشدد په وجه د بهارت يو نورزنن او برداشت لرونکي اولس جوړ شوې وو. دا په تاريخ کښې ديقين نه کولو خبره ده خو باچا خان دا خبره رښتيا کړې ده چې دا خبره غلطه ده کني عدم تشدد د هغه خلکو د پاره صحيح دې چې په بنيادي توګه آمن ناکه وي.

ګاندهي جي دا خبره ډيره ښکاره کړې وه چې عدم تشدد

خوک کولی شي. چې نورزن او حوصله مند او زړه ور دي. دې کښې د شک هیڅ خبره نشته چې پښتون یو نورزن او زړه ور اولس دې. یو عام پښتون وګړې هم د بې عزتۍ نه مرګ ښهٔ ګڼړي. دا واقعي چې یوه افسانه ښکاري چې دا سې اولس چې هغوی ته د سړي مرګ د چرګې یا چرګوړي د مرګ نه زیات نه ښکاري هغوی خپلې وسلې یو خوا نه کړې او عدم تشدد یې د ټولو نه د غوره وسلې په حیث خپل کړو.

د ټولو هغه نیمګړو تسو په څیر. د حضرت باچا خان د ژوند په تیمسې کښې هغه حقیقتونه پټ دي چې نړۍ ته یې د ښرګندولو ضرورت دې او اوس وخت دې چې د لوی خان دا تیمسه ښه په تفصیل سره بیان کړې شي.

ـــــــــــــ

## اولنے باب

# جشن

## (جون ۱۸۹۷ء)

"اے پښتنو! ستا سو کور وران شوې دې. را پاځئ
او دا وران کور بیا ودان کړئ او دا خبره یاده لرئ
چې تاسو د یو باتور نسل سره تعلق لرئ"

(حضرت باچاخان)

د کال ۱۸۹۷ء د ۲۲ جون په سحر د یولسو بجو نه سملاستي روستو بکنګهم محل کښې ملکه وکټوریه د ټیلي ګراف په مشین کو نه کیښوه او دې سره د برطانې د شهنشاهیت ۳۷۲ میلینه اولس د پاره یو پیغام نحور کړې شو دا د ملکې د ډائمنډ جوبلي ورځ وه نن د انګلستان په تخت د ملکې په جیت دَ دې شپیتهٔ کاله پوره شوي وو. ملکې خپل دې پیغام کښې وئیلي وو چې:

" چې زهٔ د زړهٔ دَ اخلاصه د خپل اولس مننه کوم. الله دِ په دوئي مهربانه شي"

یو څو منټو کښې د ټنه د ملکې دا پیغام د نړۍ د هغه سیمو په لور خور یدو چې د انګلستان د باچاۍ برخې وې. دې کښې د مغرب په لور کښې دا 'نیو فاونډلینډ' سویلي ارګنټینا (؟) فاکلینډ، بار باډوس، جونډ وراس او فاک لینډ، د ممرځنیز په لور جبرالټر او مالټا نایجیریا، مصر، ګمبیا، ګولډ کوسټ، رهوډیشیا، سومالي لینډ یوګنډا، او زنزیبار، بهارت، سیلون، برما، ملائیشیا هانګ کانګ، سنګاپور او آسټریلیا، شمالي بورنیو، فجي او جنوبي اوقیانوس کښې دوه درځنې نورې جزیرې. په دې ټولو علاقو د انګلستان حکمراني وه او یا پرې څه نه څه قسم اثر ؤو په دې سیمو به د انګلستان بیرغ رپیدو او سپین پوستو فوځي افسرانو به پرې حکومت کولو او لا به انګریزي ویونکو سول ملازمانو په دوی حکمراني کوله.

د ملکې پیغام ختم شو، دې نورې جامې اچولې وې او یوې ګګۍ کښې کیناسته چې د سپین رنګ اسونو راښکله. د باچاۍ د هر کوټ نه د پنځوسو زرو فوځیانو جلوس پدې پسې روان ؤو. دا د لندن په سړکونو د ایس تې پال ګرجې ته د شکر او منتې دعا کولو په غرض ورغله

وکټوریه. او ټول انګلستان ته تشکر په کار وو ولې چې
دې نه اګاهو په لږه کښې د انګلستان هومره قوت
دَ بل چا نه وو. دَ دې باچاې کوښښې لوې لوې خورې
ورې وې او د انګلستان د باچاهۍ د شان او شوکت
او رعب او دبدبې د مقابلې کولو قوت چا کښې نه وو.
د نړۍ په هر یو براعظم او سمندر د دې علاقې پرتې دي
او د ټولې نړۍ څلورمه برخه ځمکه د انګلستان د بیرغ لاندې
وه او هم د غه شان ې د ځمکې په مخ آباد د ټولو بنیادمانو
څلورمې برخې ذمه داري د دې په سر وه.
دا دَ انګلستان یوه لویه او عظیمه کامیابي وه. دانګلستان
بحرې د نړۍ په سمندرونو حکومت کولو او په هره یوه لمحه
کښې د انګلستان سمندري جهازونو یورپ، ایشیا، افریقې، امریکې
او جنوبي سمندرونو کښې څلور سوه زره کسان د یو ځاې یوې
چاونړۍ یا قلعې نه د بل هیواد چاونړۍ، ښاریې یا قلعه
ته رسول. د جشن په کال کښې چې د سوېز په نهر څومره
سامان تیر شوې راتیر شوې دې کښې هر یو زرتهه سامان
کښې او وه سوه ټنه سامان د انګلستان په سمندری جهازونو
تللې او راغلې دې.
د جشن ننې سمې د انګلستان د باچاهۍ د کامیابه آینه

پورې وه، هغه څوک چې دې جشن کښې شامل شول د
هغوی په نظر کښې دا د دې خبرې ثبوت وو چې انګلستان
د نړۍ په خوش بختو هېوادونو کښې یو وُو. د توانائۍ
او قوت څښتن په دې هېواد به چرې هم ستړګه نه
ډوبېده. د یو حاج مطابق لپه دغه جشن د نړۍ په تاریخ
کښې یوه ډېره لویه خوچه شوې وه.

د وکټوریه سره پرېټ کښې د یولسو کالونو وزیر اعظمان
دوې دیرش شاهزادګان، د هندوستان څلوېښت راجګان
او یو ولي عهد شامل وو. په پنځوسو زرو. فوځیانو مشتمل
دا پرېټ د لندن په تاریخ کښې تر ټولو عظیم پرېټ وو.

په دغه ورځ ماښام پورې آسمان تک شین وو. دا چې
ښکارېده لکه چې نن د "ملکې موسم" وُو. فوځیان پرېټ
کښې تېرېدل، ډولکي وهلې شول او د انګلستان د یونین
یو زر بېرغونه هوا کښې رپېدل د میلینو خلقو د لاسونو پړقیا
کښې ملکه وکټوریه د دوی په خوا کښې تېرېده او دخوښې
نه ستړګې د اوښکو ډکې وې. دې په لاره ولاړ تماش بینو
ته لاسونه خوزول او چې کله ملکه خپل محل ته. واپس شوه نو
خپلې دا مېرې کښې اولیکل "چې زه باور دې چې داسې هرکلې
به هیچا ته نه وې دئیل شوې؟

په نننۍ ورځ به د هر یو انګریز دا یقین پوخ شوی دي چې په نړۍ حکمراني کول د انګلستان مقدر کښي لیکل شوي دي. د نړۍ بې شمیره ځابونو کښي چرته چې تکه توره تیاره خوره ده هلته به د قانون حاکمیت قائمولی شي او ناپوهه او نالوتي وحشي خلکو ته به د انګلستان د باچاهۍ په ذریعه رڼا او تهذیب رسولی شي. هندوستان کښي یو ځواني سول ملازم د انګلستان دارالعوام ته اوئیل چې بهارت کښي دا د هر یو انګریز یوه عقیده او یو باور جوړ شوی دی. داکه وائسرای دی او که یو عام انګریز چې" زه د داسې یو نسل او قام وګړی یم چې چا ته خدای پاک په دنیا د حکومت کولو ذمه داري او نور اُلسونه د غلام کولو کار ورسپارلی دی."

او چا د انګریزانو د دې فکر او باور خلاف دلیل ورکولی شو؟ د انګریزانو نه یو سخت نفرت کوونکی او کرکجن سړی هم د دې رائې اختلاف نه شو کولی. دَ روم د عهد نه پس داسې دستوره چرته نه وه شوې د انګلستان واک او اختیار په نړۍ خور وُو او باچاهۍ یې بیخي محفوظه وه.

د جون په دغه سمی د باچاهۍ په یو لوی پروت کوټ کښې د برطانوي هند د پښتونخواپه سیمه د ملکه وکټوریه یوکم عمره غلام اوه کلنې عبدالغفار خان د سوات په سیند کښې د اوبو په سر بهیدونکې لرګې را ایسارولو په هسه کښې بوخت وو. سنګه چې دغه سمی وادی کښې بنه یخه هوا چلیده. د دې سیند په غاړه د ده د پلار د زمیندارۍ ښځې وُو.

غفار خان د ملکه وکټوریه د نوم او مرتبې نه غالبًا چې لا ناخبره وو. دلته د پښتونخوا په سیمه خو دَ انګلستان یو لټیکل ایجنټ هم یو باچا وو. او د دې ځایه په زرګونو میله لرې یوې ملکې خو د یو لوستي پښتون د پاره هم څه اهمیت نلرو. په دغه وخت خو د دغې هلک د پاره هغه لرګي زیات اهمیت لرو چې د سیند د غاړې نه د سیند مینځ ته بهیدو او ده ي د نیولو کوشش کولو.

اې غفاره - ده نه آواز اوشو خو دا آواز په سیند داسې خور شو لکه چرته لرې کښې وهلې شوي وي دې لا هغې مشغول وو. ده خپله چوکه لرګي ته نوره ورنزدې کړه. ده نه بیا آواز اوشو چې اې غفاره! او دا

آواز بیا نا اوریدلې چوپ شو. دا څه غیر معمولي خبره نه وه. چې د ده به کوم لوري ته اوکوم کار ته پام اوګرځیدو. دې به هغې کښې دومره ورک شو، دومره زیات مشغول اوبې پامه به شو چې بو، دوه، درې آوازونه به ئې نه اوریدل دَ ده پام چیر ژور وو او دې به د غه شان تل تل د خپل پلار د سنګترو، الوچو او ناشپاتو باغونو او د سوات د سیند په رو رو بهیدونکی اونکو نورو اوبو کښې دَ خپل ځان نه بې خبره وو.

غفار خان د بهرام خان د ټولو نه کشرې ماشوم وو. د دهٔ دوه مشرانې خوېندې او یوروروُو. رور د دهٔ نه پنځه کاله مشر وو. او صوبائې دارالحکومت پېښور کښې یې په ایډورډز میموډیل مشن هائې سکول کښې سبق وئیلو. د غفار خان به د خپل رور سره ډیر لیدهٔ کاتهٔ نه کیدل. خو دا د جون میاشت وه د سکول چُټي وه او دَه او دَ ده رور به د سیند په غاړه په ګهنټو ګهنټو توبې کولې او مشغولیدل به او د سیند په مینځ کښې وچې ته به په لرګو پورېونل دا پورې وتل او خوندونه به ئې اخستل او چې کله به دې

یواځې ګُوګه چې نن په دغه ورځ وونو دې به اکثر
کلي ته ور تیر شو چړته چې د دهٔ همځولي ملګري
وو. ده به د مزدورانو او کسب ګرو ځامن ډیر خوښول
اګرچې دا دَ خان د ځوی سره ځه عجیبه غوندې کار
ښکاریدو. او د دهٔ دوه خاص ملګري ښکیان وو

دغه د ویږمو ډک سحر خوداسې ښکاریدو چې د سیند
په غاړه د لوبو د پاره راغلي وي. او ځکه دې به سحر وختي دَ
کور نه د سیند غاړې ته اورسیدو او چې کله به یې اُلیدل
چې اوبو یو لرګي راختي دي نو دَ دې لرګي نیول نو به د
دوي د پاره سمه سکه یوه لوبه جوړه کړه.

غفاره! دا ځل دا آواز د ګولۍ په شان تیز وَو. دهٔ
اخواه دېخواه اوکتل. دا د ده پلار بهرام خان وو چې
دې یې بللو. او دې په بلنه د پښې د کور په لور روان شو.

بهرام خان لږ اخوا ولاړ وُو او په سریې د ډوډۍ
شکور پروت وو. دهٔ چې غفار خان ورنزدې شو نو
ده پرې غصه اوکړه او ورته یې اوئیل چې داشه ما ته
سنا د مدد ضرورت دې. د دوی په حجره کښې میلمانهٔ
وو او هغوی ته د غرمې ډوډۍ وړل وو.

بهرام خان د هغه پښتنو زمیندارانو سره تعلق

لرو چې ډیره موده وړاندې د پېښور د زرخېزې وادۍ ته راغلي وو. دوی د انګلستان د حاکمیت لاندې دخوشحاله ژوند تېرولو په غرض دې وادۍ ته راېرېوتي وو.

انګرېزانو د خپل مصلحت د پاره پښتونخوا په درېو جغرافیائي برخو کښې وېشلې وه دا سیمې آزادې سیمې دلته پښتنو د پښتون ولۍ د قاعدو او پابندو مطابق د خپلې مرضۍ ژوند تېرولو.

د پښتونخوا دوه میلیونه پښتانهٔ په درځنونو قبیلو اوخیلونو کښې ویش وو. د پښتونخواه په لويو قبیلو کښې اپریدي ؤو چې انګرېزانو به ورته د خیبر د درې د حفاظت په لړ کښې رتموله ورکول د موندو او یوسفزو قبیله وه چې د پېښور په قطب کښې غرونو کښې اسنوګن وو. د اپریدوسره اخوا د خیبر په سهیل کښې اورکزي وو او نور د سهیل په لور وزیر او محسود وو چې غالباً ټولو پښتنو قبیلو کښې زیاتې تند خویه او غضبناکې قبیلې دي.

راج یه دې قبیلو نه د امن قائم ساتلو په غرض رقم ورکولو. انګلستان دا سیمې په عمومي ډول آزادې پرېښې اینبې دې او هله به هې مداخلت کولو چې دوی به څه تکلیف جوړ کړو او عموماً به داسې کیدل چې امن به تالا ترغا وو. خپل

خلوینبت کلني حکومت کښې انګریزانو آزادي سیمې ته پنځوس
ګمونه په دې غرض لیږلي وو چې باغي قبیلو ته سزا
ورکړي. خو دا پالیسي چېرته کامیابه نشوه. البته د ټول
عمري جنګ په مقابله کښې دا پالیسي غوره وه.

د بهرام خان قبیله "محمدزي" قریبًا قریبًا د ټولو
پښتنو قبیلو نه ورکوټې وه. ولې دا یوه مالداره او
امن ناکه قبیله وه. بهرام خان خپله هم یو مالداره
سړې وو. د دې نه علاوه دې خان وو. د اُتمانزو مشر
وو. دا کلې د پېښور په قطب کښې د ښار نه قریبًا شل
میله لرې پروت دې.

د اُتمانزو دا کلې یو مالداره کلې وو. د دې کلي
لویې لویې کوټې وې او دلته د خاورو او لرګو نه
جوړې دوه چنبې کوردونه وو. دا د پښتونخوا صوبې په
مینځ کښې پروت دے. د اُتمانزو په قطب کښې د سوات
او دیر باجوړ او بونیر غرېزې سیمې پرتې دي. دا
د کودو ځنګلو او شور کوونکي سیندونو سیمې دي.

دَ دې سیمو لاروي به د بهرام خان په حجرې
کښې د دمې او شپې تیرولو د پاره ایساریدل. دې
کښې به زیات میلمانهٔ د قطب د سیمو نه وُو. ولې

، اتمانزي د پيښور او د قطبي غوريز و سيموترمينځ په لاره پروت دي. دا ميلمانهٔ به چېې په ځځهٔ اراده هم روان وو خود پښتنو د اولسي فاعلې" ميلمستيا" دا غوښتنه وه چې دوی ته دِ دَ درونند ميلمه په نظر وکتې شي او دَ دوی د خوراک او استوګنې ضرورت دِ پوره کړې شي. د دې مقصد د پاره د پښتنو هر يو کلي او بانډه کښې حجره ضرور وي. د بهرام خان په خبره مالداره پښتنو ځان له جدا حجرې جوړې کړې دي. دلته به په ميلمنو زيات خرڅ کيدو ولې چې پښتنانهٔ دا عزت او رتبه ګڼري چې زيات نه زيات ميلمه دَ دوی حجرو ته راشي او دوی ورته يوه ښه ميلمستيا ورکړي. په حجره کښې کلي وال راغونډيږي ګپ شپ لګوي، خبرې اترې کوي، محفلې لګوي چيلم څکي او د تشنو چايو نه خوند اخلي. په حجرو کښې دا غونډې د شپې ناوخته پورې جاري وي، دوی يو بل ته قيصې وائي، ټپې او سندرې وائي او نورې ټهالې کوي. کله کله به بهرام خان بالښت ته ډه ډه وهلې وه او د خپل نيکهٔ عبيدالله خبرې به هې کولې چې د پښتنو په ننګ بې خپل سر ورکړې وو.

د "عزت" نه علاوه بل داسې نورې نښه چې پښتون ورباندې بر شي. عام او خاص پښتون په عزت سر ورکوي. خدای دې د انګریزانو سره ښه اوکړي. چې اپریدو، مومندو، یوسفزو، محسود، وزیرو، محمدزو او اورکزو، خپل اختلافات غوڅ کړل او د یو اولس په څېر د انګریزانو د ښتولو د پاره راپورته شول د پښتون د پاره د آزادۍ نه بغېر ژوند بې مقصده دې. ولې چې د آزادۍ نه بغېر عزت چرته پاتې شي؟ دا دغه جذبه وه چې د انګریزانو ښه بخت بې بد رنګ کړو.

په داسې موقعو به ځنې کسانو ججرې نه د ځان سره شپېلۍ او سرنېږې راوړې او دا به ئې غږولې او شپه به بې بېداره سانله. په دغه موقعو به ځنې کسانو په خواږه آواز د لافاني خوشحال خټک دغه نظم ویلو چې

ـه ځو وانځلي له غليمه انتقام + مرد نه خوب کا نه خوراک کا نه آرام
چې د ننګ او د ناموس نه دي ننه وی + دغه سړي به نه وي احترام
له همت او حمیت غیرت به کښې وي + ترځنښنه نه بهتر ګنړه غلام

په ورو ورو پرې قدم بردی ورباندې خیژي
په یوه ځله ځوک نه خیژی په بام

چې غفار خان به جړې ته روان وو ده ته به دا نه وه معلومه چې په جړه کښې به د چا سره د ده سترې مه شې. خدای دِ مل شه کېږي ولې چې د لته خو به اکثر لوړ د ننگ سړه سپین، پګړیه په سر میلمانه موجود وو. دا میلمانهٔ د خیبر ښین سترګي اپریدي هم کیدې شو او د ملاکنډ د سیمې یوسفزي هم کیدې شو او پیښور ته روان سواتي هم کیدې خو چې سترګې به یې په راتلو نورې وې، د کلابو ګل به یې نومبلي وو او نوېک به یې ټنګ ته زوړ ند وو او د قطب د سیمې هزاره وال هم کیدې شو. دا ټول پښتانهٔ وُو. پښتو د دوی ژبه وه، دوی به ټول په دایره کښې ناست وو. وار په وار به یې خبرې کولې، چیلم به یې څکلو او خبرونه به یې یو بل ته اوروول.

د بهرام خان ډیر ملازمان وو. خو ده به میلمنو ته ډوډۍ خپله وړه دَدهٔ په خیال کښې دا یو برکتناک کار وُو هسې د میلمستیا په قاعدې کښې دا خبرهٔ ښه ګڼې خان دِ دَ میلمنو خدمت په خپل لاس کوي. بل په خان دا کار خپله نه کولو. خو دې خان به خپلو خامنو ته

وئيل چې يو لاروے ميلمه د الله د طرف نه راځي او ځکه به د دوی پالنه زړه په خپله کوم.

د (۱۸۹۷) د جون په دغه ورځ به د اتمانزو په جرو کښې د ملکې د جشن نه- چې زرګونه ميله لوې وو. نورې ډيرې د دلچسپۍ خبرې شوي وي. مومند و يا سواتيانو به د پيښور په لاره د بهرام خان په جرې کښې د دې په وخت ضرور دا اطلاع په جوش اوجذبه ورکړي وې چې ملا مستون چې اوس اوس د افغانستان نه راغلې دې او نن صبا د اُتمانزو په قطب کښې د غريزو سيمو دوره کوي او دا تبليغ کوي چې د انګريزانو د ايشلو وخت را نزدې شوې دې. ملا مستون وائي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ما ته خوب کښې فرمائيلي دي چې د انګريزانو وخت را نزدې شوې دې - دې ميلمنو به وئيلي وي چې ملا مستون وائي او دا لوظ کوي چې ځما ګيټې به د انګريزانو د پاره د توپې ګولۍ جوړيږي.

بهرام خان به په دې خبرو حيران شوې نه وي دلې چې پښتنو ملاګانو به هميشه خپلو خلکو نه د انګريزانو خلاف د را پورته کيدو غږ ورکولو. چترال کښې چې دوه کاله آګاهو کوم بغاوت شوي وو ځکه دي

چتي کولو د پاره انګرېزانو پنځلس زره فوځ اچولي وو او هغوی به په دې نتيجه را رسيدلي وي چې دَ دوی ته په دغه سيمه د لوړو مورچو، کېمپونو او سړکونو ضرورت دې. داسې څه امکان نه شو کيدې کني د قطبي سيمو اولس به د غه پېښنه دومره زر هيره کړې وې. د بهرام خان دِ پارهٔ د دغې اطلاع مقصد دا کيدې شوچې يو بل بغاوت کيدونکې دې ولې چې پنځوس کاله اګاهو انګرېزان دې صوبې ته را پرېوتي وو. د هغې نه پس د دغې صوبې تاريخ د بغاوتونو او د انګرېزانو سره د ډغرو وهلو تاريخ وو.

## دوئيم باب

# ايسټ انډيا کمپني او په هندوستان د انګريزانو قبضه

(جولائي ۱۸۹۷ء)

ځما د اولس تاريخ د کټو او د مړاني د قيصو نه ډک دې ولې د لته کمي هم شته هغه دا چې دَ ډير و قربانو ورکولو نه پس څه تر لاسه کړې شوي دي، هغه خپلو کښې د دشمنو او ذاتي حسد په وجه بابلل شوي دي. دوي نه هميشه خپلو کښې د بې اتفاقۍ په وجه تاوان رسيدلې دې. بهرني قوت په دوی بريالې شوې نه دې. ولې چې څوک د جنګ په ميدان د دوی مخه و هلې شي؟

خضرت باچاخان

کم از کم ابتدائي وړځو کښې د انګرېزانو داسې څه اراده نه وه کښې دوی ېخپل شهنشاهيت جوړوي. يو قدم د بل قدم اُچتولو د پاره لاره سمه کړه. دوی د هندوستان د فتح کولو په اراده نه وو راغلي چې ۱۵۹۹ء کښې ايسټ انډيا کمپني جوړه کړې شوه. دَ دې پاليسي تجارت کول وو. جائيداد جوړول نه وو. د دې په جوړېد و سره د هندوستان سره د دې کمپنۍ يو ادبږ د عمري تعلّق جوړ شو. تجارتي عمل کښې د کمپنۍ افسرانو د هرې يوې موقعې نه فائده اوچته کړه او په دغه ډول بې د کمپنۍ کار پراخه کړو. او د نولسمې صدۍ په ابتدائي کلونو کښې ايسټ انډيا کمپني په ټوله نړۍ کښې زياتي اثاثې لرلې. هندوستان د انګلستان د باچاهۍ په تاج کښې يو قيمتي غمې جوړ شوې وو.

دا ټول عمل هغه وخت شروع شو چې کله د تورو مرچو په نرخ کښې اضافه اوشوه. ولنديزيانو چې د هندوستان د مصالحو د تجارت اجاره دار وو د مرچو په نرخ کښې اچانک اضافه اوکړه. د لندن څني تاجرانو ته د مرچو په نرخ کښې دا اضافه بې جوازه او ناجائزه کاره شوه. او هغوی د دې رد عمل کښې ۱۵۹۹ء

په ستمبر کښې د ایسټ انډیا کمپنۍ په نوم یوه کمپنې جوړه کړه. درې میاشتې وروستو ملکې اېلزبیتھ په یو دستاوېز دستخط اوکړو چې د کومې تر مخه دې کمپنۍ ته د کیپ آف ګوډ اپ" نه اخوا د ټولو ملکونو سره د تجلس کالو دپاره د تجارت کولو اجازه ورکړې شوه. د ۱۶۰۰ په اګست کښې د کمپنۍ رومبنې جهاز د بمبۍ سره نزدې د هندوستان مغربي ساحل ته را اورسیدو او دغه ښار ګوراګان د تجارت په غرض راغلل.

لږه موده پس کمپنۍ بمبۍ، مدراس او کلکتې سره نزدې د تجارتي ګودامونو حق ترلاسه کړو او بیا نو د کمپنۍ جهازونو د هندوستان نه بنه زیات مقدار کښې مصالحې، چیني، ریښم او مسلن کاټن انګلستان ته رسول شروع کړل. او د هغه اړخه به دغه جهازونو د انګلستان تیار جوړ شوي شیان د تجارت په غرض راوړل او بنه زیاته ګټه به یې کوله. د هندوستان حاکمانو د ګوراګانو سره تجارت د ګټې ذریعه اوګنړله او د دوی هر کلي یې اوکړو.

اخو دا چې اختلافات پیدا شول. کمپنۍ د خپلو مفادو د تحفظ د پاره په مقامي سیاست کښې برخه

اختل شروع کړل. کمپنۍ د سپین پوستو او هندوستاني سپاپانو په پوځ او درولو او د کمپنۍ حرص ناکو او حوصله مندو گورنرانو ځني سیمې قابو کړې او په دغه ډول د کمپنۍ د پاره فتحو موندلو یو مسلسل عمل شروع شو او اخري نتیجه بې دا شوه چې هندوستان بې د خپلې باچاۍ برخه اوگرځوله.

کال اولس سوه اوه پنځوسم (۱۷۵۷) کښې د کمپنۍ یو کرنل رابرټ کلایو بنګال کښې د یو مقامي حاکم پوځ ته ماتې ورکړه. او په شمالي هندوستان کښې بې د انګریزانو اثر رسوخ ته لاره سمه کړه. په غیر محسوس ډول د کمپنۍ افسران د سوداګرو نه په حاکمانو کښې بدل شول. د دې عقیدې لاندې چې د هندوستان د اسنوګنو د پاره د انګلستان د حاکمیت نه بل څه بښه نه شي کیدې، حرص ناکو ګورنرانو په جنوب کښې میسور او ټرېون کور، منځني هندوستان کښې، حیدرآباد او مرانهټه او اخر تهول بنګال، دکن او د ګنګا میداني سیمې خپلې ولقې کښې راوستې. د ۱۸۰۰ء په شروع کښې کمپنۍ د هندوستان ددېمه برخه ځمکه خپل واک کښې اخستې وه. پنځه اویا زره انګریزان او هندوستانیان د کمپنۍ ملازمان وو، پوځ ایې

دوسره لوښي وو چې د یورپ براعظم کښې د بل ملک دومره پوځي قوت نه وو. او کلیزه آمدن به ېې اکثر د عظیم انګلستان د آمدن نه زیات وو. یواځې د شاهي بیړېي سره د کمپنۍ نه زیات سمندري جهازونه وُو.

د دې عظیمې کامیابۍ په نوس کښې بدعنوانۍ بدانتظامي هم شروع شوه او دې سره سره په اولس پابندۍ او لګولې شوې. د لندن سیاستدان په دې خبرو پریشانه شول چې دَ یوې ذاتي کمپنۍ د ډاټوکغرانو بورډ په یو سل میلینو خلقو حکومت کوي. رو رو د انګلستان حکومت د کمپنۍ په اجاره او تجارتي حقوقو بندیزونه اولګول او ګورنر جنرل ېې د سرکاری نمائنده په حیث مقرر کړو. کمپنۍ په سرکاري نوکر هغه څه جوړه شوه. چې څنګه عملاً ره یعنی د انګلستان د خارجه پالیسۍ یوه آله کاره یو ایجنټ په بل غلبه موندل د شرابو نشه ده او د نولسمې صدۍ په شروع کښې دغه نشه لندن کښې د شهنشاهیت جوړونکو یو عادت جوړ شوې وو او داسې څه مجبوري نه وه کښې یوۍ د برصغیر په حوالې سره دغه عادت بدل کړي چې کودۍ کله خپله دا باور جوړ شو. یا کم نه کم اولس دې نه مائل کړو چې د انګلستان واک او اختیار

هر وکړي په فائدې کښې ده. نو دوی تیغ په نیغه یرغل او حملو ته کوټي واچولې. یو نقاد وائي چې انګلستان به وړاندې یوې علاقه کښې یو ریذیډنټ اوټاکلو رداسې ټاکلو کښې به ېې د ډرر نه کار اخستو) بیا به ېې په دغه علاقه مشورې او نصیحت ورونیلو، بیا به ېې په دغه سیمه کښې د بد انتظامۍ خلت نور اوټکولو او پروپیګنډه به ېې شروع کړه، بیا به ېې مداخلت شروع کړو، بیا زور زیاتي او آخر دا چې دغه سیمه به ېې خپلې باچاهۍ کښې شامله کړه.

دا خبره اوس په ډاګه شوې ده. چې تجارتي جرګو د هندوستان په ځرېې ځکې قبضه اوکړه. چې کوم کارکېدونکي وو هغه هسې هم وشو" دا خبره د سنده یو مشر انګلنډ برنس نه هغه وخت کړې ده. چې کله ده په رومبني ځل د سنده دوره کړې وه." تا زمونږه هیواد اُلیدو، دغه مشر زیاته کړه او دې صحي وو. لس کاله پس کال اتلس سوه درې څلویښتم کښې دکمپنۍ ګورنر جنرل لارډ ایلن بورو جنرل چارلس نپیر ته حکم ورکړو چې د سنده امیرانو ته اوبه ځرېې کړه او د ډاکې مارو دغه سیمه ولقه کښې واخله".

کله کله به کمپنۍ د بیوقوفانو په شان کار اوکړو. داسې کار د ګورنر جنرل لارډ ایلن بورو نه وړاندې آک لینډ !

کېږي وو. د آک لېنډ دا خيال مازغو کښې را اوچت شو چې
د پښتنو د وطن مشر. د افغانستان امير چې لرې کړې شي
او کابل کښې انګلستان ته په منتقل ډول ځای ورکړې شي
ده په افغانستان کښې د ګوتو وهلو اخري فيصله کړې ده او
په دې غرض ده ته ضروري مشورې ورکړې شوې وې.
آک لينډ يو پوځ قائم کړو. چې "آرمي آف انډس" نوميده
دې کښې مجلس زره کسان وو او هم دومره شمير کښې ورسره
اسونه، څچرې، اوبنان او هاتيان وو. د کال اتلس سوه اته
ديرشم (١٨٣٨) په يومبنې اکتوبر آک لينډ اعلان
اوکړو. چې د افغانستان واکمن د خپل هيواد د پراخه کولو
منصوبه جوړه کړې وه او د ده د حرص په وجه د هندوستان
امن او سلامتيا په خطره کښې ده او په دغه ډول رومبۍ
افغان جنګ شروع شو او انګريزان ډير په آرام سره دې
کښې بريالي شول. دا د پيغلې وکټوريه اولنۍ پوځي فتح وه
ګوراګان کابل ته اورسيدل.

خو دې کاميابۍ عمر ډير لنډ وو. افغانان چې قريبًا
قريبًا ټول پښتانهٔ وو، هغوی ته مانې نه وه ورکړل شوې
هغوی غرونو ته ختلي وو چې چرته هغوی ښه محفوظ وو
ښه مورچه بند وو. د کال اتلس سوه يو څلويښتم ديځي

موسم کښې افغانانو د انګلستان په ریذیډنسی حمله اوکړه.
ریذیډنټ یې اووژلو او پوځ یې په منډو سرکړو.

په ۷ جنوری ۱۸۴۲ء د انګلستان څلور زره پنځه سوه پوځیان او دولس زره (۱۲۰۰۰) نورکسان د یخو درو په لاره د کابل نه د هندوستان په لور روان شول. پښتو قبیلو په دې پوځ حمله اوکړه او ټول کسان یې جاروکړل. دجنوری په یوې یخې ورځ ډاکټر ویلم برائیډن چې د پوځ یو میډیکل آفسر وو مړکوني حالت کښې د جلال آباد قلا ته اورسیدو او د هغه ټندر حال احوال یې ټیں کړو چې په دوئ را پرېوتې وو. بو سویلین چې افغانانو دوستونوشې کړو اوبیکل چې هغه خبره صحي شوه کومه چې مونږ دکابل نه د روانېدو په وخت اوریدلي وه. چې محمد اکبر به ټول پوځ ختموی او یوائې یوکس به په دې غرض ژوندې پرېږدي. چې جلال آباد نه واپس شی او دخپل بدبخت حال اووائي؛

د بل کال دګرمۍ موسم د انګلستان یو انتقامی پوځ بیا په کابل یرغل اوکړو، د کابل بنار یې اوسوزولو او خپل عزت نې ساتلو په غرض د سفید کوه په لاره هندوستان نه واپس راغلو. ګورنرجنرل بیا په ټوټ سره خپل حاکمانه

اندازکښې اعلان اوکړو چې" ړهٔ داافغانانو ته پرېږدم چې
هغوئ د خپلو جرمونو په نتيجه کښې د پيدا شوي ياچاګرد ئ‌ه
حالت کښې دخپلې خوښې حکومت قائم کړي.

انګريزانو چې د افغانانو د لاسه کومه ماتې خوړلې
وه، هغې خو د انګريزانو غرور او فخر دړې وړې کړو
ولې د انګرېزانو لاسونه مات نه شول. د لس کلېزه وخت
تېرېدو نه اګاهو دکمپنئ پوځ د سکهانو نه دوه جنګونه
ګټلي وو. سنده ئې خپل کړې وو، پنجاب او راجپوتانه ئې
قبضه کړې وُو او داباسين او افغان پولې ترمنځه ئې د
پوځي اهميّت سيمه چې پښتونخوا بللې شوه د سکهانو نه لاس
ته کړې وه.

دکال اتلس سوه پنځوسم نيمايئ پورې ايسټ انډيا
تجارتي کمپنئ يو مقتدر قوت جوړ شوې وو او يواځې
دچين شهنشاه او د روس زار دکمپنئ دګورنرجنرل نه په
زيات اولس حکومت کولو.

کال اتلس سوه اووه پنځوسم (۱۸۵۷ء) کښې د هندوستا ن
پوځ د انګلستاني افسرانو خلاف بغاوت اوکړو او دا دومره
خور شو او دومره زور ئې اونيوهٔ چې هندوستان برخه
کښې د انګلستان په ولقه کښې پاتې شو انګريزانو به دې ته

، هندوستاني بغاوت" وئيل. د دې په نتيجه کښې لندن کښې د کمپنۍ خلاف رائې عامه او حکومت اُپاريدل او د کال اتلس سوه اتهٔ پنځوسم د يو فرمان نه ځخه کمپني ختمه کړې شوه او د دې ذمه وارې ملکې ځپلو لاسونو کښې واخسته. او په دغه ډول "جان کمپنې" د تاريخ يوه برخه جوړه شوه او د دې ځائې د انګلستان راج اُنيو. ياکم نه کم دا چې په هندوستان قبضې نه سرکارې شکل ورکړې شو.

د انګريزانو په بخت کښې نورې ډيرې فتحې وې. يوځو ډغرې وې ولې په پښتونخوا کښې بې د تکليف او مشکلاتو سيوا نورځه په نصيب نه شول. خو د بغاوت او جشن نه مېنځه ځلوېښتو کلونو کښې هندوستان کښې د برطانيهٔ عظمٰی ځمکه نوره پراخه شوه او زړې قبضې بې نورې مضبوطې کړې. ۱۸۹۷ء کښې باچاې کښې ټول ټال درې سوه دوه اويا ميلينه اولس وو، دې کښې درې سوه اته ميلينه خلق هندوستان کښې اوسيدل. هندوستان کښې بې حده خام مال وو او هندوستان کښې د تيار مال په لکونو خريداران وو دغه وجه وه چې د انګلستان ټولې باچاهې کښې هندوستان ته يو خاص اهميّت حاصل وو. هندوستان کښې قامي شعور

را ښېداریدو ترو وخته پورې انګلستان د هندوستان نه ښه زیاته فائده اوچته کړې وه.

د جشن په ورځو کښې به د هندوستان منتقبل ډیر روښانه برتښیدلې وي. په خاص توګه شمله کښې د وائسرائې د محل د کړکونه به نور ډیر ښائسته په نظر راغلې وې د نوې بغاوت نه ردٍه کړې سبق د انګریزانو ښه زوت شوے وو او هندوستاني پوځ د هغه راسې په یو څو موتعو د خپلې وفادارۍ ثبوت ورکړې وو. ملک کښې امن او امان وو هن دا چې پښتونخوا کښې هم تلاره تلاري وه پښتونخوا کښې د ۱۸۹۷ء د اتۀ ویشتم جولائۍ ګرمه ورځ وه او چې کوم وخت بهرام خان او غفار خان د اتمانزو په بازار کښې د تاجرانو او کاریګرو د دوکانونو سره خوا کښې تیریدل دغه وخت نمر اوچت ولاړ وو. د جشن یوه میاشت شوې وه. کوڅو کښې غلې غلتیا وه او دیات ترکلیوال خپلو خپلو پنهو ته تللي وو. دوي به چې په لاره د چمیار او د کولال او نورو سوداګرو سره تیریدل هغوی به ورته سترې مشې وئیل.

خان په خیر راغلې، دوي ورته مسکي شول او ښوس بې نرښه اوکړو چې تاسو څنګه یې خان ورته هم

دغه شان په ارت زړهٔ اوئیل چې ناسوَ ستړې مه نې" ستړي مه شې" الله موخوشحاله لره.

کېدې شي چې بهرام خان د دوی سره د خبرو اترو د پاره ولاړ دې. ولې د هغه کورنه بیرهٔ وه چې د میلمنو غم اوکړي دا کاریګر او سوداګر ټول د دهٔ پښتانهٔ رونړه وو او دا ټول په دولت او رتبې کښې د فرق باوجود برابر وو. د پښتونولۍ د قاعدو مطابق دوی ټو برابر دي. د بهرام خان د پاره دا څه خبرهٔ نه وه که د دوی سره ناست وې ولې اوس بهرام خان بیرهٔ کښې وو او ځکه دې په دوی را نیز شو.

بهرام خان دغه وخت هم د حجرې نه راغلې وو چرته چې د سوات او باجوړ میلمانهٔ وو او یو نوې خبر هې راوړې وو. بهرام خان د ډیرو ورځو راسې دا خبره اوریدلې وه چې د پښتونخوا په شمالي سیمه کښې تکلیف جوړیدونکې دې. اوس دا خبره یقیني شوې وه چې ملا مستون سنه زیات خلق د انګریزانو خلاف راپارولي وو. هیچ چاته دا معلومه نه وه چې وړاندې څه کېدونکي دي چې دې میلمنوځه وئیل د هغې مطابق څو څه وخت هم جنګ شروع کیدې شو.

خان او د دهٔ څوي د اتمانزو د ناعي ديوال ته اورسيدل ماشومان د دوي سره په ننده تير يدل او مخامخ د ديوال سوري ته ښي ځان رسوو. د پښتنو په کوډونو کښې برجونه وي چې د چرته نه دوي د دښمن څارنه کوي او د دې برجونو او مورچو په وجه د پښتنو کلي داسې په نظر راځي لکه د پخوانۍ زمانې بنادونه. يوه داسې سيمه چې چرته کور د کور او خيل د خيل دښمن وي هلته هر يو کور کښې د کونې د پاسه مورچه يا برج جوړ شوې وي.

څنه ستړ کاتي هلکان چې د ديوال سرته ختلي وو غفار خان ته آواز کړو. اې غفاره اې غفاره' دا د دهٔ همځولي او ملګري وو. غفار خان دوئ ته اوکتل او په خندا خندا د دوئ نه تير شو.

په يوه بله موقع مونږ ګورو چې د کلي نه بهر بهرام خان د سيند په غاړه غاړه روان دے او د دهٔ څوئ غفار خان ده پسې پسې روان دې. دوه هلکان د سيند په غاړه خپله مينبه لمبوي او چې دې ورسره خوا کښې تير يږي نو هغوئ ورته لاس اوچت کړې او سلام ورته اوکړې. د سيند د غاړې يخې هوا کښا نې

د خان سره د لري نه د آذان آوازونه راورسي. د الله اکبر الله چېر لوي دي خوږ آواز د خان تر غوږ وشي.

دا د ماښځين د مانځه وخت وو، خان خپل هلک نه واې چې زه نه کورته ورشه، زه هم د رپسې بیم او د مانځه د پاره د قبلې په لور مخ کړي.

د غفار خان پلار چرې هم مونځ نه قضا کولو که څې په سخت ناروکاره هم وو، کار به يې پر يښودو او د پنځو په ځنځ به يې د مونځ نيت اوکړو. د ده تعلق د محمدزو د قبیلې سره وو.

بهرام خان هم د دغې وادۍ د نورو پښتنو په شير عالي نسب پښتون وو خو د ده کليوالو ته دا خبره معلومه وه چې د ده پښتون ولي. چې د پښتو نا ليکلي قانون دې د نورو خلقو نه خان له جدا ده. بدل اخستل د پښتنو د معاشرې او ټولنې يو امر، يو قانون او اصول گڼلې شي په يوې معمولي بې عزتۍ هم د دوی د بدل قانون په حرکت کېږي راشي.

او چې کله د بدل عمل شروع شي نو دې به رد عمل کېږي په موده موده ورور د ورور خلاف، تره د تره خلاف او خپل د خپل خلاف په جنګ

اخته وي او وار په وار يې د کورونو نه د ځلمو جنازې اوچتيږي. د بدل نتيجه دا هم شي چې يو دښمن د بل دښمن سر ټيټولو په غرض خپلې ټولې وسيلې په کار راولي او په دغه دبدل دوبه پلاس په نيکه د غريبۍ او ناداري د قيد نه خلاص نشي.

قدرمن ټي. ايل پنل چې د جشن په موده کښې هم بنوں کښې يو مشن هسپتال چلوو په دې بابله ليکلي دي چې د پښتون په نکو او مازغو کښې د بدل اخستو دا جذبه څومره پخه شوې ده» هغه ليکي چې د بدل نکې د پښتون په غوږ ډير خوږ لږيږي. دا وائي چې» دا د بدل جذبه او نکې هغه وخت نور هم خوږ شي چې يو کس خپل دښمن نه د مرګي کوزار ورکړي او دا بيا هم دا سوچ کوي چې خدايه دِ کړي چې ځما دا دښمن څه وخت د پاره ژوندې پاتې شي چې ځما د رنه اندازه ورته اوشي».

بناغلي پنل د يو وزيري روزير محمود) قيصه ليکلې ده د دې وزير نظر د خپلو دښمنانو د نسله تباه شوې وه. ډاکټر صيب وائي چې دا کس مانه راغلو او په ملت او زارو زانه سر شو چې ډاکټر صيب په

تا به شي او په خدای به شي. بس دومره اوکړه چې دا نظر د يوې ورځې د پاره راشي ډاکټر صېب ليکي چې ما د دې رنځور نه تپوس اوکړو چې ته د يوې ورځې د پاره په نظر څه کوې؟ ده راته اووئيل چې بس دومره کار به اوکړم چې خپل دښمن لوخړه کړم —

ډاکټر صيب ليکي چې ما ورته او وئيل چې الله تعالیٰ خو په معاف کولو خوشحالیږي. د الله د خوشحالۍ د پاره د عفو او معافۍ نه کار ولې نه اخلې؟ وزير جواب راکړو چې دغه هدايت زمونږ د پاره نه دې. ډاکټر صيب بدل، بدل، بدل رونده وزير جواب راکړو.

چې د بدل دا سلسله کله شروع شي نو هله اُدرې چې يو فريق بيخي ختم شي. دا د پلار نه ځوئي ته وراثت کښې را رسي. د دې نه خلاصې هم نشته که يو سړې د خپل دښمن نه بدل په ... وينو واخلي نو دا څنګه سړې کيدې شي؟ ده ته به څوک سړې وائي؟ دې به خپل ټول قبيلې او ټبر نه څنګه سترګې نيسي؟ ځکه خو بدل اخستل د يو پښتون د پاره د ژوند نه زيات غوره کار دې او ځکه خو د دې اخپل سر قربان کړي ... د بې عزتۍ پور په ځان نه

پرېږي دي.

د بهرام خان سوچ هغه نه وو کوم چې د نورو پښتنو وو. د ده لويه خوبي دا وه چې ده به دښمنان نه جوړول او د دښمنو، ترېګنو او پروجنبو نه به بې څنګ کولو. انتقام او بدل اخستل هم د ده خوښ نه وو. دې په ټوله ضلعې کښې د "معاف کولو" د پاره مشهور وو چې دا دهٔ غېر پښتون خوئي بوئي ګڼلې شو په دې وجه يعنې د معاف کولو د خوبۍ په وجه ځنې خلقو د دهٔ د نرم طبيعت نه فائده اُخستوله او دې به بې بې عزته کولو ولې د بهرام خان دا پخه عقيده وه چې د الله تعالیٰ په نظر کښې عزت او درناوې د هغه چا د پاره دې چې څوک د ارت زړهٔ نه کار واخلي، دښمنان معاف کړي او د رورونولوانو سره د روغې جوړې او مينې ژوند تېر کړي او دهغوئ کمزورې او زياتي معاف کړي. او برداشت ئې کړي. د بدل اخستو په ځائې معاف کول او هېرول د دهٔ ډېر خوښ وو. دا کيدې شي چې د بهرام خان د کردار د دې اړخ نه د دهٔ ځوئې متاثره شوې وي ولې چې دنيا اوليدل چې حضرت باچا خان د عدم

نشلد خیال او فکر ته داسې عملي شکل ورکړ وچې ډیر ودنه کونه په خوله پاتې شول.

د بهرام خان دې روی‌یې د ده کلیوال ډیر پرېشانه کړي وو- دا څنګه بنیادم دې هغوی به تپوس کولو؟ خو هغوی ته دا هم پته وه چې بهرام خان د بادرا او بهرسې جوګه انسان دې او په دا وجه به کلیوالو خپل بچت رنمو نه د ده سره امانت کول او د ده نه به بې څکه څه قسم رسید نه اخستو چې هغوی ته دا علم ووچې بهرام خان یو سوچه انسان دے.

د انګلستان د حاکمانو هم دا خان خوښ وو دلې چې ده کښې کینه او نفرت نه وو- ده د انګریزانو خدمت هم چرې نه وُو کړې لکه څنه خانانو به چې د هغوی موتاني کوله او د هغوی په نظر کښې به بې د خپل قدر او درجې زیاتولو د پاره د هغوی جائز او ناجائز حکمونه منل- خو بهرام خان به دومره کول چې د انګریزانو لحاظ به یې ساتلو. انګریزانو به د څنه نازکو مسئلو به بایله د ده نه مشورې غوښتې او انګریزان به د.ده په دې خبره هم نه خپه کیدل که ده به هغوی ته غلط ولط نوم اخستو څکه چې

دَ انګريزانو دا باور وو چې بهرام خان د دوی نوموته د بدلحاظۍ يا د نفرت له وجې غلط نه اخلي.

بهرام خان مونځ اوکړو او کوټ ته روان شو چرته چې د ده ټبر اوځوی د ده انتظار کولو.

داخله! غفار خانه ډوډۍ اُوخوره، د ده مور دهٔ ته اووئيل او عبدالغفار چرپل اوو هلو او د ډوډۍ د پاره تيار شو ــ باچا خان به په مزه مزه خوراک کولو چرته به چې به کښې بههوو او چې کله دې لوې شو د پښتو مشر جوړ شو او دې به چرته په دوره لاړو نو زيات کوشش به ئې دا کولو چې په چا ميلمه نشم او که چا به ورته په ډوډۍ زيات خرڅ اوکړو نو په دې به خپه کيدو او دا به ئې فضول خرچي ګڼڼله. ده به ساده خوراک کولو او چې چا به دې دومره په ساده خوراک اوليدو نو هغوی به دا خيال کوو چې ګني دې کنجوس کوي خو د هغه مقصد دا وو چې په کيده ډير خرڅ کول ښهٔ د مړانې او بهادرۍ خبره نه ده د مړانې خبره دا ده چې يو ورور د بل ورور په کار راشي او يو بل ته مينه او محبت ورکړي.

چې کله دې هلک او پلار ېې ډوډۍ خوړله د غفار خان مور تو ختنګ ته ناسته وه. و د کلي د حال احوال ئېوس ېې کولو — پښتنو کښې د زنانه وَو د پردې سخته پابندي کوله شي د پردې مقصد دا دې چې زنانه د سړو په مجلس کښې نه کښيني او نه د سړو په کاروبار کښې کوډې وهي د غفار خان لا ملوتوم نوب کبې دا خبره ناخوښي وه چې د ده مور د خان ته کوښې ناسته وي. ده به اکثر داسې څه نوې خبره کوله چې ده به اوريدلي وه — خو نن، د ده پلار داسې يوه خبره اوکړه چې په اوريدو ېې د غفار د مور رنګ زيړ شو — دا د بو بل جنګ خبر وو. دې ته د جنګ يره وزنګي ناوان او تباهي او بربادي معلومه وه ـ دا څه چې هر يو پښتون ته د دې خبرې علم وو. چې د جنګ قيمت څهٔ وي ؟

د غفار خان مور يوه پاک لمنه ښځه وه — دا چې کله پيغله هم وه نو چرې مونځ تربنه قضا شوې نه وو ولې چې غفار د ټولو نه کشر وو په دې وجه ورسره د مور ډيره مينه وه. هغې ته دا معلومه وه چې غفار

سوچه او د پښتونې هلک دي. او د نورو هلکانو په څیر نه دي. د غفار خان هم د خپلې مور سره بې کچه مینه وه.

بهرام خان به لیدل چې ځلمې غفار ډیر آزاد طبع دي او ملکو ګنې یې داسې هلکان هم شته چې د هغوي سره هیڅوک ملګرتیا نه کوي — دا د لارو کوڅو صفا کوونکي بنګیان وو. غفار به ډیر وخت د سپینډ په غاړه تیرولو او هلته یې خان له مشغولیت جوړه کړې وه کله به داسې اشول چې بهرام خان به د غفار د پاره بې صبره شو نو خپل تیر به دا تسله ورکړه چې نه د غفار خان نه یې فکر ه شه هغه یو مضبوط او یې بدو هلک دے هغه سم باچا دي — مور به یې ښه په پاور سره او وئیل او بهرام خان به اووې چې ښه ده چې نه داسې وائي داسې به وي.

هغه ورځ ماسپخین مازدیګر بهرام خان نه دا خبره را او رسیده چې پرون نه بل پرون قطب ګنې جنګ شروع شوې دے. وړاندېنې خبرونه خو ډیر واضحه هم نه وو ولې د ډاډګیرنې خبرونه نه وو. چې د پښتنو یو زبردست بوځ چکدره او ملاکنډ کښې د ډوګنې بوځ په قلاګانو حملې کړي دي او د

ملکي پوځ ښې کس کور کړي دي.

د فرنګي فوځ د پښتنو مقابله او نه کړې شوه او
په مخه شول. د ملا مسنون دا خبره رښتيا کيده
چې د دوی د خلاصي ورځ را نزدې شوې ده.

درئیم باب

# دَ تیراه دَوادی تباهي

## جولائي، دسمبر ۱۸۹۷ء

زموږه مجبوري دا ده چې زموږه صوبه د هندوستان لاره ده. او په دا وجه موږ تاوان کښې شو. (حضرت باچاخان)

" په اوونیشم جولائی د پښتونخوا نه جنګي نامه نګارلندن کښې خپلو لوستونکو ته اُولیکل:

یو بدخواسد تیلي ګراف اپرېښ په منډو سرتسو او نونباس چاونړی کښې هې د بولسمې بنګال لانسرز کسان را بیدار کړل ده دوی ته دا خبر ورکړو چې هله راپاڅه د ملاکنډ په ګېرژن په زرګونو قبائل ورختلي دي.

او ټول فوځیان به د ملاکنډ په لور سمدستي روانیږي"

دا جنګي نامه نګار ونسټن چرچل وو دَ ده عمر دا وخت یوویشت کاله وو او ده چې ۱۸۹۷ء د پښتونخوا په سیمه د جنګ شروع کیدو حال لیکلو د غه وخت کښې دي د

دَ هندوستان نورته حساذ کښې یو جونیر افسر وو۔ دې د جنرل بنډن بلډ لاندې ملاکنډ فیلډ فورس کښې د جنګي خبریال په حېث شامل شوې وو دا فورس دَ جنګ مېدان ته په دې غرض لیږلې شوې وو چې دَ باغي قبائیلو نه په زړهٔ پورې بدل واخلي او سبق ورته ورکړي۔

د چرچل د تحریر نه د تاج د جنګونو د حکمت عملۍ بنه صفا وضاحت کیږي چې کوم وخت بدحاله قبائیلو د ملکې د توپو اود نه ځان وړاندې کړو، دې ځلمي افسر د لندن ډېلي ټېلي ګراف لوستونکو ته د مړانې اوهم جوړې قیصې ور لیږلې۔

زهٔ چې کومه قیصه لیکم دَ دې تعلق د پښتونخوا د جنګ سره دې. د باچاهت د قسمت فیصله دنتیجې سره تړلي نه وي خو بیا هم دا قیصه به ددلچسپۍ نه خالي نه وي.

د راتلونکي جنګ په بابله افواکاني ګودې شوې. د لندن ډ کا فې دَ دوکانونو په څیر د هندوستان بازارونه هم د عجیبه عجیبه قیصو نه ډک وي. دا قیصې د زرخیزه مازغو ایجاد وي. یو غیر اهم

حقیقت نه د مبالغې تشکل ورکړې شي او بیا د دې غیر
اهم حقیقت څیره دومره وړانه شي چې د پیژندګلو
نه بهر شي او بیا د دې په زړګونو غیر منطقي او خیالي نتیجې
رانسکلې شي او دا بیا د حقیقتونو په څیر خوړولې شي.
او په دغه ډول د افواهاتو جوړولو، خورولو او د دې
نه منونکو نتیجو دا کار روان او جاري وي.

خو دې افواهاتو او دروغو او بې حقیقته قیصو
کښې څه نه څه اصلیت ضرور پټ وي. چې څنګه د کال
۱۸۹۷ ز د جولائی میاشت په تیریدو شوه، د ملاکنډ بازار
د لیونې فقیر د معجزو د قیصو نه ډک شو.

د اسلام د فتح ورځ نزدې شوې ده یو طاقتور
سړې د دین د شریعه د پاره را پاڅیدلې وو. ویلې
به شول چې انګریزان به جارو کړې شي او چې نوې
میاشت را بوسیره کیږي یو انګریز به پاتې نه وي
دې لیونې او ستر فقیر په غرونو کښې یو طاقت ور
پوځ پټ کښینولې دې. او چې کله وخت راشي دا پوځ
به پیاده په اسونو او د توپ خانې سره را څرګند شي
او کافران به ختم کړي.

په دې خبره سړې پوهیږي چې د نوښار ګیرژن

کښې به دغه د نیلي ګراف حملې اړ بېتن په دغه خبره
هک بک شوې وي ولې چې ۱۸۹۵ء کښې د چترال د شورش
نه پس پښتانهٔ خاموشه وو. او صرف یوه میاشت
وړاندې ده لوستي وو. چې چکدرې ملاکنډ او پېښور
کښې پښتنو د ملکې په جشن کښې ګډون کړې وو.
خو دې یوه کسان به د جولائی په دغه مابسام
د پښتنو د تشدد په پېښه حیران شوي نه دي ولې چې
انګرېزانو په پښتونخوا کښې په کومې پالیسۍ عمل کولو د
هغې غوښتنه داسې حمله وه. د تعجب خبره خو دا ده
چې د انګرېزانو دغه پالیسۍ د پښتنو د پاره نه وې.
د یو دښمن د پاره وې. پښتون د انګرېزانو دښمن وو
ځکه چې د انګرېزي پوځ ځېې چرې هم په دغه سیمه
کلکې شوې او نهٔ به شوې وې.
د کال ۱۸۰۷ء راسې چې کله نپولین د روس د زار
الیګزینډر اول سره په تیلسټ سیند کښې یوه کشتۍ
کښې ملاقات کړې وو او په هندوستان بېې د روس
او فرانس د شریکې حملې صلاح ورکړې وه. د هغه راسې
روس د انګرېز د پاره د پرېشانۍ سبب جوړ شوې
وو. روس چې مرکزي ایشیا ته ورو ورو را تېر شو

دې سره د انګلستان د خارجه دفتر دا خیال پوخ شوې وو چې روس په چل‌چل هندوستان ته رارسیدل غواړي ۱۸۶۵ء کښې د زار نوځ تاشقند او نیوو بیا یې سمرقند ولقه کښې وا خستو او ۱۸۶۸ء کښې یې بخارا د روس طفیلي او ګرځوله دې سره د روس او انګلستان تر مینځه په یو بل ذ برتری موندلو د پاره کوینڼ کیم بنه په زور کښې شروع شوې وه.

کړ ۱۸۴۲ء کښې په کابل کښې د لوغړنۍ ماتې خوړو نه پس انګریزانو د افغانستان د پښتنو قبیلو نه ځان په عزتمنده فاصله کښې ساتلو. خارجه دفتر کښې د " کلوز باردر فکر" طرفدارو په کلونو کلونو د یر په کامیابۍ سره دا دلیل وړکولو چې د افغان قبائلو سره د تعلق ښه‌لو بنه طریقه دا ده چې دوی ځان ته یوائې پرېښودلې شي. د انګریزانو دا یو کلک خواهش وو چې د افغانستان سیمه دې د راج او روس تر مینځه د بفرکار ور کوي.

خو د خارجه دفتر د " فاروړد فکر" طرفداره حاکمان د دوی سره اتفاق نه کوو دوی وئیل چې د افغانانو خلاف جارحانه پالیسي به دوی د انګریز د رعب

لاندې ساتي او د روسي سازشونو نه يې هم په امن ساتي. د دوی د دليل دا ؤ چې د هندوستان د تحفظ د پاره پښتنو قبائلو کښې لږ ډېر اړې کړې او نشه د پيدا کول څه زيات قيمت نه دې.

کله چې کال ۱۸۷۴ء کښې قدامت پرست د واک اختيار خاوندان شول، د فارورډ فکر پاليسي د انګلستان سرکاري پاليسي اُوګرځولې شوه. لارډ لټن نومې وائسرای اُټاکلې شو. دهٔ سمدستي د هندوستان د پولو په براخه کولو لاس پورې کړو. د دهٔ هدف دا ؤ چې د هندوستان پوله د افغانستان په سيمه کښې کوه هندوکش پورې اوغزولې شي. لارډ لټن ډېرش زرو پوځيانو ته په کابل د ورختو فرمان جاري کړو. د دې سره د افغانستان امير دې ته مجبوره کړې شو چې د خيبر د درې او د نورو اهمو ځايونو واک اختيار انګلستان ته ور اوسپاري دهٔ په کابل کښې يو سفير هم اوټاکلو او دې سفير ته دا کار حواله کړې شو چې دَ افغانستان د خارجه پاليسۍ به بابله کار خپل لاس کښې واخلي.

د دې برې باوجود چې جرنه د کال ۱۸۴۲ء پيښنه

دوباره نشي. سر لوئين کيوګنري د کال ۱۸۷۹ په جولاي کښي کابل کښې سفير اونا کلي شو. د ده د حفاظت د پاره د انياؤ کسانو يوه دسته مقرر کړي شوه. په دريم سنمبر کابل کښي د انګلستان په ريذيډنسي حمله اوکړي شوه. او دلته موجود ټول کسان اووژلي شول. د انګلستان دوئيم پوځ اکتوبر کښي په کابل قبضه اوکړه او داخل د انګريزانو طرفداره امير د کابل په تخت کښينولي شو او په دغه ډول افغانستان په خفيفه کچه د ايمپائر يوه برخه جوړه شوه.

خو د نارورډ فکر لرونکو د ويرې غوښولو د پاره دا هم کافي نه وه هغوئ وئيل چې د افغانستان او هندوستان ترمينځه د پولو واضحه حدبندي نه ده شوي او په دا وجه بې بنه او مؤثره دفاع نه شي کيدې. دوئ وئيل چې ضرورت د دې خبرې دې چې انګلستان خپله دا ذمه واري ترسره کړي چې د برطانوي هند او روس ترمينځه يوه مستقله بفر سيمه جوړه کړي چې د روس سره د ډغرې خطره د تل تل د پاره پريکړې شي. د دې پولې دپاره ځرګنده او غوره سيمه د افغانستان او برطانوي

هند ترمنځه د غرونو سلسله وه. دا اوچت او دنګ دنګ سنګلاخ غرونه دي چې منځ کښې يې تنګې لارې دي او په آسانه يې دفاع کېدې شي دې لړکښې يواځې مسئله دا وه چې دا بفر سيمې د پښتنو په علاقه کښې وې. د فارورډ فکر ښکاريانو دا هم نه غوښتل چې د پښتنو غضب ته د نيلې ورته کړې شي خود اېمپائر د ساتونکو دا خيال وو چې خو شه يوه کيدې شي او هغه دا چې د انګلستان د نيمتي غمي يعني د هندوستان دفاع دِ په هر قيمت اکړې شي.

دکال ۱۸۹۳ء په خزان کښې هينري ډيورنډ کابل ته په دې غرض اولېږلې شو چې د افغانستان او برطانوي هند ترمنځه د پولې ژابنکلو په بابله خبرې اترې اوکړي. د دې په نتيجه کښې د پښتنو زيانه سيمه ښه په مؤثر ډول انګلستان ته اُسپارلې شوه. دا سيمه په تاريخي توګه د افغانستان برخه وه. تجويز شوي ډيورنډکرښې د پښتنو زړه په منځ نيم کړو او دې سره درېمه برخه پښتانهٔ افغانستان کښې پاتې شول.

د افغانستان امير انګلستان ته خبرداری ورکړو چې

ددې تصفې سره مانه دومره تاوان نه دې رارسيدلې څومره چې تاسو تاواني ښوئ. ده د مايوسۍ په عالم کښې وائسراې ته اوليکل چې که تاسو پښتني قبيلې ځما د واک او اختيار نه اوباسئ نو دوئ به نه ځما په کار راشي او نه به ستا په کار راشي. تاسو به تل تل ددوئ سره په جنګونو اخته وئ يا به ورسره تور ځه تکليف کښې ککړ وئ او دوئ به هميشه د تاسو تالان کوي ځکه چې پښتون د خپل سر د پاسه سر نه مني.

انګريزانو دا خبره په زبردستۍ جوړه کړه او د کال ۱۸۹۳ په دولسم نومبر کښې د امير لاس يک په يوې داسې لوظنامې تړلاسه کړو. چې د هندوکش نه د بلوچستان تر مغربي حدونو پورې علاقه انګريزانو په اختيار کښې راغلې او دې سره د پښتون سره د انګريز جګړه ناګزيره شوه او دا يوه داسې شخړه وه چې د راج تر آخرينو ورځو پورې جارې پاتې کيدونکې وه

د دې کړنې په نتيجه کښې پښتانه بندولېتي او آزادو قبائلو کښې ويش کړې شول. انګريز دغه سيمو کښې دخپلې موجودګۍ يقيني احساس پيدا کولو په غرض تورې قلاګانې جوړې کړې او تورزيان يوځ دغه سيمو کښې واچولې

شو خو د آزادۍ د جذبې نه ډکو پښتنو په غرونو او راغونو کښې د قلاګانو جوړېدل او پوځي کېمپونه قايمول او د دې په نتيجه کښې د راج واک او اختيار ډېرې مودې پورې زغملې نه شو.

کال ۱۸۹۱ء کښې د اکازو خلاف نورو غرونو ته او ۱۸۹۴ء کښې وزيرستان ته مهمونه ليږلې شوي ور د کال ۱۸۹۵ء جنورۍ کښې چترال لمبه شو او هلته ئخلس نره پوځ اوليږلې شو د سوات په ملاکنډ او چکدرې کښې قلاګانې جوړې کړې شوې خو دا سيمې هم دغسې په نوم د انګريزانو په ولقه کښې وې. آزاد قبائل په دې خبره پوهېدل چې دا نوې قلاګانې د مستقلې قبضې علامت دې.

دوه کاله خو دوی کښې غصه اوړېده راوړېده او آخر د کال ۱۸۹۷ء د ګرمۍ په رو مبنو مياشتو کښې ملا مستون په شمال کښې د کليوالو علاقو دوره شروع کړه. ده قبائلو ته د دوی بې عزتي ور په ياده کړه او په دوی کښې ئې په دې خبره جوش او جذبه را اوچته کړه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ما ته خپله په خوب کښې دا وينا کړې

دد چې د جهاد وخت ـ عې دې دې جنګ سره
به نګریزان د دې خاوړې نه اوویستلې شي او د
دزیړ صدو نه پس به د دلي په تخت بیا د اسلام
راج قائم شي ـ وئیل چې د مغل د تخت دیارلس
کلنې وارث ماموندلې دې او دا به د دلي په تخت
یو میاشت کښې د ننه کښینولې شي. ملا مستون
د چرچل لیونې فقیر ـــ د خپل سر نه د ټکي د لسو
زرو پښتنو یو لوځ تیار کړې وو.

د جولائي په یوه توره شپه لوګي اور شو او پښتنو
تورې چاقوان او د توپکو سره د ملاکنډ او چک
درې په قلاګانو او نور پوځي ځایونو په یو وخت
توده حمله اوکړه. د دې حملې سره انګریزي پوځ
اوپریدونو د لږ وخت د پاره انګریزان او سکهان
د توپو او نور توپکو سره ښه په بهادرۍ اوجنګیدل
تعله شپه وخت په وخت د قبائلو حملې پسنه کړې
شوې د انګریزانو او سکهانو له اړخه د توپې زښت
ډیر استعمال، تنظیم او په همت د قبائلو بهیر
را ایسار کړې شو.

د پښتنو د پاره چا چې د توپې خوړلې او د توپک

ټولې ته ځان ور واچولو. تاوان او نقصان هیڅ معنی نه لرله. وخت د دوی منکري وو. په الله یې پوخ باور وو. دوی ته دا حقیقت هم معلوم وو چې دانګریزانو نه شمیر کښې زیات یو. د ملاکنډ او چکدرې په قلاګانو دې حملو کښې په سوونو پښتانهٔ د توپو او ټوپکو د ګولو په باران کښې مړهٔ شول. خو د دوی د پاره مرګ څه معنی لري؟ بس دا چې د انګریزانو خلاف جنګ کښې مړهٔ کیدل جنت ته د سیدل وي.

تیاره په سحر کښې بدله شوه او قلاګانې لا هم سه یورې د انګریزي فوځ په ولقه کښې وې د قلاګانو نه اخوا دیخوا ټول میدان د پښتنو د مړو نه ډک وو همت د و خو دوی خپله حمله لا جاري ساتلې وه. د دوی حوصله د مانیدو نه وه.

او په دې دوران کښې یو عجیبه کار اوشو. د دریا د لغړو غرونو د پاسه نه د راج پوځ د وسلې سره را ښکاره شو. قبائلو چې په دغه لور اوکتل نو حیران پاتې شول او باور هم نه راتلو چې کنې داسې هم کیدې شي.

چرچل لیکي چې داسې ویل څه مبالغه نه ده چې قبائلو چې په ملاکنډ یې یرغل کړې وو د شوکه دا

خیال وُو کني چې دغه قلا کښې کوم پوځ پروت دې لبس
- سرکار سره هم دغه هومره قوت دې. دوئ وئیل چې
"دا کسان اوو‌زلي شي نوکار شوې دې"

دوئ ته ځه پته وه چې د نهلي کراف د ناردنو په ذریعه
د هندوستان د جنوب نه د مدد د پاره پوځ روان شوې
دې او نه دوئ نه دا علم وُو چې د دوئ د حملې علم
تهولې نړئ ته شوې دې. او دا چې پوځي افسران د اوه
زر میله لرې نه د سمندر او ځمکې په لار په غرونو
کښې د کیمپونو او قلاګانو په لور روان شوې دې او دا
چې اوږده اوږده ریل ګاډي د وسلې او نور سازوسامان
او د پوځیانو نه ډک د محاذ په لور روان شوي دي.

دې ناپوهه قبائلو نه د نوي تهذیب د حساس طبیعت
په بابله هیڅ علم نه وُو دا خو داسې تهذیب دې چې په
تکوني ځبېر نه ببې د نړۍ هر کوټ خبر شي.

دوئ نه بوائې د ملاکنډ په دره کښې د قلاګانې
او کیمپونه او د سیند د پاسه اوېزان پل په نظر راتلو
او لبس.

چرچل لیکي چې د بیونو قبائلو د پاره غلطه اندازه
د لوښې تباهۍ وجه جوړه شوه.

سربندن بلدړ د ټولې کاروائي د نګرانئ کولو په غرض د خپلې عملې سره په پکې جوړه قلا ته ورننوتلې وو. د دې ځای د جنګ ټول میدان ښه صفا په نظر راتلو په هر لوري او دې هرې یوې پکې نه د ودې په رنړا کښې دښمن ښه ځوکند وو. لاره پرانستي وه او چکدره بچ کړې شوه. انګریزانو یوه ډیره شاندارهٔ او عظیمه کامیابي موندلې وه - سکه او انګریز په دې موقع د خوشحالئ نه جامو کښې نه ځائیده

د بنګال پولسې لانسرو په وادئ کښې د ورېږو. پټو او د غر په پکو کښې د دښمن نیوکه شروع کړه. دښمن نه نیښته وو او مضبوطو اس سورو دا را نیول په یو قباتلی هم رحم او لکړې شو او څوک به چې په لاس راتلل هغه به په هغه دم پرېکړې شو او په دغه ډول د ورېږو ښنه پټې د دوئ د مړو نه ډک شول. دا یو ځوفناک او یره وونکې سبق وو او یوه داسې پیښه وه چې د سوات او بنېر اُولس به بې چرته هم هیره نه کړې شي.

دا ځو هسې یوه ممکنه فتح وه ولې د پښتونځوا معامله لا فیصله شوې نه وه - کوم وخت چې د ملاکنډ فیلډ فورس د سوات په بره سیمه کښې ځانله لاره سمه کړه

دغه وخت اپریدي د خیبر په دره را ننه وتي وو او نور ورانډي سمیل کښي ــ اورکزو د کرمې په وادئ حملې شورو کړي وي. د اګست اخره پورې پښتونخوا کښي عام بغاوت شروع شوې وو. او د خیبر دره خپله هم د انګلستان د لاسه اووته.

په پنځه دیرش زره کسانو مشتمل یو فوځ د شپږنو، میداني توپو، د مشین ګنو یوې دستې او ساز او سامان نه ډک دیرش زره څاروي په څواب کښي دَ جنګ میدان ته اولیږلې شول. دا دَ اپریدو د وطن زړه تیراه په لور په حرکت کښي وو. د دې نه اګاهو هیڅ یو غیر ملکي فوځ دغه سیمه ته نه وو رسیدلې. د اکتوبر تر مینځه داهغا تي فوځ په لاره جنګیدو، جنګیدو کښي د تیراه میدان وادئ ته رسیدلې وو.

دغلته انګریزانو ته د لوړو او د ټکو څوکو په مینځ کښي پروت جنت په لاس ورغې. دا د مانړو او الوچو، د سیبونو او انځرانو او سنګترو د باغونو سیمه وه فصل نړ لاسه شوې وو. د زمیندارانو په کورونو او سمو کښي د غنمو جوارو، وریجو، آلوګانو، پیازونو او ا موزانو انبادونه زخیره پراته وُو. دې همه کښي شریک

یو انګریز نامه نګار په دې بابله اولیکل چې د اکتوبر په یخه هوا کښې دا وادئ داسې پر سکونه په نظر راځي. لکه د خپل خوږ وطن انګلستان یوه نظاره وي" ده لیکلي وو چې په ونو بوټو د خزان اثر ډیر ښائست پیدا کړې دې او دې ته په کتو سړې په نه څه وخت کښې خپل موروني وطن ته اورسي" ده وړاندې اُلیکل چې" یوکس دا تصور کولې شي چې د سپرلي د موسم فصلونه راختلي وی او دا رنګینه وادي د یو سر نه بل سره پورې تکه شنه ولاړه وي نو دا به څومره ښائسته ښکاري. دا د جنت په څیر ښائسته ځائې دې چې پښتانه شاعران نو نه جوش او جذبه حاصلوي او د شعر جامه ور اَچوي"

خو دې سزاوارې مهم هدف سزا ورکول دي. دا نظارې او تکه شنه ښائسته وادي شنډوه ول وی چې دا دې استوګنو ته د فصلونو ورکولو جوګه پاتې نشي او په دغه ډول دوی سر ټیټولو ته مجبوره کړې شي. خو د اُمیدونو برخلاف اپریدو دا کار اسان کړو دوی د خپلو تېرو اوګډو بیړو سره د وادۍ نه برګ دغرونو څوکو ته ورختلي وو. د هغه ځایه دوی لیدل چې نوځیان په ټوله وادۍ کښې خواره واره دي.

انګریزانو ورانډې د غلې په ذخیرو لاس پورې کړو او څه چې په لاس ورتلل هغه یې قبضه کړل باغونه یې لغړ کړل ونې بوټې یې اووهل او ولاړ فصلونه یې تباه کړل.

چې دوئي به کله وادئ کښې په کلي ورننوتل پوځیان به د خانانو په کورونو ورخوشي شول، قالینونه، فرنیچر او د سرو او سپینو زرو کالي به یې خپلو کیمپونو ته یوړل او چې کوم شیان د وړو نه وو هغه به یې د کلي مینځ ته راوړل او تیلې به یې ورته کړو او په دغه چل به یې کلي خاورې ایرې کړل او د اوبو زهرجن کوهو په غرض یې د کرانانېټ د کانړو ډک ډک کاڼې راوستل او کویان یې نرې ډک کړل.

کله کله به ځنه پوځیانو د زیاتې حوصلې نه کار واخستو او په دغه دوران کښې به د قبائلو د سمدستي حملې ښکار شول او سر به یې اُخوړو. انګریزان د مرګ ژوبلې نه محفوظ پاتې نه شول. خو زیات تر انګریزان پوځیان به ښه په ډاډه او بې ویرې ګرځیدل. د نومبر نیمایه پورې نړه ته تهذیب نبودنکو د لاسه د تیراه وادئ یوې صحرا کښې بدله شوې وه. نه یې ښنا ګست

پاتې شو. او نه بې هغه کشش پاتې شو. چې پښتو شاعرانو په ورته کتل او شعرونه به يې جوړول. لاندې وادي تباه او برباده کړې شوه او بره د غرونو په سرتيايلي ماشومان د ختې ېخنې د لاسه د ل کيد ل شورو شول او په دغه پرل خانان دَ روغې دپاره د ملاتي نوځ په هيله کوارتهر ورمات شول. دوئ د روغې جوړې شرطونه اومنل. دوئ درې سوه ټوپکو او ډيرش زره روپئه جرمانې ورکولو ته سر کيښود.

د دې نه اګاهو چې د يخنۍ د يخو هواګانو طوفانونو په وجه په درو تګ ناممکن شوې وو. انګريزان په دسمبر کښې د سماناس په لاره د وادئ نه سمدستي اووتل خو د اپريدو بخت خراب وو ولې چې د دوئ په سرخو نه سيورې پاتې شوې وه او نه ورسره د خوراک څښاک ذخيره پاتې وه او د دې نشت له کبله ډير ماشومان او بوډاګان مړهٔ شول.

قبائلو نه د سزا ورکولو دې مهم خپل مقصد ترسره کړو. دَ پښتونخوا قبائلو نه ماتې ورکړې شوې وه. او جنګ ختم شوې وو خو انګريزانو دَ دې جنګ ګټلو د پاره غټ قيمت ورکړو. ايمپائر د يو شو زرو زنګ وهلي ټوپکو

اوجر مانو په شکل کښې بس دومره څه را نیول کړل چې په هم روان پوځ د یوې هفتې خرڅ د پاره کافي کیدې شو خو د دې ممونو په نتیجه کښې دوئ درانلونکي ښځوسوکلونو د پارد د پښتنو دشمني د ځان سره یقیني کړه- پښتون نه خو بې عزتي برداشت کوي او نه بدل پریږدي وائې چې" پښتون سل کاله پس هم بدل واخلي نو وائې چې ډیر زر مې بدل واخستو" مطلب دا شو چې بدل اخستو کښې په ده ناوخته کیږي نه-

لس کلونه لا تیر نه وو چې انګریزان د وزیرو او اورکزو د بغاوت سره مخامخ شول او دوئ یو وارې بیا تیراه ته ورد ننه شول. که د چرچل داد ورکوونکو تحریرونو د انګریزانو د پاره د پښتنوخوا په سیمه جنګونو کښې خوند او افسانوي رنګ پیدا کړو، څنه لوړ انګریزان داسې را برسیره شول چې هغوئ ښه په سرو سینه د پښتونخوا په بابله د انګریز سرکار د پالیسۍ جاج واخستو دوئ کښې هندوستان کښې میشته یوه انګریزه ز نانه " اینې بینسټ" وه چا چې د ولاندې نه د هندوستان د پاره د کورني واک او اختیار خبرې کولې دې د چرچل په لیک کښو د یت پروت مدنت مقبند د خپل لیک

فوت سره اوکړه دې او یکل چې" موږ د خبرې په چټو چټو اوکړه چې د پښتون قام سره زموږ څه جنګ جګړه نیشته خو بیا هم موږ د هغوئ کورونه سني کړل د هغوئ فصلونه مو تباه کړل، د هغوئ څاروي مو پټ کړل، د هغوئ دولت مو لوټ کړو ، د هغوئ مزاحمت بغاوت اوګرځولې شو ـ او د هغوئ سرې مو پانسي کړل او موږ د هغوئ زنانه او ماشومان د دې د پاره په زور اوجبر د کورونو نه او ویستل چې هغوئ دِ واورې په یخ کښې مرګ نه اُسپارلې شي.

د شپې په تیارهٔ کښې د درد او غم نه ډک فریاد، زموږ ترغوږ و کیږي او چې د پښتنو سره څه زموږ په نامه کیږي دا زموږ سرونه د شرم نه ټیټ کړي د پښتنو په حق غندنې اوتش کیدې ماشومان زموږ د غندنه د پاره کافي دي.

په سر سړنوړې زنانه په چغو چغو زموږ خلاف نعرې وهي. دا بې ځایه پراته سخت شوي مړي د ګولو په تاؤ خړ شوي کورونه، دا په وینو سره دواړه مېدانونه بني نوع انسان ګوري او په موږ لعنت وائي

اې انګریزانو مردانو! ستاسو زنانه خو ستاسو په ترخونو کښې دي، دغه پښتنو خاوندانو ته او ګورئ چې ستاسو د لاسه لیوني شوي دي، اې انګریزانو ښځو

تشو خو خپل ماشومان پخپل تهتر پورې کلک نیولي دي او ورسره خنداګاني کوي خو دیخوا خپلو پښتنو خوېندو لوري ته خو پام اوکړئ چې غېږې بې تشې لوري شوي او دکلونو په خېر ماشومان بې دل شول پښتون هم د خپل ماشوم او خپلې ښځې سره هم داسې مینه کوي لکه څنګه چې ناسو کوئ. هغه هم یو خاوند دې او ستا په شان یو پلار دې د هغهٔ د پاره هم خپل کور د جنت ټوټه ده او خپله خاوره ورته مقدسه ده هغه تاسو ته د خپل وطن شوي کور کنډرو او تالا تړغا شوي ځمکې نه نغوې وهي، آوازونه درکوي. د هغه سوره انصاف ستاسو په لاسوکښې دې"

خو د انګریزانو د پاره هغه لاره پرېښودل ګران وو په کومې چې هغوئ تګ شورو کړې وو. د فارورډ پالیسي عملي کولو لړ کښې هغوئ په داسې سیمو ورګډ شوي وو چې په مکمل ډول د هغوئ سرکوزي کول ګران وو. د پښتنو غریزې سیمې په مستقل ډول قبضه کول د انګریزي راج د پاره یو ډېر زیات تاواني مهم وو. خو دوئ قبائل هیروئي هم نشول پښتانه خپله هم په دې حقیقت رسیدلي ووچې انګریز

دويّ د نظره پري ايښې نښيّ او د غه وجه ده چې دويّ د انتقامي محمونو ښکار شول چې پښتانهٔ به يې نور هم لمبه کړل او انګلستان کښې د ننه به يې ليرل فکرونو لرونکی خلک خفه کړل دا خبره بدې ځکه هم کيدې شي چې انګريزان د خپلو شهنشاهي منصوبو او ارادو نه يابان جوړ شوي وو.

دغسې د وکټوريه د داَئمنډ جوبلي رجشن) نه يو څو مياشتې پس د ځنځ انګريزانو په فکر کښې د انګريز راج په حوالې سره بدلون راغلې وو. د امپائر د پر قيد دنکي خيرې يو ټک تور اړخ هم وو. چې د پښتون سخت مزاحمت نړنه پړده اوچته کړې وه او د غه شان په جشن کښې د راج خند پد دنکي خبره چرې هم په موسيدو او نه ليدلې شوه.

## څلورم باب

# ګائیډ زکښې کمیشن پیشکش

## ۱۹۰۷ء – ۱۹۰۹ء

> رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته دا سبق راکړو چې هغه کس د پښتونې مسلمان دې څوک چې د الله تعالیٰ د مخلوق د خوشحالۍ او فائدې کار کوي. په خدای پاک د عقیدې دا غوښتنه ده چې سړې د انسانانو سره مینه کوي"
>
> (حضرت باچاخان)

قدرمند ښاغلي ای. ایف. ای وګرام پېښور کښې د ایډورډز میموریل مشن هائي سکول هیډ ماسټر وَو. ښاغلي وګرام او د ده کشر رور ډاکټر وګرام هغه کسانو کښې شامل وو. چا چې په رښتیا دا غوښتل چې د شهنشاهیت دَ زیلو تیو حالت ښه کړي. هغوی هغوی د پښتونخوا دَ

اولس سره مینه وه.

مشن سکولونو کښې به ځلمو پښتنو ته انګریزي، سائنس او نور علمونه په دې غرض ښودلې شول چې دوئ د پنجاب یونیورسټۍ د مېټرک د امتحان د پاره تیار کړې شي. دلسم جماعت پاس کولو نه روستو به دوئ د هندوستان حکومت په دفترکښې د کلرک په نوکه ملازمت کوې شو د پوځ نه علاوه د ملازمتونو دا لاره پرانستې وه. د مسلمانانو دناخوښۍ باوجود هم دې مشن سکولونو کښې د بائبل سبق ورکوې شو.

ډاکټر وګرام به د پېښور د مشن هسپتال نګرانی کوله او د ده رور به د هائی سکول څارنه کوله. انګلستان کښې د دوئ ټبر د دې ادارو مرسته کوله او تر دا چې قابلو او لائقو پښتنو طالب علمانو ته به یې د خپله جیبه وظیفې هم ورکولې.

غفار خان چې د شپاړسو کالو یو تنګ او د مضبوطې ارادې ځلمې وو د کال ۱۹۰۷ء په سپرلي کښې مشن هائی سکول پېښور کښې یو طالب علم وو. د ده مشر رور خان صاحب د اتمانزو رومبنې هلک وو چې د انګریزانو په سکول کښې پاتې شوې وو او اوس یې د بمبئ ایډورډ میډیکل سکول کښې د ډاکټرۍ تعلیم حاصلولو. غفار خان په دغه

سکول کښې رمشن هائي سکول پيښور) د اتمانزو دويم طالب علم وو او د اُتمانزو د ملايانو صاحبانو دا خبره خوښه نه وه دوئي به د انګريزانو د سکولونو غندنه کوله ولې چې دا دَ ملايانو د مکتبونو مقابلې کښې ډُو چرته به چې يوائې مذهبي تعليم ورکولې شو۔ ملايانو صاحبانو خپلو شاګردانو ته يوه سندره زده کړې وه۔ دا به د مکتبونو هلکانو په سرکونو او په چولو چنو کښې په چغو چغو وئيله۔ سندره دا وه۔

سبق د مدرسې وائي دپاره د پيسې وائي

جنت کښې به ئې ځائې نه وي دوزخ کښې به غوپې وهي

شورو شورو کښې د اُتمانزو ملايانو دا قطعي فيصله کړې وه چې هغه مور پلار چې خپل هلکان مشن هائي سکول ته ليږي، د هغوئ سره به تعلق ختمولې شي. د بهرام خان نه اګاهو بل چا د ملايانو د مخالفت او جګړې خطره نه وه اخستې خو د خان لوې زړهٔ وو او دائې نه غوښتل چې د دهٔ د بچو په تعليم کښې څوک مداخلت اُوکړي. ملايانو خو به جماتونو کښې بهرام خان پسې خبرې کولې ولې بهرام به بې ځان نه خپل زړهٔ په دې جوړولو چې د بهرام خان ځامن څلور نسه هلکان دي او په نيره نيره د غفار خان جواب نشته۔ هغه خو د قرآن حافظ دې.

اوېږي څه ضرورت نشته. پرېږده چې دوی انګرېزي زده کړي خو چې دَ عيسايانو مذهبي کتابونه او نه لولي ولې چې هغوی خپلو کتابونو کښې کوټې وهلې دي. ردو بدل يې په کښې کړې دې او دغه کتابونو لوستل د مسلمانانو دپاره جائز نه دي.

غفار خان په دې سکول کښې خوشحاله وو چرته چې د دهٔ رور هم طالب علم پاتې شوې وُو. دهٔ ته چې دَ عيسائئ او مغربي اثر لرونکي سبق — او په خاص ډول انګرېزي ثقافت ښودلې شو دهٔ پرې څه بد نه منل. امتحان کښې به دا سوال په باقاعده ډول کولې شو چې هغه فائدې په ګوته کړې کومې چې انګرېزي راج د هندوستان اولس ته ورکړي دي. لکه هغه سړکونه چې انګرېزانو جوړ کړي وو، د سړکونو د پاسه د اوسپنې درانهٔ د رانهٔ پلونه د تار او ټېلي ګراف انتظام، سکولونه اګر چې دې سکولونو کښې پښتو ښودلې نه شوه او دا خيال وُو چې دَ تعليم ژبه نه ده، ريل ګاډې، هسپتالونه. فوځ چې د انګرېز د حکمرانئ تحفظ يې کولو. او قبائلي قزاق يې د زميندارانو نه لرې ساتل. خو انګرېزان په دې نه رسيدل چې پښتون د ټېلي ګراف د نظام، د اوسپنې پلونو او د قانون

د حکمرانۍ په ځای آزاد ژوند خوښوي. دا د هر څه نه سیوا په آزادۍ مئین دي او لکه څنګه چې د پښتونخوا په سیمه د انګریزانو او پښتنو ترمینځه د ډېرو نه دا ځفیفت ښه ښکاره شو چې تریبًا ټول پښتون قام د غلامۍ د ژوند مقابله کښې د نیستۍ او مشکلاتو ژوند غوره کړو او لکه د ماشومانو په شان چرې هم د انګریزانو په لمسون نه وتل.

غفار خان د هغه کلیوالو نور شوي او ځوړ شوي ځوانه چرې هم نه وُو هیر کړي. څوک چې هغه ښکار کړه کښې د انګریزانو سره جنګیدلي وو. د دې جنګ نه پس به چرې کښې هغه حال نه وو کوم به چې د جنګ نه وړاندې وو. ډیر وخت پورې خلکو سندرې نه وئیلې او نه به د شعر او شاعرۍ محفلونه لګیدل. دوی به د چائیو په پیالو انګریزانو ته بد رد وئیل او غفار خان به د انګریزانو خلاف د کلیوالو د کرکې او نفرت ډکې خبرې اوریدې

خو د دې نه پس ډیرې تبدیلۍ راغلي وې. هلک غفار خان اوس یو مضبوط ځلمې وو. ده پیښور کښې د ډیرو انګریزانو سره ملګرتیا او دوستانه جوړه کړې وه د خپل سکول کښې د خپلو استاذانو ډیر عزت او قدر کولو

دہ به د انګریزي فوځ د نظم و ضبط او حوصلې ستائنه کوله۔ غفار پېدائشي جنګجو وو۔ حقیقت دا دې چې هر یو پښتون پېدائشي جنګجو وي۔

دہ د خپل استاذ عزتمند وګرام هم دغه هومره قدر کولو څومره چې دہ د خپل پلار کولو۔ غفار خان کتل چې بناغلي وګرام یو سخت کښېن خو سخي انسان وو او اګر چې دې غیر ملکي وو، د سمندر پورې نه راغلې وو۔ خو دہ به چې خپل سکول کښې د پښتنو طالب علمانو د مستقبل جوړولو د پاره کوم کار کولو او د دوی د پاره به څومره فکر مند وو۔ دغه هومره د هغوی خپل مور او پلاران د دوی د پاره فکر نه کولو۔ دې دوران کښې د غفار خان په مازغو کښې یو خیال را پیدا شو چې ولې دې زه سکول کښې دیره نشم۔ چې د وګرام سره کار اوکړم؟ خو کائیډز هر څه بدل کړل۔

کائیډز په پښتنو او سکهانو مشتمله یوه رساله وه۔ د دې مرکز مردان ؤو۔ او د راج د پاره بې ډیر خدمتونه کړي وو۔ د مالدارو او ښتنه مندو پښتنو او سکهانو ځامنو نه به دی رساله کښې د کمېشنډ افسر ذمه وارئ ورکولې شوې چې د دوئ په عزت او درناوي کښې به بې لوږه

اضافه کوله د کاپیدرز یو افسر د انګریز برابر وي ـ دا خبره د خپل نوکر او ملګري بارانی کاکا نه څو څو واره اوریدلي وه. غفار خان شپږ فټه او دري انچه دنګ وو. او وزن یې دوه سوه پونډو نه زیات وو. بارانی کاکا به دهٔ ته وئیل چې انګریزان خو به تالوس په لاس د فوځي افسر په حیث واخلي.

غفار خان دا وخت د لسم جماعت طالب علم وو دا یې سکول کښې اخري کال وو. دهٔ د لسم جماعت نیم امتحان ورکړې وو چې ده نه اطلاع اوشوه چې ثانه کمیشن درکړې شوې دې. دهٔ ته د دیګروټنګ افسر سره د لیدو هدایت شوې وو. په دغه خوشحالۍ کښې د امتحان په نکي نیمګړې پریښود.

بارانی کاکا په دې خبره چاموکښې نه ځائیدو او د غفار بوډا پلار هم په دې خبره ډیر خوشحاله وو. بهرام خان د پیښور او ټنګي د هر یو کلي هرې یوې حجرې ته دا د خوشحالۍ خبر ورکړو چې ځما ځوئ غفار خان په فوځ کښې د کمیشنډ افسر په حیث اخستې شوې دې.

د اخري کلاس نه پس غفار او بارانی کاکا دُ

سکول یو پخواني ملکري د لیدو د پاره قیصه خوانۍ
بازار ته ورشئ.

پیښور د ډیرې مودې نه د ایران او منځنۍ ایشیا
د هغه نوبو نوبو قافلو د پاره د دې یو ځائې ووکومې
به چې هندوستان ته روانې وې او د هغه تاجرانو
د پاره پړاؤ وو. چا به چې د اباسین په لاره د
تجارت مال سمندر ته رسوو. د پیښور ښار د تنګو
تنګو کوڅو یو ښې قاعده بازار وو. د دې ښار دکانونه
د منځنۍ ایشیا د سامانونو لکه قالینونه، جانمازونو،
د قیمتي کانړو، ریشمو، کپړو او د جستو او تانبې
د سامان نه ډک وو.

د پیښور ښار کښې د تانبې د سامان د لوښو کوڅه
د موچیانو کوڅه، د قیصه ویونکو کوڅه ځان ځان
له یو جدا اهمیّت لرو.

دا دواړه ځلمی د چاندیه د لوښو کوڅې ته ورغلل
او : چائیو په یو وړوکي دوکان کښې کښینا ستل.
دغلته دویه ته د مهابت خان جماعت سپینې او دنګې
منارې ښې اُچتې په نظر راتلې. سکهانو به د
خپل حکومت دوران کښې د مهابت خان جماعت د

دوی ته هر ورځ دوه پښتانه راګرځول. دا د پښتنو د سازشونو خلاف د سکهانو یو اقدام وو. هغوی پښتانه په دې طریقه په دې غرض وژل چې نورو ته عبرت واخلي. په شلونو او سلونو پکړیوال پښتانه به د جمات مخې ته ناست وو. چائې به یې څښکلې او د چیلم نه به یې خوند اخستو.

په دغه وخت د خلکو د منځه یو نیفارم کښې ملبوس یو لوړ ونګ سړی راپورته شو او د دوئ په لور راغلو دا کس د غفار کلاس فیلو پاتې شوې وو. او ئې صبا یې په کانیډار کښې خدمت ته سره کولو. غفار خان ته د کبیناستو اشاره اوکړه. د چائیو ست یې ورته اوکړو. او په ګپ شپ شول.

ډیر وخت لا نه وو شوې چې دوه انګریزان افسران راښکاره شول او د غفار خان د دوست په لوری په تیز نظر اوکتل. دوئ کښې یو په نفرت سره اووې چې بنه نو سردار صیب تا د ځان نه په دروغه انګریز جوړ کړې دې. ته د انګریزانو نقل کول غواړې؟ دا سې ده کنه؟ انګریزانو د غفار خان د کانیډار ملګري ته دغه سپکې او سپورې اوې خو د ځواب ورکولو همت یې

اونکړې شو. دا چپ پاتې شو او انګرېزان په مخه لاړل. غفار خان د خپل دوست په لور اُکتل چه سړې نیت ورو. ده څه وَيلي شو؟ د کاپتان ډیو هندوستانی افسر هم د انګرېز سره زړه وره خبره نه شوه کوَلے ولې چې د ملازمت سوال وو.

غفار خان د بارانی کاکا په لور په تاؤ او غصه اُکتل او تپوس یې ترنه اُکړو. چې بارانی کاکا ته خو واېې چې کاپټان کېږي هندوستانی افسر د انګرېز برابر وي؟ خو دا مونږ څه اُلیدل؟ دا د هندوستاني افسر او د انګرېز برابری دهٔ ؟

غفار خان په کاپټان کېږي د کمیشن اخستو نه انکار اوکړو. د دهٔ دا خیال وو چې د ذلت نه ځان محفوظ کړو او ښه په وخت.

خو کور کښې بهرام خان د خپل ځوئې په دې فیصلې سوړ شین کیدو. دهٔ وَيل چې غفار خان یو داسې موقع خرابوي کومه چې په بخت یواځې ملاحیّت لرونکو ځلمو ته ورکولې شي او په دا وجه دهٔ دا فیصله اوکړه چې هر څه چې کیږي غفار به کمیشن اخلي. د غفار مور هم د خپل ځوئې په

حمایت کښې پاتې راغله. بهرام خان په دې منډ وُ چې دې به خاطر نوځي افسر جوړيږي. دې هیڅ مخالف دلیل اورېدو ته تیار نه وو.

چې غفار خان ډېر مجبوره شو نو انګلستان کښې بې خپل رود نه چینی اولیږله. ده ورته او بیکل چې زهٔ د انګریزانو په فوځ کښې د ذلت او بې عزتۍ ژوند تېرولو ته تیار نه یم او نه زه د انګریزانو خدمت کولو ته تیار یم.

خان صیب د خپل کشر ورور د حوصلې همیشه ستائنه کړې وه. ده خپل پلار ته اولیکل چې غفار کا ښېډز کښې د کمیشن نه اخستو په بابله صحي فیصله کړېده او هیڅوک د بې عزتۍ او ذلت ژونه تېرولو ته مجبورول نه ده پکار. دا بو داسې دلیل وو چې هر پښتون پرې پوهیدې شو. نتیجه بې دا شوه چې بهرام خان خپل منډ په دې شرط پرېښودو چې دې به خپل تعلیم جاري ساتي.

غفار خان د اباسین په پورې غاړه کیمبلپور کښې یو اسلامي سکول کښې تعلیم شورو کړو. ده غوښتل چې عربي زده کړي خو د پنجاب ګرمه آب و هوا په ده

سهه را نغله. ده کیمبل پوهنتون پر ییښودو. او د قطبي هندوستان په مرکز علیگړه کښې ېې په یو مشن سکول کښې داخله واخسته.

دکال په اخره کښې ده ته د پلار چټی راغله عزتمند وګرام بهرام خان دې ته تیار کړې وو. چې غفار خان خپل رور پسې انګلستان ته لاړ شي دَ ده پوهه جیومیټرې کښې ډیره ښه ده. دې به د خان صبب سره انګلستان کښې اوسیږي او انجنیرنګ به اوکړي. دې لړ کښې به وګرام تول بندوبس اوکړيد

انګلستان ته ؟ دَ دهٔ په دې خبره یقین نه راتلو! او بیا به هلته د خپل رور سره اوسیږم ؟ د ده پلار ده ته درې زره روپۍ هم رالیږلې وې او دهٔ ته ئې د انګلستان د تلو د تیارۍ هدایت کړې وو.

غفار خان په بیړه کلی ته لاړ. چې د خپلې مور نه انګلستان ته د تلو اجازت واخلي خو دهغې دا خبره خوښه نه شوه. د هغې سترګې د اوښکو ډکې شوې. داسې نه شي کیدې. داسې چرې هم نه شي کیدې. چې زهٔ ناته د فرنګي هیواد ته د تلو اجازت درکړم.

غفار کوشش اوکړو چې په خپلې مور دا خبره اومني
ده اوې چې ګوره مورې دې خپل هېواد ته فکر اوکړه
دلته بې ګناه کسان په نه څه جرم په مقدمو کښې ګیر
شی. ځان خلاصولې نه شي او تېد شي یا پالسي شي.
دلته هیڅوک محفوظ نه دي. زهٔ به انګلستان کښې تعلیم
حاصل کړم او د دې بې وسه او مجبوره پښتنو به کار
به راځم. دلته په خپل هیواد کښې به د دې خراب
قوانینو خلاف جهاد کووم.

داسې نه شي کیدې ځما کشره ځویه. ما ته ملایانو وئیلي
دي چې څوک اغه هېواد ته ورشي بیا چرې واپس نه راځي.
خو زهٔ خو صرف د دوه کالو د پاره ځم. هلته به
د خپل رور سره اوسیږم. دا او وئیل نا ځویه نا. ځما
یو ځوئ هلته لاړ دې او ملایان وائي چې بیا به هېې
او نهٔ لیدې شم. خو مورې دلته به زهٔ څه کوم؟ دهٔ
تپوس اوکړو.

نه ځویه ـــ دوئ وائي چې ته به د میې سره
واده اوکړې څنګه چې ستا رور کړې دې او وائي چې
عیسائي به شي او د خپلو نه به پردې شي.

بنه ده مورې چې ستا زړه نه دې زهٔ به نه ځم

زۀ د وِیړ او خفګان په قیمت خپل مستقبل نه غواړم۔ نه چې څه وائې هغه به کوم ــــ ستاخوښه ځما خوښه۔ زۀ به د ملته خپل هېواد ګڼې ووم ــ دلته به دې هېواد ګڼې چې پۀ ما د ډېر ګران دے۔

---

## پنځم باب

# بهادر او غضب ناک پښتون
## (۱۹۰۹-۱۹۱۳ء)

دا ځما پخه عقیده او باور دې چې اسلام عمل یقین او محبت دې. د دې نه بغیر مسلماني بې مطلبه شي. قرآن دا خبره ښه صفا کړې ده چې په یو الله باور لرل او نیک عمل د انسان د نجات د پاره کافي دي. (حضرت باچاخان)

د ډېرې مودې راسې به غریبو دیانتلو دا خبره کوله چې د پېښور او کرم د وادۍ پښتانهٔ نرم شوي دي. دوئ د جنګ نه زیاته مینه د خپلو ځمکو سره لري. یقیناً چې کینړ و محمدزو به چې بهرام خان په کښې شامل وو. خان د دې الزام تر ځغه ګناهګار ګڼړلې وي.

چې د غفار خان د انګلستان د تلو منصوبه ناکامه شوه

دا په خپلو پښو کښې کار شورو کړو. خود ده روح ښې آرامه وو. چې دا به د خپلې علاقې او ضلعې د کړوندو کړو او زميندارانو سره خبرې کولې نو دې به په دې نتيجه را اورسيدو چې دغه خلق د ښې خونده مشکلاتو سره مخامخ وو. د دو کين چاپيره ناداري او غربت وو. بې علمي او تشدد، دښمنئ او تربگنئ وې او دا غوښتل چې د دې اولس د پاره څه کول پکار دي.

شورو شورو کښې دې په دې احساسانو نه رسيدو — اولسي اصلاح د پښتون معاشرې خاصيت نه وو. دا د انګريزانو نکړ وو. کله چې ملايانو به د انګريزي سرکار بد وئيل او انګريزان به ښې نه خوښول خو اولس خپله د ملايانو په ولقه کښې وو. انګريز سرکار به په اولس د ملايانو قبضه پخولو کښې لاس کوؤ. او د دې په بدل کښې ملايان د اولسي اصلاح خلاف وو او د څه اولسي يا سياسي اصلاح دا د کيدو نه به ښې نه کوله.

ځلمي خان، غفار خان په دې رسيدلې وو - دو نه علم وو چې د اولس د ښيګړې به نه يواځې مخالفت کيږي بلکه دا امکان وو چې ښه په کلکه به ښې مخ نيوې هم کيږي د پښتنو د اخلاقي ژوند خلاصه ما وه چې زر زرکر ته رسي

چې د چا پرې دي د هغه غاړه وي. رحم، مهرباني
او سخاوت د الله کاروبه وو. دې خپله هم حیران وو
چې دا جذبه د کوم ځای راغله. شل کلنې زمیندار، دَ
مستقبل عظیم باچاخان د خدمت میدان ته د را دنګلو
ضرورت ډیر شدت سره محسوس کړو. تشدت

یو ماسپخین چې ده د کور په خواه پټي کښې
کار کولو، ده ته خپل ځواني استاذ عزنمند وګرم
را یاد شو. دګرمه په خاموشۍ کښې ده ته یو پخواني
متل را یاد شو چې "خربوزه د خربوزې نه رنګ اخلي"
غفار په کلونو په مشن سکول کښې دغه دوه رونړه
لیدلي وو چې څومره بې غرضۍ سره به هې کار کولو
ده نه سوچ راغلو چې د هغوی مینې او بې غرضۍ
او سخاوت به ضرور څما فکر متاثره کړې وي. او
هغه لمحه وه چې ده د پښتنو خدمت ته د ملا ورکولو
فیصله اوکړه. دا فیصله د یو عظیم تحریک او د یو تاریخي
شخصیت را پیدا کولو بنیاد وګرځیده.

څو څنګه او چرنه ؟ د خبرو څو بفیني وه چې
ملایان به راسره لاس نکوي. ملایان څو به وائي چې
هم شل کلني محمد زي نه کوره چې د هائي سکول نه ډي

ښم هم نه دې پاس کړي۔ او دې به د پښتون په شان د زړه او دروند قام خدمت کوي.

ده ته بیا خیال راغلو چې او محمدزی خو زه یم د رسول الله صلی الله علیه وسلم اُمتي یم۔ نور زهٔ څه غوارم زه لوستلی شم، زه لیکلې شم۔ زهٔ زمیداري کولې شم نور ماله څه پکارا دي؟ دا به غوره وي چې زه یو سکول قائم کړم.

"جارج کرزن لیکلي وو چې زهٔ دا اولس پیژنم"

" دا دَ امزرو په څېر بهادران دي، د پیشوګانو په څېر غضب ناک دي او د ماشومانو په څېر نرمان بردارهٔ دي. دا دَ ویاړ او فخر خبرهٔ ده چې پښتون چاته پېر زوبي وړاندې کړي"

لارډ کرزن چې څه د پښتنو په بابله لیکلي وو هغه ټې د زړهٔ د تل نه لیکلي وو۔ ده د پښتنو ستائنه کوله خو دَ دوئ په حقله د غلط فهمو ښکار هم نه وو۔ کال ۱۸۹۹ء کښې دې د هندوستان وائسرای ځکه ټاکلې شوې وو۔ چې دهٔ ته د پښتنو په حقله ځومره علم حاصل وو۔ انګلستان کښې بل څوک داسې نه وو۔ د کال ۱۸۹۷ء دا بغاوت چې کله نیراړ بیخي لوج لغړ

شوې وُو. او د کال ۱۹۱۰ء تر مینځه چې غفار خان خپل
پړمبې سکول قایم کړو پښتونخوا کښې ډیرې تبدیلۍ
راغلې وې. او دا ټولې تبدیلۍ د لارډ کرزن د منصوبو
په وجه ممکن شوې وې. کال ۱۸۹۰ء کښې د پښتونخوا په
خاوره د غضبناکو جنګونو نه وروستو په انګلستان دا
حقیقت ښکاره شوې وو چې د پښتنو سیمه د دوې
د پاره د بارودو ډیرې دې او دا د بارودو ډیرې
کله هم چاودې شي او فرنګي دا نه خوښوله. چې د
هندوستان په دروازه دِ داسې چاودنې کیږي. د
انګریزانو دا ویره وه چې څو پورې د بو ملا په لمسون
د بارودو ډیرې چاودې شي د روسانو د پاره به دلته
د خپو ټخولو موقعې په لاس ورځي. د فارورډ پالیسی
په برکت څو دبهرني خطرو څخ نیوې شوې وُو. ولې
پښتونخوا د ننه دننه غیر محفوظ وه د هندوستان
سلامتیا په خطره کښې وه. د وائسرائې په حیث کرزن
ته دا علم وو چې د هندوستاني شهنشاهیت تحفظ او
سلامتیا د دهٔ اولنې فرض وو او په دې فرض کښې
هغه تعریف او ستائینه هم د دهٔ د لارې ازغې
نه شو جوړې دې کوم چې ده د پښتنو د پاره لرو.

د کرزن د منصوبو تر مخه پښتونخوا نیم په نیمه دلې کښې د وائسرائې د کنټرول لاندې راغله. د حکومتي تکلیف او مشکل په را بر سیره کیدو به په تندۍ سره تبصلې کیدې شوې. د غریزو سیمو قبائل د بندوبستي سیمو نه بیرې کړې شول او د خان په خیر پښتنو د پاره د حکومت د اجازت نه بغیر قبائلو سیمو ته ورتلل هم ناممکن شول او په دغه چل د پښتون د حلالولو او پریکولو کار سرته او رسیدو پښتون انتظامي قاعدو په توره غوڅ کړې شو.

د کرزن په منصوبو کښې په قطب کښې د ملاکنډ نه واخله سهیل کښې د ایران په پوله وزیرستان پورې په مستقل ډول لس زره وسله بند فوځ واچولې شو نورې قلاګانې جوړې کړې شوې او د خطرې ځائي ته هندوستاني فوځ په تندۍ سره رسولو په غرض سړکونه جوړ کړې شول او د ریل پټړئي خورې کړې شوې د پښتونخوا صوبه یې بند کتاب او ګرځولې شو او د سیاسي شعبې او فوځ د پاره یوه ښکاره ګاه جوړه شوه لارډ کرزن ځنې قوانین هم جوړ کړل چې د فرنټیئر کرائمز ریګولیشن په نامه مشهور دی. دَ دې

قوانینو نن لخه د مقدمې نه بغیر د سزا په توګه یو کس د خپلې علاقې نه بلې علاقې ته بو تلې شو. د ټول عمر د پاره۔ انصاف د پولټیکل ایجنټ یا د انګریزانو ملکري خانانو لاس کښې وو۔ چې کوم بنیادي حقونه د ملک په باچاۍ کښې هر چاته حاصل وو هغه پښتنو ته نه وُو حاصل د دې سلوک نه دا حقیقت ښکاره کیدو چې په پښتنو هیڅ قسمه باور نه شو کولې. د لې او لندن کښې شاهي قوانینو دوي ته د وحشیانو په نظر کتل.

کال ۱۹۰۱ء کښې په کهم نومبر پښتونخوا ر د سرحد په نامه) ځانله صوبه اوګرځولې شوه حقیقت دا دې چې دا یو وسله بند کیږدن وو۔ یو پولیسي صوبه وه۔ دلته د پولس راج وو او دا هغه حالات وو۔ چې غفار خان اتمانزو کښې خیل سکول پرانستو۔ دا خبره د غفار خان یا د کرزن په خیال خاطر کښې هم نه وه چې یوه ورځ به داسې راشي چې دا ورو وکې سکول به د والسرائي منصوبې په ځ ۔ ډ کښې ګډوډې کړې.

د ترنګزو حاجی عبدالواحد د ډیرو کلونو راسې د اتمانزو سره نزدې د مردان په کلو او بانډو کښې مذهبي تعلیم ورکولو۔ دې د پښتونخوا په صوبه رومبنې اولسي

مصلح وو. د منلعي ټولو پښتنو دې د حاجي صيب په حيث پيژندو او دې پښې يو بزرګ او ولي ګڼړ نو. ګنړ ځلمي د ده پيروکار جوړ شوي وو. او چې کله ده ته معلومه شوه چې يو محمدزيُ ځلمي اتمانزو کښې يوه مدرسه قائمه کړې ده نو په قدرتي توګه د دهٔ هم دلچسپي په کښې پيدا شوه. حاجی صاحب د اندازه اوګوله چې د دې ځلمي په ځيرۀ کښې به ماته يو بنه ملګرې په لاس راشي او غفار خان ته يې مردان ته د راتلو بلنه ورکړۀ.

د غفار خان سکول په لږ وخت کښې کاميابي او مونده. ملايانو به هميشه کلي والو ته ويل چې د فرنګی د سکولونو نه ځان ساتئ ولې د دوئ سره څه متبادل بندوبست نه وو. چې کوم آزاد خياله پښتانهٔ وُو هغوئ چې اُتمانزو کښې په سکول ورمات شول خان او د ده ملګري عبدالعزيز کېر چاپېرۀ کلو کښې داسې نور سکولونه پرانستل او په لږ وخت کښې بشه ګڼ شمير کښې هلکان دې سکولونو کښې داخل کړې شول.

د غفار خان په دې سکولونو د انګريزانو خاص نظر هم پريوتو. هغوئ دا نه غوښتل چې د پښتونخوا اولس

وي د بېدار شي. د دې نه علاوه د ملايانو په زړه هم خبره نه ځائيده. د هغوئ سره دا ويره وه چې که چرې ولس لوستې او تعليم يافته شو نو په موږ خېرات صدقه بند شي.

غفار خان به کوشش کوو چې ملايان خپل طرفدار کړي. ده مرئ کښې يو وارې يو ملا ته اوې چې مولانا صېب! دا ښائسته بنګله اوګوره. ستا د دې بنګلې متعلق څه خيال دې؟ دا خو ډېره ښائسته ده. ملا ځواب ورکړو تاته دا معلومه ده چې دې بنګلې کښې څوک اسنوګن دې؟ غفار ترنه بيا تپوس اوکړو. نا. څوک د لته اوسي؟ ملا تپوس اوکړو.

دا د انګريزانو ملا صېب دې. که يو ملک آباد او خوشحاله شي او اولس ترقي اوکړي، هلته د ملايانو ورځ هم ښه شي او هغوئ داسې ښکلې ښکلې ښکلو کښې اسيدي شي. څوکه موږ جاهل او ناداره پاتې شو نو بيا کور په کور د خېر خېرات راغونډولو په غرض ګرځيدل به ستا د تندي ليک جوړ شي.

په ملا د غفار خان د دې خبرو هيڅ اثر اونشو. خان دې ملا صېب ته مشوره ورکړه چې ته د خپل

ژوند مقابله د دې انګریزانو د ملا سره وکړه. ګوره
کنه څومره لوئې فرق دې.

ملا خپلو اُبدو ته شرق ورکړو. او دې وئیل چې
دا صحي ده چې زموږه آمدني لږه ده خو یقیني خو
ده. چا نه څه پته ده چې د دې تعلیم په نتیجه
کښې څه مصیبت پروت دې. ملا زیاته کړه چې د تعلیم
نه څه جوړیږي نه.

غفار خان دوستو عبدالعزیز ته او وئیل چې په ملا
م محنت اوکړو خو خوارې م هسې اوبو یوړه. دا ملایان
د هیڅ خبره نه مني. چې دوئې الله تعالیٰ نه دي پوه
کړي زهٔ به ئې څه پوه کړم.

چې کله دهٔ مردان کښې د حاجي صیب سره اولیدل
هغه ده نه په قطب کښې په ګدار کښې د لویو هلکانو
د پاره د یو سکول پرانستو مشوره ورکړه. دهٔ فورًا دَ
حاجی صیب دا خبره او منله.

د خان دا کلي خوښ شو او دهٔ د حاجي صیب د
عُلمو او آزاد خیاله منونکو سره رابطه قائمه کړه.

دَ دوئې د اثر لاندې ده نوره زیاته مطالعه
لیک لوست شورو کړو. دهٔ د مسلمانانو مجلو زمیندار

او "الهلال" کښې ییکل شورو کړل. دا هغه وخت ؤو چې د مسلمانانو د بیا را بېداریدو عمل شورو شوې وو او د دې تنومندو او یخو هواګانو اثر د هندوستان مسلمانانو قبول کړې وو.

فرنګي حاکم په دې تبدیلۍ رسیدلې وو. هغوي د هر هغه چا خلاف شول او بلیک لسټ یې کړل چا به چې الهلال لوستو. د فرنټیر کرائمز د قانون تر مخه د جانونو سیوا هر چرته په غونډو سخته پابندي لګیدلې وه او د دغه وجه وه چې خان غفار خان او حاجي صیب به سره د خپلو پیروکارو ملګرو په صوبه کښې پټ پټ ګرځیدل. او غونډې به یې کولې او پښتنو ته به یې د علم حاصلولو او په یو اتفاق د ادسیدو تبلیغ ورکولو.

د غفار خان ټولې سرګرمۍ د دهٔ پلار بهرام خان د پارهٔ د پریشانۍ وجې جوړې شوې وې. د دې خان دوه لونړه وادهٔ شوې وې. د ده مشر ځوي انګلستان کښې د ډاکټرۍ تعلیم حاصلولو او د ده کشر ځوي کمانډز کښې د کمیشن اخستو نه انکار کړې وو. او تعلیم یې نیمه خوړلو. بهرام خان خفګان نیولې وو ولې چې

ډیر نورزن او ځلمي پښتانه په نه څه خبره جیلونو ته لیږلي شوي وو. او یا بحر هند کښې اندمان کښې کېمپونو ته لیږولي شوي وو او ډیر داسې وُو چې بې تپوسه اد بغیر مقدمې پانسي کړې شوي وو.

د بهرام خان تښېد د بهرام خان په خفګان پوره شو. دې بهرام خان ته تسلي ورکړه چې غفار خان یو ذمه وار ځلمي دې او هغه په خپل کار ښه پوهیږي بهرام اد ویُیل چې که د غفار خان سرګرمیاني ستا خوښې دي نو ځما هم خوښې دي.

بیا هم دهٔ فیصله اوکړه چې که د دې هلک وادهٔ اوکړې شي نو دې به بدل شي او په دې خیال دهٔ دَ خپل ځویَ د واده بندوبست د هغې جینۍ سره جوړ کړو په کومې کښې چې غفار خان خپله دلچسپي ښکاره کړې وه.

د غفار خان د خپلې پېې مځې ښځې سره ډیره مینه وه او کال ۱۹۱۳ء کښې پېې یو ځویَ غني پیدا شود دې ځلمي خان دا خیال وو چې د زمیدار په حیث زهٔ یو باقاعده ژوند تیرولی شم.

خو د غفار خان روح بې قراره رو د دهٔ فکر او

خیال به د صوبې هغه اولس په لور اُکړځیدو چې بې تعلیمه وو۔ ناداره او غریبان وو۔ رنځوران وو او بېوسي ودباندې غالبه راغلي وه۔ د غفار خان نږس به دا خبره ډیره محسوسوله چې غفار خان په کهنتو کهنتو غلې ناست وې ، هیڅ خبره نکوي په فکرونو کښې ډوب وي۔ دا د غفارخان د خاموشۍ نه تنګه راغله او یرې په سر واخسته خودې څه کولې شول.

دې وخت نه وو تیر چې یوې پېښې د خان خوبونه را اولړزول۔ حاجي صېب فیصله اوکړه چې د انګریزانو سره به په څرګنده مقابله کوُم۔ ده کوشش اوکړو چې قبیلګي د غرونو نه ایستلو په غرض د بونیر اولس راغونډ کړي خو تیر شوې جنګ لا اوس هم د خلکو یاد وو۔ او حاجی صېب ځان د ملایانو چا په چې د ده خلاف جالونه خورول او د انګریزانو په مینځ کښې ګیر محسوس کړو ولې چې انګریزان د ده د سرګرمو په وجه را بېر شوي وو۔ کله چې حاجی صېب دا اوکتل چې ګرفتاري ئې را نزدې شوې ده۔ حاجی صېب یو شپه د مومندو لرې سیمې ته لاړو او بیا چرته واپس نه شو.

څیر مودہ روستو پورې به انګریزانو وئیل چې

پښتونخوا کښې موږ ته غټه غلطي دا کړې ده. چې حاجي صیب ته موږ وټو موقع ورکړه څو د انګریزانو طبیعت دا هم نه وو چې د حاجي صیب د نیوو په غرض دې مومندو سره جنګ اوکړي.

د حاجي صیب وتل د ځلیږ پښت کلن غفار خان دپاره یوه لویه پیښه وه. اوس د ده په شان توندن ځلمي دکار دپاره وروستو پاتې وو. او دا یو سوال وو چې د حاجي صیب غېر موجودګۍ کښې به څوک راوړاندې کیږي.

خان د امداد تر لاسه کولو فیصله اُوکړه. کال ۱۹۱۳ء کښې آګرې کښې د ترقي پسندو مسلمانانو یو کانفرنس کښې د ګډون فیصله اوکړه. آګره د مغلو په وخت کښې یو مرکز وو. او اوس ښې هم د روښانه اسلامي تهذیب څرګندو نه کوله. دلته غفار خان د مولانا آزاد په څیر مشرانو سره اُلیدل چا چې ټول بر صغیر کښې د وروستو پاتې مسلمانانو د اولسي تعلیمي او سیاسي ترقي د پاره کار کولو یو کال وروستو دیو بند کښې یو بل کانفرنس کښې دوئ خان ته مشوره ورکړه چې د غرونو آزاد قبائلو کښې

کار اوکړه ولې چې هغه د تعلیم ضرورت ډیر زیات دی.

غفار خان دوئ ته اووئیل چې د فرنګیر ریګولېشنز د بندوبستي سیمو په پښتنو دومره سختې پابندئ لګولي دي چې د غیرو سیمو د قبائلو رونړو سره ورته د خبرو اترو اجازت هم نه شی ورکولی. د دې پابندو نو څخه دا ځنګه ممکن کیدی شي چې د غیرو سیمو اولس نه د لیک لوست آشنا شي. بهر حال غفار خان دې ته تیار شو ولې چې دا یو ښه خیال او یوه ښه مشوره وه. او د دې جوګه وه چې آزمائښت پرې وکړې شي.

دغه قطب کښې د غیرې ضلعې باجوړ د تلو فیصله وکړه. دا هغه ځائ وو. کوم ځائ چې پنځلس کاله اګاهو د ملا منون قبیلو د فرنګي خلاف د پښتونخوا یو لوئ جنګ جوړ کړې وو. د انګریزانو هم هغه ورځې یادې وې دوئ مالاکنډ هم پولټیکل ایجنسئ کښې بدل کړې وو. پولټیکل ایجنټ دلته د کلهم واک او اختیار خاوند وو، د هغه خبره قانون وو او دې کښې ناستو انګریزانو دا خبره یقیني کړې وه

چېرته د دې خبرې د قانون وي. يوازې هغه افسران به د پولټيکل ايجنټ په حيث ايجنسو ته ليږلې شول څوک به چې ښه سخت مزاجه او بې رحمه کسان وو.

د ملاکنډ ايجنسۍ پولټيکل ايجنټ کيب نوټ يوبلنا مه سړی وو هغه دا قانون جوړ کړی وو چې چا پښتون ته انګريز په مخه ورشي هغه به ورته ادب او تعظيم کښې سر ښکته کوي. که چا پښتون به دا سې اُ نه کړل شول هغه ته به سخته سزا ورکولې شوه او په دې چل وه په ټولې ضلعې کښې يره خوره کړې وه.

د يځنۍ په ورځو کښې يو ځل سحر خان د يو مومند ملګري سره د باجوړ په لوري روان شو. دوئ د ماښام په خړه کښې د ملاکنډ درې ته اورسيدل. پوليس به د هر هغه چا تالاشی اخسته څوک چې د دوئ په نظر کښې مشکوک وو. او خان په دې خبره پوهيد چې دې به را ايسارا کړې شی او شايد ګرفتار به کړی شي دې په اَس کاډي کښې څملا ستو او څادر کښې پټ شو.

لا څو تيارهٔ را پريوتې وه او لا دا کيدې شی چې کارت سترېې شوې وو. تا ګيوال کارت تم اودريل چې هيڅ څوک نشته. کارت په ځيږ ځيږ څو اُکتل د لې

ته نکیوال نه بېي د تلو اجازت ورکړو.

چې دوئ د چکدرې په څوکۍ ورتېر شول د هغه ځایه دوئ د سړک نه د باجوړ په غرونو ورواوړېدل جیمر کنډ کښې د حاجي صیب پیرو کارو دوئ ته میلمستیا ورکړه. د هغه ځایه دوئ د ناګه کلي ته اورسیدل د غفار خان خیال وو چې دا کلي د کار شورو کولو دپاره ښه ځایٔ دې. ولې چې دا کاني لرې پروت دے. او د نظره څنګ ته دے. دې نه علاوه کلیوالو دوئ خوښول. ده خپلو نورو ملګرو ته هم د هغه ځائې ته د رارسیدو پیغام ورکړو او د راتګ په انتظار بېي شول.

د غلته د جماعت سره نزدې به دوئ ته د بلجوړ دادي په نظر راتله. هلته فرنګی حاکم په هر څیز نظر ساتو د یو څو ورځو د انتظار نه پس غفار فکر واخستو چې آیا ځما دوستان خو د څه پیښې سره مخامخ شوي نه دي او آیا زمونږ پیغام هغوئ ته رسیدلې هم دې او که نه؟

دې انتظار کښې وخت د پاسه ورځ تیریده.

د باجوړ د ځنګلو په خوشې خوشیا کښې غفار خان نور زیات فکرمند شو. د غفار خان دا خبره بیخي نه خوښیده چې د حاکمانو نه دې پټ پټ ګرځم. او دا سې

حالانو کښې به څوک څه کار اوکړي. چې د فرنګی تنخواه دار شاګردان د خپلو استاذانو په بابله مخبری کوي ؟

یواځې او پریشان حالی کښې ګلمې خان د چلې کولو فیصله اوکړه. د دې غرض د پاره دې هلته یو وړوکې شان جات کښې دیو څو ورځو د پاره "چله" شو. دې دوران کښې دهٔ نه څه خوړل او نه څښل یواځې په اوبو به یې ګذاره کوله.

ده د یو څو تپوسونو ځواب غوښتو. ده تپوس کولو چې آیا ماته د لنه ایسادیدل په کار دی او که نه ؟ آیا دا به غوره وي چې اتمانزو ته واپس شم او هلته د خپلو خپلوانو سره د آرام او مزې ژوند تیر کړم ؟ ماته څه کول په کار دي ؟ چې هیڅ ځواب ورته ملاؤ نه شو نو دې د شعور په ژورو کښې ورډوب شو او یو داسې وخت راغلو چې تپوسونه اودریدل.

اوه سوه کاله اګاهو فرانسس هم د سان ډانیو په ملتې کوډې او خوشې تشي چرچ کښې د عبادت او دعا په غرض ورننوتو. دهٔ یو زړهٔ ور آواز واوریدو چې دهٔ ته یې حکم ورکړو چې "فرانسس ځما دا ګرجا جوړه کړه" د دې آواز په اوریدو ده سمدستي کار شورو کړو دَ

ګرځي د مرمت د پاره ېې کا نړي او ګنې را غونډ کړل ـ

د سان ډا منیو د ماتو کوڅو دیوالونو د مرمت شورو کولو سره فرانس یو داسې مثن شورو کړو چې د دهٔ ژوندېې بیخي بدل کړو ـ غفار خان ته په خپل باطني ژوند د فرانسس نه زیات ضبط حاصل دې. د ناګه جمات کښې د دهٔ چلهٔ مبهم او بې ننیجې پاتې شوه ولې دَ دغه ځایه دا کتې شي چې د دهٔ دَ خبرو اترو او سرګرمو یو مقصد وو ـ" د خدائي خدمت" او د نوي کالو پورې تر مرګ پورې چې دهٔ کوم هدف ناکلې وو ـ هغې کښې څه فرق را نغلو او په ثابت قدمۍ سره ېې د خپل مرام حاصلولو د پاره خپل جد وجهد جاری اُساتلو ـ د غفار ثابت قدمي دهٔ ته په نړۍ کښې یو ډیر لوړ مقام ورکوي.

یو څو ورځې پس سحر وختي غفار خان خپله چله ختمه کړه دهٔ خپل جاه نماز را اُغښتو او د یو طاقتور احساس سره د جمات نه را اووتو ـ اګر چې د جمات نه دې څه د واضح نظر سره نه وو راوتې ولې دهٔ محسوسوله چې زړه هغه غفار خان نه یم کوم چې څو ورځې وړاندې جمات ته ننوتې وو ـ دهٔ چې د کومو تپوسونو جوابونه

غوښتل د هغوئ پهقله دا څه ځواب نه وُو موندلې
خو دهٔ ځان کښې يو قوت، يوه توانائي محسوسوله ـــــ
داسې قوّت او توانائي او احساس چې دهٔ ته به‌ې وړاندې
څه تجربه نه وه شوې. دې پوه شو ـــ ده نن نن
محسوس کړل چې دا "قوت" دا توانائي ماته الله تعالیٰ
را بخښلی ده. دا هغه قوت دې چې د انساني قوت سره
به‌ې مقابله نه شي کيدې. انسانی قوت ستړې شي ستومانه
شي ولې هغه قوت چې د الله مرضي او رضا په کښې
شامله وي هغه ستړې کيږي نه او دغه وجه ده
چې غفار خان د ژوند اخري سلګو پورې ـــ دخدائې
د مخلوق خدمت جارې ساتو.

اسلام ـــ د دهٔ باطن کښې د اسلام معنیٰ واضح کيده
اسلام څه دې؟ د الله تعالیٰ مرضي او خوښې ته ځان
سپارل. د غفار په زړهٔ کښې د الله تعالیٰ د خدمت
خيال په چپو شو ـــ خو الله تعالیٰ ته د خدمت څه ضرورت
دې؟ ده ځان نه تپوس اوکړو او ځان ته به‌ې ځواب
ورکړو چې الله ته د انسان د خدمت څه ضرورت نشته
او د الله تعالیٰ د مخلوق خدمت کول د الله تعـــالےٰ
رښتوني خدمت دې. د کليوال اولس د خدمت ضرورت

دي خوک حبې ئالوسنی دي، ترېکنو او د ښمنو کښې برخت دي، ناداره او زځوران دي، پښې ابلې او په تن لغړ دي. دا زېلې اولس. دا د الله مخلوق خدمت غواړي د دوئي ژوند روښانه کول غواړي.

غفار د غړ د لوړې نه ښکته وادی ته اوکتل دغلته انګریزان وو سره د خپل ټول زور ظلم، مضبوټ مضبوټ خانان وو. رجعت پرست ملایان وو چې د خدائې په نامه بې د اولس استحصال کولو. ده نه دغریب اولس په ژوند کښې د خوشحالی او آرام هیڅ نښې نښانې په نظر رانغلې د غریب اولس په ژوند کښې دغم درد او بې وسی نه علاوه هیڅ نه وو ـــــ خو د ده طبیعت په ځائې وو. که ډګرانس په ښي دې هیڅ پوهه نه شو چې ده نه څوک د کوم ځایه غږ کوي دې دغږ په نوعیت خو او نه رسیدو خو دومره پوهه شوې وو چې ده نه هم غږ شوې دې ده فیصله اوکړه چې زه به د الله تعالی مرضی ته ځان سپارم او زه به ژوند کښې د آرام او آسائش لټون نه کوم ده فیصله اوکړه چې زه به داسې ژوند تیروم لکه څنګه ژوند چې ځما د سیمې یو عام وګړې تیروي. زه به

خپل آرام او سکون د عام وګړي د درد نه قربانوم.

غفارخان به چرې داګمان هم نه وی کړې چې دې په بوره داسې لاره روان شوي دې چې په کومه لاره د هندوستان بو بل استوګن موهنداس ګاندهي لس کاله اګاهو تګ شوروکړې وو. هغه وخت کله چې خان کلی ته واپس شو او هغه سکولونه بې بې پرانستي کوم چې انګریزانو د حاجی صیب د روپوش کیدو نه پس بند کړي وو، هم دغه وخت ګاندهي د جنوبي افریقې نه د هندوستان په لور روان شوي وو. ده هلته جنوبي افریقې کښې د شهنشاهیت خلاف د عدم تشدد په بنیاد رومبنې کامیاب تحریک چلولې وو.

جنوبي افریقه کښې د ګاندهي کردار کښې یو داسې بدلون راغلې وو. چې د ده د ژوند مقصدې بیخي بدل کړې وو. ده لس کاله مسلسل د ژوند ستهائل بدلولو د پاره کوشش کړې وو. او په دغه دول دې د یو مالداره او کارجوړې ي وکیل په ځاې د الله تعالٰے بندګانو کونکي کښې بدل شو. ده د خپل طاقتور شخصیت ټول قوتونه د خپلې ( انا او " زه یم " جذبه ختمولو په کار راوستي وو.

دَ کال ۱۹۰۷ء کښې دَ "ذولو" بغاوت کښې د ستړېچیرا وړو راوړو کارکوونکو ـ دا د انګلستان خلاف یو بل انتقامي مهم وو. دې کښې د داسې محسوسه کړې دَه لکه دَه نه د ننه نه آواز وړکړې شوې وي چې د بنی نوع انسان بې غرضه خدمت شروع کړو دا هغه کار دې او هله نړ سره کیدې شي چې سړې د ځان دَ دنیا نه راټغر شي او د انسانانو په مسئلو کښې دلچسپي اخستل شروع کړي.

ګانډهي د ایمبولنس ملازمت پرېښود. ده ځان کښې یوه نوې جذبه او یو نوې قوت محسوسولو ولې ده نه دا پته نه وه چې دَه به څهٔ کوُم ځما منزل او هدف څه دې؟ څو هفتو کښې د ننه دې د یو داسې مهم مشر وو کوم چې د امتیازي قانون سازیه خلاف شروع کړې شوې وو. دې په دې مهم کښې چې کله د جنګ د نوي ټیکنیک په بابله په خپل ځان د دهٔ باور پوخ شوې وو، دې د جنوبي افریقې نه هندوستان ته را واپس شو.

هندو بیر ستر او پښتون مصلح کښې چې کوم نوې قوت پیدا شوې وو دا دواړه قوتونه رو رو را یوځای

کیدل ـ او دا قوت د برطانوي راج د هغه سیاستدانانو او جرنیلانو د قوت نه بالکل بدل وو او د فرنګي حاکمانو مقابله د داسې قوت سره چرې ورانډې نوه راغلې.

برطانوي حاکمانو د ډپلومېسي او جنګ په ذریعه څلورمه برخه نړۍ فتح کړې وه خو اوس د تاریخ قونونه ډېر په تندۍ سره د دوی خلاف شوي وو دا بېخي نوې قوت وو. ستیاګره د روح قوت دا هغه قوت وو چې د انساني روح په زور وګټې وده موي.

د کال ۱۹۱۷ء په ګرمۍ کښې هندوستان د فرنګیانو لاسونو کښې بالکل محفوظ وو. هندوستان نه د هیچا نه هیڅ خطره نه وه. د خطرې عدمې موجودګۍ د انګریزانو د نسلۍ د پاره د جوار یوه بنه وجه وه ډېرو انګریزانو به چرې دا سوچ هم نه وي کړې ګني راتلونکې ډېرشو کالو کښې د وادۍ حکمراني ختمیدې هم شي. خو غفار خان د خپل اولس د خدمت فیصله کړې وه. خدمت ډېر کولې شي ولې بې غرضه خدمتګول یواځې د غفار خان او ګاندهي په برخه رسیدلې وو. دوی دا هیڅ پرواه نه کوله چې منفیله

کیښي ددوی د پاره څه برېته دي؟ مونږ وینو چې د تاریخ کرښې د دوی واک کښې دي. لکه څنګه چې د ماضي تاریخ دا دوارو شخصیتونه هیروولی نشي هم داسې د مستقبل تاریخ هم د دوی په کردار ځان غلی کولی نه شي. حقیقت دا دې چې دا د تاریخ خوش بختي ده. چې د غفار خان په څیر شخصیت ورکښې ځای دی.

## شپږم باب

# د باچاخان ارمان

۱۹۱۴ - ۱۹۲۱ء

"زه یو خوب وینم یو لوئي ارمان لرم څما
د اولس حالت د صحرا د هغه ګلونو په شان دي
چې صحرا کښې زرغون شي. یو څو ورځې بس مړاوي
شي او بیا د خاورو سره خاورې شي. زه غواړم چې
څما اولس دې یو بل سره غمونه او خوشحالۍ ویش کړي
زه غواړم چې د قام د خوشحالۍ د پاره د برابرۍ
په بنیاد دې یو بل سره اُږه په اُږه کار اوکړي زه
غواړم چې دوی د قام تقدیر بدلولو کښې خپل قامي
کردار ادا کړي او دوئي د نړۍ د نورو قامونو
سره سم شي او دوی د الله تعالیٰ د مخلوق د خدمت
کولو جوګه شي" (حضرت باچاخان)

د کال ۱۹۱۴ء د ګرمو او ګرد و غبار د کو ورځو کښې
برصغیر هند ته د اولني لوئې جنګ حرې را اورسیدې

دي جنګ کښې د هندوستان اولس ملوث کولو په غرض
انګریزانو دا اشاره ورکړې وه چې د جنګ په ختمېدو
په هندوستان کښې سیاسي اصلاحات اوکړې شي. دوئ
دا اشاره هم ورکړه چې هندوستان ته د ډومنین
(DOMINION) درجه هم ورکیدې شي د پښتوګلونه
زیات هندوستانیان د انګریزی راج په دفاع کښې فرانس
جرمني، ترکیه، شام او شمالي افریقې کښې اُجنګېدل.

هندوستان کښې حالات د وړاندې نه سخت شوي وو.
د جنګ په ورځو کښې په اخبارونو سختې پابندۍ لګیدلې
وې، په سیاسي غونډو او سرګرمو بندشونه وو او د انګریزانو
خلاف لږ غوندې ویل هم زغملې نه شول او خفیه قوځي
عدالتونو بې شمیره هندوستانیان جیلونو ته لیږلي وو.

پښتونخوا کښې باچا خان د حاجي صیب ځاې نیولي وُو
وو او سه په زړه ورتیا سره یې کار شورو کړې وو دهٔ به
د کلو دورې کولې. هلته به یې سکولونه پرانستل او اولس
ته به یې د تعلیم ترلاسه کولو غږ ورکولو. دې به کوځه
په کوځه ګرځیدو او پښتون اولس ته به یې ویل چې
تاسو څو پورې د ځان حالت په خپله بدل نه نکړئ، تر
څوک ستاسو حالت نه شي بدلولې ولې چې دا د الله تعالیٰ

فرمان دې چې هر چا ته د خپل حالت بدلولو د پاره
هسه یکار ده.

دهٔ چې کار شورو کړو، په هر قدم او هر کوټ اقاتو خلاو
دَ دهٔ لخه اُنیوه. د ملاکنډ ایجنسۍ پولټیکل ایجنټ ډیر
سخت ګیر انسان وو. دهٔ خو به لا په څرګنده د خان
کارکنانو ته دهمکۍ ورکولې او لا به یې په عجیبه
عجیبه طریقو د دوی کارکښې خنډان پیدا کول. د دې
پولټیکل ایجنټ چې بناغلي کبب نومیدو. د دې نه بل څه کار
ته ور چې باچاخان دخپل رعب لاندې راولي. ده یوه ورځ
د دیر نواب خپل دفتر ته راُ بللو او په ضلعې کښې یې د
یواځنې سکول په بابله اووئیل چې نواب صیب: د سکولونه
اودا سبق زموږ د پاره خنډان پید کوي که ته غواړې!
چې د دې سکول په وجه ستا د پاره مشکلات پیدا نشي
نو غوره خبره دا ده چې څومره زر کیدې شي دا سکول
تباه کړه.

نواب صیب یوځو ورځو کښې دننه دا سکول
تباه کړو.

د کال ۱۹۱۵ء دسمبر کښې ټولې صوبې کښې د انفلوئنزا
وباخوره شوه او د باچاخان دوه کلني ځوی غني ډیر سخت

رنځور شو یو ځ مانیګر بچا خان د خپل رنځور ځوي د کټ
سره نږدې چاه نمانځ غوړولی وو. چې ده نمونځ اوکړو د
ده پیغله ښځه کمرې ته را ننوته. دا د خپلی رنځور ځوي
د کټ نه یو څو واره تاو را تاو شوه او بیا یې لاسونه د دعا
د پاره اوچت کړل دې اوې چې یا الله ته یوې او اوریدونکې
معاف کوونکې او بخښونکې یې. یا الله ځما دا ماشوم ځوي روغ
رمټ کړې او د ده دا تکلیف په ما راولې" دا یو څو واره
بیا د ماشوم ځوي د کټ نه تاو را تاو شوه او دغه دعا یې
په خوله وه چې" ای ربه ځما د ماشوم ځوي نه د بیمارۍ
دا درانه اوچت کړې او د ده په ځای ما رنځوره کړې"
چې سحر راماښیدو دا هلک را سمیدو. د ده تبه ماته شوې
وه او د ده مور د ده په خوا کښې په کټ رنځوره پرته
وه. په دې سخته تبه راغلې وه ټوله ورځ پرې داسې حالت
پاتې شو او چې سحر سحر کیدو دا په حق اورسیده.

باچا خان خپله ښځه د هغې د ناوړتوب په جامو کښې
خاورو ته اوسپارله د دې په قبر یې ګلونه انبار کړل
ظاهره خبره ده چې باچا خان ته د خپلې پیغلې ښځې په مرګ
ښه صدمه رسیدلې وه. ده خپل دوه ځامن د خپلې مور
سره پریښول او ده بیا د پښتونخوا د کلو دورې شورو کړې

دخپل غمونه یې په تامې خدمت کښې دفن کړي دي.
خلکو نه د زراعت کار شودلو او دوئ نه به يې وئيل
چې خپل کورونه او کوڅې صفا ستهرې ساتئ. د دې نوي
سکولونه يې رانستل. د دې د ناداره او غريبانه اولس په
ځوانو کښې نسله مونده. د دې د خپل اولس سره زينته
ډيره مينه وه. باچا خان د نړۍ په هغه يو ځو مشرانو
کښې يو وو چې د چا ژوند او مرګ يواځې د خپل
اولس د پاره وي چې څوک هم د باچا خان تاريخ ليکي
هغه به خامخا دا ليکلو ته مجبوره وي چې باچا خان د
اولس د پاره ژوند تير کړو. هغه خپل آرام، خپله ځواني
خپل وخت د يو مقصد د پاره قربان کړل هغه دا چې
پښتون اولس د نړۍ د نورو اولسونو سره سيال شي دوئ
د يو بل سره د ښې جوازه غيرت او دښمنو په ځائې
د يو بل سره ملګرتيا او لاس امداد کوي. ځ په وړاندې
لاړ شي او د خپل محنت په زور د چا موتاژه پاتې نه شي.

ورو ورو خان د بر صغير د نورو مسلمان مشرانو سره
رابطه جوړه کړه د ګاندهي متعلق ډيرې خبرې اوريدلي
وې او د هغه د عدم تشدد فيلسوفي نه خبر شو د کومو په
برکت چې د هندوستان اولس کښې بيداري راغلي وه د هٔ د

ګاندهي د ساده ژوند تېرولو فلسفه ډېره سمدستي
خوښه کړه او دا خبره يې هم خوښه شوه چې د ژوند
ټولو چارو کښې د عدم تشدد په فلسفه عمل پکار دی. دغه
د ګاندهي په شخصيت کښې "مهاتما" اوليدو هغه لوی روح چې
د الله تعالیٰ د نادارو اولس د خدمت په ذريعه يې د الله
تعالیٰ خدمت کولو.

چې خټک د ګاندهي فکر خور شو، پښتنو ته د
تعليم ورکولو لړ کښې د دغه کار او کوششونو ټوټې د خ
اختيار کړ و. دغه پښتون د آزادۍ په لور روان کړو ولې
چې آزادي د انسان د پاره هغه انعام دی په کوم کښې
چې يو بنيادم خپل خوب او فکر ته د عمل جامه اچولی
شي دی حوصله مند خان خپل کوششونه نور تېز کړل
د کال ۱۹۱۵ء نه ۱۹۱۸ء پورې دغه د پښتونخوا په بندوبستي
سيمو کښې د ټولو ښځو سوو کلو دوره اوکړه. دې د خپل
پښتون اولس سره ـ چې په کوم غفار خان ساه ورکوله
د هغوی سره د دوی مجبورو کښې کښيناستو. د هغوی سره
يې د آزادۍ په نعمت خبرې انړې اوکړې دوی ته
يې هغه قربانۍ وريادې کړې کومې چې د قام د
عزت د پاره ضروري وي. دغه خيلو پښتنو ته يو بل د

معاف کولو برکتونه بیان کړل او هغوي نه یې خواستونه
وکړل چې خپلو کښې په نړیکنو او د ښمنو مال دولت
او نوا نا بیې مه خرڅ کوي ده هغوي ته بیا بیا اوویل
چې ځان کښې د یو بل د معاف کولو قوت پیدا کړي.
چې کله به ورته وخت ملاؤ شو د کلي د ماشومانو سره
به یې توقې ټقالي خندا کاڼي کولې. خان به د ماشومانو
سره ډېره مینه کوله او د هغوئه خبرې به یې په ډېره
مینه او دلچسپۍ سره اورېدې کلیوال اولس هم د ده سره
مینه کوله ولې هغوی د ده په خبرو نه رسیدل. دې
دومره ساده وو چې خلکو ته به ملنګ په نظر راتلو
ولې دې خو سوالګر نه وو. ده خو د پښتنو نه خیر
خیرات نه غوښتو او نه دې داسې فقیر وو چې دنیا
نه یې شا کړې وي دَ ده خو خپل کلي وو، خپل جاګیر
یې وو ولې ده دا هر څه د لوې جذبې لاندې پرېښي
وو. دا جذبه د خپل اولس خدمت کول وو، خپل اولس
ته تعلیم ورکول وو او دویم د نړۍ د نورو قامونو سره
اوږه په اوږه کول وو د دې غرض د پاره دې په
سلونو او زرګونو میلونو تګ پر اوږه کړ ځیدلې
دې.

ده د آزادۍ د تحریک په لړ کښې د یوې جلسې صدارت کولو ساده کلیوالو نړ نه دا مقصد واخستو چې غفار خان باچا جوړ شو. د غه غونډه کښې یو کس دمینې او جذبې نه د" باچا خان زنده باد چغه اُوهله— او د هغې نه پس د پښتون اولس د ښلې صدۍ دا عظیم مصلح د غفار خان نه" باچا خان" جوړ شو. د باچا خان مطلب د خانانو باچا جوړېږي. هغه ورځ ده او نن چې غفار خان باچا خان بللې شي د باچا خان نوم د پښتونخوا په غرونو او راغونو خوریږد و نه علاوه په ټول هندوستان او کړه دنړۍ کښې خور شو.

که خانانو دې باچا بللو کلیوالو په دې نوم څه اعتراض کولې شو او چې څنګه کاندهي په مهاتما مشهور شو غفار خان باچا خان اوګرځیدو او دې په چې د مردان نه کو هاټ پورې د کلو په دوره تلو دا آوازه به خوره وه چې باچاخان تشریف راوړي، باچا خان را روان دې. د خپل هیواد د غرونو هومره د ننګ باچا خان.

پښتون نام نه یو مشر په لاس ور غلي وو او نه په وخت بې موندلي وُو ولې چې د کال ۱۸۹۰ء د خونړۍ جنګ نه پس پښتونخوا بیا په چاودلو راغلي وو.

دا د چاودنه د غضبناکو پښتو په وجه نه وه داد یو سپک دسني او نرم خویه هندوستاني ګاندهي په وجه وه. انګریزانو او هندوستانیانو د ګاندهي په شیر انسان نه وو لیدلی. دې وړدکي غونډې سپک دسنه انسان وو. دهٔ به د کروندګرو جامې اغوستلې وې. دې ډیر کم خوراکه وو او د پرهیزګارۍ ژوند به یې تیرولو. دهٔ به خلکو ته د صفائۍ خبرې کولې او د انګریزانو د استحصالي نظام خبرې به یې هم کولې. په لکونو هندوستانیان د دهٔ پیروکار وو. ولې نه خو هندوستانیانو او نه انګریزانو دا دعوی کولې شوه چې دوی ګاندهي پیژني.

د ګاندهي د تحریک زړه د عدم تشدد په ذریعه مزاحمت وو. په شمیره تقریرونو او مضمونونو کښې ګاندهي هندوستانیانو ته ښه په زړهٔ ودنیا او انقلابي ډول هدایات ورکول. ده وئیل چې عدم تشدد یو خاموشه تحریک نه دې. او نه دا یې مقصد او یې نونه دې. دهٔ وئیل چې د عدم تشدد د معنیٰ ښه په شعوري ډول او اراده د حاکمانو مزاحمت کول دي.

د عدم تشدد مقصد د غلام په شیر سر ټیټی نه ده بلکه

دا د جابر حکمران خلاف ټول روحاني قوت مجتمع کوا دي.

ګاندهي د عدم تشدد د خاموشه مزاحمت معنیٰ سره اتفاق نه وو. ده خپل لفظ "ستیاګره" ایجاد کړه. د ستیاګره مقصد او معنیٰ "د ښتیا" او استقلال دي یعنی یو داسې قوت چې هغه د ربنتوني وي او استقلال لري یعنی یو داسې قوّت او طاقت چې د ښتیا مينې او محبت او عدم تشدد نه پیدا کېږي.

د ستیاګره مقصد نه وو چې ګنی خوا ته یې یا استحصال د زغملو شي. د دې مقصد د ذاتی، اولسي، اقتصادي او سیاسي استحصال خلاف یو موثره مزاحمت کول وو. د ګاندهي مطابق ستیاګره یو داسې قوت دې چې مينه یې وسله ده دا یو روحانی قوت دې، یعنی خالص او ساده روحانی قوت او هغه څوک چې په ستیاګره عمل کوي. د هغه د ارادې قوت ډیره وده مومي. دا یو داسې قوت دې چې د سړي د زغم او برداشت قوت سیوا کوي. ګاندهي وئیل چې د دې قوت په ذریعه سره دښمني ختمیدې شي. دا اصل کښې دښمني او اختلافات ختموي ولې دښمنان نه ختموي خو چې کله د استحصال او زور

ظلم وخت وي نو په کار ده چې زور ظلم او استحصال برداشت نه کړې شي.

ګاندهي ليکلي وو چې د ستياګره د پاره نه څو د وخت څه قيد شته او نه د مشکلاتو زغملو په لړ کښې د صلاحيت څه حد شته او دغه وجه ده چې د ستياګره په عمل کښې د شکست او ماتې خوړو هډو سوال نه پيدا کيږي.

چې جنګ ختم شو نو د ګاندهي په هندوستان کښې درې کاله شوې وو. په دې لنډ وخت کښې دې د کانګرس د مشرۍ په کرسۍ ناست وو او د ا تنظيم يې د دانشورانو د بحث مباحثې د انجمن نه په يو سياسي تحريک کښې بدل کړې وو. اوس اوس د دې تنظيم مرسته او حمايت شورو کړې وو. د کال ۱۹۱۹ په ابتدائي مودلا کښې د تيرو پنځوسو کالو راسې په اولني ځل ګاندهي د انګريزي راج خلاف بغاوت را اوچت کړ و. خو دا بغاوت د عدم تشدد په فکر ولاړ وو.

انګريزانو ........ دَ جنګ په وخت نافذ کړې پابندۍ اوچتې نکړې او د کال ۱۹۱۹ء په مارچ کښې پارليمنت رالاټ قانون منظور کړ و. د دې تر مخه چې د جنګ دوران کښ

کومې پابندۍ لګیدلې وې. هغوی ته قانوني شکل ورکړې شو. د انګریزي راج په دفاع کښې د خپلو وینوتویولو نه پس هندوستانیان په دې نتیجه را اُرسیدل چې د دوی د قربانو مننه په داسې ډول کولې شي. چې د ۱۸۵۷ د غدر نه پس پرې یو داسې قانون نافذ کولې شي چې د زور او ظلم نه ډک دې. ناجائز جائز کوي او بې انصافي رواکوي.

ګاندهي د دې خلاف دهړتال غږ ورکړو. ټول ملک کښې د دهٔ په غږ هړتال اُشو. بسونه اوریل ګاډي اوډ ریډل، دوکانونه، سرکاري دفترونه او کارخانې بندې شوې او ټول بښارونه او بښارګوکښې کاروبار ټپ شو.

پښتونخوا کښې پېښور په عملي توګه بېخي بند وو. او په زرګونو پښتانهٔ اُتمانزو کښې جمع شول هن دا چې د غفار خان پلار صاحب بهرام خان د پښتنو په دغه غوناړه کښې ګډون اوکړو. بهرام زوند کښې په ړومبي وار سیاسي غونډړه کښې ګډون کړې وو.

او دا هغه وخت ډېر خوشحاله وو چې د دهٔ ځوئې [illegible]خان اولس ته وئیل چې د انګریزانو د زورظلم مزاحمت

کوي ده دي ځوندي ته اووئیل چې د آزادۍ د نعمت نه بل لوي نعمت په ډونده کښې نشته. ده اووئیل چې آخر دا څه وجه ده چې انګریز د دومره لرې نه راځي او په موږ حکمراني کوي. ولې موږ په خپله حکمراني نشو کولې؟ د غفار خان د خبرو انداز ساده، آسان او په زړه ګلیدونکې وو. ده پښتنو ته حوصله او همت ورکړل او د ده په مشرۍ کښې پښتون د هندوستان په آزادۍ کښې یو نه هیریدونکې کردار ادا کړو.

انګریز حاکم د غفار خان د خبرو اترو نه خبر شو، د پښتونخوا حکومت مارشل لاء او لګوله. خان یې ګرفتار کړو او د مقدمې نه بغیر یې سزاوار کړو. تیږن میاشتې قید یې کړو. انګریزانو د غفار خان په مضبوتو خپو کښې د اوسپنې زولنې واچولې دا زولنې د ده په خپو تنګې وې او د ده خپې یې ژوبل کړې.

په اتمانزو کښې انګریزي حکومت د خپل ځناور تعب یو نه هیریدونکې یاد پرینبودو ځوځیان د کلي نه تاؤ شول د ټوپک په زور یې کلیوال سرې، زنانه او ماشومان راټول کړل دوی ټول د خان سکول ته بوتلي شول او هلته یې د کپتانستو حکم ورکړو ددې تش لاسي خلکو په لوسا یې

ټوپکې او مشینګنونه نیغ کړل. کمانډنګ افسر خپل لاس
اوچت کړو او حکم یې ورکړو چې فائر. ۱۵۱

خلکو نارې سورې جوړې کړې. ولې فائر اُو نه شو.
فوځیانو په ډنډونو ور منډې کړې او چې څه قیمتي سامان
او شیان ورته په لاس راتلو هغه یې اُشوکول او بیا یې
کورونو ورکړه شول او چې څه ورته په لاس راغلل هغه
یې تالا کړل او کاډي یې چک کړل.

انګریزي فوځ به په داسې موقعو په منظم ډول لوټ
مار کولو انګریزانو چې په پښتنو کوم ظلمونه کړي دي
د هغې تر څنګ دا د انګریزانو یوه بې بنیاده دعوی ده چې
ګني دا د فرنګیه مهذبه قام دې.

چې کوم وخت فوځیانو لوټ کولو په دغه وخت انګریز
کمشنر خپلې ماته کوډا پښتو کښې کلیوالو ته تقریر کولو. ده
وئیل چې انګریز سرکار په تاسو د بغاوت په سزا کښې
دیرش زره روپۍ جرمانه لګوي دی نه علاوه تاسو به اوه
کسان ورکوې چې د غفار خان پلار بهرام خان به په کښې
شامل وي دا به هغه وخت پورې د پېښور جیل کښې ساتلې
شي څو پورې چې تاسو جرمانه نه وی ادا کړی.
غفار خان به جیل کښې د خپل غیر سیاسي پلار په

لید و حیران شوي هم وي او خوشحاله شوې به هم وي. بهرام خان به خپله هم خوشحاله وو ولې چې د هغه دا خیال وو چې انګریزانو به د هغه کترې ځوې پانسي کړې وي او ولې هغه ژوندې وو. د زرین خان د پاره درې میاشتې جیل یوه تحفه وه ولې چې دا د خپل ځوی سره د ده د لیدو یوه ښه موقع وه.

چې دې شپږ میاشتې پس د جیل نه راووتو نو ده ته دا پته اولګیده چې مور او پلار د ده د واده په بندوبست کښې مشغول وو. ده خو خپله د بل واده سوچ هم نه وو کړې ولې د فرمان بردار ځوې په حیث یې د مور او پلار خوښې ته سر ټیټ کړو. دې د واده په سلسلې کښې د سود سودا اخستو د پاره پیښور ته روان شو او دې لا پیښور ته نه وو رسیدلې چې ګن قتل کړې شو او د جیل په یوې وړوکې کوټړۍ کښې واچولې شو. دې کوټړۍ کښې دوه کمبلې وې. چې د شپږو ډکې وې. نه یواځې دا چې د سپږو ډکې وې. د عمرونو زړې کمبلې وې او د ده د قد نه وړوکې وې.

یوه هفته پس چې دې را پرینودې شو نو د ده د

انګریز کمشنر نه تپوس اوکړو چې ناسو زه ولې نیولی یم ؟

ماشاد معاملې تحقیق کولو. انګریز کمشنر ده ته بې پروایئ سره لنډ شان جواب ورکړو.

خان ورته اووئیل چې ناسو هغه وخت ځما د معاملې تحقیق ولې او نه کړو چې کله زه ناسو د دې نه وړاندې نیولی وم ؟

انګریز کمشنر ورته اووې چې دا ځما خوښه ده چې تحقیق وړاندې کړم او که ګرفتاري وړاندې اوکړم.

زه یو انسان یم خان جواب ورکړو. ځما په حیثیت ځان پوهه کړه ناسو ما ته په نه څه خبره ولې تکلیف راکوې ؟

انګریز لیکل بند کړل او د لوړ دننګ غفار خان په لوړې په تهس اوکتل. بیا د انګریز په مخ څه سکون را ښکاره شو، لیکل یې شورو کړل او د غرور په نشه کښې یې تپوس اوکړو چې ته د خپل حیثیت په بابله څه خبرې کوې ؟ د حیثیت خښتن خو انګریز دې چې واکمن دې. د غلام به څه حیثیت وي.

خان د دوئیم واده نه پس د خپل نهر او ځامنو بهره بیا میشته شو. خان دې دوران کښې د انجمن صلاح

افغنه بنیاد کښېښود دا یو غیر سیاسي تنظیم وو دا په دې غرض قائم کړې شوې وو چې پښتونخوا کښې د اصلاحي اولسي او تعلیمي میدانونو کښې نبه والې پیدا کړې تسې ده په خاص ډول په دې خبره زور ورکړو چې پښتنو ته د کرکروندې نه علاوه نورې پیشې اختیارول په کار دي ولې چې دومره ځمکه نشته چې د ټولو کروندګرو او زمیندارانو د پاره کافي وي ده په خپله انجمن کښې په دې غرض یو دوکان پرانستو چې د نورو د پاره نمونه قایم کړي.

کال ۱۹۲۰ء کښې د ترکیې د خلافت په بابله د انګریزانو د پالیسۍ خلاف مسلمان د احتجاج په توګه افغانستان ته هجرت اوکړو. په زرګونو پښتنو دې هجرت کښې ګډون اوکړو. خان هم په هجرت کوونکو کښې شامل وو. دې ډیر زر د افغانستان نه پښتونخوا ته د اصلاحي کار شورو کولو دپاره راستون شو.

ده په انمانزو کښې د آزاد سکول درجه اوچته کړه په دې سکول کښې اولس د لسم جماعت طالب علمانو ته داخله ورکوې شوه او ده تند او هوښیار پښتانه ځلمي د استاذانو په حیث واخستل.

کال ۱۹۲۰ء کښې انډیا نیشنل کانګرس ناګپور کښې غونډه اوکړه او په رومبني ځل ئې د عدم تشدد په ذریعه د مکمل خپل واکۍ د پاره په ډاګه د جد وجهد کولو اراده څرګنده کړه. غفار خان دې تاریخي اجلاس کښې ګډون اوکړو. دا د ده رومبني ګډون وو. دې اجلاس کښې د ګاندهي سره د ده لیدل اوشول او دې د ګاندهي نه متاثره شو. خو ده ورسره څه تعلق جوړ نه کړو د سیاست نه زیات د خان داخوښه وه چې کلو کښې په خاموشۍ سره خپل کار کوي د هغه اصلاح عمل په دې غرض جاري کړي وو، چې پښتون اولس د نړۍ د نورو قامونو سره سیال کړي.

خان چې څنګه څنګه په کلیوالو سیمو کامیابي مونده داسې داسې د انګریزانو د پاره د دې ناخوښه سیوا کیده انګریزان چې په دې پوه شول چې د خان د سکولونو نظام وده مومي. او پښتنو کښې بیداري راځي دده د خان د سکولونو استاذانو نه د قید و بند ګواښونه ورکړي او څنه استاذانو د آزاد سکولونو ملازمت پرېښودو هغه سرګرمۍ او خیالات چې نور هندوستان کښې به زړملي شول او چا ګیر نه به ئې کولې شوه. هغه پښتنخوا

کنبې نشو زغملې د انګریز نوځی افسران د پښتنو په ببدار تیا موندلو ډیر په تشویش کنبې وو. د هغوئ سینه د پښتون د پاره کله هم پراخه نه وه او نه د پښتون په حواله سره هغوی تهذیب یافته وو.

چیف کمشنر سر جان مافی د بهرام خان پیژندګلو وو. ده بهرام خان پیښور کنبې خپل دفتر ته راو بللو او ده ته یې اووئیل چې ګوره بهرام خان! ستا ځوي غفار په کلي کلي ګرځي او هلته مدرسې قائموي. کمشنر مافي ته پته وه چې بهرام خان یو محتاط سړی دی. ده ورته اووئیل چې ګوره کنه چې نور خلک په خپلو کورونو کنبې ناست دي. د آرام ژوند تیر وي او د دې شیانو هیڅ د سره پرواه نه کوي او ستا ځوي کوڅه په کوڅه ګرځي ته خپل ځوي ته هدایت نشې کولې؟ ده ته اووایه چې کله د نورو په شان په کور کنبې کیښني.

رښتیا وائي کمشنر صیب! بهرام خان جواب ورکړو. زه خپله هم نه پوهیږم چې ځا دا ځوئي څه کوي؟ او په کومه لاره سم دي؟

کمشنر بهرام خان ته اووئیل چې تاسو به دا مهرباني اوکړئ چې خپل ځوي ته او وایه چې د بې مطلبه او

بې مقصده کاردنو نه لاس په سر شي. او د پښتنو غم نه کوي.

بهرام خان دې خبرې ته تیار شو او چې د پېښور نه والپس شو نو دمخې سره یې خپل کشر ځوی غفار ته او وئیل چې بیا هلکه ته د نورو خلقو په شان په خپل کور ولې نه کینې؟ دا نور خلک څه کوي؟ ستا نیمه رنګیزه بنځه ده دوه دې توانا او یې مخې ځامن دي. جائیداد او چاکېر لري ته د خپلو ځمکو نګراني ولې نه کوې؟ دا ناخه ناکړدې راخستې دې. کلي په کلي او کوڅه په کوڅه ګرځې او اولس ته نصیحتونه کوې. ولې د پښتو ټیکه دې اخستې ده څه؟

غفار خان خپل پلار ښه پېژندو. ده ورته او وئیل چې بابا! زه ډېر په ادب سره ستا نه یو تپوس کوم.

بهرام خان! وایه څه تپوس دې؟

غفارخان:- بابا! که هر څوک مونځ کول پرېږدي نو ناسو به ماته هم دا نصیحت کوې چې زه دې هم مونځ کول پرېږدم؟

خدائې دې داسې نه کړي. بهرام خان جواب ورکړو. مونځ کول خو یو اولین فرض دی.

بابا: غفار خان جواب ورکړو۔ خلکو ته تعلیم ورکول او د خپل قام او اولس خدمت کول او د دوئي په کار راتلل هم داسې یو فرض دی لکه څنګه چې مونځ کول دي. آیا ستا دا نه ده خوښه چې زۀ د خپل غریب او نادارهٔ اولس په کار راشم؟ که هر څوک په کور کښې او د آرام ژوند تیروي نو دا دَ قام خدمت به څوک کوي؟ د دې بد قسمته اولس په کار به څوک راځي؟ چې دا اولس بیدار نه شي. د تعلیم او لیک لوسته په خوږو مورنۍ د دوئي راتلونکې نسلونه به هم تباه او برباد وي زۀ بابا! دا تاسو ته د زړهٔ دَ اخلاصه او رښتونې خبرهٔ کوم چې دا هم یو عبادت دے. یو مقدس فرض دی.

بهرام خان چې د خپل ځوي خبرې واوریدې نو سوچ او فکر واخستو او لږه شیبه پس یې غفار ته او ویل چې ځویه که دا هم دومرهٔ مقدس کار دی چې څومرهٔ ته وائې نو زما د طرف نه تاته اجازت دی. خپل کار جاري ساته چې چرته نور نه څنګ او نکړې. بې فکره، بې خطره دا کار جاري اُساته.

بهرام خان چیف کمشنر مافي ته پیغام اولیږلو چې موږ ستا د خوشحالۍ د پارهٔ خپل مقدس کار او مذهبي

قریمنه پر ینودلی نشو. دهٔ ورته اووئیل چې ما هم خپل ځوي ته د دې کار جاري ساتلو اجازت ورکړې دې.

چیف کمشنر هم په آرام دکیناستو سړې نه وو ده غفار خان ته آبللو او نیوس یې نړنه اُکړو چې ستا سره څه ضمانت دې چې ستا تنظیم به د حکومت او دَ دې د مفادو خلاف نشی استعمالولی.

غفار خان ورته ځواب کښې اووئیل چې، کمشنر صیب! تاسو په ما باور اوکړئ ځهٔ.

داسې نه شي کیدې، کمشنر په غصه کښې اووئیل. ته یه ضمانت ورکوې، معافي به غواړې او دَ دې کار نه به لاس په سر کیږې.

غفار ورته په کلکه سره او وئیل چې ضمانت؟ دا ضمانت چې زهٔ به د خپل اولس په کار نه راځم، د هغوی خدمت به نهٔ کوم؟

دا خدمت نه دې چې ته یې کوې، کمشنر ورته اووئیل دا خو سک بغاوت دې، بغاوت.

یو څو ورځې پس غفار خان په دې الزام ګرفتار کړې شو چې دا خپل اولس کښې تعلیم خوروي. دې کلو په کلو او کوڅه په کوڅه ګرځي او پښتو نه د تعلیم حاصلولو غږ ورکوي

[illegible] د خپلې گرفتارۍ نه پس لیکي چې:
"چې زه گرفتار کړې شوم نو د حوالات په ځای د مخې سره د مجرمانو کوټړۍ کښې واچولې شوم. چې د دې کوټړۍ دروازه پرانستې شوه نو ډېر بدبوئي ځما په پوزه راننوتو. دا بوئي د هغه لوښي نه راپورته کېدو چې د یو قیدي خارج شوي گند پکښې پروت وو. ما د جیل افسر ته اوویل چې زه خو داسې سخا ځینې او بدبوداري کوټړۍ کښې پاتې کېدې نشم خو ده راته ډېر سوړ جواب راکړو چې تا ته دې معلومه وي چې ته یو جیلي یې او کوټړۍ نه بې د یکه کړم."

دا کوټړۍ ډېره یخه هم وه ولې چې د دې مخ د قطب په لور وو او د نمر تاؤې چرې نه وو خوړلې. ما ته د یخ نه د بچ کېدو د پاره درې وړې وړې اوړې کمبلې او یوه دړۍ راکړې شوه.

ځما په جیل کښې بندولو نه پس ځما نور ملگري هم گرفتار کړې شول. شپه او ورځ به موږ په کوټړو کښې ساتلي شو. موږ ته خوراک به جنگلې کښې راکوې شو. د دې ظلم او زور نتیجه دا راڅرگنده شوه چې ځما ملگرو د ضمانتونو

ورکولو فیصله اوکړه. ولې ما او عبدالقیوم د ضمانت نه ورکولو فیصله اوکړه"

لس ورځې پس خان ډپټي کمشنر ته ورانده کړې شو چې ډپټي کمشنر ډېر لوړ دنګ او مضبوط پښتون ته اوکتل نو دا یقین ېې نه راتلو کني دې علام تشدد خوښوي خان دهٔ ته اووئیل چې زهٔ عدم تشدد کښې د ګانډهي په لاره روان یم.

. ډپټي کمشنر تر نه تپوس اوکړو چې که تهٔ د ګانډهي په عدم تشدد نه وې روان نو ستا رویه به څنګه وه؟ خان په جواب کښې د حوالات د ننه نه د اوسپنې د جنګلې سیخونه په لاس کښې اونیول او لکه د موموښې را تاؤ کړل. دهٔ ورته اووئیل چې ما به داسې کړي وو. د خان په په مخ دې وخت سنجیدګي خوره وه. انګریز ډپټي کمشنر چې د دهٔ طاقت ته اوکتل نو ښځې حیران پاتې شو. دې کښې شک نشته چې د غفار خان بدن د پهلوانانو بدن وو. دهٔ د ځوانۍ خپل زور او قوت د پښتنو په خدمت کښې خرڅ کړو.

ډپټي کمشنر د پولیس وال نه تپوس اوکړو چې دَ اُتمانزو دې تبدې څه جرم کړې دې؟ ډپټي کمشنر ته

جواب کښي او وئيل شول چې دغه خپل سکول قائم کړې دي پښتنو ته د تعليم حاصلولو د اتفاق جوړولو غږ ورکوي او د خلافت په تحريک کښې افغانستان ته هم تللي وو.

ډپټي کمشنر په دې خبره داسې شو لکه چاودلې وي. دې افغانستان ته لاړ ؤ او تاسو بيا واپس راتلو اجازت ورکړو.

د دې نه وړاندې چې پوليس وال ډپټي کمشنر ته ځواب ورکړي وو غفار خان اګاه شو او وې وئيل چې تاسو را نه خپله خاوره او خپل هيواد قبضه کړې او اوس را ته په خپل وطن کښې د اُسيدو اجازت هم نه راکوې؟ د راج افسر د يو پښتون دومره ګستاخي او تريخه ځنګه زغملې شوه. ډپټي کمشنر په غصه کښې او وئيل چې دې ځا د نظره پناه کړئ. زۀ دۀ ته درې کاله سزا ورکوم دۀ د خان په لور اوکتل. خان په انګريز افسر خپل نظر ور ښخ کړو هيڅ ېې او نه وئيل. د دۀ نه دِ سخت مشقت واخستې شي. ډپټي کمشنر زياده کړه.

---

اووم باب

# اے پښتنو تاسو ته وائيم

(۱۹۲۱ - ۱۹۲۴ء)

> په تکليفونو او مشکلاتو کښې سړې ډير څه زده کړي زهٔ چې په دې خبره سوچ کوم نو حيران پاتې شم چې که ما د آسانۍ او فراغت ژوند تير ولو او په جيلونو کښې نه ووم پاتې شوې نو ما به دومره څه نه وو زده کړي.
>
> (حضرت باچاخان)

انګرېزانو به وئيل چې موږ باچاخان ته سزا ورکول نه غواړو. موږ لبس دومره غواړو چې هغه زموږ په خبره او فکر ځان پوهه کړي. خو د دې باوجود هغوئ د باچاخان سره د يو سياسي قيدي نه بلکه د يو ملزم قيدي سلوک اوکړو او د دوه مياشتو د پاره يې د قيد تنهايئ سزا ورکړه.

چې دې کله جيل کښې خپلې کوټړئ ته اودسيدو دهٔ رور ډاکټرخان د ده په انتظار وو. ددې يو بل ته ورغاړې وتل. ډاکټرخان صيب اوس اوس د انګلستان نه راغلې

وُو. دې هلته يورپ کښې د برطانيې په فوځ کښې ميډيکل
ډاکټر وو. دې پښتونخوا ته په دې غرض را بدل کړې شوې
وو چې د وزيرو خلاف فوځي کاروايو کښې شريک شي
خو دهٔ د فوځي ملازمت نه استعفىٰ ورکړه ولې چې دهٔ د خپلو
پښتنو ورونړو خلاف د انګريزانو لاسونه مضبوطول نه غوښتل.

دوارو ورونړو د يو بل سره يوه شيبه خبرې اترې اوکړې
بيا ډاکټر خان صاحب باچاخان ته د چيف کمشنر يوه چټهٔ ورکړه
دا ليکلي وو چې د غفار خان د پاره ځما په زړهٔ کښې څه
بدنيتي نشته او زهٔ د دهٔ سزا ختمولو ته تيار يم: دې به
آزاد وي. دهٔ ته به د سکولونو چلولو آزادي هم ورکولې شي
خو دې به د قبيلو علاقو دوره نه کوي. دې به کلي په کلي
نه ګرځي. که دې دا شرط مني نو هم دغه وخت د خپل
ورور سره تلې شي.

د پښتنو دې عظيم او ستر مشر د کمشنر په دې چټهٔ
نظر واچولو بيا يې د خپل ورور په لور اوکتل او دغه چټهٔ يې
څيرې څيرې کړه.

ډاکټر خان د خپل کشر ورور په لور اُوکتل. د دهٔ کوکې
زيړې شوې وې سترګې يې ډوبې شوې وې او کمزوري
د دهٔ په مخ ښکاره وه. دهٔ کوشش اوکړو چې غفار خان

پوره کړی او دې د کمشنر شرط ته غاړه کېښدي ولي باچا خان دغه خبره او نه منله.

بله هفته د دې خان په لاسونو او خپو کښې هتکړۍ واچولې شوې د ده په څټ کښې هم زنځیر واچولې شو او د ډېره اسماعیل خان جیل ته اولیږلې شو. او ده ته دخطرناکو مجرمانو درجه ورکړې شوه. د ده په مرۍ کښې یو شناختي کارډ اوېزان کړې شوې وو. په دې د ده نوم او سزا لیکلې شوې وه. او د ده جرم ــ "بغاوت" لیکلې شوې وو.

د ډېره اسماعیل خان جیل کښې دې ځانته یواځې اُساتلې شو او هلته ده ته یوه ورځ کښې د ټلو سیروغنمو مېچن کولو کار حواله کړې شو.

د جیل د قاعدې مطابق دخان سره د خوراک شیان ساتل جرم وُو. یو پښتون قیدي ده ته لږه ګوړه ورکړې وه. خان ګوړه خوړه چې کارت ده ته اُوې چې دجیل سپرنټنډنټ را روان دې.

ده په لنډ وخت کښې ګوړه خوړې نه شوه نو په بېړه کښې یې ګوړه دکمبلې لاندې کړه. څوکه سپرنټنډنټ تلو شي واخلي او ګوړه اوموي نو بیا به څه کیږي؟ ده سوچ او کړو

دَجیل سپرنټنډنټ راغی. دهٔ سره ښې یو ځو خبرې اوکړې او لاړو. نو خان کورهٔ د کمبلې د لاندې نه راواخسته او بیرته ئې اېښناؤ کړهٔ. ده په دغه ځائې دا فیصله اوکړه چې زهٔ به چرې بیا د جیل د قاعدو خلاف ورزی نه کوؤم. غلا غلطي ویرهٔ پیدا کوي او ویرهٔ قیدي بونګه کوي دهٔ ځاځیره ځوځو وارهٔ لیدلې وه چې قیدیانو به د جیل د قاعدو خلاف ورزی کوله او بیا به ئې د سزا نه د بچ کیدو په خاطر جیلر ته رشوت ورکولو. خان په خپل عزت ډیر مئین وو. ده فیصله اوکړه چې زه به داسې کار نه کووم چې ځما بې عزتي پرې کیدې شي.

د ډیرهٔ اسماعیل خان جیل کښې به بلاډې رشوتونه اختلې شول. د دې جیل مشر افسر (سپرنټنډنټ) یو انګریز وو او هغه یوائې انګریزی کښې خبرې اترې کولې شوې. په دا وجه قیدیان د هغه په خبرو نه پوهیدل انګریز افسر ټول اختیارات یو نائب جیلر ګنګا رام ته سپارلي وو. ګنګا رام د جیل نه د پیسو جوړولو مشین جوړ کړې وو. که چا قیدي د ځان د پاره څه رعایت یا آساني غوښته هغه به ورکولې شوه چې د ګنګا رام جیب به ګرم شو.

دګنګا رام یو دلال غفار خان ته اووې چې که نه غواړې چې د تنهایۍ د سزا نه بچ شې نو ګنګارام ته څه ورکړه د لال ورته اووې چې ستا کليوال پيښوري چې تا د غمو ميچن کولو په کار ويني نو شرميږي. دګنګا رام دلال غفارخان ته اووې چې که ستا سره پيسې نه وي نو دغه کليوال به دبرکړي او ته ګنګا رام خوشحاله کړه چې د مصيبت نه خلاص شې.

باچا خان ورته اووې چې اې هوښياره بنياد مه! ته دا سوچ ولې نه کوې چې ما د ضمانت ورکولو نه انکار کړې دې. زه ګنګا رام ته ولې رشوت ورکړم؟ صرف په دې غرض چې ګنګا رام زما باندې مهربانه شي. دګنګا رام مهرباني او بنه سلوک څما نه دې پکار. که ما انګريز ته رشوت ورکړې وو نو زه به اوس آزاد ګرځيدم. ده دلال ته اووې چې ګنګارام ته اووايه چې زه د بډو رشوتونو ورکولو سړې نه يم.

دخان د بډو رشوتونو نه ورکولو اثر نورو قيد يانو هم قبول کړو. بيا ورځ خان په جيل کښې د جيلي برخې غمم او جواړ ميچن کول چې کارت ده ته اووې چې ته ميچن مه کوه. ته په دې جيل کښې يواځې کس يې چې د خدائ

دَ پاره جیل کښې ښې آخر زهٔ به الله ته څه ځواب ورکوم
چې زهٔ د تاسو ته کورم او تاسو دې میچن کوې.

خان میچن کړځول پر ینبول او چې کله کارت دکمرې
نه اوتو نو دې بیا په میچن کولو لګیا شو. کارت د ښهر نه
د دهٔ ننداره کوله هغه چې بیا لاغلو لړ په فهرهم شو
چې زهٔ ددنه وایم چې میچن مکوه او تاسو هغه ښان
میچن کوې.

خان د کارت په دې خبره ورسره جختې کوتنې ته کوته
اُنیوه چې کوره دغه کوتنې کښې یو ډاکو او قاتل
میچن کوي. که یو ډاکو د خپل عمل د پاره میچن کولې شي
نو زهٔ د الله د پاره میچن نه شم کولې؟

خان بیا د میچن کولو په کار اخته شو. یو څو ورځې
پس د یو بل کارت نه دې معلوم شو چې هغه کارت د جیل
د ملازمت نه بل چرته په ملازمت لاړ دې. دلې چې په
جیل کښې د پښتنو قیدیانو ښمیتې زیات وو او هغوئ د خان
د اثر لاندې او د خان په وینا د رشوت ورکولو نه انکاري
شول او په کار کولو کښې یه ښېا عزت کنهلو او په دې
وجه د قیدیانو ترمینځه جنګونه او جګړې او اختلافات
پیدا شول.

چې د قیدیانو د رشوت نهٔ ورکولو په وجه دګنګارام آمدنی کمه شوه نو د جیل سپرنټنډنټ ته یې اوویل چې دا باچا په ورکښاپ کښې فساد پیدا کوي او چې لږ څو دې دلته وي دلته به بدنظمي وي. خان وائي چې دګنګارام په دروغه شیطاني او شکایت انګریز سپرنټنډنټ ښه پوه شو څو انګریز دنظم او ضبط ساتلو په نوم هرڅه کولو ته تیار وي.

ګنګارام د خان خلاف شکایت کولو په وجه په ناپوهئ کښې د خان سره نیکی اُکړه او خان یې د مرګ نه بچ کړو. خان وائي چې دا د الله شکر دې چې زهٔ دګنګارام په شکایت ډیره غازي خان جیل ته بدل کړې شوم. ګني زهٔ به هلته ډیره اسماعیل خان جیل کښې مړشوې ووم . . . هلته زما غاښونه بیمارات شوي وو. او زما وزن ښځوس پونډه کم شوې وو.

د ډیره غازی خان جیل د پیښور نه په سهیل کښې په درې سوه میله فاصله وو. دلته به د پنجاب سیاسی قیدیان ساتلې شول. دلته د ډیره غازی خان په جیل کښې د خان ملاقات د بهارت د آزادۍ د تحریک دَسیاسي مشرانو سره اُ شو، هندوانو، عیسایانو او مسلمانانو

په دیو بل سره بحث مباحثه کوله او د یو بل د مذهبي کتابونو مطالعه بې کوله. باچا خان د دې بحث او مباحثو او مطالعې په سبب خپل علم کښې ډیره اضافه اُوکړه د دې نه علاوه آب و هوا هم ښه وه او په جیل کښې خوراک هم ښه وُو. د جیل افسر یو ښه مسلمان وو او د باچا خان به یې ډیر قدر او عزت کولو. د باچا خان د رنځور غاښې ایستلو د پاره د غاښونو یو ډاکټر راوستې شو خو هغه د پیسو اخستو نه انکار اوکړو. دې ډاکټر خان ته اووې چې تاسو د آزادۍ کټلو د پاره کومه قرباني ورکوې زه به د هغې څه مقابله اوکړې شم؟ زهٔ بس دومره کولې شم چې تاسو نه فیس وا نخلم.

کال ۱۹۲۳ء کښې د خان مور بي بي په حق اُرسیده. دهٔ ته هیڅ د دې واقعې اطلاع ورنکړه. دې دیر اخباری خبر په ذریعه پوهه شو. دا د خان د پاره یو دردونکې زاری وو. خان وئیل چې مور ځما د لیدو ډیره ارماني وه. ځما مور بوډۍ وه او ډیره غازي خان ډیر لرې وو او ابا سین زموږ تر مینځه حائل وو. هغې ځما د لیدو د پاره راتلل غوښتل ولې ما دا نه غوښتل چې ځما مور بې آرامه شي او په تکلیف شي په دا وجه به ورته ما د نه راتلو لیکل. خو

افسوس چې ما ته دا علم نه وُو چې هغه د دې دنیا نه ډیره زر تلونکې وه۔"

زهٔ چې د جیل نه خلاص شوم اوکلی ته لاړم نو خورم راته اووې چې کله م مور په حق رسیده نو د هغې په شونډو په اخري وخت ستا نوم وُو۔ هغې به بیا بیا پوښتنه کوو چې غفار چرته دې؟ غفار څهٔ شو؟ او په دغه ډول هغې په شونډو ځما نوم یو ړو۔

خان چې جیل کښې کوم دری کاله تیر کړل دې دوران کښې بهارت کښې د آزادۍ تحریک ډیر وړاندې تلې وُو۔ ګاندهي چې د کانګریس د کال ۱۹۲۰ء د ناګپور د غونډې دفیصلې تر مخه د عدم تعاون کوم تحریک شورو کړې وو هغه ډیر په تندۍ سره وړاندې تلې وو۔ د بهارت وکیلانو د انګریزانو په عدالتونو کښې کار پریښو۔ طالب علمانو سکولونه او یونیورسټۍ پریښوې او نومړو هندوستانیانو خپلې تمغې او خطابونه والپس کړل او خبره دې حد ته را اورسیده چې کلیوالو هم د ټیکسونو ورکولو نه انکار اوکړو او دا تحریک په ټول ملک کښې لکه یو ځنګل کښې د هور په څیر خور شو۔

د کال ۱۹۲۲ء جنورۍ پورې دیرش زره هندوستانیان

چیلونو کښې اَچول شوي وُو. د قدامت پرستو هندوستانیانو دا خیال وو چې گاندهي جي په حقه دې او د عدم تشدد په ذریعه هندوستان په مکمل ډول آزادي حاصلولې شي.

خو دې تحریک کښې تحمل هندوستانیان په عدم تشدد ولاړ پاتې نه شول ځنې ښادونو کښې د تار او ټیلي گراف وائرونه پرې کړې شول، د انگریزانو عمارتونه اوسوزولې شول، په افسرانو حملې اُشوې. د کال نولس سوه دوویشتم په ښځم فروری یو جلوس بې قابو شو او چوري چورا په یو کلي کښې بې دولس پولس وال اووژل.

گاندهي د تشدد په دې پیښه ډیر زهیر شو. هغه د عدم تعاون تحریک اُدرَولو، روژه بې اُنیوه او دهر قسمه عدم تعاون بندولو حکم بې ورکړو.

د هندوستان اولس د گاندهي په دې حکم گونه په خوله پاتې شو. داسې ښکاریدل لکه هغوی فتح ته نزدې شوي وو. خو گاندهي په خپله خبره کلک ولاړ وُو. هغه د تشدد په ذریعه د فتح موندو خلاف وُو. گاندهي په دې حقله لیکلي وُو چې دا غوره خبره ده چې خلک موږ بې زړه او بزدل اُگڼي ولې دا ښه خبره نه ده چې خپل سوگند خلاف ورزي اُکړو. او د الله تعالیٰ گناهگار

اګرڅو دوی ویل چې که مونږ نږی نه دروغژن ښکاره شو دا هیڅ خبره نه ده څو چې خپل ضمیر او خپل ځانته ملامته نشو. د فرنګي حکومت ګاندهي ګرفتار کړو. او مقدمه یې پرې جوړه کړه.

دا ځل ګاندهي د بغاوت الزام په خپل سر واخستو او د فرنګي د حکومت په مخالفت کښې یې چیرته اوئیل دا په اصل کښې د انګریز حکومت ته خبرداري ورکول وو. ګاندهي شپږ کاله قید کړې شو او د عدم تشدد په فکر ولاړ د هندوستان د اولس مزاحمتي تحریک مات شو. ګاندهي جیل ته لاړو او د هندوستان اولس بیا په قرار شو. څو د اولس په خپل منځ باور نه ووژریل شوې دوی د وخت په انتظار وو.

غفارخان کال ۱۹۲۴ کښې د جیل نه خوشې کړې شو. دې په دې خبره خوشحال شو چې کله دې جیل کښې وو نو د ده تحریک کمزورې نشوې نه وو. نور مضبوت شوې وو. او اولس ښه په سره جذبه کښې وو. په اتمانزو کښې د ده آزاد سکول وده کړې وه او د ده د خدمت تنظیم ښه فعال وو.

د خان نهه کلن ځوې غني خان هم د دې تحریک د

اثر نه بچ پاتې نشو. دی به وئیل چې اے خلکو تاسو لاړ شئ
د حکومت د واکدارانو نه تپوس اوکړئ چې دوی ځما پلار صاحب
ولې تیدي کړې دې. لاړ شئ او لوړه پښتنه خو اوکړئ چې د
دۀ آخر جرم څه دې؟

اُتمانزو کښې باچا خان ته د ستړې مه شې وئیلو په غرض
یوه غونډه را بللې شوې وه چې په زرګونو پښتنو په کښې ګډون
اوکړو. دې غونډه کښې د مردان، کوهاټ، پېښور او سوات د سیمو
خلکو ګډون اوکړو. د مومندو باجوړ نه هم خلک د خپل بلچا د
لیدو د پاره را غلي وو. دې غونډه کښې شریک کسان په دې
خبره حیران وو. چې باچا خان د پانسۍ نه څنګه بچ شو دوی
به وئیل چې الله تعالی خپله باچا خان په حفاظت کښې ساتي.

د قید په دوران کښې د باچا خان صحت خراب شوې وو. د
دۀ اوږدې راونې وې سترګې یې ډوبې شوې وې ولې بیا هم
دې داسې په نظر راتلو لکه یو شهزاده وي. غونډې غوښتل
چې باچا خان دوی ته خبرې اُکړي. خان د غونډې په غوښتنه
پورته شو. دۀ په غونډې یو ژور نظر واچولو. لږې لرې
پورې خپرې پښتانه په نظر راتلل. د دوی په سترګو
کښې د اُمید رنړا وه. دوی د باچا خان اوریدو ته لیواله
وه. دۀ خپل تقریر کښې اودې لے پښتنو روښو خبرو واورې.

" درشو کښې يوه ورځ يوې امزرې د ګډو په واړ حمله اوکړه. د دې امزرې په ګېډه ماشوم بچي وو او د حملې په دوران کښې د دې بچي پيدا شو. او دا مړه شوه او په دغه ډول د امزرې دا بچي د ګډو په واړ کښې لوی شو دې به د ګډو په څېر څرېدو او بګېدو.

وخت تېرېدو او يوه ورځ يو امزري د ګډو په واړ يرغل اوکړو او په دې خبره اريان پاتې شو چې د ګډو سره سم يو امزرې هم منډې وهي. دې په دې خبره ډېر غصه شو ده دا اونيو او د سيند غاړې ته يې راښکلو.

اوبو کښې خپل شکل ته اوګوره امزري د امزري بچي ته حکم ورکړو. نه ګډه يا ګډورې نه يې، ته امزري يې تا ته د وېرې څه ضرورت نشته. د ګډورې په څېر بګېدل پرېږده د امزري په څېر غړمبېږه"

خان بزه د مه اوکړه غونډه خاموشه وه. ده بيا ساه راښکله او وې وئېل چې اې ځما پښتنو رونړو تاسو تاسو ته وئېل غواړم چې تاسو امزري يې خو تاسو په غلامۍ کښې وده کړې ده. د ګډو ګډورو په څېر بګېدل پرېږدئ د امزري په څېر اوغړمبېږئ.

او بيا؟ ـــ پښتنون اوغړمبېدو. دې بيا اوغړمبېدو

او د دهٔ غرمبا د هندوستان د آزادئ تحریک ته یو نه هیریدونکې قوّت او طاقت ورکړ و.

نن پښتون خوشحاله وو. دوئ په خوشحالئ خپلو خپلو سیمو ته واپس شول. د دوئ باچا را ستون شوې وو. د دوئ خدائکاني او خوشحالئ په ځائې شوې وې باچا د دوئ د پاره د روښانه مستقبل امیدونه او لوظونه راوړې وو.

اتم باب

# دپښتون ژوند هنداره

(۱۹۲۵ء)

څوک وائي چې پښتون د میني څواب په مینه نه ورکوي
چې څوک د پښتون سره مینه کوي د هغه سره دوزخ
ته هم ځي ولې په زور او جبر جنت ته هم نه ځي
(حضرت باچا خان)

د انګریز د زور او جبر نه علاوه د خان په لاره کښې غټ خنړ د تشدد او انتقام هغه ماحول وُو چې د پښتون په معاشره لکه د یو څادر ویړ وُو۔

دا د یو پښتون د پاره نا ممکن وو چې د هغه بې عزتي دِ اوشي او هغه دِ چپ پاتې شي او د بې عزتۍ څواب دِ په بې عزتۍ ورنکړي۔ کم نه کم دا د پښتون وګړي د پاره نا ممکنه وه چې د خپل ورور نزبوړ اُوچته خبره د برداشت کړي۔

پښتون معاشره کښې هر یو کس ځپلې وي. هر یو په ویر اخته وي او دا د پښتون تر ټولو لویه بدقسمتي ده چې د معاشرتي او ټولنیز اتفاق او رورولۍ نه لرې لرې دي. د باچاخان د تحریک باوجود اتفاق د دوی نصیب نه شو. هر یو ځان ته په جدا لاره روان وي او هغه خپله لاره د هر بل کس د پاره غوره ګڼي او د بل غوره لاره او غوره خبره د ځان د پاره ناوانې ګڼي.

دا د پښتون د مزاج نتیجه ده چې ماشومان یې پلرونو شول، ښځې کونډې شوې. کاونډي د کاونډي نه ځان په خطره کښې ګڼي او ژوند په هر قدم غیر یقیني ـــ د پښتون د شاعرۍ او رومانس لوئې هیرو هغه څوک وُو چې انتقام یې اخستې شو. دغه د عزت او درناوي نښه وه او د دې په وجه د پښتون د ژوند المیه چرې ختمه نه شوه. او دغه المیه لا جاري ده.

د پښتون په مینه او نفرت کښې چې کوم تضاد وو باچا خان په دې ښه خبر وه د پښتون معاشره او ټولنه چې په کوم رنځ اخته وه باچا خان په دې پوهه وو. باچاخان ښه خبر وُو چې پښتون د یو بل نه په کوم قیمت بدل اخلي. د دې تباه کوونکي رجحاناتو په

وجه پښتون د آزادۍ نه لاس په سر نشوې وُو.

د یو اجنبي او نابوبره سړي د پاره د پښتون خوئ بوئ او کردار کښې په تضاد پوهیدل یو نا ممکن کار دې ولې دا د پښتون د کړه وړه رسم و رواج او قدرونو یوه نه بېلیدونکې برخه ده. د خان مشر ځوئ غني خان لیکي" چې د پښتون سره مینه کول آسان کار نه دې- په پښتون ډېره پوهه پکار ده. دې د جنګ سره مینه کوي ولې د سپائي جوړېدو نه نفرت کوي. د پښتون ارادې ډېرې اوچتې دي ولې بې خبره دې او دغه وجه ده چې پښتون په عام توګه ځلمې عمر کښې مري"

د بدل او تشدد په صحي روح پوهیدلو د پاره چې دَ پښتون د کلتور برخه جوړه شوې ده، غني خان د خپل هلکوالي د وخت یوه قیصه کوي. کومه چې دا ثرګندونه کوي چې د خان خاندان هم د بدل او انتقام اخستو د اثر لاندې وو. د دې واقعې نه د پښتون طبیعت او مزاج په ښه ډول ښکاره کیږي.

کال ۱۹۲۵ء کښې یوه ورځ سحر د اتمانزو نه بهر دَ بهرام خان د ژرندې سره نزدې د یو مشهور مفرور مړې او موندلې شو. دا دَ عطاخان مړې وُو چې د کلي ماشومانو

په ورته امزري ورپيل. دې خپل کلک ملګري مرتضیٰ وتپه وو
د غني عمر دغه وخت دولس کاله وو خو دهٔ ته ياد
دي چې دې څنګه د عطا د مرګ خبر په اوريدو خوشحاله
شوې ؤو. غني ليکي چې ما هميشه د عطا نه نفرت کولو. دې
وائي چې:

" دې يو رنګين بنيادم وو موږ د دهٔ د بهادرئ او
مړانې قيصې اوريدلې وې دهٔ يو ضعيف سړې وژلې
ؤو چې څما د يو ملګري پلار وٓو زهٔ هلک ووم او ماته
دا علم نه وو چې په دې بډها سړي د څلميتوب راسې
د ويني بدل پروت دې. دهٔ دا تخم رد مرګ د بدل ورکولو
تخم) په ځوانئ کښې کرلې وٓو. او چې عطا را څلمې شو
نو دهٔ دغه تخم اُريبلو. ولې چې د پښتون د وينې بدل
د وينې بغير بل څه نشي کيدې"

دا بډها سړې په ځلميتوب کښې زياتي ځورا اوبې لحظه
وو او د ځنه کمزوري او نادارهٔ کسانو حقو نه بې خوړلي وو
دې نادارهٔ کسانو کښې يو عطا را څلمې شو. دهٔ آيدل چې
دَ دهٔ مور د شرم نه سر ټيټ نيولې دې. دهٔ به کتل
چې کله د ځنه کسانو نومونه واختل شي نو دَ دهٔ رونړه
سترګې ټيټې کړي او بيا دې په دې نتيجه را اُدسيد

چې د دغه بډها سړي کار تماموں په کار دۀ ـ دې ښه ځلمي وُو، د نکين بنيادم وو، شرم زغمل او برداشت کول د دۀ دَ وس خبره نه وه.

او بس عطا خېل ټوپک را واخستو او د شرم هغه وجه يې ختمه کړه او دا حق يې په خلکو اُمنلو چې دې اوس د عزت او درناوي حقدار دي"

اوس د بدل کړي تاؤ شوي وه او عطا فرندارارا ه شوې وو ـ ګنړ پولسوالو او په سلونو کليوالو د عطا قاتل مرتضیٰ او دَ دۀ ملګري په غرونو کښې اُنيول ـ د غرونو په پکو کښې د ګولو يو باران وو او هر څوک د پناه په لټون کښې وو ـ اَخر ـ ـ ـ د مرتضیٰ سره ګولۍ ختمې شوې دې اُدريدو، ټوپک يې ګوزار کړو او ځان يې پولس ته حواله کړو ـ

غني وائي چې دغه ماديګر د پولس سکواډ دې اُنمانزو ته بوتلو کلي کښې غلغله وه ـ عطا مړ شوې وو او اوس مرتضیٰ ټوپې هيرو وو ـ عطا ښه ښه خانان وژلي وو ـ خه اُوشو که مرتضیٰ يو ډاکو وو ؟ ولې دې بهادر نه وُو ؟ عطا چې کليوال به يې په صفت نه مړيدل او چې کله اووژلي شو نو جرمونه يې خلکو را ياد کړل

او په خپل تعریف او ستائنې ښې د مرتضیٰ توله دوئند کړو. مرتضیٰ چې د عطا قاتل وو.

غنی ــ مرتضیٰ اُتمانزو کښې لیډلي وو. دهٔ نه پولسوال ناوُ وو. خپو او لاسونو کښې ښې ښیرۍ وې. د تند ي د زخم نه ښې پټۍ تاوُ وه ــ مرتضیٰ د یو جنګ د باتور په څیر روان وو. ده خندل او په لاره ولاړو تحیق کوونکو سرهٔ به ښې ټوقې ټقالي کوې ــ نن د مرتضیٰ ورځ وه.

تلو تلو کښې مرتضیٰ یو ځائے ټول پریتې را ایسار کړو لاس ښې پورته کړو او حکم ښې ورکړو چې په ټولو ولاړو کسانو د شربت اُڅښکلی شي. ولاړ کلیوالو لاسونه پړق وهل. پولسوال هم په آرام اُدریدل او یخ شربت ښې اُڅښکلو.

او دغني څخ د خوښۍ نه روښ شو مرتضیٰ خوځا، رشته دار وو؟ ما ډیر په ویاړ سره خپلو ملګرو ته او یُل چې مرتضیٰ څما ډلوې رشته دار دې.

او آخر د تعریف کوونکو کلیوالو جمعیت پولسوال اسونه او داګرفتار شوې مفرور د خیل په لور روان شول. غنی د کلیوالو په دې ډله کښې شامل وو او ډ ننګے ورځ دغه هیرو ښې د ښلو کالو د پارهٔ جیل ته وردننه کړو

غلي ته ياد دي چې بېړۍ موده پس. کلو نه پس زړه دَ ژمي يوه شپه اور ته ناست ووم کرميدم چې ما څه آواز واوريدو. چې ملګريه چرته يې ؟

ما دروازه پرانسته. دا مرتضیٰ خان وو. په بدحال د مخ نه يې دوړې پريوتې توپک يې غاړې ته اچولې وو. غني وائي چې دې به بل چا خپل ځائي کښې نه وو پرېښې خو ما ورته دروازه او خپل زړۀ پرانستو ولې چې ما دې پيژندو او زموږ د پلرونو او نيکونو هم پيژندګلي وه.

موږ اور ته ناست وو او ما د مرتضیٰ نه د هغې خبرې تپوس اُکړو چې مرتضیٰ! عطا خو ستا ډېر ښه دوست او ملګرې وو نا هغه ولې وژلې وو ؟

مرتضیٰ : هغه ځما تره وو ــ چې ما تره نه نفرت کولو او اوس هم تره نه نفرت کووم زه مغرور وُوم او د نورزنو ملګرو يوه ډله راسره وه. خوزه په خپل تره ډېر کران ووم ـ ده به زه خوشحال ساتلم او ځما مرسته او امداد به يې کولو ولې چې ما د انګرېز حاکم په نظر کښې دَ ده عزت سپوا کېږي وو ځما دا سوچ او فکر ووکنې تره ځما سره مينه کوي، په ما مئين دې ولې چې زه دَ ده

غوښه ووم، د دۀ وینه ووم، دَ دۀ دَ ورور ځوئې ووم او ما به دَ دۀ د مینې ځواب په خلوص او لحاظ ورکولو.

یو ماښام دۀ ما ته پیغام را اُلیږلو. زۀ سخته یخنئ کښې د خپلې پناه ګاه نه دَ نیا د انغرې تودې غاړې نه اُرسیدم. ځما تروۀ ما ته اُوئیل چې عطا ځما د دښمنانو سره ځما د وژلو سازش جوړ کړې دې. دې ځما تر خپو پریوتو، په ژړا شو. دۀ ما ته خواست اُوکړو چې زۀ دې بچ کړم، د خاندان او کورنئ عزت محفوظ کړم ــ خو ما د داسې کولو نه اِنکار اُوکړو.

بیا رم تندیار (د تره ښځه) ما ته ډیر په خپګان سره اُکتل او تپوس ئې را نه اُوکړو چې ولې ته به د خپل پلار د ورور د قتل تماشه کوې؟ تندیار را نه اُوئ چې هغه (ستا تره) ضعیف او سپین ږیرې دې. نه ځلمې او صحت مند ئې. دَ دې تبر او خاندان په تا هیڅ حق نشته چې ستا پرورش ئې اُوکړو، تا ته ئې نوم او عزت درکړو ستا پلار عبدالله خو د هیڅ چا نه یریدلې نه وو. هغه خان زیږیدلې وو، د خان په شان ئې ژوند تیر کړو او د خان په شان مړ شو.

د تندیار دې خبرو زۀ کمزورې کړم. ما دَ دې کار

کولو لوظ اُکړ و.

غني: ته د هغه نه يريدې؟

مرتضیٰ: زهٔ د هيڅ څه نه هم يريدلې نه يم ماسوائ د دې نه چې په څه د نځ مړ نشم. خو يو مفرور هميشه يريږي ولې چې د هغه دښمنان ډير وي او د هغه دَ سر قيمت ورکولو ته هر وخت تيار وي هر څه چې وي ما د عطا وژل نه غوښتل ولې نرهٔ مې څه ګنجائش پرې نه ښود. هغه زهٔ دې کار ته مجبوره کړم.

دې اُرېيدو. د دهٔ په نسواري سترګو کښې د غم اثر را اُوچت شو. دهٔ اُوې چې ما غوښتل چې ځما او دَ دهٔ تر مينځه لويه فاصله پيدا شي ولې زهٔ داسې کولو کښې چرې کامياب نه شوم. عطا هميشه ځما په ذهن سور وي، ځما په فکر کښې اَورې راوړې، هغه ځما سره خبرې کوي، خاندي، نو ښې کوي مرتضیٰ زيا ته کړه چې، غوښتل چې زهٔ خپل نرهٔ هم ختم کړم خو ما داسې اُنکړ شول. ځما نرهٔ ډير عمر ژوندې وو او ځما ضمير ډير عمر خمژن او په وير ککې وو.

دې موشکې شو، په موسيدو کښې بې نريځوالې ټوګند وو، او بيا بې اُوهله چې که ما عطا نه وُو وژلې نو هغه

په ځا نړۀ وړلې ده. خو لس پرېږده يارۀ دا خبرې رازۀ چې څه ساز سندرې واورو.

غني خپل ستار را واخستو او څه غمژن سازبې اُوهلو موږه دوارو د اور دلمبو په لوړ اُکتل او نورمو هيڅ او نه وُبيل. دَ دې ضرورت هم نه وو. ولې چې ما ته پته وه چې زه هم پښتون يم.

د پښتون دَ زوَرورو او سخت ځمکې لاندې د دۀ غاورۀ فطرت او ساده ضرورت پروت وي. غني ښکي چې غربې بې په سر واخلي لو د بل نه د غوښتنې په ځاې به غلا کول ښه اُکنړي ولې چې دې يو سړې دې چېنجې نه دې. چې دې د خپلې پښې مځې ښځې شليدلې جامو او د خپل ماشوم وږي سترګو ته ګوري نو اور پرې بل شي.

دې ټهوپک تر غاړۀ کړي. دې د الله تعالیٰ د غصې او قهر او انسان د نفرت نه يرېږي نه ولې د ناداری او افلاس د لاسه دَ بې عزته او محتاجه ژوند نه يرېږي.

د غني نيز او تند نظر د پښتون په المېې پريوځي. دَ دۀ پاديدلې فطرت، مضبوطه جوسه او نرم زړۀ د ژوندون يو غير مستحکم مرکب جوړ وي ــ چې يواځې د شعر شاعري

ه پاره موزون دي. دې وايي.

" چې راځي چې دَ دیر وادۍ ته ورشو. دغه پښتون زموږ په لور چې روان دې. میانه قد لري. دهٔ اوږدهٔ اوږدهٔ ویښتان پرې ایښي، ښه ستهرا دي، تیل پې پرې لګولي او ګومنځ شوي دي. د سر نه یې داسې سور رومال تاو کړی لکه چې ده د کسرئ تاج په سر کړی وي. دهٔ په ویښتانو کښې یو ګل ټومبلی او سترګو کښې یې رانجه اچولي دي. ده شونډې په دنداسې سرې کړي دي. دَ دهٔ په لاس کښې ستار دې او په اوږه یې ټوپک پروت دی. دې به تاته ښځې په نظر راشي ولې سترګو ته یې پام اوکړه دا صفا دي، دې کښې زړه ورنوب میړنتوب دې دا په ویره نه پوهېږي"

د پښتون د میړنۍ قبیلې فرزند جنګ کښې چرته نېښته نه کوي او د یرې په وخت خندا کوي او سندرې وائي. دې به ډیر زر جنګیدو جنګیدو کښې مړ شي ولې چې دې یوائې په مینه پوهېږي، خاندي خوشحالیږي جنګ کوي او بس نور هیڅ نه - یو هندوبچ ډیر په یقین سره دا خبره کوي چې د پښتون په حقله داسې سوچ نه دې په کار کښې دې به د یرې یا د خطرې د ځائې

نه ښایسته اُکړي.

د ځلمي مور خپل ځلمي ځوئې ته نصیحت کوي ـ چې بزدل مړ شي خو چغې بې ټول عمر یاد ولې شي او دغه هلک او ځلمي ځوئې په دې پوهه شي. چې چغې وهل دَ میړنو کار نه دې ـ دهٔ ته ډیر داسې قدرونه ورکړې شي چې د ژوند نه ډیر قیمتي دي او په دا وجه هغه نه خو د وژلو ډیره کوي او نه د مرګ نه یره کوي. د دهٔ د پاره رنګینې جامې او بدایسي موسیقي او ریدل منع دي ولې چې دا لاس او مټه کمزوري کوي او سترګې نومهوي ده ته دا سبق ورکولې شي چې باز ته ګوره او بلبل پریږده

پښتون د قبیلې مرضۍ ته ځان حواله کوي چې قبیلې ته ځان حواله کړي. نو خپل ځان بې پاتې نه شي او په دغه ډول دې د ژوند نو ټولو لوې فن زده کړي دا د پښتون د ژوند فن دې." ښکله اُوژنم او ښکله مړ شم" او چې کله دې دا فن زده کړي نو دې په صحي معنو کښې ځان پښتون ګڼي ـ د تشدد په ذریعه د دهٔ مرګ یقیني شي ـ او دې هم دا غواړي. ولې چې دا جنت ته د تلو یواځني لاره ده ـ ټوپک په لاس مړکیدل او کړکیدې شي د مرګ په حالت کښې د دهٔ په مخ موسکا ـ مطلب دا چې

دهٔ په خندا ځان ورکړو۔ او بس دې نوره څه نه غواړي۔غني وائي چې يوه ورځ دې لاړ شي او بيا کورته واپس را نه شي۔

دهٔ په خندا خوشحاله يوه کوله زغملي وه چې د دهٔ خپل ورور ترېور او د قبيلې وګړي په دهٔ چلولې وه۔ د دهٔ ښځه د يوې لمې د خوشحاله او د ټول عمر د ډېلي ترونډ د پاره کونډه پاتې شي۔ دا کونډه د خپلو دوه ځامنو د پاره د دهٔ ټوپک او ستار زوړ نډ ساتي او چې کله دا چړته ماز يګري کښې د مينې او محبت سندرې واوري نو دې خپلې رنې رڼې او ښکلې ټوي چې د چا نظر پرې ښخ نه شي۔

دا کونډه د خپل مشر ځوئې سره ډېره مينه کوي ولې چې د دهٔ جوسه د پلار په څېر ده۔ دې د خپل کشر ځوئې سره مينه کوي ولې چې دې د پلار په څېر ښاندي۔ دا ينيمان هلکان چې د مور نه تېوس اُکړي چې زموږ ه پلار څنګه وو۔ نو مور ورته دا نشي وئيلې چې ستاسو پلار داکټر وو، فلسفي وو يا عالم فاضل وو۔ هغه ورته وائي چې ستاسو پلار يو عظيم او جنګجو سړې وو او هغه سندره ورته وائي چې د هغې جنګ

په موقع وئیل شوي وه چې د دهٔ پلار په کښې وژل شوې وو - او د پلار درې رونړهٔ او ښځه نړبوران په کښې وژل شوي وو.

" دا یوه مقرسه ، بې خونده او بې رنګه
ورځ وه دا د سپرلي آخري ورځ وه ."

غني وائي چې که د ې پښتون بې عزتي او سپکاوې اوشي نو د هغه سره د ګولۍ چلولو علاوه بله څه لاره نشته ولې چې که هغه داسې نکوې نو هغه به د رونړو په نظرونو کښې پریوځي ، پلار به ورپسې ملنډې کوي خوېندې به د هغه په نه کتو خوشحاله دي او خپله ښځه به ورته سپک ګوري او ملګري به هم ورته څهٔ دروند نظر نه کوي.

دې به ضرور ګولۍ چلوي - د عطا د پاره بله څه لاره نه وه باقي ما سوائې دې نه چې د خپلو خلکو بیغورونه ختم کړي. مرتضیٰ د خپل خونړ ملګري عطا مرګ ته تیار شو - غني په دې نتیجه را رسیدلی چې" بدل او مرګ" " مرګ او بدل" د همیشه د پاره تل تل د پښتون د لاس ګوڅه ده.

پښتون خپل سرېږ وژونکي نه دي - دې د خپل عزت

د مینځ شوي او وران شوي احساس ښکارشي او په دې وجه دې ډېر ژر وران کارې ته مائل کیدې شي. د دهٔ په دې کمزورۍ انګریزان ډېر ښه رسیدلي وُو. د راج د فارورډ پالیسۍ یو اهم مقصد دا وُو چې پښتون خپلو کښې د یو بل خلاف اُویشلي شي. غني وائي چې د هندوستان د حکومت د سیاسي محکمې مقصد ما سوائې د دې هیڅ نه وو چې د خیبر بازارنو ته د کارخانو او لیوانو سپکې لارې چارې اُبنودلې شي. دې سره د قبیلو کمینه او حریص کسان را مخکښې شول او اهمیت او اثر بې جوړ شو.

د انګریز دا طریقه ښه کامیابه شوه. پښتون د یو بل مرۍ پرېکولو کښې بوخت وُو. هم خواه وینه او تیارهٔ خوره وه. د انګرېز باچائي محفوظه وه او پښتون خوار وُو.

غني وړاندې وائي چې د صدو راسې راروان د بدل او انتقام په ماحول داسې څه اُشول چې د معجزې نه کم نه وُو. دا معجزه دغني پلار صاحب وو. باچا خان لیدل چې پښتون دکم علمۍ وهم او د رواجونو د چغوړنکي بوج لاندې پروت په ویر او فساد اخته دې. خان لیدل چې د تشدد او کم علمۍ باوجود پښتون نارینه

او ... په کښې د زغم ، برداشت او حوصلې غیرمعمولي قوت او توان موجود دې. د باچا خان کار دا وُو چې پښتون وګړې ته تعلیم او پوهه ورکړي. د تعلیم په برکت به دَ ده نه تشدد او انتقام داسې پاتې شي لکه د یوې ونې نه پریکړې څانګه را پریوځي.

"غني وائي چې د باچا خان سیاست په حقیقت کښې د پښتنو سیاست دې"

باچا خان پښتون پیژندو او پښتون بلچا خان پیژَند او چې څو پورې یو سړې پښتون نه وي هغه په پښتون نشي پوهیدلې. ته چې هغه بل وخت اُویني، ته د هغه نسوارې سترګو کښې اُګورې لو ته به د پښتون په سیاست دومره پوهه شي چې زه هومره پوهه په یو زر بابونو کښې نه شم درکولې.

باچاخان پدې حقیقت رسیدلې ور چې مینه او اخلاص یو سیکنو کښې څه پیدا کولې شي هغه بمونه یوې صدۍ کښې تباه کولې نشي. د مزیتوب ښې لاګ هغه ده چې سړې د پښتونې وی. یو صنا ستمرا خوب د ژونه نه غوره دې. دا هغه شیان دي چې باچا خان پښتون ته ښودلي دی.

## نهم باب

# پښتون او د خدائي خدمتګار فلسفه

(۱۹۲۶ء ـــ ۱۹۲۹ء)

که یو مسلمان یا څما په خیر پښتون په عدم تشدد
روان شي نو دا څه د تعجب او حیرانتیا خبره نه ده
دا څه نوې عقیده نه ده څوارلس سوه کاله اګاهو
زمونږه پیغمبر علیه السّلام په دې اصولو او عقیدې
عمل کړې وو او د هغې نه روستو به دې هغه چا
عمل کړې دې چې د ظالم د ظلم نه ځان خلاصوي
خو زمونږ نه دا اصول هیر شوې ځو او چې کله
ګاندهي جي په دې (عدم تشدد) عمل شروع کړو
نو زمونږ دا خیال وو ګني هغه یو نوې کار کوي.

(حضرت باچا خان)

کال ۱۹۲۶ء کښې بهرام خان په حق اُرسیدو. دَ ده
څه عمر ؤ، هیڅ ته دا نه وه معلومه ولې اندازه دا چې
دې به د اتیاو کالو نه زیات وو ولې چې د ۱۸۵۷ء

غدر دۀ نه بنه یاد ؤو. دا دَ پښتنو رسم دې چې دویه ټخپلو مړو خیر خیرات او صدقه ورکوي دَ بهرام خان په مرګ کې ملایان د خیر خیرات په طمع را غونډه شول ولې چې بهرام خان څه معمولی خان نه ؤو.

غفار خان د خپل پلار د مرګ په موقع اعلان کړې وو چې زۀ به د خدائي خدمتګارو پلار په نوم دوه زره روپۍ صدقه ورکوم. دهٔ د غم تحپلي کلیوالو ته نیوس اوکړو چې دا دَ خیرات رقم زۀ ملایانو له ورکړم او کنه سکول ته یې ورکوم.

هغوئ په یو آواز اووې چې سکول ته یې ور او بخښه.

ښاغلي الله بخش یوسفي خپل کتاب "صوبه سرحد او جدو جهد آزادي" کښې هم د دې واقعې په بابله لیکي چې کله د باچا خان د پلار حق اُرسیدو او په ادیره کښې ملایان د سخات نه کېر چاپېره کېناستل نو باچاخان هم دَ دوئ په نولي کښې ناست وو. چې کله ملایانو صلحبانو یو بل ته بخښل را بخښل شروع کړل او باچا خان ته وار د بخښلو را اورسیدو نو دهٔ اووې چې تا دا مال مانه را او بخښلو او زۀ دا دُ تمانزو آزاد سکول ته ور بخښم؟ د باچا خان په دې خبرهٔ ملایان لکه چې

سم دم چاودلي وي. او د دهٔ خلاف ېې پروپيګنډه شوروکړه چې باچاخان وهابي دې. هغه او دغه ولې باچاخان د پښتو په مينه دومره مست وو چې داسې پروپيګنډو نه يه ېې څه پام نه کولو.

دخپل پلار د مرګ نه روستوخان، د دهٔ خوربي بي او نور ځ ته د تلو فيصله اُکړه. دا دَ يو مسلمان د پاره مقدسه فريضه ده او په هغه مسلمان فرض ده چې مکې مدينې ته د تلو دا تلو مالي توان لري. باچاخان يو باعمله او سوچه مسلمان وُو. دې ځ ته په داسې وخت لاړو چې هلته مکه کښې د مسلمان قاموتو د نمائندګانو يوه غونډه کيدونکې وه. دهٔ په غونډه کښې د اسلام د مختلفو شخصيتونو سره اُليدل خو د مذهبي خبرو په حوالې سره د مسلمانانو تر منځه اختلافاتو دې ملاوسه کړو.

دې يو وارې بيا د صدمې ښکار شو. د باچاخان بيګم صاحبه يروشلم کښې د آوچتو پاوړو نه را پريوته او په حق اُو رسيده. خان د وادهٔ نه کولو فيصله اُکړه. ده اُو وې چې زما ژوند کښې به بله ښځه نه راځي. څما ژوند خو هسې هم دَ خپل اُولس د خدمت د پاره وقف دې. زه به دَ پښتنو خدمت کوُوم او بس دا څما د پاره کافي

دہ او په دغه ډول دہ دَ کونډتوب ژوند خوښ کړو.

د پښتنو دا عظیم خان په خپل ټول پوره اُختو. دَ کاندهي په شان دَ خپل جذبات د قابو لاندې ساتلي شوي دہ خپل ټول قوت پښتنو ته په تاریخ کښې د یو لوړ او جائز مقام ورکولو د پاره په کار را وستل.

باچا خان هندوستان ته د واپسۍ په لاره فلسطین، لبنان شام او دَ ایران دوره اُکړه. دہٗ اسلامي هیوادونو کښې قوت او توانائي اُلیدہ. دې هیوادونو کښې نوي نوي اصلاحات کیدې شول. دا هغه وخت ؤو چې مسلمان کښې د بیدارۍ لهر په خوریدو را غلي ؤو. دہ محسوسه کړه چې د اسلامي هیوادونو قامي تحریکونه د هندوستان په لوري کوري ـ هندوستان د انګلیسي شهنشائیت دَ کوټ تیکه دہ، که چرې دغه تیکه لرې کړې شوہ نو مینځني ختیز کښې به د انګریزانو قوت او طاقت را نسکور شي. او دَ دې نه پس به دَ فرانس دَ قوت دَ را نسکوریدو وار هم را شي.

د مینځني ختیز (مډل ایسټ) نه باچا خان د نوي فکر سره راغلو. دلته په را رسیدو دہٗ د پښتنو یوہ جرګه سازه کړه، د پښتنو ځلمو یو لیک هم جوړ کړو. د لیک کښې دہ دَ آزاد سکولونو کریجویټ کسان شامل کړل

او د تعلیمي، ادبي او سیاسي اصلاحاتو په پروګرام یې لاس پورې کړو.

دغه پروګرام کار دا اوکړو چې زنانه معاشره کښې د کردار ادا کولو جوګه کړې شي. باچا خان د زنانه وُو د پردې روایتي نظام چرې نه خوښولو ولې چې د پردې په وجه مسلمانې زنانه معاشرې کښې د یو فعال او تند کردار ادا کولو جوګه نه پاتې کیږي. دغه د زنانه وُو دادرکیږنه اوکړه او هغوی ته یې د پردې نه د بهر راوتو غږ ورکړو. د دغه خوبندې د دغه په تحریک کښې ورګډې شوې او د کال ۱۹۳۰ء پورې هغوی د صوبې دورې شروع کړې او تقریرونه به یې کول ـــــ داسې په زړه ورتیا یې کار شروع کړو چې د اسلامي ملکونو دارالخلافو کښې به هم زنانه وُو داسې نه وي کړې او بیا د پښتنو په غیر قدامت پرسته ټولنه کښې خو دا د غیر معمولي جرأت او زړه ورتیا کار وُو.

د ګاندهي جي هم دا پخه عقیده وه چې د عدم تشدد په ذریعه آزادۍ موندلو د پاره د آزادۍ په تحریک کښې د زنانه وُو چابک کردار ډیر ضروري دې. د کال ۱۹۲۵ء دسمبر میاشت کښې دغه د کانګرس

صدارت بیگم سروجني نیدو ته حواله کړه. دا یوه اُوچته شاعره وه او د قیادت او مشرۍ کولو صلاحیتونه یې لرل. د دې مثال د هندوستان زنانه وُوته حوصله ورکړه او هغوی د سیاسي سرګرمو د پاره د خپل اهلیت مظاهره او څرګندونه وکړه.

د باچا خان دَ ډیرې مودې راسې دا اِراده وه چې دَ نوي فکر دَ خورَولو د پاره پښتو کښې یوه رساله اُباسي ده ته دا علم وُو چې پښتون د نړۍ نور سیموته لاړ شي او هلته اَستوګن شي نو دې ډیر زر د هغه ځاۍ ژبه خپله کړي او خپله پښتو ژبه هیره کړي. خپلې پښتنو کښې دننه لوستي پښتنو د اُردو او انګریزۍ د پاره پښتو شا ته کړي وه دې حالت دې پریشانه کړې وو. ده خپلې پښتو ژبې کښې دَ فوک لور، رزمي او بزمي شاعرۍ لویې ذخیرې سره ډیره مینه لري. پښتو ژبه کښې چې دَ تصوّف په بابله کومه شاعري شوې ده دا برصغیر کښې دَ نورو ژبو د شاعرۍ مقابلې کښې ډیره خونه ور او ښکلې ده. د پښتو ژبې ستر شاعر خوشحال خان د نړۍ په شاعرانو کښې خپله ثاني نه لري. پښتو ژبه کښې چې درې نیم ددې سوه کاله کوم رنګ شاعرۍ

شوي دة د برصغير نورې ژبې د هغې سوچ هم نه شي کولی۔ چې کوم وخت پښتو ژبه کښې ترقي یافته شاعري کيده هغه وخت د اُردو ژبې د سره هډو وجود نه وُو۔ د باچا خان دا خيال څه غلط نه وُو

کني پښتو ژبه کښې د يوې رسالې په برکت به د پښتنو په خپلې ژبې وياړ کول په ځائې کړې شي او دې سره سره به د اصلاحاتو پيغام هم ټولو پښتنو نه اورسولې شي۔

چې پښتون نومې کومه رساله جاري کړې شوه دا نه يوائې پښتو نخوا کښې سمدستي کامیابه شوه۔ دا يورپي هيوادونو او امريکې پورې اُرسيده۔ ولې چې هلته هم ګڼ شمير کښې پښتانه اسنوګن وو۔ توستي پښتانه د پښتون په جاري کولو ډير خوشحاله شول ولې چې دَ دې په ذريعه دَ دوی انفراديت په ځائې شو او دوی کښې د خپل نسل د لوړ والي او عظمت إحساس را بيدار شو د مدير د قلم د څوکې د لاندې په تنقيد دوی د خوشحالی څرګندونه اُکړه۔ د پښتون رسالې د مخ په پانړه به د مجلس کلني غنی خان دا شعرونه چاپولې شول.

که خارې تنې مې په قبر وي ولاړې
که غلام مريم راځه نوکه برې لاړې
چې پخپلو وينو نه يم لمبيدلې
په ماماه پلينوىه د جمات غاړې
يا به دا سپيره وطن باغ عدن کړم
يا به کړم د پښتنو خونې ويجاړې

"پښتون" کښې به د صحت د اُصولو، اُولسي مسئلو او اسلامي قوانينو په بابله مضمونونه چاپيدل. د دې رسالې کښې به ببيا ببيا دَ زنانه وُو په پردې تکونه کيدل. يو ليکونکي ليکلي وُو چې دَ پښتنو په سيمه خو رنګيزې او ښې ځمکې او ښائسته جونه په راغونو او غرونو کښې خشاک را ټولوي، دا په خپلو سرونو وړي، فصلونه ريبي او دَ جنګ په ميدان کښې دَ خپلو نارينه وُو مدد کوي او چې چرته جونه داسې درنې ذمه دارۍ تر سره کوي هلته خو دَ پردې کولو سوال نه پيدا کيږي. دې ليکوال دا خيال ښکاره کړې وُو چې پرده نه ماضي کښې کوله شوه او نه نن د دې څه وجود شته {ما سوائې دا چې يو رواج جوړ شوې دې} او نه به مستقبل کښې وي. يوې پښتنې خور نګينه ليکلي

وُو چې د پښتنو نه سيوا دَ ښځې هيڅوک دښمن نشته
يوائې پښتنون داسې وګڼې دې چه خپلې زنانه د دباؤ
او فشار لاندې ساتي. دې پښتون ته غږ وکړې وُو چې
اې ځما پښتون وروره ته خو د ځان د پاره آزادي غواړې
دا آزادي ته خپلو زنانه وو ته ولې نه ورکوې ؟

دې ټول وخت کښې د برصغير په نورو سيمو کښې دَ
هندوستانيانو او انګريزانو ترمېنځه ناوُ تړيخوالې زياتيدو
نوې وائسرائې لارډ اروِن (LORD IRWIN) دَ هندوستانيانو
د خود مختاره حکومت د غوښتنې په جواب کښې د ګانډهي
يا دَ اُولس د نورو نمائندګانو سره د ليدو کتو نه
اِنکار کړې وُو.

لکه څنګه چې د ښاغلې اِروِن يو انګريز زوند ليکونکي
رائې ښکاره کړې ده. چې وائسرائې کښې د افسوس تر
حده د مهارت کمې وه، وائسرائې د هندوستان د نمائندګانو
سره د خبرو اترو په ځائې د هندوستان د قسمت
په بابله ده ته د مشورې ورکولو په غرض يو خاص
کميشن ته بلنه ورکړه. دې کميشن کښې يو هندوستاني
نه وُو شامل دې کښې برطانوي باداران (LORDS) او
د پارليمان غړي شامل وُو.

دکال ۱۹۲۸ء په فروري کښې د سائمن کمیشن غړي هندوستان ته را اُرسیدل خو دَ دې کمیشن په مکمل دول بائیکاټ اُکړې شو او دغه ټول کال درنې مظاهرې اُشوې. کله کله به دغه مظاهرې پولس دَ تشدد په ذريعه ماتې کړې دَ پښتونخوا کاوَسنړي صوبه پنجاب کښې ډیره بې قراري وه. دَ دې صوبې ځلوړ شپیته کلنې مشر لجپت رائې لاهور کښې پولس اُوهلو او ډیر زر مړ شو او دَ دهٔ دَ مرګ نه یو څو هفتې روستو د ۱۹۲۸ء دسمبر کښې د لاهور د پولس اسسټنټ چیف اُوژلې شو. بنګال چې هلته هم زبردست مزاحمت شروع شوې وو. سبهاش چندرا بوش د انقلاب د پاره کار کولو.

د اړي کړي په دې وخت کښې د دغه کال دسمبر کښې مسلمانانو مشرانو د بنګال دارالحکومت کلکتې کښې یو کانفرنس را اُبللو. باچاخان په دې کانفرنس کښې ګډون اُوکړو خو دَ غونډې شور شغرب دې ډیر مایوسه کړو.

د کانفرنس صدر په خپل اختتامي تقریر کښې پهٔ هندُانو پسې سپکې ټوقې ټقالې اُکړې. وروستو چې د پنجاب نه یو تقریر کوونکي د کانفرنس د صدر په تقریر ټکونه اوکړل نو د صدر مزاج خراب شو او تقریر کوونکي ته یې

بد رد اُوئیل۔ یو بل پنجابي په دې موقع چاقو راُویستلو او په دغه چول دغه غونډه ګډه وډه شوه۔

د کانفرنس د حال احوال په لیدو باچا خان دلګیر شو۔ دَ دهٔ په خیال دغه یوه مهذبه انساني او اسلامي طریقه نه وه۔ چې دهٔ ته معلومه شوه چې د کانګریس غونډه هم په دغه وخت کلکته کښې کیږي۔ ده دغې غونډې ته دَ تګ او د ګاندهي د لیدو فیصله اُکړه۔

باچا خان چې هلته ورغلو، ګاندهي غونډې ته تقریر کولو او په دې دوران کښې یو ځلمي به د دهٔ نه پر له پسې پښتنې کولې۔ ګاندهي د ځلمي په دې پښتنو په تاؤ کښې نه راتلو۔ ده به اُخاندل او بیا به بې خبرې شروع کړې۔ د ګاندهي صبر او زغم په باچا خان اثر اُکړو دې چې کله خپل کانفرنس ته بیا ور واپس شو نو دهٔ د کانفرنس صدر ته ځان ته اُووې چې ځما خیال دې چې که زمونږ مسلمان قیادت د صبر، استقامت او زغم او برداشت نه کار واخلي نو د آزادۍ دا تحریک مضبوتیدې شي۔ د باچا خان په دې مشوره دغه کس بې قلبو شو او وې وئیل چې ک پښتون په ځیر وحشي هم د زغم او برداشت سبق ورکولې شي؟

د کانفرنس د صدر دې خبرې باچا خان ته لکه دَ
لړم ټک ورکړو. خان په دغه وخت کانفرنس پرېښو
او کورته واپس روان شو خو د گاندهي مثال دهٔ ته
یاد وو. په دهٔ دا خبره څرګندیده چې تشدد او
خپلو کښې جنګ جګړو دَ دهٔ خلک کمزوري کړي
وُو.

یو څو میاشتې پس لکهنؤ کښې د کانګریس یوه پله
غونډه کښې باچا خان د ګاندهي سره بیا ملاقات اُکړو
دهٔ د جواهر لال نهرو سره هم اُلیدل چې د هندوستان
د قام پرست تحریک مُلمی مشر وُو او د باچا خان
دَ ورور ډاکټر خان ملګرې وُو دوی دواړه انګلستان
کښې د طالب علمۍ د وخت نه دوستان وُو باچاخان
جواهر لال نهرو ته چې روستو د هندوستان ړمبنې
وزیر اعظم اُټاکلې شو د پښتنو حال احوال تیر کړو
دې ملاقات سره دَ دې دواړو مشرانو تر مینځه دمینې
محبت او د یو بل د لحاظ او تعظیم کولو یوه داسې رشته
او تړون پیدا شو چې تر مرګه اُ نه شلیدو دَ دوی
لارې جُدا شوې ولې دَ دوی نه ختمیدونکې تعلق قائم
پاتې شو.

باچا خان د لکهنو نه نیغ دلی ته لاړ او هلته ئې د نورو تمام پښتو مشرانو سره اولیدل. ده هر ځائې کښې زړه نو زړه د آزادئ حاصلولو جذبه اولیده د کال ۱۹۲۲ء راسې چې هندوستانیان د راج تحته کلتی کولو کښې قریبًا کامیاب نشوي وو. دوئ انګریزانو ته دا خبرداري ورکولو چې تخو پورې د خود اختیاره حکومت څه شکل تاسو نوې منلې، یوه بله جګړه ناګزیره او ضروري وه. انګریزان دې وخت کښې بوائچې پاتې شوي وو. او د هندوستانیانو بې قراري سیوا کیده. دوئ دَ آزادئ غوښتنه کوله او د دې د پاره قربانو ورکولو ته هم تیار وو.

دَ نهرو او سبهاش چندره بوس په شان مشران دَ راج ګرځولو ته د لاس اچولو په حق کښې وو ولې ګانډهي به دوئ ته وئیل چې لږ د انتظار ضرورت دې او انګریز ته لږ نور وخت ورکول په کار دي چې اراده ئې ښکاره شي. د ګانډهي دا هم خیال وو چې هندوستان لا دَ جنګ د پاره تیار نه دې انګریز ته یو کال نور ورکړي او که دې دوران کښې دوئ څه رعایتونه ور نکړل نو بیا صبره هندوستانیان بیا د آزادئ حاصلولو د پاره

آخره پورې جنګ کولې شي.

خان د آزادۍ حاصلولو مرام د ځان سره په دې غرض یوړو چې پښتانهٔ د هندوستان د معاملو نه خبر کړي او د هندوستان په سیاست کښې بې راګډ کړي. دهٔ د ګرمۍ سختې ورځې د پښتونخوا د کلو په دورو تیرې کړې دهٔ خپل اولس ته اووې چې تاسو خپل نظر د خپل کور او خپلې پولې پټې نه بهر اوباسئ، خپلو کښې دښمنۍ پرېږدئ او په یو اتفاق شئ او د هندوستان نه د انګریزانو په ایستلو کښې خپل کردار ادا کړئ. تاریخ ګواه دې چې دا د باچا خان د کوششونو نتیجه وه چې پښتون د باچا خان په مشرۍ کښې د هندوستان په آزادۍ کښې یو نه هېریدونکې کردار اولوبولو.

د ټولو پښتنو په څیر د خوشحال په خیال، صحت پسرلي کښې نه، خزان کښې وده مومي. دا هغه وخت وي چې ستوګه په سهیل کښې بجیرهٔ عرب کښې ډوبیږي د سردرو هواګانې یخې شي. او د پښتون په وینه کښې جوش او ګرمي پیدا شي.

د کال ۱۹۲۹ء د ستمبر میاشت د پېښور وادۍ ته

یحي هوا کاني راوړي. باچاخان ځان د جنګ د پاره تيار محسوسولو. خو دا جنګ لا د انګريز سره نه وُو ده دا ليده چې يو ډير اهم وخت را روان دې او دهٔ دا اراده کړې وه چې دَ دې وخت په را رسيد وبه ځا اُولس د مقابلې د پاره ښه تکړه تيار وي.

باچاخان يو ماسپخين اُتمانزو کښې يوې درنې غونډې ته د تقرير کولو په وخت هغه وړې وړې وجې په ګوته کړې د کومو په وجه چې پښتون د يو بل ګريوان څيري کوي. ده اووې چې "ځا رونړو پښتنو تاسو کښې دومره قوت ضرور شته چې څوک مو وهلې نه شي ولې ستاسو خپلې بې اتفاقۍ چالاک او عيار انګريز ته دا موقع په لاس ورکړې ده چې تاسو بې بسه کړي او تاسو سپک کړي. خو دَ دې حالاتو د پاره مونږ انګريز ذمه وار نشو ګرځولې. دا څه چې کيږي دا مونږ دَ ځان سره خپله کوُو خپل عمل د لارې مل وې. مونږ دَ خپل عمل د لاسه سرزوهلي يو او سپکاوې مو په نصيب دې ده غونډې ته اُووې چې دَ قامي پر مختګ او ترقۍ د پاره دوه لارې دي. يوه د مذهب لاره ده او بله دَ وطن سره د مينې لاره ده. تاسو ټولو به د امريکې

او یورپ په بابله اودیدلي وي. د دغه هیوادونو اولس کیدې شي زیات مذهبي فکر او رجحان نه لري ولې هغوی ټول په خپل وطن او په خپله خاوره مئین دي، د خپل اولس او قام سره مینه لري او اولسي بیداري لري.

تاسو لږ د هغوی په ترقۍ نظر واچوئ بیا د خپل ځان په لور اوګورئ. مونږ خو لا په خپلو خپو هم د اودریدو جوګه شوي نه یو د هغوی د ژوند معیار نه لکونې پام اوکړه او بیا د ځان په لورې پام را اوګرځوئ. فرق صفا جوت دې.

باچا خان زیاته کړه چې که مونږ د تباهۍ او بربادۍ په لاره سم شوي یو نو دا ځکه چې نه خو مونږ د خپل وطن او خپلې خاورې سره مینه لرو او نه په قام مئین یو. یو لوئ انقلاب را روان دې خو تاسو لا د دې نه خبر هم نه یئ.

زه چې اوس اوس د برصغیر په دوره تلې وم نو ما دا خبره محسوس کړه چې نر او ښځې په مکمل ډول د قام د خدمت د پاره ملا تړلې او تیار دي او دلته مونږ څه کوو ؟ ښځې خو پریږده چې نارینه

هم د قام او د اولس د خدمت څه جذبه نه لري دوی د "قام" د توري په معنیٰ هډو د سره پوهیږي نه !!

باچا خان اخوا دیخوا اُکتل، دَ دهٔ په سترګو کښې یو پړق وُو د دهٔ په خبرو لویه غونډه داسې خاموشه او په قرار ناسته وه لکه چې هډو څوک موجود نه وي. یو یو کس په خپل ځائې ناست ؤو او هیڅ حرکت په نظر نه راتلو۔ لوئې او ستر باچا خان خپل تقریر جاری اُساتلو.

"کوری ځما پښتنو رونړو او ملګرو ځما مشرانو او کشرانو زهٔ وایم چې ستاسو نه خپل ځان قربان کړم ستاسو بلاګانې واخلم او ستاسو ټول بوج زهٔ خپله اُوچت کړم۔ ایې ځما د زړګي سرونو تاسو نه څه علم شته چې انقلاب څه ته وائي ؟

دَ انقلاب مثال لکه د سیلاب دې۔ یو قام دَ انقلاب په وجه خوشحالیدې شي او دَ انقلاب د لاسه ختمیدې هم شي۔ که قام بیدار وي، د قام وګړي بیدار او باشعوره وي، هغوی کښې روروُلي وي او قامي جذبه وي نو دا خبره یقیني ده چې داسې قام د انقلاب

نه فائده اوچته کړي، دا قام بناد. تني او آباد تني. که اولس بيدار وي او د سيلاب د پاره تيار وي نو چې کله سيلاب را تشي ټول قام د دې سره سره روان وي خو که اولس اوده او خوبولي وي، په دښمنو کښې بوخت وي، ډېر بل نه ويزاړ وي د قام، وطن او خاورې مينه نه لري نو داسې قام، د قام داسې وګړي د سيلاب په ځپو کښې لاهو تني، برباد تني او نباهه بې نصيب تني او ورک او سپک شي. ايا تاسو خپل سبکيدل، تباه کيدل او ورکيدل غواړئ؟

باچا خان د يو ساعت د پاره دمه شو، ساه يې واخسته او پښتو نه بيا مخاطب شو-ده اودې:

"اې ځما غريبه او نادار اولسه، په دښمنو کړکو او کينو کښې ليتو پيتو پښتنو، په تن بربنډو، په خپو بې آبله پښتنو رونړو تاسو ماته دا اجازت را کوئ چې زه ستاسو په وړاندې لږ نور اګټرېږم. زه ستاسو په وړاندې نور حقيقتونه کينولي شم؟ زه ستاسو فکر او پام د نړۍ ترقي يافته قامونو په لور را کړخول غواړم. ستاسو څه خيال دې چې دغه قامونه په يوه

ورځ کېږي مالداره او خوشحاله شو؟ ستاسو څه خیال
دی کښي دوره نه ترقي د آسمان د لوړي را پريوته!
داسې هیڅرې نه ده او نه مونږ ته داسې څه
طمع په کار ده کښي مونږ نه به ترقي د آسمان د
لوړي نه شي.

د هغوی د ترقۍ راز دا دی چې د هغوی په
زړونو او نیتو کښې د قام او اولس د پاره د قربانۍ
ورکولو جذبه ده، هغوی خپلې خوشحالۍ او سود مندې
د قام د خوشحالۍ او ښیرازۍ د پاره قربانوي.

ای پښتنو رونړو، زمونږ بدقسمتي دا ده چې زمونږ
سره داسې کسان نشته. مونږ یواځې خپله فائده او
سود منده لټوو. د خپل ځان د پاره قام او اولس
لوټو. لوړو هیوادونو کښې خلک په دې پوهیږي چې
هیڅوک د معاشرې او ټولنې نه اوچت نه دې ولې
زمونږ په وطن کښې هر څوک ځان د اولس او قام
نه غوره کښي او د خوړونو په نړه کښې اوسي. داسې
لکه څنګه چې ځناور یواځې د ځان د فائدې په لټون
کښې وي. ځناور ته هم د اوسیدو د پاره ښه یا
خراب ځائې په لاس ورشي، خپله کیلوه ورکوي او د

خپلو بچو حفاظت کوي. مونږ هم دغه شان کوو - په دا وجه مونږ دا حق نه دي حاصل چې ځان ته اشرف المخلوقات اُوایو ولې چې مونږ کم زیات هغه کاروونه کوو چې ځناور یې هم کوي.

د دې نه آګاهو پښتنو په خپله ژبه کښې په داسې ساده او با مقصده ټکو کښې ښوک نه وو اوریدلي ده او وې چې :-

" اې ځما د دینې او مینې رونړو دا خبره یاده ساته چې قام بناد شي او اباد شي نو د قام هر یو وګړي خوشحاله شي، نر، ښځې، ځوانان او ماشومان خوشحاله شي - داسې خیال چرې مکوې چې کښې د یو کس د آبادکه سره به ټول قام خوشحاله شي - داسې نه ده. که تاسو په رښتیا او ایمانداري سره دا غواړي چې ستاسو قام د آباد شي، ښیرازه او ښاد دِ شي نو یواځې د ځان د پاره ژوند مه تیروه، یواځې په خپلو فائدو او سود مندو نظر مه ساته - د قام د پاره، د اولس د پاره او د وطن د پاره او د خپلې خاورې د پاره د اُمیدو او کار کولو چل زده کړه. د قام او اُولس د پاره ژوند تیرولو کښې اصلي ژوند پروت دې دې نه بغير قام

خوشحاله کیدې نه شي. هم دغه یوا ځنی لاره ده؟"

باچا خان چې تقریر ختم کړ و نو ټوله فضا دَ الله اکبر د نعرو نه ډکه شوه. دَ باچا خان ساده او تیز او صفا خبرو د پښتنو فخر داسې غوځ کړې وو لکه چې په توري پرېکړې شوې وي. خو هغوئ کښې څه ناوَ ترېخوالې یا احتیاج نه وو ولې چې هغوئ نه دا پته وه چې دَ توري دا ګوزارا د مینې او محبت ګزار دې او دا ځکه شوې دې چې دَ قام د عزت او درناوي تحفظ اوکړې شي.

یو ځلمي پښتون چې د باچا خان تقریر بې اوریدلې وُو، هغه ټوله شپه بې خوبه اوړ بیدا و راوړ بدو او فکرېې کولو چې باچا خان چې څه خبرې اُوکړې دا خو یو حقیقت دې. غونډې ډیرې وعلې او لوظونه کړي وُو. په زرګونو کسانو قسمونه کړي وُو خو دا کافي نه وُو. سیلاب نزدې را رسیدلې وُو.

صبا وختي، چې ملا د سحر د مانځه اذان لا نه وُو کړې، دا ځلمي را پورته شو او باچا خان ته حاضر شو. ده اُووې چې څه کول په کار دې. ستاسو څه خیال دې که یو تنظیم قائم کړې شي، یو داسې تنظیم

چې غوړې ېې دا سوګند اُکړې چې هغوی به د تمام
د پاړه خپل ژوند وقف کوي د ځلمو لیګ نه - هغه څو
د منتظمانو او اُولسي کارکنانو د پاره دهیوطن ته د یو
داسې تنظیم ضرورت دې، چې د هغې غړې د ضرورت
په وخت د تمام او اولس د پاره خپل ځان وړکړي.
دَباچا خان د دې ځلمي خبرې خوښې شوې. ده ته
ېې د ناستې د پاره اوۇ ئیلۍ چاپۍ راوړې شوې.
یو داسې تنظیم چې غړي ېې لکه د سپایانو پ
خپل د تمام د پاره ځان قربان کړي ؟ د باچا خان ا:ا
فکر خوښ شو ده سوچ اُوکړو چې پښتون یو جنګجو
اولس دې خو څوک چې په نوځ کښې بهرتۍ شوي
دي هغوی خو دَ راج دَ دوام د پاره جنګ کوي - ده
فکر اوکړو چې مونږ ته دَ داسې سپایانو ضرورت دې
چې تشدد نه کوي.
د باچا خان فکر بوره شو. ده یو داسې فوځ چې په
عدم تشدد عمل کوي دَ دې فوځ به یونیفارم وي تنظیم
به ېې وي، افسران به لري، وردي به اچوي بیرغ به ېې
وي او دکانیډانډ د رسالې په شان به ېې خپل بیګل
او ډرم وي. دا فوځ به جنګ کوي خو د ټوپکو او ګولو

جنګ به نه کوي دوی به بې وسلې وي او عدم تشدد به د دوی وسله وي.

باچا خان ته دا علم وُو چې داسې نوځ چرته وړاندې وجود کښې نه دې راغلې. د تربیت یافته پیشه ورو عدم تشدد سپاپانو نوځ دا یو نوې فکر او نوې خیال وو.

دغه ځلمې د باچا خان په لور په حیرانتیا سره اُکتل او وې وئیل چې پښتون به وي. په عدم تشدد به عمل کوي او دا به د تش لاسي پښتنو نوځ وي ؟

باچا خان دې ځلمي ته او وې چې نور څوک ــــ خو یو پښتون داسې کیدې شي چې د عدم تشدد لاره خپله کړي ولې چې داسې کار یو بهادر او مړنی اولس کولې شي. پښتون مړنی دې، حوصله لري او اخلاقي جرأت لري او په دا وجه مونږ دا یقین کولې شو چې په عدم تشدد به عمل اُکړې شي. او مونږ به په کامیابۍ سره. باچا خان دا باور هم څرګند کړو چې پښتون به په تش لاس د دښمن مقابله کوي.

باچا خان د نورو چائیو د پاره وینا اُکړه. دغۀ د ځلمي دَ دې خبرې سره اتفاق اُکړو چې پښتون به

په دې تجويز ردّ عمل ښکاره کوي او وائي به چې دا
خو د بدل او انتقام شکل ورانول دي ولې چې
د بدل اخستو جذبه خو دَ دهٔ دَ فطرت برخه ده او
او دَ دهٔ په وينه کښې شامله ده خو گاندهي خو
هم د لسو کالو راسې د عدم تشدد دَ فلسفې خوروونه
کوي او وائي چې يوائې په اخلاقي توگه مضبوط خلک
په دې عمل کولې شي. گاندهي ويلي وُو چې دا په خاص
توگه دَ هغه خلکو د پاره ده چې د جنگ نه يريږي
نه، د دښمن د وار پرواه نه کوي او په هيڅ قيمت
د تېښتې تور داغ په ځان نه لگوي. او هغه څوک چې
د جنگ د پاره موزون نه وي هغوی په دې فلسفه
عمل نه شي کولې. باچا خان زياته کړه چې پښتون کښې
دَ ميړنتوب ټولې خوبۍ شته. دوی صرف پوهول غواړي
که شپږو کسانو هم په دې عمل اُکړې شو نو دا به دَ
ټول پښتون اُولس د پاره د يوې ودې کار ود کړي.

يو تنظيم جوړ کړې شو. دَ دې تنظيم نوم "خدائي
خدمتګاران" وو، د الله تعالیٰ خدمت کوونکي. دَ دوی
مرام آزادي، مقصد د مخلوق خدمت کول او دَ هغوی
په کار راتلل. چونکه الله تعالیٰ د انسان دَ خدمت

حاجتمند او موتاژه نه دي په دا وجه د هغه د مخلوق خدمت کول د هغه يعنی د الله د خدمت درجه لري.

خدائي خدمتګاران د باچا خان په مشره کښي په وجود کښي راغلل- دا په نړۍ کښې رومبنې پيښه وه او ښې وسلې غورځ وو- نه د دې نه اګاهو داسې مثال چرته موجود ؤو او نه به مستقبل کښې د نړۍ اُلسونه داسې مثال پيدا کړي- دا دَ باچا خان معجزه وه چې د پښتو په شان په وسله مئين قام ښې نښ لاسې کړو او بيا په کاميابۍ سره ښې برې عمل اُکړو. هر يو پښتون وګړې په دې غورځ کښې شامليدې شو ولي د هغه د پاره د تنظيم د لانديني مقصدونو سره اتفاق او په دې عمل کول ضروري ؤو.

۱- زۀ يو خدائي خدمتګار يم او خدائي ته دَ خدمت ضرورت نشته خو د هغه د مخلوق خدمت کول او په کار راتلل د هغه يعنی د الله خدمت دې په دې وجه زۀ د الله په نوم د هغه د خدمت کولو لوظ او اقرار کوم.

۲- زۀ د تشدد او جنګ جګړې نه د ښتنګ کولو او ځان ساتلو لوظ کوم او بدل يا انتقام به نه اخلم

زه دا اقرار کوم چې [redacted] څوک به معاف کوم چې
ځما سره تعد زياتي يا را باندې ظلم کوي.

۳- زه جنګ جګړو کښې د برخې نه اختو لوظ کوم
او د دښمني به نه پيل کوم

۴- زه به هر يو پښتون خپل دوست، ملګرې او ورور
ګڼم.

۵- زه به اولس دښمن رواجونو کښې برخه نه اخلم
او نه به خپله وده ورکوم.

۶- زه به ساده ژوند تيروم، د نيکيو کارونه
به کوم او د غلطو کارونو نه به ځنګ کوم.

۷- زه د ښو اخلاقو او ښه سلوک کولو لوظ کوم
او فضول او بې کاره کارونو کښې به وخت نه بربادوم
زه به روزانه کم نه کم دوه ګهنټې د اولس کارونه کوم

د پښتون د پاره سوګند کټل څه معمولي-يا ورو کې
خبره نه ده- پښتون په ۲ ساه د سوګند په پړ يا
ځان نه تړي ولې چې يو ځل سوګند اوکړي نو بيا دغه
سوګند ماتيدلې نه شي- د پښتون يو دښمن هم دا باور
کولې شي چې پښتون به خپل سر ورکړي ولې خپله خبره
خپل لوظ يا سوګند به مات نه کړي.

علام تشدد د سوکنډ او د تنظیم روح وو۔ دا نه یوازې د انګریز د تشدد خلاف یوه وسله وه بلکه دې سره سره د پښتون په ژوند کښې چې کوم تشدد وو د هغې هم خلاف وو۔ دَعدم تشدد په برکت سره دوی ته آزادی هم مونده شوه عزت او درناوی هم۔

باچا خان د خپلو سکولونو ګریجویټ په دې تنظیم کښې بهرتي کړل۔ دوی د باچا خان نه د غونډ شول وردي ئې واچوله او په کلو او بانډو کښې خواره شول۔

شروع شروع کښې به دوی سپینه وردي اچوله. خو ولې سپینه وردي به زر خیرن نیده په دا وجه تنظیم خپلې وردۍ نه د مزري ریو پوڅې چې د توکرو جوړولو د پاره استعمالولې شي) رنګ ورکړو۔ دې سره د دې ۔ رنګ سور بخن شو۔ دا یوه کامیابه تجربه ده ولې چې اوس به وردي په یو ځل ډیرې ورځې استعمالیدې شوه۔ د سرې وردۍ ریونیفارم) په وجه دَ خدائی خدمت ګار تنظیم اُولسي نوم سرخپوش مشهور شو۔

دې تنظیم کښې په آسانه سره څوک نه بهرتي کیدل خو باچا خان او دَ ده ملګرو خپل کوشش جاري اُساتلو

او یو څو میاشتو کښې د دې تنظیم د غړو شمیر پنځوسو
ته ورسیدو خو دا دومره زیات تعداد نه وو کښي د
راج قوت دې ختم کړي. دا یوه ابتدا وه. څوک
رضاکار چې دې کښې شامل شول، هغوی سوګند اوچت
کړو، پلټنې بې جوړې کړې. د دوی به یو کماندر
وُو او د فوځ بنیادي تربیت به ورکولې شو. او نور
هر یو د فوځي نوعیت کار به یې زده کولو ما سوائې
د وسلې دَ استعمال نه. دوی به پریډ کولو، یونیفارم
به یې لګول، دریې رنګي بیرغ به یې ساتلو او فوځي
درجه بندي په ډول دا تنظیم ولیش شوې وُو.

باچا خان کني کمیټي جوړې کړې. دې ته به جرګې
وئیلې شوې. دا دَ روایتي قبائلي جرګو په څیر جرګې
وې چې دَ سلونو کالو راسې یې د پښتنو غیر تحریري
قانون ژوندې ساتلې وو. په یو څو کلو مشتمل به یو
یونټ جوړ کړې شوې وو او دا یونټ د ضلعې په سطح
جرګې ته جواب ده وو. صوبائي جرګه د ټولو لویه او اخري
جرګه وه. ولې چې دې ټولو جرګو کښې به منتخب افسران
وو. په دا وجه صوبائي جرګه د پښتنو غیر سرکاري
پارلیمنټ وُو.

د تنظيم افسران به منتخب کولې نه شول ولې چې باچا خان په تنظيم کښې په دې وجه اختلافات نه خوښول. سالار اعظم يا د تنظيم سر لښکر به دوئ په خپله ټاکلو او هغه به بيا نور افسران ټاکل. دا ښځې يو رضاکار فوځ وو. دې کښې افسران هم رضاکار وو. زنانه هم دې فوځ کښې بهرتي کولې شوې چا چې د آزادئ په کوشش کښې يو اهم کردار ادا کړو.

د رضاکارو دا فوځ به کلو او باندو نه تلو، اسکولونه به ئې پرانستل، د خلکو سره به ئې کار روزګار کښې لاس کولو او په عامو غونډو کښې به ئې امن ساتلو. دوئ د فوځي شکل پريډ کولو، مارچ به ئې کولو او په تلو تلو کښې به ئې دا سې سندرې په يو آواز وئيلې.

"دا خدائي فوځ دې چې د مال، دولت او مرګ نه بېرېږي نه

مونږ په مخه روان يو۔ مونږ او زمونږ مشر مرګ ته تيار دې

مونږ د خپل اولس خدمت کوو او ورسره مينه لرو او پخپل مرام مونږ نظر دې

آزادي زمونږ منزل دې او زمونږه ژوند د آزادئ قيمت دې "

چې د چا به په دې فوځ نظر پرېوتو نو هغه به دا سوچ کولو چې دا خو بيا ښوک مُلا په انګريزانو د يرغل د پاره

روان دي۔ خو دا د ملايانو لشکر نه وُو۔ دا د هغه پښتنو رضاکار فوځ وُو چې په سلونو کالونو پې د ټوپک او چاړې سره مينه ساتلې ده ــ نن د باچاخان په مشرۍ کښې د هغه تاريخي پښتنون ټوله وسله دَ هغه چوکه وه۔ نن د دهٔ سره د تنظيم، عقيدې او اتفاق برکت وو۔ يو پښتون وُو او يوېې مشر وُو۔ دا مشر د تاريخ په پاڼو خور باچا خان وُو۔

لسم باب

# دقیصه خوانی شهیدان

## (۱۹۳۱ _ ۱۹۳۰ ء)

نه تاسو ته یوه داسې وسله درکول غواړم چې پولیس او فوځ به ستاسو څخه کوڼې نه شي. دا زموږ د پیغمبر وسله ده دا د صبر او استقلال او په نیغه لاره د تلو وسله ده د دنیا یو قوت هم دَ دې طاقت مخه نشي نیوې.

چې تاسو کله خپلو خپلو کلو ته واپس شئ نو خپلو کلي والو ته ووایئ چې دلته یو د الله تعالیٰ فوځ دې چې وسله یې صبر ده. خپلو روڼو، ترېورانو او کلیوالو ته ووایئ چې د الله تعالیٰ په دې فوځ کښې شامل شئ او په دې لاره کښې ټول تکلیفونه برداشت کړې. که تاسو صبر خپل کړو نو تاسو به بریالي وې. (حضرت باچاخان)

د کال ۱۹۲۹ء په یو دیرشم دسمبر په نیمه شپه د لاهور په تدلیم بنبار کښې یوه آوازه خوره شوه چې د دغه ځایه د هندوستان په هره سیمه واوریدلې شوه. دا دَ آزادۍ غږ وو. په تیره شوې هفته کښې د کانګریس

ښځوزرو نمائندګانو د هندوستان د مستقبل په بابله خبرې اترې کړې وې. ښځوېښت زره همدردانو د دې خبرو اترو تماشه کوله. خبره دا وه چې آیا په سمدستي توګه د آزادۍ غوښتنه اُکړې شي او د انقلاب په لاره روان شو او یا د انګریز سره په دې بابله په دلیل او تفصیل سره خبرې اترې اُکړې شي. د غور او خوض نه پس دا فیصله اُکړې شوه چې انګریز سرکار ته خو په دې غوښتنه د فکر او سوچ د پاره یو کال ورکړې شوې وُو. کال تیر شوې وو. او د انګریز د با مقصده خاموشۍ هم دا مطلب کیدې شو چې هندوستان به د انګریز د قبضې لاندې وي. تر نا معلومه وخته پورې.

او په دې وجه، په دغه ځائې او دغه وخت ښځونرو نمائندګانو په شریک او یو اتفاق دا غږ اوچت کړو چې هر یو هندوستانې نر او ښځه د هندوستان ټول استوګن د نن نه آزاد دي.

دا اعلان هم داسې وُو لکه څنګه چې کال ۱۷۷۶ء کښې د امریکې مشرانو فلاډیلفیا کښې کړې وو. اعلان په دې ډول وو.

" دا زمونږ باور او عقیده ده چې د نړۍ د نورو

اُسونو په تخیر دا دَ هندوستان د اولس حق دی چې دا دِې آزاد وي او دَ خپل محنت په خوبو دِ موړ شي او دَ دوئ دَ ژوند ضرورتونه دِ پوره دي چې دوئ ته د ودې کولو او پرمختګ پوره پوره موقع په لاس ورشي زموږ دا هم باور دی چې یو حکومت، یو اولس د دې حقونو نه محرومه ساتي او په هغوئ زور او ظلم کوي نو دا اولس حق لري چې دا سې حالت بدل کړي او یا ئې بیخي ختم کړي. هندوستانښې د برطانيې حکومت نه یواځې دا چې د هندوستان اولس د آزادئ نه محرومه کړې دی بلکه د اولس په استحصال او لوټلو تکیه لري او هندوستان ئې په اقتصادي، سیاسي او ثقافتي توګه تباه کړې دی.

په دا وجه موږ دا باور لرو چې هندوستان ته د برطانيې سره ټول تعلق پریکول په کار دی او دا دې مکمله آزادي حاصله کړي. موږ دا دَ بنده او د الله تعالیٰ خلاف یو جرم ګڼو چې موږ د څه موده پورې نور دا ځلور ارخیزه تباهي او بربادي برداشت کړو؟

دې قرارداد کښې وړاندې دا ویلې شوي وُو چې:

« موږ بهرحال دا خبره منو چې دَ آزادئ تر لاسه کولو اثرناکه لاره د تشدد استعمال نه دی. څومره چې کیدې شي

مونږ به ځان د دې خبرې د پاره تیار کړو چې ټول رضاکار انجمنونه د برطانوي حکومت نه خپله لمن راټولوي مونږ به د سول نافرمانۍ تیاري کوو. دې کښې به د ټېکسونو عدم ادائیګي هم شامله وي. که مونږ د حکومت د کوشش باوجود د تشدد نه ځان ساتو نو باور لرو چې د دې غیر انساني حکمرانۍ خاتمه یقیني ده“

د هندوستان درې رنګي بیرغ جګ کړې شو او په ټولو کښې د خوشحالۍ او جذبې یوه چپه خوره شوه. په دې موقع دوه سوه پښتنو ځلمو خپلو کښې کونجې ورکړې وې دوه په یوه دائره کښې ولاړ وو. او د ډول په آواز بې د پښتنو یو مست ډانس، یوه مستله او لیونۍ ګډا شوروکړه. نهرو د پښتنو د دې ګډا نه دومره اثر واخستو چې هغه خپله هم د مستۍ نه بېخوده شو، د پښتنو پټکی بې په سر کړو او په ګډا شو. هندوستان نن آزاد شوې وو، لیس ضرورت د دې خبرې دو چې په انګریزانو دا حقیقت ثابت کړې شي.

دا ارس د ګاندهي کار وو چې هغه ورځ او هغه مسئله په ګوته کړي چې په کومه به د هندوستان اولس ستیاګره شورو کوي. ستیاګره په عدم تشدد ولاړ مزاحمت وو ګاندهي

هندوستانیانو ته غږ ورکړو چې ځان د دې کار د پاره تیار کړي او دې لړ کښې دې د خپل روحاني نصر په انتظار وو.

هندوستان په انتظار ؤ او سوزیدلو داسې لکه ځنګه چې دَ مُون سُون وریږې په اُفق خوږنکیږي د درې سوو ملینو خلکو هیواد د هغه وخت په انتظار وو چې کله به دا طوفان را ماتیږي. د جنورۍ میاشت راغله او تیره شوه ورپسې فروري راغله او لاړه. د ګاندهي د اړخه څه خبره نه وه انګریزانو دفترونو او کلبونو کښې د دې طوفان په حقله خبرې کولې او په انتظار وو. انګریزان د ګاندهي د اشارې په انتظار وو. د دې نه اګاهو هغوی څه کول نه غوښتل. لول

د کال ۱۹۳۰ء په دوئیم مارچ ګاندهي وائسرائې ته یوه داسې چیټهی اُلیږله چې داسې د حکومت یو مشر ته ورانډې نه وه لیږلې شوې. ده په دې لیک کښې ښه په تفصیل سره د هغه حالاتو او وجوهاتو جاج اخستې وو دَ کومو له کبله چې دهٔ دَ انګریز حکمراني یو لعنت ګڼو دهٔ لارډ اِراون ته دا خبرداري ورکړې ؤ. چې که تا دَ دوه برابرو د پاره د غونډې او خبرو اترو لاره خلاصه نکړه نو نهول ملک کښې به نهه ورځو کښې د ننه سول نافرماني شورو کړې شي. دهٔ دا نه وو لیکلي چې د دې په نتیجه کښې به څه کولې شي.

په دولسم مارچ ګاندهي دَ سابرمتي سیند په غاړه د خپل آشرم نه راجهر شو او د سمندر په غاړه یې دَ ډانډي نومي کلي په لور خپل تخلیریثت ورځني سفر شروع کړو. په شپږم اپریل دَه د زرګونو هندوستانیانو په وړاندې د ډانډې د غاړې نه مالګه را اوچته کړه او هغه قانون یې مات کړو د کوم تر مخه چې د مالګې جوړول او خرڅول د حکومت اجازه ګرځولي شوي وه. دګاندهي د دې اقدام سره د مالګې ستیاګره شروع شوي وه.

ټول ملک کښې د مالګې د قانون خلاف ورزي شروع شوه دا قانون د انګریزانو له اړخه د استحصال یوه وسیله وه. دَ هندوستان په شان ملک کښې مالګه هم دومره یو لازمي شې دې څومره چې اوبه ضروري او لازمي دي.

د دې قانون تر مخه د مالګې منډی (راخستون او خرڅون) سرکاری اجاره کښې اختل شوي وه په دې یو محصول هم لګولې شوې وو او دا دَ آمدنۍ په دویم نمبر لویه ذریعه وه. که آمیر هندوستاني وو او که نادارہ. مالګه به یې استعمالوله د مالګې قانون نه هر یو استوګن متاثره شوې وو. او دغه وجه ده چې دګاندهي دا خیال وُو چې دا قانون به هر څوک د نیو لاندې کړي. هر هغه قانون

چې په اولس غیر ضروري بوج اچوي یا د اولس د جذباتو او احساساتو خلاف وي یا د واکدارانو په مرسته کښې اوَد انساني اقدارو خلاف وي هغه قانون څه جواز نه لري په کار دې چې داسې قانون مات کړې شي او خلاف ورزي بې اوشي.

که اُولس را پورته شي او د یو داسې قانون خلاف ورزي شورو کړي، هغوي د داسې کولو حق لري. د یو قانون بنیادي مقصد دا دي چې په مجموعي ډول یوه ټولنه وده اُوکړي هغه د ټولنې افرادو ته تحفظ او سلامتیا ور کړي. دهندوستان د مالګې قانون یوائې په دې غرض جوړ کړې شوې وو چې دَ اولس دَ جیب ته زیاتي پېسې تکې وصول کړې شي او د انګریزانو خزانه په دې ډکه کړې شي. د مالګې قانون د انګریز واکدار د زور او جبر یوه مکمله نښه وه او یو ساده بوډه زمیندار هم په دې حقیقت رسیدلې وو.

ټول ملک کښې د مزاحمت او دَ حکومت د حکم خلاف ورزي شوره شوه په ملینو هندوستانیانو په مالګه اخته او خرڅوله او دا رویه د دې حقیقت ښه ښکاره ثبوت وو چې اولس خپل ځان آزاد کړ ځولې وو.

د میاشتې په آخره کښې ټول هندوستان کښې دا انقلاب

خور شوي وُو انګریز واکدار داسې څه شي ورانډې نه وُو لیدلې. د انګریز واکدار په ټول تاریخ کښې دیو حکومت هم داسې تجربه نه وه شوې. نوځبانو او پولس به ټش لاسې اُولس په چوکو ځپول، د کانګرلیس په دفترونې چاپې اُوهلې جائیدادونه بې ضبط کړل او د ګاندهي نه علاوه بې د ټولو سیاسي ګوندونو د سر سر مشران اُنیول. د حکومت دا خیال ووګني دې سره به دغه تحریک پخپله سراُخوري په جلسو او غونډو بندیز اولګولې شول او اخبارونه بند کړې شول. سل زره کسان جیلونو کښې واچولې شول.

خو د دې کاروایو سره طوفان نور سیوا شو. د هرې نوې ګرفتارۍ او وهلو ټکولو په نتیجه کښې مزاحمت نور سخت شو او آخر چې د لندن اعتراضونه د برداشت نه اُوتل، ګاندهي په خلورم مئي اُنیولې شو. ګاندهي په دې موقع خپل وطنوالو ته دا پیغام ورکړو چې مزاحمت جاري اُساتې ولې دا خیال دِ اُساتلې شي چې مزاحمت سره تشدد ملګرې نشي.

لس کاله وړاندې هم داسې یو کامیاب تحریک کښې د تشدد پیدا کیدو په وجه ګاندهي دَ دغه تحریک دختمیدو اعلان کړې وُو او هندوستانیانو ته هغه خبره اوس هم

یادٔه وه دا واړ دوی د ګهاندي صبر په آزمینت کښې اچول نه غوښتل هندوستانیانو په دې تحریک کښې ځان د تشدد د نه لرې اساتلو.

د پښتونخوا په سیمه د تحریک په جواب کښې د انګریز واکدارانوزور ظلم پوري اشلولې. د اپریل د رومبنۍ هفتې نه پس صوبې ته د اخباري رپورټرانو په ټک پابندي اګلولې شوه او د صوبې اخبارونه به په درنه پیمانه سنسر کولې شول. په ټول لاسې اولس د ډزو وهلو ټکولو او شرمولو په بابله ډیرې افواکاني ګرځیدې راګرځیدې ولې انګریز واکداران د پښتنو په دغه بهادره سیمه داسې تورتم جوړ کړي وو چې د خبرونو او افواکانو تصدیق چا کولې نشو.

کانګریس د حالاتو د جاج اخستو د پاره یوه کمیټۍ اټا کله د دې کمیټۍ مشر وتهال بهائي پټیل مقرر کړې شو چا چې اوس اوس د قانون سازې اسمبلۍ د سپیکر د عهدې نه استعفی ورکړې وه. دې کمیټۍ ته دا کاراسپارلې شو چې د پښتونخوا د حالاتو صحي جاج واخلي. حکومت د کانګریس د کمیټۍ په ځواب کښې خپله یوه کمیټۍ جوړه کړه د دې نوم سلیمان کمیټي وو او حکومت د کانګریس د کمیټۍ نمائندګان د پولې نه واپس کړل. پټیل او د

هغه ملګري د پښتونخوا سره نژدې د پنجاب صوبې پنډۍ ښار کښې ډېره شول او د هلته نه ېې د حالاتو پلټنه شورو کړه. دې کمیټۍ یو کم اتیا ګواهانو سره مرکه اُکړه او د دوۍ د شهادتونو په رڼا کښې ېې یو پراخه رپورټ تیار کړو. حکومت په دې رپورټ د مخې سره پابندي اُلګوله دې رپورټ کښې ویل شوي وو چې دَ پښتونخوا په اُولس څومره زور، ظلم او زیاتي شوي دَه داسې زور زیاتي د دې نه وړاندې د هندوستان استوګنو نه دَه لیدلې.

خو په پښتون د زور او ظلم د قیصو سره سره دَ هندوستان استوګن د دې رپورټ په وسیله د هغې مړانې او بهادرۍ د قیصو نه هم خبر شول کومه مړانه چې د پښتنو په برخه رسیدلې دَه. هندوستانیان خبر شول چې نش لاسي پښتون د عدم تشدد په قوت دَ وسله بند انګریز څنګه مقابله کړې دَه.

صحي او ریښتوني خبره خو داوه چې د پښتنو مړانې او غیرت او د آزادۍ د پاره د دوۍ قربانو د هندوستان د آزادۍ لاره هموار کړې دَه. وائي چې انګریز یوهوښیاړ او چالاک واکدار وو وېې د پښتون سره ېې د آزادۍ سودا او نکړې شوه. دې لړ کښې د پښتون دلیل ډېر

لنډه دې هغه دا چې " غلامي نه منم "

ډېرې خبرې سرېږي يو چې د پېښور د اړي کړې قيصه د خانې نه شورو کيږي.

د کال ۱۹۳۰ء د جنورۍ په ړومبني تاريخ چې لاهور کښې د آزادۍ کوم اعلان شوې وو. دا ټول هندوستان کښې اولسي غونډو کښې اوروڼې شوې وو. د غه اعلان پښتونخوا کښې هم په جلسو او غونډو کښې اوروڼې شوې وو. د دې اعلان سره سمدستي لوې خان د دهٔ سرخپوش خدائي خدمتګارانو ډېر په تندۍ سره د تعليم او تنظيم کار شورو کړې وو. صوبې کښې بې د کلو دورې شورو کړې وې انګريز واګدار د خدائي خدمتګارانو د تعليم او تنظيم کار ته کتې نهٔ شول هغوئ په پښتنو باور هم نه کولو ولې دَ هغوئ د غصې نه بې هم خان ځ ساتل غوښتل او په دا وجه د باني په لټون کښې وو. دَ سوچ او فکر نه وروستو د پيښور چيف کمشنر خان ته د دهٔ سرهٔ د ليډو پيغام ور اُليږلو ده خان ته حکم ورکړو چې ستا خدائي خدمتګارانو کوم کار شورو کړې دې دا دې بند کړې شي.

د پښتنو دې فقير باچا دهٔ ته او وې چې دا خو په بنيادي توګه يو اولسي او د خېر نيکړې تحريک دې. دا خه سياسي

تحریک نه دي. دا اووې چې دا خو د حکومت کار دی چې داسې تحریکونه شورو کړي او اولس ته تعلیم ورکړي نو خو د حکومت کار کوُوم. په کار خو دا وه چې حکومت دې کار کښې ځما مرسته اُوکړي. ځما ملګرتیا اوکړي او ځما کار آسان کړي.

کمشنر د خان په خبره غوږ او نه ګرځولو او نه خان د انګریز پیټ سترګي په خبره ځان پوه کړو خان خپلو خدائي خدمتګارانو ته اووې چې د پښتونخوا کلي په کلي او کوخه په کوخه خوارۀ شی. پښتنو ته اووایئ چې په خپلو ماشومانو نولن دي او که جینکۍ تعلیم حاصل کړي چې د قام وکړي دَ یو بل په کار راشي. پښتنو ته غږ ورکړي شو چې خپلو کښې دښمنۍ ختمې کړي. او دیو بل ګریوان ته لاس مه اچوئ دې کښې څه مراننه نشته خپل ورور نوبور ته عزت او درناوي ورکوي چې ستاسو ټولو خپل عزت سیوا شي. یو بل ته په درنه سترګه ګوري د یو بل په کار راځي.

دې دوران کښې یو څو هفتې روستو ګانډهي د ډانډي سمندر غاړې ته راُو رسیدو او مالګه یې د سمندر نه را اوچته کړه. دا اندازه لګولې شویده چې دَ دې نه یو څو ورځو کښې دننه د پېښور ټولو اسنوکښو د مالګې قانون مات کړو. انګریز واکدار د پښتنو په دغه

بوټ نه. ورنکي سیمه خان کمزوري ګڼلو دوی په دې پوه وو چې د پښتون قابو کول یو ګران کار دې. دوی یرې اخښي وو چې د یخوا په څېر دا ټوله صوبه اور واخلي ولې چې د دوی په خیال د دې سیمې اور هم زیات تود وي.

د کال ۱۹۳۰ء دروشپتم اپریل خان اُتمانزو کښې یوې لوئې غونډې ته خپل تقریر کښې په سول مزاحمت کښې د شاملیدو هدایت اُکړو دې په خپله یوې بلې جلسې ته د تقریر کولو په غرض د پیښور په لور روان شو. د ناګهه سره دې ګرفتار کړې شو د دغې کلي اُولس د لوئې باچا خان سره د عقیدت او د ده د ګرفتارۍ خلاف د احتجاج په توګه اعلان اُکړو چې د نن نه پس به زمونږ د کلي ټول خلک خدائي خدمتګاران وي.

د باچا خان د ګرفتارۍ خبر داسې په تندۍ سره خور شو لکه چې ځنګل کښې د وچو وښو اور خوریږي د سترګو په رپ کښې په زرګونو مظاهره کوونکي د جیل نه تاؤ شول. دا ښه اُشول چې د باچا خان مشر رور ډاکټر خان صیب په موقع را اورسیدو او پاریدلي اولس ته یې اُدئیل چې په عدم تشدد قائم پاتې شئ. هم په دغه وخت باچا خان او د ده څلورو ملګرو ته درې

کاله سزا اوړول شوي وه او دوی د خپلې پښتونخوا نه د څه پیښې نه بغیر بل چرته روان کړې شول.

بل خوا پښتونخوا د علام تشدد د لاسه په چاودلو راغلې وه پیښور کښې هم په دغه ورځ سحر وختي د خدائي خدمتګار تنظیم نور مشران نیولي شوي وُو. او غرمه پورې ټول ښار کښې عام هړتال شوروع شوې وو. د ګرفتارو خلاف چې خلک قیصه خوانۍ بازار کښې راټول شوي وو د نژدې چاوڼۍ نه فوځیان دریو بکتر بند ګاډو کښې را اورسیدل.

دغه وخت پورې ټولې ګرفتارۍ په امن ناکه توګه شوې وې او د پولس یو سب انسپکټر دغه بازار کښې راټول شوو خلکو نه اووې چې کورونو ته لاړ شئ او څه تشدد او نکړئ. خلک د سب انسپکټر په وینا روان شول او دا سې څه اراده یې نه وه کنې دوی به تشدد کوي. د کانګرس تحقیقاتي کمیټۍ هم په دغه نتیجه را رسیدلي وه چې د قیصه خوانۍ بازار دغه خلک چې د ګرفتارو خلاف د احتجاج کولو په غرض را جمع شوي وو. د پولس په وینا خواره کیدل. دې دوران کښې ناڅاپي د شا د مخې درې بکتربند ګاډي ښه په پوره رفتار په بازار را ننوتل او د خلکو

په غونډه ور اُختل په دې وجه ډېر کسان چیني شول څه ژوبل شول او یو څو کسان هم په دغه ځاې مړه شول. دا خلک بیخي تش لاسي وو. د دوی په لاسو کښې څه کانړي یا چوکې هم نه وې. د پښتنو دا غونډه چې د باچا خان د عدم تشدد په فلسفه کلکه ولاړه وه ډیره په قرار پاتې شوه، ډیر په صبر او استقلال او وقار سره یې خپل ژوبل او شهیدان شوي کسان را ټول کړل.

د کانګریس رپورټ کښې لیکل شوي دي. چې په دې پیښه نور کسان را ټول شول فوځیانو ته د ګولو چلولو حکم ور کړې شو انګریز واکدار په دوی ډزې شورو کړې ګڼ کسان شهیدان او ژوبل کړې شول او د دې ډزو په نتیجه کښې خلک لږ په شا شول.

پاؤ د پاسه یولس بجې څنه درېمګړو را غونډې شوي کسانو ته اووې چې خوارۀ وارۀ شي او د حکومت واکدارو ته یې هم خواست اوکړو چې خپل فوځیان او بکتر بند ګاډي وروستو کړي. دې کسانو اووې چې مونږ څو دې ځاې پرېښودو ته تیار یو ولې دومره اجازت غوارو چې دا خپل مړي او ژوبل کسان را ټول کړو. بل خوا د حکومت واکدارو فوځیان او ګاډي د وروستو کولو

نه انکار اُکړو . د دې نتیجه دا شوه چې را غونډ شوي کسانو هم د خوړیدو نه انکار اوکړو دوی او وې چې مونږ ګولو زغملو او د خپل سر قربانۍ ورکولو ته تیار یو او د هې نه پس د حکومت په نشه کښې مست واکدارو د ګولۍ چلولو حکم ورکړو او دا ډزې دریو ګهنټو پورې جارې وې.

د هارورډ چنی شارپ د عدم تشدد تحریکونو په لړ کښې د پېښور د قیصه خوانۍ بازار د ډزو په بابله لیکي چې :-

" چې کله د رومبي قطار خلک ژوبل شول او را پرېوتل نو دوی پسې چې کوم ولاړ وو هغوی را وړاندې شول. د دوی ټټرونه بربنډ وو او ګولو ته مخامخ شول. دې مړو او ژوبل کسانو کښې داسې هم ؤو چې یو ویشت یوویشت ګولۍ لګیدلي وو. او د غلته ټول موجود کسان ډیر په استقلال او وقار سره د ګولو په انتظار کښې ولاړ ؤو."

د حیرانتیا خبره دا ده چې د ګولو په باران کښې یو کس هم داسې نه وو چې هغه د ویرې ښکارندونه کړي وي بلکې یو ځلمي پښتون را وړاندې شو، د فوځي په مخه اُودرید و او ورنه یې اووې چې دا دې زهٔ حاضر یم ګولۍ

چلوه. فوځي کولۍ اُچلوله او دې بې په ځائې اُوژلو د پښتنو ننکیالو دغه غونډه په ځائې ولاړه وه. فوځیان ورته مخامخ ولاړ وو او په دوی کولۍ وریدلې او ورو ورو د مړو او ژوبلو کسانو یوه دله جوړه شوه؟

د لاهور نه شائع کیدونکي اینګلو انډین اخبار چې د سرکاري فکر ښرکندونه کوي په خپله دا خبره منلې وه. چې خلک په خپله خوښه یو په یو ډزو ته را مخامخ شول او چې څوک به ژوبل شول هغه به اوچت کړې شول او نور کسان به را وړاندې شول. داسې ډز چوز د سحر یولسو بجو نه ماښام پنځو بجو پورې جاري وُو. چې دشهیدانو شمیر ډیر سیوا شو سرکاري ایمبولینس کاډې کښې واچولې شول او ښخ کړې شول.

فوځیانو په دغه ډول نهوله ورځ د پښتنو وینه توئې کړه د هندوستان یوجج لیکلي وو" چې پښتون د مرګ نه تیښته نه کوي. ده لیکلي وو چې که څوک دا رائې قائمه کړي چې پښتون د خطرې نه ځان اُباسي نو په دې خبره پوهیدل په کار دي چې ده پښتون پیژندلي نه دي. نن د پښتون د مړانې ورځ وه. د انګریز واکدار دا ارمان یو ځلې بیا نیمګړې او نیمه خوا پاتې شو چې پښتون د دَ

دښمنۍ دَ ډېرو نه اُخېستي. دَ انګرېز په رپورټ کښې وېلې شوي وُو. چې په دې موقع د دوؤ نه دريو سوو پورې کسان شهيدان کړې شوي وُو. او هم دومره کسان ټوپل کړې شوي وو. دَ دې پېښې نه د انګرېز دَ ځناورتوب او دَ پښتون سره دَ دښمنۍ ښه اندازه کېدې شي.

په دې ورځ په يو وخت حکومت ګړهوال رائفلز ته په غونډه دَ ډزو کولو حکم ورکړو. ګړهوال رائفلز د حکم منلو ته انکار اوکړو. ددوئ اُووې چې مونږ په نشې لاسي اُولس ډزې نشو کولې. تاسو که غواړئ مونږ دَ سزا په توګه د توپ خانې فائر ته وړاندې کولې شئ. دا خبره د ياده وي چې کله د ۱۸۵۷ء بغاوت ناکامه شو نو دې کښې شريک فوځيان د سزا په توګه د توپو ګولو ته وړاندې کړې شوي وو. او رېځې رېځې شوي وو.

چې د ګړهوال رائفلز د مړانې خبر په هندوستان خور شو نو خلک ډېر خوشحاله شول ولې دې رائفلز کښې شاملو فوځيانو ددوئ قيمت ورکړو. ټول پلاټون ګرفتار کړې شو. اولس کسان کورټ مارشل کړې شول او سزا ورکړې

شوه. یو کس د ټول عمر د پاره جلا وطن کړې شو، یو کس پنځلس کاله قید کړې شو او باقي ټولو کسانو ته مشقتي سزاګانې واوروله شوې.

دا په ټوله نړۍ کښې یوه مشهوره رجمنټ وه چې د خپلې مړانې او وفادارۍ د پاره مشهوره وه او دحکم منلو نه د دې انکار انګریز واکدار ته د لوئې بغاوت ورځې وریادې کړې او دغه وجه ده چې انګریز واکدار د دې د ځنیوې پخه او کلکه اراده کړې وه آخر دغه اُشوه او د مالګې قانون ماتولو تحریک کښې چې کوم په زرګونو کسان نیول شوي وو. هغوی له خلاص کړې شول ولې ګړهوال رائفلز کسانو خپلې پوره سزاګانې تیرې کړې.

پېښور کښې خپله هغه وخت اړې کړې جوړ شو کله چې پولس او فوځ د مظاهرو د ځنیوې هسه اُکړه د کانګریس رپورټ کښې وئیلې شوي وو چې د راتلونکو دوه ورځو د پاره پېښور د انګریز واکدار د زور ظلم د لاسه یو دوزخ جوړ شو او دلته استوګنه ناممکنه وه. د پنځویشتم تاریخ په شپه فوځ او پولس ښار خالي کړو او دائې د خدائي خدمتګارو رضاکارو

نه پرېښو يو څو ورځې پس نوح او پولس بيا د ښار بندوبست خپل لاس کښې واخستو او دا وار دوی ړومبې دا کار اُوکړو چې د خدائي خدمتګارو تنظيم ئې غير قانوني اوګرځولو، د دې تنظيم ټول دفترونه ئې بند کړل کاغذونه او ريکارډ ئې تباه کړو او دَ تنظيم پيسې ټکې او پنګه ئې قبضه کړې. د کانګرس رپورټ کښې وئيل شوي دُو چې په دوئيم وار د ښار قبضه اَخستو نه پس:

ښار په عملي توګه د مارشل لا لاندې دې. پېښور کښې د هيچا آزادی او سر و مال محفوظ نه دې. د پښتنو دا صوبه د ټول دنيا د پاره ممنوعه سيمه ده. دا صوبه دَ ټول هندوستان نه پرېکړې شوي وه او هيڅ يو سياسي مشر ته دغلته د تلو اِجازت نشته. د دې ټول زور او جبر باوجود دَ پښتون اُولس جذبه ماته شوي نه ده او ښه په کلکه په عدم تشدد عمل کوي.

په دغه ورځ د خان په کلي کښې هم د زور ظلم ابتداء اُوکړې شوه. ډاکټر خان صيب چې پېښور کښې د خپل ورور باچا خان د جيل نه تاؤ شوے اُولس خبر کړو نو ده واؤريدل چې اُتمانزو کښې هم يوه اُولسي جرګه را بللې شويده. دې ډير په تندی هلته اُرسيدو

چې د خلکو مدد اُکړي. دې ر ډاکټر خان چې بیا د
خیلې صوبې وزیر اعلیٰ اُ ټاکلې شو) وائي چې په دغه
موقع ما په اوّل ځل سیاسي تقریر اُکړو. ډاکټر خان
صیب اُولس ته خواست اُکړو چې په عدم تشدد ولاړ
اُسي. چې څنګه ده خپل تقریر ختم کړو کائیډز کیولري
د غلته را اُرسیده.

دکائیډز کماندر اِعلان اُکړو چې زر خواره شي ګني
ځاکسان به ډزې شورو کړې چې چا د ده په خبره
غوږ اُ نه ګرولو، ده ډاکټر خان صیب ته د مدد
کولو د پاره خواست اُکړو. ډاکټر خان صیب کمانډر
ته اووې چې ستا د پاره غوره خبره دا ده چې په
کومه لار راغلې یې په هغه لاره والپس لاړ شه او
مونږ پرېږده چې د خپل هدف په لور روان شو ولې
که ته ګولۍ چلول غواړې نو دا کار اوس اُکړه ولې
چې که مونږ د دې ځایه روان شول د هغې نه پس
به ګولۍ چلول ته د مړانې کار نه وي.

په دروغه د رعب داب اچولو نه پس کیولري روانه
شوه او خدائي خدمت کاران په خپل مارچ روان شول
لږه شیبه پس کیولرۍ په دوی (خدائي خدمتګارانو)

حمله اُکړه. ډاکټر خان صیب په دا موقع ډیره په

تاؤ او نرېوالي دا خبره کړې وه چې انګرېزي واکدار

بې عقله شوې دي دوی زور ظلم جاري اوساتو. خو

خدائي خدمت‌کارانو د انګرېزي د زور او جبر ځواب

په تشدد ورنکړو. د دې نتیجه کښې د ستمبر آخره

پورې د خدائي خدمت‌کارانو تسمیر اتیاؤ زره ته اُرسیدو.

هغه خبره چې انګرېزي نرې پرېدلې وُه. او هندوستان

ورته‌کوته په خوله پاتې شوې وُو هغه د پښتون عدم

تشدد وُه. هیچا دا طمع نه وه کړې چې د پښتون په‌خیر

جنګیالې قام په عدم تشدد ولاړ پاتې کیدې شي. انګرېز

د پښتون د عدم تشدد په وجه د اعصابو رنځور شوې

وُو. انګرېزې پوهیدو چې سوړ او یخ پښتون د متشدد

پښتون نه زیات خطرناک ثابت کیدې شي. د خان وینا

ده چې انګرېز په پښتون د کوم زور او ظلم کولو دَ

هغې یک یو مقصد دا وُو چې پښتون په اشتعال کښې

راولې. د حکومت د انتها پسندی د کوششونو هدف

داؤد چې پښتون په عدم تشدد ولاړ پاتې کیدو کوم

لوظ کړې دې دا مات کړې شي او چې کله پښتون

د عدم تشدد نه په شا شي، انګرېز واکدار ته به په

پښتون د زور ظلم کولو جوګ پیدا شي. انګریز به د احقیقت هم رسیدلې وو. چې پښتون په کومو کومو خبرو اشتعال کښې راتلې شي. دې مکار واکدار خدائي خدمتګاران خپل لوظ او قول ماتولو ته تیار کړل.

د کال ۱۹۳۰ء په دیارلسم مئ سرکاري فوځونه د سحر راچاودو نه اکاهو اتمانزو ته واپس شوي وُو. لا تیارهٔ نه وه چې راغلې چې اته سوه انګریزي فوځ، د انډین کیولري یوه رجمنټ سره د څلورو توپو او بې شمیره ګنونو دَ اتمانزو دَ کلي نه تاؤ شول په دغه وخت دَ دې کلي ټوله آبادي د ښځو نه نه دیاته نه وه. سحر وختي فوځیان په کلي ور دننه شول او هغه ځائ یې قابو کړو چرته چې د خدائي خدمتګارانو هیډکوارټر وو. چې دویم دروازه ماته نه کړي شوه نو په دیوالونو ور اُختل. دغلته د خدائي خدمتګارانو کمانډر رب نواز خان په دغه عمارت کښې ټولو رضاکارو ته او وې چې د عدم تشدد لوظ یاد ساتئ. د دې مقصد دا ؤ چې فوځیانو ته د تشدد جواب په تشدد سره مه ورکوئ.

انګریز ډپټي کمشنر چا چې په فیصله خوانی کښې فوځ ته په پښتنو د ګولو چلولو حکم ورکړې وو دلته هم پولیس ته حکم ورکړو چې دَ دغه عمارت ته کلی ته راشی

او خپل سور یونیفارم اُباسی. دوی د دې خبرې نه انکار اُوکړو. ډپټي کمشنر خپله تماچه را اوویسته او دَ یو پښتون په سینه یې کینوه. دهٔ ورته اُووې چې خپله سره وردي اُباسه کني ګولۍ چلوُوم"

خدائي خدمتګار ورته ډېر په تسلۍ سره اووې چې " صیبه داسې خو نشي کیدې. چې خو پورې یو پښتون ژوندۍ وي د هغه جامې څوک ایستې نشي؟

دې د ټوپک په بټ اُوهلې شو چې بې هوشه راپرېوتو نو بیا یې دَ دهٔ جامې اُشلولې.

دهٔ پسې فیض محمد نومې سړې هم د وردۍ ایستلو نه انکار اُکړو. ټوځیان د دهٔ په وهلو لګیا شول. دا یو لوړ دنګ او تنومند سړې وُو، دهٔ خو ټه جګړه نه کوله ولې بیا هم د دهٔ وهلو او لغنډولو د پاره د اَتو نهو کسانو ضرورت وو. لنډه دا چې دا کس هم بې دردۍ سره اُوهلې او اُټکولې شو. دومره چې بې هوشه راپرېوتو.

په دې ډول یو په یو ټول رضاکار اُوهلې شول. څنه کسان د کوټې د چهت نه کلۍ ته راګوزار کړې شول. هیچا د ځان په دفاع کښې لاس یا خپې نه حرکت ورنکړو او نه دوی نیښته اُوکړه.

فوځیان محمد نجیب خان ته را او رسیدل. دې کار

خدائي خدمتګار کپتان وو دې هم ډیر بیدردئ سره ډهلو شو او آخر د دۀ ته قمیص ایستولو کښې کامیاب شول. خو چې کله دۀ ته بیا حکم ورکړې شو چې پټوک هم اُباسه، دَ دۀ په مخ کښې وینه اُوچه شو. دوئ ته باچا خان ویلی وو چې د مرګ نه به یریږې نه او دا کپتان مرګ ته تیار وو وئی د انګریزي واکدار په حکم او دَ هغوئ په وړاندې د یرې نه پټوک ایستل د مرګ نه هم سیوا خبرۀ ده. د دغې خبرې نه مرګ غوره او غورناک وو. دۀ په دې اراده مل وه کړه چې ټوپک نه لاس کړي او د پښتون په خیر مړ شي.

په دې موقع دَ دۀ کماندر محمد نقیب ده ته او وې بس دومره زړ ستا صبر تمام شو؟ تا خو دا لوظ کړې وو چې زۀ به مرګ پورې په عدم تشدد کلک ولاړ یم.

دا د باچا خان کرشمه وه او کنه د پښتون د قوت مظاهره چې دا سې سختو حالاتو کښې هم دوئ په خپل لوظ پورۀ آخل یو خوا د انګریزي واکدار قهر او جبر او بل خوا د پښتون وګړي استقلال دا دواړه متضادې خوئ یوه حیران کوونکی ننداره وړاندې کوي د هندوستان د آزادئ دَ تحریک

د یو مشر وینا ده چې" د هندوستان د آزادئ په غورځنګ کښې دَ هر څه نه لویه معجزه د پښتون په عدم تشدد ولاړ پاتې کیدل دي" دَ کمال خبره دا ده چې هغه پښتو چې دَ وسلې سره لکه د ناوې مینه لري. هغه ټوپک تماچه کوزار کړه او د بې رحم انګریز واکدار مقابله بې په تش لاس اوکړه. دا دومره عظیم قوّت پښتون کښې د کومې راغې؟ دَ دې مقصد دا دې چې پښتون یو زرخیزه او د قوت ښکتن قام دې او که دَ دهٔ دَدوې د پاره جک جوړ حالات ده نه په لاس ورشي نو دې د نړئ یو ډیر نورزن، بانوړ او ترقي یافته قام جوړیدې شي. ولې د پښتون ډیرې خوبې یو طرف نه او یوه کمي بې په بل لوري دا یوه کمي د ده خوبې داسې خوري لکه څنګه چې د سمندر غټې کبان وړکوټي کبان خوري. د پښتون دا کمي دَ دهٔ بې اتفاقي ده. خوشحال خټک هم په یوه موقع په افسوس سره ویلي وُو چې د مغل نه ځما هره یوه چاره ښه وه خو افسوس چې پښتون کښې اتفاق نشته.

انګریز فوځ په دغه تسلي نه شو. دوئي دَ خدائي خدمتګارو هیډ کوارټر اُسوزولو او د کلي په لوټ ملړ ور اَت شول. د کلي استوګن نهٔ پښو نه تلي تسول، نه

بهر راوتې شول او نه د اودس ماتي په غرض دَ
کوره نه راوتلې شول. انګریز واکدار دومره ځنور شوې
ؤ چې د کلي نه بهر خاروي هم اوبستل او چې چا
به سُور قمیص اچولې ؤ هغه به وهلې شو او نیغ به
جیل ته لیږلې شو.

آخر د اتمانزو کلي صفا کړې شو. د ګرفتارولو د پاره
خوک رمه کار نه وو پاتې. نور خوک سرخپوش شته؟ انګریز
کمشنر په فخر او ویاړ لکه د ګولهانک سپي اتمیدو.

د یو عباس خان د پاره د انګریز داچیلنج دَ زغم او
برداشت نه بهر وه. دې په خپله سرخپوش خو نه وو خو
دهٔ د پاره د انګریز واکدار داسې د فخر ځناورتوب
برداشت کول دَ پښتنوله دَ دایرې نه بهر وه.

عباس خان په تُندئ سره کورته لاړ. زر زر بې
خپل قمیص نه سور رنګ ورکړو. او لوند قمیص بې
واچولو، کلي ته په منډه منډه راغلو او د انګریز کمشنر
په وړاندې لکه د ازمري اُکړمبیدو. "چې صیب! دا دې
آخري سرخپوش ستا په وړاندې ولاړ دې"

دا یواځې د عباس خان خبره نه وه هر یو پښتون
ګوری په ځان فخر کوي او هغه خو د ځان بې عزتي

برداشت کولې نشي ولې د خپل قام سپکاوې نه برداشت کوي. دا دَ انګرېز دَ زور او جبر جواب وُو چې باچا خان په خپله یو زر رضاکار بهرتي کړي وو ولې دَ انګرېز د زور او ظلم په ردِ عمل کښې اتیا زره کسان د خدائي خدمتګار په تنظیم کښې شامل شول. دا راتې سرې په آسانه سره قائمولې نشي چې داکه بل څوک وُو نو د انګرېز د زور ظلم په جواب کښې به د دغې تنظیم نه څنګ نه شوي وُو ولې پښتون په نور زیات شمیر کښې دغه تنظیم کښې شامل شو پښتون او دَ هندوستان په نورو قامونو کښې دغه فرق دې.

چې حکومت دَ پښتنو په یَرَوَلو کښې ناکامه شونوبې طریقې هم په کار را وستې اګست کښې مارشل لا اُلګولې شوه او صوبه په مکمل ډول فوځ ته اُسپارلې شوه — خدائي خدمتګاران به نیولې شول او عجیبه عجیبه سزاګانې به ورکولې شوې، یو هم جو استېټ سپرنټنډنټ بناغلې جسمین به رضاکار لغنډول، د خلکو په وړاندې به بې شرمول او بیا به د سخا ، نجچنو او بدبودارو اُوبو تالاوونو کښې غوپه کولې شول. د څنه رضاکارو د پاره د بې عزتۍ دا انداز برداشت کول مشکل وو، هغوی خودکشۍ اُوکړې

ولې د عدم تشدد لوظ يې مات نه کړو.

انګريز دا کوشش هم وکړو چې د خدائي خدمتګار په تحريک د بالشويک داغ ولګوي. انګريز کمشنر د کلو مشرانو ته بوه چټهي وليکله. دې کښې وئيل شوي وُو چې:

تاسو خپلو کلو کښې د کانګريس په رضاکارو دا پابندي ولګوي چې دوي سرې جامې نه اچوي. دا کسان ځان ته خدائي خدمتګاران وائي ولې په اصل کښې دوي د ګاندهي خدمتګار دي. دا د بالشويکو وردي اچوي دا به ستاسو د پاره هغه حالات پيدا کړي کوم چې بالشويکو د خپلو وطن والو د پاره پيدا کړي وو.

يو پښتون ليکوال ښاغلي محمد يونس ليکي چې:

د دې پېښو نه پس دوه کاله صوبې کښې تکه تورة تيارة وه قدم په قدم ګولۍ چلولې شوې وهل به کولې شول او د اشتعال تور کارونه به کولې شول. د پښتنو ټخوا اُولس د دې نه اګاهو چرې داسې تکليف نه وو برداشت کړې چې دوي به يې بدل نه شو اخستې. په دغه وخت يو امريکي سيل ګر ليکلي وُو چې " د انګريزي فوځ ښه تفريح د خوښي ښکار او د وخت تيرولو مزيدارة او خونده ورة ذريعه د سرخپوشو ويشتل او وژل دي"

د کوهاټ په سخته ېځنی کښې په زمونږ کسان اُوهلې شول او بیا به د بنار په مېنځ کښې د اُوبو یځې ولې ته ور واچولې شول. بنوں او ډیره اسمٰعیل خان کښې هم دا قیصه څه مختلفه نه ده. دلته د کلو نه نوځیان ناوُ شوي وو، مقصد ېې دا وُو چې د لوږې او تندې د لاسه کلیوال تنګ کړې شي او په اطاعت او تابعدارۍ مجبور کړې شي د صوابۍ د استوګنو ېټې او فصلونه تباه کړې شول، د دوی د غنمو په ذخیرو تیل واچولې شول او تیلې ورته کړې شو.

خو پښتون اُولس ، د دې خفیفت باوجود چې د تشدد او خونریزۍ په ماحول کښې لوئې شوې وُو او پائېدلې وُو خو د آزادۍ حاصلولو په خاطر ېې د زور او جبر او ظلم دا سوي لوي رویه په سرو سینه اُ زغمله.

د انګریز واکمن د پاړه کار بیځې بند شو. دا تحریک ډیر په قوت سره خور شو. ټول برصغیر کښې هڑتالونه وو، پیکټې وې غونډې وې. پریډونه وو او د انګریز د واک خلاف توري ېې شمیره کاروایانې روانې وې د کال ۱۹۳۰ء ټوله یځنې په دې ټول تیره شوه. ټول هندوستانیان په عدم تشدد ولاړ پاتې شول.

د کال په آخر کښې لارډ اېروين په يوې لوظنامې د خبرو اترو د پاره ګاندهي ته دلی ته د راتلو بلنه ورکړه وه مېني حل برطانيې په سرکاري توګه ګاندهي او د ده تحريک اُمنلو.

د يو څو ورځو د خبرو اترو نه پس ګاندهي او اروين د برابرتيا په بنياد په يوې لوظنامې لاس ليکونه اُکړل د سول نافرمانۍ تحريک ختم کړې شو د ټول هندوستان کښې ګرفتار کړې شوي سياسي قيديان را خلاص کړې شول. د پښتونخوا په سيمه د خان د تحريک په نتيجه کښې حکومت هغه رعايتونو ورکولو ته مجبور شو د کومو چې له ډيرې مودې راسې غوښتنه کيده. هغه څوک چې د دې غوښتنو سره ېې څه همدردي نه وه هغوی هم دا خبره مني چې د کانګريس او سرخپوشو د دباؤ په وجه پښتونخوا د ګورنرۍ صوبه اُګرځولې شوه. دلته اوس يو کورنۍ وزير د حکومت مشر جوړيدې شو. آخر پښتون د برطانوي هندوستان د نورو سيمو سره اُبره په اُبره شو. اوس د دوی خپل پښتنون رور د صوبې اعلی وزير جوړيدې شو.

ولې د ګاندهي او اِروِن تر مینځه چې کومه لوظنامه اُشوه دې هیڅوک مطمئن نه کړل. لندن کښې د سیاستدانانو خیال وه چې د دې لوظنامې نه ډیر رعایتونه ورکړې شوي دي. د هندوستانیانو په خیال کښې چې هغوی د آزادۍ په طمع ناست وو، ګاندهي څه دَ ذکر وړ کامیابي نه وه تر لاسه کړې. اګر چې دا لوظنامه په شروع کښې بې نتیجې ښکاریده ولې حقیقت دا وُو چې د ګاندهي او اِروِن لوظنامه دَ امپریلزم د خاتمې ابتدا وه. چرچل په دې خبره رسیدلی وُو. هغه پوهیدو چې تاریخ د هر چا نه زیات پوهه دې. دا لوظنامه دَ هغه په خیال کښې د انګریزي واک د مرګ تهلی وه.

## یولسم باب

# مهذبه څوک دي انګریز که پښتون ؟

(۱۹۳۱ـ ۱۹۳۴ء)

ځا سره د ناپ تول او پیمائش یو معیار دی او دا پیمانه الله تعالیٰ ته ځان سپارل دي. (حضرت باچاخان)

پښتون د ژوند په هره یوه معامله کښې په الله تعالیٰ ساده او کلکه عقیده لري. د یو پوخ مسلمان په حیث دې پنځه وخته مونځ کوي. دې د کلي د ملا نه راهنمائي حاصلوي او دا وجه ده چې د پښتنو قبیلوي ژوند کښې ملا د طاقت او قوت سرچینه وي. دا خبره صحي ده چې د پښتنو جنګیالي او تکیالي جنګونه کوي ولې ملایان دې جنګونو ته قوت ورښښي. ملا مستون، دَ چرچل بیوني فقیر د دې یو مثال دې.

په صحي معنو کښې پر هیڅ کاره بنیادم د پښتنو خوښ وي. د پښتنو غرونه د پیرانو او فقیرانو د مقبرو او زیارتونو نه ډک دي. حقیقت کښې دغه ځایونه د قوت او طاقت مرکز و نه

دي او يوه هم داسې قبيله نشته چې ته چې د پير فقير او د پرهيزګاره بنيادم زيارت نه وي. هم په دې مقدس ځايونو پښتون د تمام د عزت او سرلوړي د پاره د خپل سر ورکولو لوظ او قسم کوي.

دا خو د خان د خوښې خبره نه وه ولې آشول داسې چې اولس ده ته د يو بزرګ او د برخې د څښتن په نظر کتل شورو کړل. دې چې د ګاندهي او اروين تر مينځه د لوظنامې نه پس کال ۱۹۳۱ء کښې پښتونخوا ته واپس شو نو کليوال د ده نه تاؤ را تاؤ شول، د هغوی دا عقيده وه چې دې په سرې لاس اوودهي نو روغ جوړ شي. دې سره د دې خان زونذ دومره ساده وو چې دې د پښتون ګاندهي په نامه مشهور شوې وو.

دَ خان د پاره د ده دا نوم نه وو خوښ ده دَ طالب علمانو يوې غونډې ته اووې چې ځما دَ نوم سره د ګاندهي د نوم إضافه مه کوئ. تاسو چې ځما کوم تعريف او ستائنه کوي زه ځان د دې جوګه نه ګڼم — ستائنه د هغې "عدم تشدّد" دَ طريق کار په کار ده چې زمونږ د اُولس فطرت ئې بدل کړې دې. دې خان خپلو پښتنو ته په ساده او آسانو ټکو کښې دا خبره بيا بيا کوله

چې تاسو څه کومه ستاینه کړې ده په دې زه نه خوشحالیږم زه ستاسو په محنت خوشحالیږم. ده به پښتنو ته د محنت او خوارۍ کولو وینا کوله او وئیل به یې چې د دنیا کښې یوازې هغه قامونه عزت او درناوې مومې چې محنت کوي او د قام سره مینه لري او د قام د عظمت د پاره قربانۍ ورکوي هغه قامونه سر اُخوري او پناه شي څوک چې د نفاق په رنځ اخته وي.

ده به وئیل چې د خدائې د پاره ماته "باچا" مه وایئ. زه خو ستاسو خادم یم، ستاسو خدمتګار یم زه خوغواړم چې ستاسو چم ګاونډ جارو کړم او ستاسو بلاګانې په خپل سر واخلم. خو بیا هم د خپل اُولس د پاره ده باچا وو.

د خان خوراک ساده وو. ده به غوښه نه خوړه چائې به یې نه څښکلې. د خامتا کپړه به یې اچوله. دې دومره ساده وو چې د سړي به په دومره ساګه یقین نه راتلو.

خان اوس د پښتونخوا دکلو دورې شورو کړې وې. دا دورې څه آسانې نه وې دې چیر د مشکلاتو سره مخ وو. دوه واره په ده د مرګ حملې اُشوې. نه یوائې

انګریزانو او ملایانو د دهٔ مخالفت شورو کړي وُو، لویو لویو خانانو هم د اصلاحاتو د پاره د دهٔ کوششونو ته د تنګ په نظر کتل او دَ دوی خیال وُو چې بیدار او ویښ پښتون د دوی د مفادو د پاره خطره جوړې دې نسي. مالداره کسان همیشه د ناداره اُولس د اِتفاق او بیدارۍ نه یره کوي او په دا وجه هڅوی دا کوشش کوي چې ناداره او بې وسه اُولس تل د پاره هم دغه حالت کښې وي. دا هم یوه صحي خبره ده چې ملایانو هم د داسې تیپو تحفظ کولو او په دا وجه باچا خان یواځې وُو او دَ انګریز مالداره خانانو او ملایانو ټولو نه د دهٔ خلاف متکري شوي وو.

ناخواندګي دومره زیاته ده چې کلیوال د ځان ملګري کولو د پاره د ذاتي رابطې ضرورت وو. خان په صوبې کښې د هر یو کلي دوره کولو کوشش اُوکړو. دهٔ سره به پنډوکي کښې دوه جوړه کپړې وې او نور ضروري شیان به ورسره وو. دې به کله په خپلو خپو سفر کولو او کله په ټانګه کښې. هغه وخت لارۍ، موټرونه نه وې. ده به ورځ کښې شل پنځویشت میله سفر کولو او څلورو پنځو کلو نه به تلو، د کلیوالو سره به بې خبرې

اثري کولې، هغوی ته به ښې د قامي تحریک پیغام
رسولو. کله کله به د دهٔ ملګرو رضاکارو ډرامو
په ذریعه کليوالو ته د عدم تشدد د فلسفې سبق ورکولو.
چې دې به آخري کلي ته اُرسیدو. د دهٔ ړومبې
کار به د کلي جمات ته ورتلل وو. دهٔ به هلته جارو
اُوهله. دهٔ د جارو وهلو مطلب دا وُو چې زهٔ سناسو
خدمت کار راغلي یم. سناسو باچا نه یم. باچاخان دَ
پښتنو په طبیعت رسیدلې وُو. دهٔ ته علم وو چې پښتون
په خپلو کښې د برابر تیا په اُصولو عمل کوي. دې به کلي
کښې اکثر د غریب میلمه وو. دهٔ به د ماشومانو
سره مینه کوله او اکثر به دوه ماشومان دَ دهٔ په
پلنو اُرزو ناست وو او دهٔ به د کلیوالو سره خبرې اترې
هم کولې. دهٔ به دوی ته خپلو کښې د ورورولۍ، مینې
او محبت سبق ورکولو. که څهٔ به وه او که جمات، دهٔ
به د کلیوالو سره دا دوه خبرې کولې چې زمونږ د تحریک
مقصد خپل وطن د غلامۍ نه آزادول دي او غریب
او نادارهٔ اُولس ته ډوډۍ، کپړا او د سر سیورې ورکول
وي.

د خان خوبند و ټوله پښتونخوا کښې غونډو ته تقریرونه

کول. دَ پښتنو دَ دې لوې مشر دا اِرادہ وہ چې د هیواد زنانه هم را بیدارې کړې شي. ولې چې د زنانه وُو د بیدارۍ نه بغیر قام پر مختګ نه شي کولې دہ دَ زنانه وو د راویښولو کار شورو کړو او بس په یو کال پښتنو زنانه وُو زړہ دنیا شانه کړہ. دہُ بهائي ږو کښې د زنانه وُو یوې غونډې ته د تقریر کولو په وخت اووې چې :

"زہ نن یوہ خاص قسم خوشحالي محسوسوم ولې چې زہُ بهارت کښې چرته هم لاړم او ما دَ هندوانو او پارسیانو زنانه اُلیدې نو ما به دا سوچ کولو چې یا الله داسې ورځ به هم وي چې زہُ به پښتنو زنانه وُو کښې داسې بیدارې اولیدې شم. دا د لوې الله مهرباني دہ چې ځما خوب نن رښتونې کیږي."

د الله تعالیٰ په نظر کښې سړې او ښځې کښې ځه فرق نشته که یو د بل نه ښهٔ کیدې شي نو هغه یواځې دَ ښه او نیک کار په سبب ښه کیدې شي. که تاسو دَ تاریخ لوستنه اُکړۍ نو په تاسو به دا خبرہ څرګنده شي چې زنانه وو کښې عالمانې او شاعرانې پیدا شویدي

دا موږ یوه لویه غلطي کړې چې زنانه وو ته سپک کورو.

که موږ کامیابي اُمونده او خپل وطن مو آزاد کړو، نو ستاسو سره دا لوظ دې چې تاسو ته به ستاسو حقونه ورکولی شي د قرآن مطابق ستاسو برخه د سړو سره برابره ده. تاسو باندې زور زیاتی نن څکه کولی شي چې موږ ستاسو په حق کښې د الله او قرآن وینا هیره کړې ده. نن موږ د رواجونو په زنځیرونو تړل شوي یو او په تاسو زیاتی کوو. دا د الله تعالیٰ شکر دې چې موږ دا خبره محسوسه کړې ده چې زموږ ګټه او تاوان ترقي او تنزل، غم او خوشحالي شریک دي"

انګریز دا غوښتل چې بلچا خان د پښتونخوا د دورې نه لاس په سر شي. د پښتونخوا حکومت وائسرائي ته دا اطلاع ورکړه که باچا خان د دورې نه لاس په سر نه شو نو موږ د دهٔ د ګرفتارولو اراده کړې ده. ګاندهي په دې خبره احتجاج اُکړو او وې وئیل چې که باچا خان اُنیولې شو نو د حکومت سره به لوظنامه ختمه وي. دهٔ اودې چې ماته دِ دَ پښتونخوا دَ دورې اجازت راکړې شي چې زهٔ د حکومت دَ کابیت جائزه واخستې شم ده ته اجازت ورنکړې

شو ولی دَ دهٔ ځوې دېواداس نه د پښتونخوا د دورې کولو اجازت ورکړې شو۔ هغه رپورټ ورکړو۔ چې حکومت د باچا خان نه ځکه ېرېږي چې باچا خان پښتنو ته سیاسی شعور، پوهه او بیداري ورکول غواړی۔ دهٔ د پښتونخوا د شپږو ورځو د دورې نه پس خپل رپورټ کښې اووې چې:

" ما دا خبره محسوسه کړې ده چې د باچا خان عزت هغه کسان هم کوي چې دهٔ سره مخالفت لري او دَ دهٔ د قوت او دَ اولس سره د دهٔ د تړون نه متاثره دي"۔

پښتانه د باچاخان نه متأثره دي او دَ دهٔ دَ شخصیت اثر داسې دې لکه جادو۔ باچا خان د پښتنو د خدمت په جذبه کښې آرام کول هیر کړي دي۔ دې د یو کلي نه اوځي او په بل ورننوځي۔ داسې ښکاري لکه چې دَ دهٔ خپل کور نه وي او د هر پښتون کور د ده خپل کور وي۔ دې دَ اولس سره کېښني پاځي اوده او هغوی کښې څه فرق نشته۔

دې یو ساده انسان دې، د اولس سره د زړهٔ داخلهٔ مینه او محبت لري او په دې وجه دې د اولس په زړونو

کښې دي، اُولس هم دهٔ سرهٔ ښې کچه مینه کوي"

حکومت د هر یو سړک سرهٔ څلورو میلو فاصلې کښې په غونډو پابندي اُلګوله او د انګریزانو د مخبرۍ د محکمې افسران به هر وخت دهٔ پسې ګلېدلي وو. دَ برطانې اخبارونو کښې بهٔ د دهٔ په بابله ډېر عجیبه او دروغه خبرې لګلې شوې"ډېلي ایکسپریس" په باچاخان الزام اُلګولو چې دهٔ د انګریز حاکمیت خلاف جهاد شورو کړې دې. "ډېلي میل" اَووې چې (پښتونخوا) خود دروس بهرنۍ چوکۍ دهٔ. دې اخبار لیکلي وو چې د روس له اړخه ښېې ټکې پښتونخوا کښې تقسیمولې شي او د دې سیمې پښتون د انګریز سرهٔ د جنګ د پارهٔ تیاروولې شي" دهٔ اووې چې د دې پښتنو مشر د جیل مرغهٔ (JAIL BIRD) باچاخان دې څوک چې د انګریز نه سترېکېدونکې او نه پښیمانه کېدونکې دښمن دې.

د رکاوټونو باوجود باچاخان د پښتونخوا د کلو د دورې نه لاس په سر نشو. د رستم په کلي دفعه یو سل څلور څلویښتم لګولې شوې وهٔ. د دې نه مخکښې په اولسي غونډو پابندي لګولې شوې وهٔ.

باچاخان کلیوالو ته اووې چې د دې حکم خلاف ورزي

اُکړي ولې چې دا د لوظنامې خلاف ورزي ده. ده اُووې چې د مرګ نه مه برېږئ.

" دفعه یو سل څلور څلوېښتم (۱۴۴) ستاسو ازمینت دې چې تاسو د دې حکم خلاف ورزي اُنکړې شوه نو تاسو په د جنګ مېدان ته څنګه را اُوتي شئ د انګرېز سرکار د دې حکم هیڅ پرواه مه کوئ. تیار اوسئ او د عدم تشدد میدانِ جنګ ته را شئ. د عدم تشدد جنګ مقصد هغه جنګ دې چې ستاسو مشرانو څوارلس سوه کلونه آګاهو کړې وو.

په خپل ځان خپله حکومت کوي او د بل چا حکومت او حاکمیت ته غاړه مه ږدئ. ملا تړلي اوسئ او ځان د غیرو د حکومت او واک نه آزاد کړئ. که تاسو د جنګ په میدان د وطن د آزادۍ په هسه کښې مړه شوې نو څه خبره نه ده ځکه چې مرګ خو هسې هم حق دې."

د پښتونخوا په سیمه تاؤ ترېخوالي زیات شو د کال ۱۹۳۱ء په ۲۲ دسمبر د پښتونخوا چیف کمشنر سر رالف ګرفتهه باچا خان ته د یوې میلمستیا بلنه ورکړه باچا خان انکار اُکړو. ده اُووې چې څو پورې حکومت

په خدائي خدمتګارانو زور ظلم کوي هغه وخت پېدېږي زه د انګرېز سرکار سره د ناسته پاسته قائل نه یم. ګورنځه په خپله خبره ولاړ وو. ده د باچاخان د راوستو د پاره د پولس نه کار واخستو خان ده ته اووې چې ګوره! زه ساده بنیادم یم. زما سره ساده خبرې کوه چړېږې نخوې ې زده نه دي.

کمشنر ورته ځواب کښې اووې چې سیاست د شطرنج لوبه ده. زه نه ته ماتې درکوم او نه ماته ـــ که راکوې شې؟

که ستا دا خیال وی نو زه هغه شطرنجي سړے نه یم چې ته یې لټوې. باچاخان دا اوئېل او را پاڅېدو.

کمشنر ورته اووې چې لږ دېځوا پام اُکړه. ګوره! دا تحصیل کسان، کمشنر د انتظار د کمرې په لوړ مخ ولاړ دي ځما سره د لیدو د پاره د ډېرو ورځو راسې انتظار کوي. دا هم خانان دي او کلیوال سپین روږي دي اوبل خوا زه ستا سره لیدل غواړم. خبرې ورسره کول غواړم څو ته په ما دا احسان نه کوې.

خان د کمشنر په دې خبره پسې اُخاندل او ورته یې اوئېل چې دا تحصیل کسان چې ستا د لیدو په انتظار دي

دا به ستا نه څه غواړي زهٔ ستا نه هیڅ نه غواړم ـ ځما هیڅ نه دي پکار ـ ما ته ستا د لیډو د پاره د انتظار ضرورت نشته.

سرالف د باچاخان په دې خبره مېر په زوره اووهلو ده اووې چې " دا یو بد قسمته حکومت دې چې ایماندار خلق ئې نه ځان لرې ساتي او بې ایمانه، خود غرضه او لالچي بنیادمان ئې نه نازوا ناؤ دي د دې حکومت هیڅ مستقبل نشته. بربادي د دې مقدر ده"

خان اوکشتی د خپلو اختلافاتو په بابله خبرې اترې اوکړې د خان خبرې ساده اوعام فهم وې. ده سر الف ته اووې چې تاسو د پښتنو قبائیلو په وژلو او تباه کولو کومې پیسې خرڅ کړې که دا تاسو د دوی د پاره په وړو وړو کارخانو جوړولو او سکولونو او سړکونو خرڅ کړې وې نو پښتون به ستاسو دښمن نه دوست او ملګرې وُو. تاسو ته به دپښتون نه د بریډو څه ضرورت نه وُو. څومره پورې چې بهارت د روس د یرغل نه ساتلو خبره ده نو دا کار هله په ښه توګه کیدې شي چې تاسو پښتون ته یه خپله خاوره واک او اختیار ورکړې. باچاخان ورته دا خبره ښه صفا کړه چې هیڅوک په موږ حکومت نشي کولې ـ که څوک زموږ

خلاف جنګ کول غواړي، موږ د خپلې خاورې او خپل وطن د تحفظ د پاره خپل هر څه قربانولو ته تيار يو.

د خبرو اترو نه پس سر دارلف دا اُميد ښکاره کړو چې زموږ ليډل کټل به هم داسې کيږي، خان ورته اووې چې صحيح دي اووې. ليډل کټل به کيږي خو تا ته به بيا هم د پولس راليږلو ضرورت وي.

هغه وخت د پښتونخوا انګريز حاکمانو به په خپلو مخالفينو الزامونه لګول ولې هغوى ته دا علم وو چې د احترام قابل څوک دي. انګريز د پښتنو قبائلو د جرأت همّت او مړانې نه ښه متأثره وو او چې دوى به ځانته وو نو د پښتون د ميړنتوب ستائنه به يې کوله ولې بيا هم دوه باچاې د تحفظ په لړ کښې دوه خپل فرائض په ښه توګه ادا کول سر دارلف باچاخان ته په مخه اووې. د وائسرائې د ليدو په غرض دلى نه روان شو، په څلېريشتم د سمبر د هلته نه راواپس شو او باچاخان، ډاکټر خان، ولي، غني، علي ـ ټول بې ګرفتار کړل او دوه هفتو کښې د ننه د بهارنه هر يو نوموړې سياسي مشر ګرفتار کړې شوې ګو.

د انګرېز سره روغه جوړه ختمه شوې وه، کال نولس سوه یو دېرشم کښې د کرسمس په موقع نوځ پېښور ولفه کښې واخستو. د نرم طبیعته اِروِن په بدل کښې سخت مزاجه وائسرائې راغلې وو. دهٔ دَ لندن نه دَ ځان سره دا هدایات راوړي وُو چې دا ځل هیڅ رو رعایت نه دې په کار. دهٔ ته د پښتونخوا په بابله داخاص هدایت ورکړې شوې وو چې د سرخپوش تحریک نوغه اُباسه او دا بیخي تباه او برباد کړه.

ګاندهي د کال ۱۹۳۲ء په څلورم جنورۍ نیمه شپه ګرفتار کړې شو. دهٔ دګرفتارۍ په وخت یو دوست انګرېز ښاغلي ایلون ته اووې چې پښتونخوا ته اُرسه او د هغه ځائې د صحي حالاتو نه د بهارت اولس خبر کړه. ایلون سمدستي پښتونخوا ته اُرسېدو او دَ هغه ځائې د حالاتو په بابله یې د شلو صفحو یو رپورټ راُلیږلو. دهٔ لیکلي وُو چې " د پنځوېشتم د سمبر راسې سرخپوش تنظیم خپل رضاکار دګلو نه پېښور ته د پکهټنګ د پارهٔ رالیږي. پولس د دې رضاکارو نوموته او درکونه حاصل کړي. چې پولس د دوی نه د دوی د درکونو تپوس کوی نوی ورته بنه

په ایمانداری سره د خپل کوړ او کلي درک ورکوي. بیا د نوځ یا د پولس یوه دسته د شپې مال کلو ته ورځي او دَ رضاکارو په کورونو چاپې وهي.

د نوځ یا پولس داسې دسته اکثر د سحر د نیم بجې کلي ته ورسي دکلي نه تاؤ شي. سپین روبو او مشرانو ته حکم ورکړې شي چې د خپل کلي سرخپوش موږ ته حواله کړی که دوی انکار اُکړي نو دوی وهلې او نیکولې شي. که څوک سرخپوش دوی ته په لاس ورشي نو گرفتارولې شي، وهلې او نیکولې شي، د دوی یونیفارم د دوی نه ایستلې شي او سوزولې شي.

کلي کښې د خدائي خدمتګار تنظیم دفتر وران ویجاړ کړې شي. پولس په کورونو ورننوځي او چې څه ورته په لاس ورځي هغه د ځان سره اخلي. هیڅ پتا نه دا علم نشته چې آیا هغه محفوظ دي او که نه دي محفوظ.

ایلون (ELWIN) چا نه چې کاندهي د پښتو نخوا د حالاتو را لیږلو د پاره هدایت کړې وو خپله هم انګریز وو او د انګریز حاکمانو دا خیال ورکني دې تا جر دې ده د پښتونخوا د اولس او انګریزانو سره مرکې اُکړې ده نه یو انګریز اورې چې موږ دا پخه اراده کړې ده

چې د خدائي خدمتګارو دا فتنه ختمه کړو. ایلون ته اوسیل شول چې د دې تنظیم خلاف کاروائي کښې په جلوسونو ډزې شوي دي، د خلقو جائیدادونه ضبط کړې شوي دي. کورې وهلې شوي دي. د جرماني ومولولو په غرض کلي تالا نړغا کړې شوي دي دې نړ کښې یو پولسوال او وې چې انګریز سپایان د مغلو په چول پیسې راټولوي.

یوائي پینوړ کښې پنځه دیرش سوه کسان ګرفتار کړې شوي وُو یو لسم جنورۍ پورې چې کله ایلون بناسا ته اُراسید و، یو سرخپوش په نظر نه راتلو. سرکاری اهلکارو به ډیره په چاډ او زړه ورتیا دا خبره کوله چې" دې ته د پښتو سیمه وائي" د بهارت اولس ته خو د پښتنو په حقله څه معلومات نشته کنه؟

ایلون دوی ته ځواب کښې او وې چې د بهارت د کوزه سیمو اولس هم کم نه کم په دې خبره رسیږي چې ظلم. ظلم وي.

په قطب کښې د لوړو لوړو او د نګو غرونو په لمن کښې پروت په یوکلي کښې ایلون د قبائیلو سره خبرې اترې اُکړې. ایلون وائي چې دا پېې مځي او دروغ جوړ

خلق دي. دا د مينې او محبّت اولس دې او په سترګو کښې مينه لري. ايلون وائي چې ما د دوی نه تپوس اُکړو چې تور څه کيدونکي دي؟ دوی اووې چې دا دٔيل خوګرانه خبره چې څه کيدونکي دي خو موږ به هر څه کوُو موږ خپل سرونه هم ورکولې شو خو دا زور ظلم او زياتي د جوابي حملې نه بغير زغمل اوبرداشت کوُل هم ممکن نه دي.

ستاسو څه خيال دې چې تشدد ستاسو مددکولې شي ايلون تپوس اُکړو. نا ـ بالکل نه!

نو بيا تاسو په عدم تشدد يقين لرئ او کنه؟ ايلون تپوس کوي بالکل. موږ د زړهٔ د اخلاصه په عدم تشدد يقين کوُو.

دا خبره څه پټه نه ده چې پښتون يوکم لوستې اولس دې. دوی دَ وسلې سره ډيره مينه لري. دَ دوی د غيرت او خود دارئ کم نه کم معيار دا دې چې بل چا ته دَ دوی سر ښکته نشي. دوی د آزادئ حاصلولو د پاره تر هر چا زيا ته قرباني ورکړې ده. پښتون اُسه پورې د خپل تشدد په حواله سره پيژندې شو ولې د خپل باچاخان سره د مينې او محبت په وجه دوی توره

کونان کړه او د عدم تشدد په لاره روان شول ـــ د هندوستان د آزادۍ په تحریک کښې دا خبره بیا بیا کولې شي چې دې تحریک کښې تر ټولو لویه معجزه د پښتون په عدم تشدد عمل کول وُو. دا څه وجه وه چې دوی د باچا خان په دې خبره روان شول؟ ـ دا ځکه چې دوی نه دا علم وُو چې باچاخان د دوی د پاره ژوند تیروي. دا هم یو حقیقت دې چې د هندوستان سیاسي مشرانو کښې باچاخان جیل کښې زیات وخت تیر کړو ولې بیا هم د ده اثر کم نه شو.

باچاخان د عدم تشدد د تحریک د کامیابۍ تشریح په دې ډول اوکړه.

" زموږ په صوبه کښې دوه قسمه تحریکونه چلیدلي دي. د تشدد تحریک ( د کال تولس سوه تولس نه اګاهو بغاوتونو) ـ د تشدد خلاف د اولس په زړونو کښې د تحریک د پاره مینه او همدردي پیدا کړه. که د تشدد په تحریک کښې به یو فرنګي اوژلې شو نو نه یواځې د هغه قاتل ته به سزا ورکولې شوه بلکه ټول کلي او ټوله علاقه به د یو فرنګي په بدل کښې په عذاب اخته وه اولس به تشدد او مجرم د خپل تکلیف ذمه وار بللو. عدم

تشدد تحریک کښې موږ په خپله ځان ګرفتارۍ ته ورانديې کړو، تکليف او ظلم برداشت کړو او په دې وجه د تحريک سره د اولس مينه او همدردي پيدا شوه"

ايلون خپل رپورټ کښې ليکلي وو چې د تشدد پيښې شوې دې خو د تشدد دې پيښو کښې څنه داسې واقعات شامل وو چې ماشومانو د پوليس يا فوځ سره شرارت کړې وو او چې پولس او فوځ په اولس کوم زور ظلم کړې ؤو. دا د تشدد د يو څو پيښو مقابلې کښې ډير سيوا ؤو او څه جواز (؟) نه وو.

ايلون دې لړ کښې د کمشنر رالف ګرفته سره د مرکې خواست اګرو چې د حکومت نقطه نظر معلوم کړي خو بناغلي ګرفته ايلون ګرفتار کړو او په ړومبې ګاډي کښې بې د پښتونخوا نه اُليږلو.

ايلون خپل رپورټ کښې په دې نتيجه را اُرسيد وچې حکومت اَمن قائمولو کښې کامياب شوې دې خو دا دصحرا اَمن دې. د دې امن په نتيجه کښې ژوند بې خونده شوې دې او د پښتونخوا د سيمې بې شميره دوټره او خويندې دا بې خونده ژوند تيروي. داسې ښکاري لکه د هندوستان د ټولو استوګنو بلاګانې پښتنو پخپل

سر اختي وي. انګريز زور هم کولې شي او ظلم هم ولې دې به کله هم د آزادۍ سره د پښتونو مينه او جذبه اُنه چقولې شي؟

باچا خان د پښتونخوا نه بوتلې شو او د هندوستان بهار صوبه کښې جيل کښې واچولې شو. دې جيل کښې څانته يواځې دُوړ ده ته به اخبارونه نه شو ورکوې، چيټهي به ده ته نشوې ورکولې او د هيچا سره ورته د خبرو اترو اجازت نه وُو. جيل کښې نورو قيديانو ته دا اِجازت هم نه وُوچې د دهٔ د کوټيړې په وړاندې تيرې يا راتيې شي.

د کال ۱۹۳۴ء په اپريل کښې ګاندهي د سول نافرماني تحريک ختم کړو ولې چې د دې تحريک زورختم شوې وو. ټول سياسي قيديان راخوشې کړې شول خو باچا خان جيل کښې اُساتلې شو. جيل کښې د باچاخان صحت نور هم پريوتو آخر بو انګريز اهلکار باچا خان ته جيل کښې ملګرې ورکړو د باچا خان دا ملګرې د دهٔ ورور ډاکټرخان صيب وو. دلته دا خبره کول بې ځايه نه ده چې باچاخان ته څه سزا نه وه ورکړې شوې. انګريز سرکار دې پنځله خوښه درې کاله جيل کښې اُساتلو. د څه جرم نه بغير سزا ورکول دا ثوگندي چې انګريز څومره مهذبه قام دې.

دولسم باب

# حضرت بلچاخان

# او دبنګال مسلمانان

(اګست - دسمبر ۱۹۳۴ء)

زۀ چې کله هلک ووم نو بنه زبات غصه ناک ووم د پښتنو کومه دینه حما په زکونوکښې اوږ بده راوړ بده چې کله زۀ جیل ته لاړم هلته به ما د قرآن پاک مطالعه کوله ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوندواقعات اولوستل د ده د صبر او استقلال او د تکلیفونو تیصې مې اولوستې. زۀ چې ماشوم ووم نوهم ما دغه قیصې اوپيښې لوستې وې ما چې کله د ګاندهي سره اُلید ل او دده عدم تشدد او تعميري پروګرام بحقله مې پوهه حاصله کړه نو ما ذده سره د ملګرتیا کولو فیصله اوکړه.

(حضرت باچاخان)

د پښتونخوا په خاوره انګریزي افسران په مشکل کښې ښتي وو. دوی دا نه غوښتل چې خان د خپلې صوبې ته واپس شي دلې دوی په دې هم نه پوهېدل چې دې څنګه جیل کښې د زیاتې مودې د پاره اُساتو. د کال ۱۹۳۴ء په کومه کښې دوی یو حل اُموندو او په د لی کښې بې خپل حکومت ته داسې اطلاع ورکړه:

"سیاسي ماحول کښې داسې افواګانې خورې وې چې کله کانګرس چې خپله دوره ختمه کړي نو د هغې نه پس به دې د پښتونو په دوره راځي. داسې ګمان کولې شي چې دې به خپل ټول پام د عبدالغفارخان د راخوشي کولو په لور اوګرځوي.

د دې صورت حال ممکن حد پورې مقابله کولو او دا نه د لوډې د هړتال بانه نه ورکولو ښه ځواب دا کیدې شي چې د بهارت حکومت د باچاخان او ډاکټر خان صیب په راپر پښنولو غور اوکړي خو په دې شرط چې دوی دواړو ته پنجاب، کشمیر یا پښتونخوا ته د تللو اجازت ور نکړې شي. که کاندهي جي دَ دهٔ دَ راخوشي کولو د پاره هڅه اُکړي نو د نړیه د اولسونو همدردیاني به هم دَ دوی ملګري شي.

د پښتونخوا په صوبه انګریز افسرانو نوي ډلې ته ورلېږلي لیکلي وو چې "عبدالغفارخان په خپل اولس کښې داسې مقبول

دې چې هغوی د وهم تر حده ده پسې روان دي د دوی تقریرونه په موجوده حالاتو کښې د اولس په جذباتو او احساساتو اور لګولی شي. په دا وجه دا تجویز کولی شي چې دوی نه دې په هیڅ صورت پښتونخوا ته د واپس را تللو اجازت ورنه کړې شي"

باچا خان او د دوی ورور ډاکټر خان صیب د کال ۱۹۳۴ء په ۲۷ اګست د هزارې باغ د سنټرل جیل نه رانخوږې کړې شول خو پښتونخوا ته د دوی په را تګ پابندي الګولې شوه. ولې چې دوی خپل کور او وطن ته ستنیدلې نشول، دویه د ګاندهي په بلنه مرکزي بهارت کښې د ګاندهي نوې آشرم ته څه وخت تیرولو په غرض لاړل باچا خان وړاندې څوڅو واره د ګاندهي سره لیدل کتل کړي وو ولې د ګاندهي سره بې وخت نه وو تیر کړې مسلسل کار، د جیلونو ژوند او د تحریک نارونګار تیا ګانو د بهارت دا دوه عظیم شخصیتونه د یو بل نه لرې ساتلي وو.

خان په ټول بهارت او په خپله خاوره یو مقبول او پیژندلې شخصیت وو. دې به چې چرته په نظر راتللو اولس به ترې نه تاوُ را تاوُ وو خان به دا نه خوښول

هغه دا نه غوښتل چې اولس د نړۍ نه بېل شي ... دوی به وئیل چې زه هم د دوی په شان یو سړی یم. ده به وئیل چې د الله د پاره ما ته بنتون ګانګي مه وائې. ګاندهي یک یو دې. دې مهاتما ګاندهي دې چې د هندوستان د آزادۍ د پاره کار کوی او موږ ته په کار دي چې د هغه ملاتړ اوکړو. هغه زموږ جرنیل دې او جرنیل یو وي.

که څوک دا تپوس اوکړي چې د باچا خان د جدو جهد نه بغیر به هندوستان آزاد شوې وو او کنه؟ نو د دې سوال ځواب ډیر ساده دې د باچا خان د جد و جهد شخصیت او ملګرتیا نه بغیر به د انګریز لاس نه وو مات شوې.

د مالکي د ستیاګره راسې ګاندهي په ټوله نړۍ مشهور شوې وو دې د سیاست د طوفان نه د بچ کیدو په خاطر د مېنځنی بهارت یوې کوچې سیمې کښې د علاقې د یو غریب او نادارو کلي سره نزدې میشته شوې وو ده غوښتل چې د خپل تعمیري پروګرام په لوړ خپل پیام اوکي ځوي. ده غوښتل چې د بهارت نادارو کلي او د کلو نادارو اولس د خوشحالۍ او ترقۍ ورځ او ویني. ګاندهي اولس ته

د عدم تشدد په ذريعه د ژوند تيرولو او جنګ کولو طريقه ښودلې وه. د ګاندهي د آشرم د غه مقصد ووچې دوستو سيوا ګرام بلل کيدو.

دوارړه ورځې د ستمبر په مياشت کښې آشرم ته اُرسيدل او ډير زر د ګاندهي د عقيدتمندو، ماشومانو او چيلو او د ګاندهي د ليدو د پاره د لرې لرې نه راغليو ميلمنو او مريدانو سره بلد شول.

د لته آشرم کښې ژوند ساده او سخت وو. د دواړو ورځو دا ژوند خوښ وو. د دوئي خوراک ساده وو، کاربه يې کولو او د ګاندهي په ملګرتيا کښې به يې د کلو دورې کولې او اولس ته به يې د حفظانِ صحت د بنيادي اُصولو خبرې ښودلې. ډاکټر خان صيب يوه وړوکي دواخانه پرانسته او په باقاعده ډول به کلو کښې ګرځيدو او د اولس علاج به يې کولو او خان په کلهه د کيرې جوړولو چل زده کړو.

دا دواړه رونړه داسې ساده وو چې د ګاندهي آشرم يې په خپلې سادګۍ بناستاه کړې وو. ګاندهي په خپله هم د دوی د سادګۍ او بې غرضۍ نه ډير زيات متأثره وو. ګاندهي خپل سيکټر مهاديو ډيسائي ته اووې چې د دوی سره خبرې اُکړه او د خدائي خدمتګاران

په نوم د دوی د ژوند حالات اُلیکه .گاندهي د دې کتاب
په سریزه کښې اُلیکلي چې :-

" چې څومره څومره ځما پیژندګلي د دې روښو
سره سیوا شوه داسې زۀ د دوی په لوړ
راکاړلې شوم . د دوی مینې او خلوص بې تکلفې
او سادګۍ زۀ حیران هم کړم او متأثره هم . ما
دا هم اُکتل چې په عدم تشدد او حق پرستۍ
د دوی عقیده ډیره کلکه او ژوره وه . په کښېرې
روړ رباچاخان) د مذهب پوخ اثر دې خو دې
تنګ نظره مذهبي انسان نه وو . دَ دۀ فکر عالمګیر
وو او د دۀ دَسیاسي د مذهبي مطالعې نچوړ ؤو -"

ډیسائي د خان د روحاني مزاج په بابله په دې ډول لیکي :

" زۀ چې څومره غور کوم روحانیت دۀ کښې د
هر څیز نه لوړ دې بلا دا چې د اسلام ریښتوني
جذبه - دۀ ځان خپل الله ته ورسپارلې دې - دۀ
دګاندهي د ژوند پیمائش هم په دې پیمانې کړې
دې - دا دګاندهي نوم یا مشهورتیا نه دۀ چې دې
بې راښکلې دې او نه دا دګاندهي سیاسي کار
یا د بغاوت او انقلاب جذبه دۀ چې د خان

د پارټۍ نخه کشش لري. دا د ګاندهي د ملنګۍ او فقيرۍ خالص ژوند دی او ځان خالص او سوچه ساتلو باندې د ده اسرار دی چې د ځان د پارټۍ نخه مقصد او کشش لري او د ۱۹۱۹ء راسې د ځان خپل ژوند هم د ځان خالص او سوچه ساتلو د پارټۍ يو مسلسل او باقاعده جد وجهد دی؟

اکثر به ماذيکو دوئ د هغه پټو او پولو او باغونو په بابله خبرې اوروي کولې چې د نيي‌و دريو کلونو راسې دوئ نه وو ليدلي. دوئ غوښتل چې ګاندهي جي پښتونخوا ته لاړ شي او هلته د دوره سره ميشته شي ده به ګاندهي ته وئيل ته وئيل چې ته خپل آشرم هلته هم جوړ کړلې شي. د سيند په غاړه به ګرځي. د دنيا په ټول داسې ښائسته ځائې نشته. د پيښور وادۍ د ميوو دانو ډکه ده. هلته به آرام اوکړې موږ ستا د پارټۍ د ښه خوراک بندوبست کولې شو او ته به هلته غوښه واخلې راغښ به شې او وزن به دې سيوا شي.

ګاندهي به د خان په دې خبرې خبره پسې خندل د څه موده راسې د ګاندهي دا اراده وه چې د پښتونخوا دوره وکړي' د خدائي خدمتګارانو سره اوويني او

او د دې لوی زړه لرونکي رهبرو سره په کښېنستو خبرې اترې اوکړې د چا د ګرمجوشۍ او مينې نه چې ګاندهي ښه متاثره وو. ګاندهي ليکلي وو چې د دې دواړو ملګرتيا او دوستانه د الله تعالیٰ د اړخه ځما د پاره يوه تحفه ده. چې دوی سره څوک ډېر زيات ايسار شي، دوی سره يې نوره زياته مينه پيدا شي دا دواړه څومره شائسته، ښه او ساده کسان دي ولې بيا هم د دوی په خبرو کښې او د دوی په شخصيتونو کښې څومره کشش او اثر دې. د دوی خبره يکه يوه خبره وي.

ماښام به د آشرم اوسيدونکي او ميلمانه د نيم د ونې لاندې د عبادت د پاره ټولېدل. دې غونډه کښې به مذهبي سندرې ويلې شوې او د مختلفو مذهبونو دعاګانې به کولې شوې. خان به د ګاندهي په څوا کښې ناست وو او ناستو کسانو ته به يې د قرآن مجيد سورتونه اوړول او په مطلب به يې پوهول دا به ښکاريدل چه حضرت باچاخان د هندوستان تر ټولو عظيم شخصيت ته د اسلام تبليغ کوی ولې خبره دا ده چې د دې دواړو شخصيتونو تعلق او ملګرتيا د مذ

او عقیدې د تعلق نه اوچته شوې وه. ګاندهي یو هندو وُو ولې د باچاخان په نظرکښې دَ ډیرو لوړو لوړو مسلمانانو نه دروند وو باچا خان مسلمان وو خو د ګاندهي دَ ستړګو نور وو. کله کله به داسې او شول چې د باچاخان نه به د نظرچیلې چشمې هیرې وې نو دهٔ به د ګاندهي چشمې استعمالولې د دهٔ په لوئې او پراخه ځ به د ګاندهي وړوکي وړکي چشمې داسې ښکارې چې سړي ته به ورلېې خندا ورتله۔

دې دواړو دوئو کښې د طبیعت فرق وو. ډاکټرخان دوستانه مزاج لرو، او نرم خویه وو. یورپ کښې د استوګنې په وجه دهٔ په مزاج کښې نرمي پیدا شوې وه او خان په بنیادي ډول یو مذهبي فکر لرو او ډاکټر خان دنیادار وُو باچا خان حیران کوونکې حد پورې ساده وُو او فطرتًا منظم وو او ډاکټر خان یو بې فکره بنیادم وو. ډاکټر خان به اکثر ټوقو کښې وئیل چې ځما د برخې مونځ هم باچا خان کوي. او منکر نکیر سره به ځما د پاره سوال جواب هم کوي او باچا خان به د دهٔ په ټوقه موسیدو۔

ډاکټر خان د خپل سر دښمن سره هم په خندا اوخوشحالۍ وخت تیرولې شو ولې باچا خان ټول عمر د انګریز سرکار ظلم او غرور برداشت نه کړې شو. چې کله دیلي کښې د مرکزي

اسمبلۍ د پاره د پښتونخوا نه نمائنده اُغوښتې شو نو مشر ئې ډاکټر خان د دې غرض د پاره تیار شو. دا دوه ړه خدائي خدمتګاران وو خو د دوئې د بیلو بیلو او جدا طبیعتونو متعلق هم دا ګیدې شو چې دا دواړه د بیلو بیلو کاروونو د پاره موزون مزاج لري.

د یسائي لیکي :

" دِ دواړو دواړو بې مثاله قربانۍ ورکړي دي دوئې د آزادۍ په لاره داسې تکلیفونه تیر کړي دي چې ډیر د کمو کسانو نه بې تجربه شوي ده چې په خپل پښتون اُولس د دوی خومره ژور اَثر دې دا دې قربانو او تکلیفونو په وجه ده او د دې نه هم زیات دا د دوئې د روزمره ژوند اثر دې دا د یوې مالدارۀ او امیرې کورنۍ غړي دي خو داسې ساده ژوند تیروي چې بدل ئې ناممکن دې"

آشرم کښې کور به او دی میلمنو دواړو به په سیاست خبرې نه کولې. ګاندهي غوښتل چې د خدائي خدمتګارانو په بابله ډیر څه زده کړي چې دوي د عدم تشدد په پالیسۍ خومره کلک ولاړ دي. ګاندهي په دې خبره

هم حیران وو. چې باچا خان یو ډیر پراخ ذهن لرونکې مسلمان وو. ګاندهي یوه ورځ د باچا خان نه د ډاکټر خان صیب د د انګریزي ښځې په بابله تپوس اُکړو چې هغه مسلمانه شوې ده؟ خان ورته ځواب ګښې اووې چې تاسو به ځما په دې جواب ضرور حیران شئ چې ما ته دا علم نشته چې آیا هغه مسلمانه ده او کنه عیسائي ده. ګاندهي به د مذهبي عقیدې نه د لا تعلقۍ په دې خبره د باچاخان نه ضرور ښه ډیر متاثره شوې وي ولې چې دا یو داسې تپوس وو چې د مسلمان په نظر کښې بنیادي اهمیت لري. ځما خیال دې، باچا خان اووې چې هغه (د ډاکټر خان صیب انګریزه ښځه) مسلمانه شوې نه ده او هغې ته مکمله آزادي حاصله ده چې په خپله عقیدې ولاړه پاتې شي. ما د هغې نه په دې بابله چرې تپوس نه دې کړې او ما ته د تپوس کولو څه ضرورت دې؟ آخر یو خاوند او یوه ښځه په خپلو بیلو بیلو عقیدو ولاړ ولې نشي پاتې کیدې؟ آخر د واده په وجه دې یو کس عقیده ولې بدله شي؟

ګاندهي ورته اووې چې ښیک وائې خو آیا زیات تر مسلمانان به داسې اُوکړي؟

نا. ټول مسلمانان به داسې اونکړي خو خبره دا ده

چې په زړکو نو مسلمانانو کښې يو مسلمان نه هم دَ اسلام د صحي روح علم نشته . ځانې ل فکر دا دې چې زموږ د جګړو بنيادي وجه دا ده چې موږ دا حقيقت نه منوچې هره يوه عقيده د خپلو پيرو کارو د پاره ښه کافي الهام لري. قرآن مجيد ښه په صفا ټکو کښې دا خبره کوي چې الله تعالیٰ ټولو قامونو او اولسونو ته پيغمبران ليږلي دي. دا ټول اهلِ کتاب دي او لکه څنګه چې يهوديان او عيسايان اهلِ کتاب دي هم داسې هندوان هم اهل کتاب دي.

باچا خان خپلې څوارلس کلنې لور مهرتاج ته اُليکل چې د لندن نه واردها ته راشه او د لته آشرم کښې شرکت اُکړه. مهرتاج نومبر کښې را اُرسيده. غنی هم څو ورځې پس دلته راغې. ده امريکې کښې د پيسو ټکو د کمې په وجه هلته د يونيورسټۍ تعليم نيمګړې پرېښې وو. ولي او د خان دولس کلنې ځوئې علي هم د دوی سره يوځای شول واردها کښې د دوی د ګرفتارو نه پس ددې کاله کښې د دوی پرومبنې ملاقات وو.

واردها کښې باچا خان ته پيغام وصول شو چې د بنګال مسلمانان تا غواړي او درسره خبرې اترې کول غواړي . دَ

ګاندهي ژړه نه وو چې باچا خان دِ هلته لاړ شي ځکه چې د هغه دا خیال وو چې حکومت به دا خبره نه و بښه نه کړي چې یو نود او مینه ناک پښتون دِ ډقطبي بهارت غیر فعاله مسلمانانو سره رابطه جوړه کړي. حکومت به د مداخلت کولو د پاره لاره سموي او دا ډېر امکان وُوچې دي به ګرفتار کړې شي. خو باچا خان د بنګال په لور روان شو او دا یې هډو پروا نه کړه چې د ده سره څه کیدې شي. ګاندهي هم ده سره د تلو په وخت کښې څه ضروري خبرې انوې کړې.

ګاندهي ده ته اوئیل چې دا وخت د ګرفتارئ ورکولو او جیل ته د تلو د پاره مناسب نه دې. ګاندهي ده ته مشوره ورکړه چې هندوستانیانو ته د انقلاب بل مخ څرګند کړه. د انقلاب تعمیري اړخ.

خان په کلکته کښې بنګالیانو ته ځایې په ځایې تقریرونه اُکړل. ده بنګالي ځلمو ته هدایت اُکړو چې تاسو هم خدائي خدمتګار تحریک شورو کړې دې د خپلې دورې په دوران کښې د ګاندهي په څرخې اصرار کولو په خفیفي اهمیّت پوه شو. چرته چې کلیوال څرخې کوي هلته هغوی مړه پېښ ژوند تیروي او چرته چې دوی دا کار نه کوي

هلته هغوی ورېي وي. دہ کلکته کښې د بنار اُسېدونکو بنګالیانو ته دا خواست هم اُکړو چې د کلیوالو او کلو حالت ښهٔ کولو په لوړ خپل پام واړوي.

دهٔ چې خپله دوره ختمه کړه، باچا خان د بنګالیانو سره دا لوظ اُکړو چې زهٔ به دَ دسمبر په نوروکښې بیا راځم او تاسو سره به نورې ښې ورځې تیرې ورم باچا خان بنګال ته د تلو اراده ځکه لرله چې پښتو نخوا ته د دهٔ په تګ اُوس هم پابندي وه او که چرې دې خپلې پښتونخوا ته نشو تلې نو دهٔ غوښتل چې زهٔ د قطبي بهارت د نادارو او غریب اُولس سره پاتې شم او د دوی خدمت اُکړم. دهٔ په خپلو لاسونو خدمت کول غوښتل.

د ۱۹۳۴ء په اکتوبر کښې باچا خان د ګاندهي سره بمبۍ کښې د کانګریس کلیزه غونډې ته لاړو. دهٔ ته هلته د یوه هیرو په شان هر کلې ورکړې شو دهٔ ته د کانګریس صدارت قبلولو پیش کش اُکړې شو خو باچا خان انکار اُکړو. دهٔ او وې چې زهٔ د هغه ملګرو منته کوُوم چا چې په ما دا پیرزونه کړې ده. خو ما دا خبره بیا بیا کړې ده او نن هې بیا کوُوم

چې زه یو عاجز سپاهی یم او دا ځما خواهش دی
چې زه د ژوند خپلې شپې او ورځې د یو سپاهی
په څیر تیرې کړم، د یو جرنیل په څیر نه.

بل خوا ګاندهي د کانګریس نه په دې غرض استعفی
ورکړه چې ځان تعمیري پروګرام ته اوسپاري. ده دې
غونډې نه اووې چې زه پښتونخوا ته تلل غواړم.

"ځما دا خوښه ده چې د هندوستان په یو کلي کښې
دفن کړې شم او دا به ډیره غوره وي که زه د پښتونخوا
په خاوره ښخ کړې شوم. ده اووې چې که خدائي خدمت
ګاران په صحي معنو کښې په عدم تشدد ولاړ دي نو
دوی به د عدم تشدد روح او جذبې ته وده ورکولو
کښې د هر چا نه زیات کار اوکړي. زه غواړم چې په
خپله دا اووینم چې دا دعوی کوم حد پورې صحي ده
چې دوی د عدم تشدد جذبه خپله کړې ده او دوی
په رښتیا سره او په زړه سره د هندوانو او د مسلمانانو
ترمینځه د اتحاد قائل دي"

چې د باچا خان نه د ګاندهي جي د غیر متوقع
استعفی په بابله تپوس اوشو نو ده اوئیل چې زه په
دې خبره حیران نه یم. ده اووې "چې ما چرې هم

د دهٔ په فیصلو تنګ نه دې کړې دلې چې دې خپلې معاملې الله تعالیٰ ته سپارې او د هغه په حکم عمل کوي هر یو عظیم مصلح هم داسې کوي او همیشه یوه داسې مرحله راځي چې هغه د خپلو پیروکارو نه لاره بیلوي ولې داسې کولو کښې هغه د خپلو خلکو سره خپل تړون نه پرې کوې. د خپل خدمت دائره نوره پراخه کړي"

دهٔ بمبۍ کښې یو څو ځایه تقریرونه اُکړل. د کال ۱۹۳۷ء په ۲۷ر اکتوبر دهٔ د بهارتی عیسایانو انجمن ته د خدائي خدمت ګارانو تیصه واوروَله. څنګه چې د انګریز د زور او ظلم په بابله تیصه په وړاندې تله د خان جذبات راُچټیدل او دهٔ تپوس اُکړو چې زموږ قصور څه دې؟ دا چې زموږ صوبه هندوستان ته د راتلو دروازه ده او موږ چې هلته اسیږو یو نو حکومت موږ څوکیداران ګڼي او بیا په ډاګه راته وائي چې "موږ څوکیدارانو ته اصلاحات څنګه ورکولې شؤ؟ د انګریز سرکار دا خیال دې چې که موږ دوی ته څه ورکړل نو هندوستان به زموږ د لاس نه اُوځي انګریز دا خبره خطرناکه ګڼي او دا خیال کوي چې که دا څوکیداران د هندوستانیانو ملګري شول نو موږ به په هندوستان د راج کولو جوګه پاتې نشو او د دغه وجه ده

چې زموږ تحریک په شورو کښې اُچقولې شو. . .

موږ خپل سکولونه پرانستل خو حکومت په یوه یا په بله بانه دغه تعلیمي اداري چیري په چالاکۍ سره تباه کړې او زموږ ماشومان بې بې تعلیمه آساتل:

موږ په پښتونخوا کښې زېږېدلي یو او دغه وجه ده چې موږ تباه حال یو زموږ تر ټولو لوی جرم دا دی چې موږ غواړو چې د هندوستان د دروازې اُولس لوستني او ترقي یافته وي او انګریز غواړي چې د پښتونخوا دا اولس په خپلو کښې په جنګ وي، په مقدموکښې لښتي وي، د یو لاس د بل په ګریوان وي، د دښمنۍ په خټو لېت پېت وي او د سر اُچتولو جوګه نه وي او چې دومره کمزوري حالت کښې وي نو موږ ته به محتاجه وي او دوی دِ هم داسې تباه حال، برباد او پریشان حالت کښې وي چې دوی (انګریز) د څه رکاوټ او پریشانۍ نه بغیر زموږ په اولس حکمراني کولې شي.

ده بمبۍ کښې په اَخري ورځ د ژنانه وُو یونټي کلب ته خپل تقریر کښې د هغه ژنانه وو د قربانو ستائنه اُکړه چا چه د آزادۍ په تحریک کښې برخه اخستې وه باچا خان د ژنانه وو د کوراس ډاډ ګیرنه اُکړه او وېښې

وئیل چې که د هندوستان زنانه را بیدارې شوې نو دنیا کښې یو قوت هم په هندوستان حکمراني نه شي کولې. ده او وې چې اولس کښې د غلامۍ احساس بیدار وي نو د غلامۍ زنځیرونه که هر څومره مضبوط وي دا شلیږي او ماتیږي.

دې بیا واردها ته واپس شو، هلته هغې د خپل کور د غړو سره الیدل او بیا د آشرم په ناوزګار نیا کښې ډوب شو. ده او ګاندهي به په ګهنټو ګهنټو یو ځای په دې غرض ناسته کوله چې د بنګال د مسلمانانو د پاره د اصلاحاتو څه پروګرام جوړ کړي. بنګال ته د واپسۍ د پاره د خان بهړۀ وه ځکه چې ډیره موده پس ده ته د غریبانانو سره د کار موقع په لاس ورغلې وه. دې د دسمبر په اتمه نیټه روانیدونکې وُو. څو دې په دغه ورځ پاتې شو د انګریزانو د پارۀ د پنجاب په ځیر بنګال هم د حکمرانې د پاره یوه ګرانه صوبه وه او هغوی دا نه شو برداشت کولې چې د باچا خان لوړ او په غریب مئین شخصیت دِ بنګال ته لاړ شي او دَ نادارۀ اُولس ترمینځه دِ میشته شي.

انګریز حکمران د معمول په شان خپله کاروائی اُکړه

په اُوم دسمبر د جیل نه د راونو نه سل ورځې پس د پولس سپرنټنډنټ بیا په دهٔ بسې) آشرم ته راغې او دې بمبئ کښې د باغیانه خبرو په الزام کښې گرفتار کړې شو.

گاندهي د گرفتارئ وارنټ اُولستو او سپرنټنډنټ ته يې اُووې چې خان ته دومره وخت ورکړه چې د کور د بنديانو ته اِجازت واخلي. گاندهي دا هم اُووې چې دا وار موږ د خان د دفاع کولو اراده لرو.

خان د گاندهي په دې خبره بې شو. دفاع ؟ - څوک چې سنياگره کوي هغوئ د خان دفاع په عدالت کښې نه کوي.

گاندهي ورته جواب کښې اُووئيل چې دا مختلفه معامله ده. په دې وخت خو موږ سنياگره نه کوو او موږ جيل ته هم تلل نه غواړو. د گاندهي په دې خبره خان اُووې چې څنگه ستا خوښه وي.

چې د باچاخان ماشومان د دهٔ دَگرفتارئ نه خبر شول نو هغوئ پريشانه شول. يو وارې بيا دَ هغوئ د غرونو نه لوړ پلار جيل ته روان وو. دَ خومره مودې د پاره ؟ دا خبره واضحه نه وه. دَ دوئ په سترگو کښې اوښکې وې. خو خان په خپله بنه په قلاره

وُو. دې څوڅو وارې جيل ته لاړو، څوڅو وارې ده دا
منظرونه ليدلي وو. د ډيرو مشکلاتو زغملو عمل ده ته
اُو سپينه جوړه کړې وه. ډاکټرخان يو جذباتي بنيادم
وُو او د خپل کشر رور سره يې ډيره زياته مينه
وه او په دا وجه به دې د باچا خان په گرفتارۍ ډير
زهير بدو. آخر څو پورې به موږ د آزادۍ موندلو
نه آگاهو جيلونو ته ځو او دا د گرفتارۍ او جيل نه
د تلو تماشه به کوُو؟ ډاکټرخان به تپوس اُکړو.

بل خوا په دې موقع باچاخان ځکه دنگير وُو چې دَ
بنگال د مسلمانانو سره د استوگنې په بابله وعدې پوره
کولو کښې خنډ پيدا شوې وُو. ده گاندهي نه او دې
چې ما خو د بنگال د مسلمانانو سره د اُسيدو او د
هڅوې د خدمت کولو لوظ کړې وو څوژهٔ خو دا وړوکي
شان لوظ هم سرته رسولو کښې پاتې راغلم.

په لوظ نه پوره کيدو د باچاخان خفگان په ځاې
وو. که د باچاخان په ځاې بل څوک وې نو ډيرامکان
دا دې چې د گرفتارۍ په دې موقع به ورته
خپل قوم او لوظ نه وُو ور په ياد شوې. ولې باچاخان
بو پښتون وُو او د پښتون د پاره خپل لوظ ماتول

وعده نه پوره کول يو ډير ګران کار دی. پښتون چې وعده اوکړي هغه پوره کوي او دا يوه عظيمه اخلاقي خوبي ده دا سې خوبي د نړۍ ډير کم قامونه لري کوم چې پښتون لري او دا څکه ټکريز واکدار او غير پښتون واکمنو هميشه داسې پاليسۍ اختيار کړي دي چې د هغوۍ مقصد نش د پښتون اعلیٰ قدرونه خرابول وي.

خان په خپلو ماشومانو نظر واچولو، ډاکټرخان د خفګان نه د زمکې په لور کتل، ګاندهي د پولس افسر ته خبرې کولې. خان بيا د ګاندهي په لور مخ ورواړولو او وې ويل چې "ځما دا پوخ يقين دې چې دا د الله تعالیٰ مرضي ده د دۀ چې څومره خوښه ده زه به د کارکونو د پاره د جيل نه بهر آسانتيا او اوس د الله تعالیٰ خوښه ده چې زۀ د جيل د ننه نه کار اُوکړم. د الله چې څه خوښه ده هغه ځما خوښه ده" دۀ خپل بچي ښکل کړل، ډاکټر خان ورته غاړه شو او ګاندهي ورواړندې شو او دۀ ته بې په مخه ښه اُووئيل. دې د پولس افسر ته نا معلومه موډې جيل ته روان شو.

دیارلسم باب

# دوه ګاندهیان۔ دوه شخصیتونه دوه ملګري او یوه فلسفه

"چې ګاندهي کله هم څه نیصله وکړي ځا دا تسلي وي چې دا د یو داسې شخصیت نیصله ده چې ځان یې الله ته سپارلې دې او الله تعالیٰ چا نه غلطه لار نه ښايي" (حضرت باچاخان)

بمبیه کښې د خپل تقریر په حقله د انګریزي عدالت نه بخښنه غوښتل د باچاخان د پاره د زهرو ګوټ وو خو ده د ګاندهي په مشوره عمل وکړو۔ ده عدالت ته اووې چې ما څه وئیلي دي زه د هغې یوې خبرې د سچائي ثابتولو د پاره تیار یم۔ ورستو د باچاخان وکیل اووې چې" په دې خبره دا ساده او معصوم مزاجه پښتون ډیر حیران پاتې

شو کله چې ده نه ود تلې شول چې ته نه د ځان دَ دفاع کولو هيڅ حق نشته ـ گاندهي هم نه غوښتل چې دې دِ جيل ته اوليږلې شي. د باچا خان د پاره د گاندهي خبره دَ کانګريس کوښه او قانون وُو او گاندهي هم که په چا مئين نو هغه يوازې د باچا خان شخصيّت کيدې شو باچا خان د زړو داکوټ نيږ کړو. ده ووې:

" زه يو وفادار او مخلص کانګريسي يم او موجوده وخت کښې د کانګريس پاليسي دا ده چې موږ دګرفتارۍ او جيل نه ځان وساتو. په دې وجه ماچې څه وينا کړې ده په دې غرض مې نه ده کړې چې زه بغاوت خپور کړم. ماچې خپل تقرير کښې داسې څه وينا کړې ده هغه په غير ارادي توګه شوې ده.

زه دا وئيل هم غواړم چې ما د خدائي خدمت ګار تحريک په بابله څه وئيلي دي دا ما د خپلو هغه عيسايانو ملګرو په وينا او خواست وئيلي دې چې ماته پرې په دې بابله د وينا بلنه راکړې وه او دې تقرير کښې چې ما څه خبرې کړې دي ځما دا يقين، باور او عقيده ده چې دا ما رښتيا وئيلي دي. ځما داسې هيڅ اراده نه وه چې په داسې وينا زه د چا جذبات ټروبل کړم "

خو د باچا خان دا وینا کافي نه وه. انګریز غوښتل چې باچاخان د خپلې مخې نه لرې کړې شي. انګرېز خو دا خبره نه شوه زغملې چې د هندوستان یو مشر دې د دوی جذبات ژوبل کړي ـ لې هغوی خپله داسې څه ذمه داري نه محسوسوله چې دوی هم د هندوستان د اولس جذبات مجروح نه کړي. مجسټرېټ ایچ. پي. دستور ووې چې خان چې څه وئیلي دي دا ده ارادتاً وئیلي دي دا ډیر سنګین الفاظ دې. ده اووې چې خان یو غیر معمولي شخصیت دې ډیر اثر لري او دې چې څه وائي د هغې اثر د یو عام انسان د خبرو نه ډیر زیات او زور دې.

ولې چې خان د ځان په دفاع کښې څه نه وو وئیلي په دې وجه مجسټرېټ خپله فیصله د خان د هغې تقریر په بنیاد وکړه چې ده بمبې کښې کړې ؤو مجسټرېټ د خان د تقریر هغې برخې ته خاص حواله ورکړه چې ده په کښې د قصه خوانۍ بازار د قتلان په بابله د عیسایانو انجمن ته حال احوال نیې کړې وو. مجسټرېټ اووې چې خان د قصّه خوانۍ د پیښې په بابله څه وئیلي دي دا په حکومت یو سنګین اوزبردست

الزام دي. د مجسټریټ د فیصلي مطابق د خان داخبره چې د انګریز حکومت به ښه په سره سینه د دوه سوو یا دوه نیمو سوو بې ګناه کسانو د حلالولو نه هم ځ وانه ړوي" مجسټریټ ووې چې داسې الفاظ د اوریدونکو په مغزو کښې د حکومت خلاف کرکه او نفرت خورولې شي.

د کال ۱۹۳۴ء کښې په ۱۵، دسمبر دې لوئي خان ته یو واړ بیا دوه کاله با مشقته سزا ورکړې شوه. دې بمبئ کښې مرکزي جیل ته ولیږلې شو. دې هلته یواځې یوې کوټنۍ کښې واچولې شو. ده ته دوه کمبلې ورکړې شوي وې دې به په بربنډ فرش څملاستو او د جیل څوکیدارانو او نورې عملې ته ده سره د خبرو اترو اجازت نه وو.

د بمبئ ګرمه آب و هوا د ده د پاره مناسبه نه وه. ده ته به لوږه نه لګیده او د سختې نزلې رنځور شو. مارچ پورې د دوه سوه پونډه ددنه جوسه یوسل یوکم پنځوسو پونډو ته را کوزه شوه. حکومت چې د ده بد حالت نه وکتل، د اولس د ردِ عمل بیرې واخستو او دَ دغه ځایه مرکزي صوبې ته دَ ده د بدلولو

خواست اوکړې شو ځکه چې د هغه سیمې آب د هوا مناسبه وه. ولې مقامي واکدارانو د دې خیال او سفارش سره اتفاق و نکړو ددې وړې:

" مرکزي صوبې کښې بناغلي ګاندهي هم تر نا معلومه مودې پورې دېرې اچولې وي. وارد ها کښې د هغه کور نه د هندوستان د کانګرېس هر يو نوموړې مشر راځي. او که سیاسي بې اطمینانيه کښې اضافه وشي د هغه کور به د داسې بې قرارۍ مرکز جوړ شي ... دا خبره غوره معلومیږي چې د بناغلي ګاندهي نه د ده د پښتونخوا ملګري لرې وساتلې شي. دا به زموږ د ذهني سکون د پاره هم سود مند وي"

د ډېر مشکل نه پس مقامي واکداران بالاخر دې نه تیار شول چې خان " المورة" ته ورسوي. دې هلته هم هغه ځائې کښې آساتلې شو د کوم ځائې نه چې جواهر لال نهرو اوس اوس خوشې کړې شوې وو. ده به دلته د وړوکي باغیچې خیال ساتلو او په کارکښې به بوخت وو دا باغیچه د ده نه اګاهو جواهر لال لګولې وه ـــ دا يو داسې وخت وو چې دَ ټول هندوستان سیاسي قیادت کښې ليوائې باچا خان په جیل کښې وُو. ده جیل کښې اتلس میاشتې

تیرې کړې.

کال ۱۹۳۶ء کښې د جیل نه په راوتو دې نیغ ګاندهي نه ورغلو دَه دَ آشرم مګنوړي ګاندهي د واردها ریلوې سټیشن نه دهٔ ته سترې مه شې د پاره راغلي وو. دوی باچا خان د ګاډي په دریم کلاس درجې کښې ولیدو چې په یوه تخته پروت وو، د تختې د بل سر نه بې خپې ځنګید لې د دهٔ سر نه د ده زړوکې پروت وو. د پښتو دا لوئ خان او د هندوستان د آزادئ د تحریک دا نوموړې مَشر او د صف اوّل هیرو او مجاهد داسې ښکاریدو لکه بو بې کوره او بې وطنه ملنګ. دهٔ چې ګاندهي ولیدو نو سربې را وچت کړو او ٌموسیدو. ده خپل څادراوبو پنډوکي کښې دوه جوړې کپړې په ترخ کښې راواخستې او د ریلې نه راکوز شو.

د انګریز واکدار اوس هم ده ته زړه ډک وَد او د دهٔ د پښتونخوا په تلو بې پابندي بو کال د پاره نوره سیوا کړه. دا هیڅ اندازه نشته چې دا پابندي به کله پورې جاري وه که ډاکټر خان مداخلت نه وُرکړې موږ دا هم وئیلې شو چې دا د قسمت مداخلت وُو. د هندوستان د قانون سازو کونسلونو د پاره د ۱۹۳۸ء

په جنوري کښې انتخابونه اُشول. ډاکټرخان د ډېرو ګونو میلو لرې نه دې انتخابونو کښې برخه واخسته او د پښتونخوا د اسمبلۍ د پاره منتخب شو. په ده هم د انتخابونو نه وړاندې خپلې صوبې ته په تلو پابندي وه. جولائي کښې دې د پښتونخوا نه دې اعلیٰ وزیر کلې شو او ده د هغه نه اول دا کار وکړو چې د خپل دور خلاف یې د پابندۍ حکم ودچت کړو.

د اګست په آخر کښې خان شپږ کاله پس د پښتونخوا خاورې ته والپس شو. د ده پښتون سیرت نګار محمد یونس د ده د واپسۍ په باب کښې داسې لیکي:

" آخر د جلا وطنۍ او د جیل د ستومانه شپږو کلونو ژوند نه پس کال اوه دیرشم کښې د سنګینې المیې دا تامي هیرو د جوش او خروش او خوشحالو په ننداړو کښې خپلې خاورې ته راستون شو. ده نه چې په کوم ډول او مینه پښتنو ستړې مه شې اووې هغه هیڅ لې یو ګران کار دې او نه داسې څه جاج اخستې شي چې د هغوی په زړونو کښې ده د پاره څومره ژور احترام وو."

غفار خان په خپله خاوره وُو. هغه خاوره چې په ده ډیره ګرانه وه او د کومې د آزادولو په هسه کښې چې ده په ځان د آرام او سکون ژوند حرام کړې وو. د ده

په څ د سنوماني او تکليف ډېره اثرات ښه جوت وو کوم چې په دغه تير شوي وو. دې دلته په دې غرض بيا راډسيدلي وو چې د طوفاني او سيلابي اوبو نه د تمام دَ آزادۍ کښتۍ را بهر کړي. عام انتخابونه شوي وُو او دَ دغه ملکونه د پښتونخوا د حکومت قائمولو بلنه ورکړې شوې وه. دا يقيناً چې د فتح او برياليتوب وخت وو. د ښځو ېښتو کالو د مسلسل محنت او تکليف نه پس فخرِ افغان د پښتنو دې عظيم مشر ليډل چې د دغه پارټۍ نه د واک او اختيار يوه پېغمه ترلاسه شوې وه. دا دَ دغه حوصله، کلکه اراده، هنرمندي او د فيصلې قوت وُو. چې د دغه خدائي خدمتګارانو، چې په تن لغړ وُو او تش لاس وو د انګريز واکدارانه د اقتدار يوه برخه ترلاسه کړه او د مودو راسې د غلامۍ نه پس بې خپل پرومبئ حکومت جوړ کړې وو.

اکتوبر او ورپسې د جنورۍ مياشت کښې نهرو پښتونخوا ته راغلو او د باچاخان په ملګرتيا کښې يې د هرې يوې ضلعې دوره وکړه او آخر د کال ۱۹۳۸ء په مئيه کښې ګاندهي هم د پښتونخوا د دورې خپل ارمان پوره کړو. د هندوستان په سياست کښې خاموشي خوره

وه په دې وجه وانسراې ګاندهي ته د دې صوبې د دورې کولو اجازت ورکړو.

خان د ګاندهي په دوره ډېر خوشحاله وو. دې ګاندهي ته د هرکلي د پاره نوښار ته راوتې وو. او د هلته نه يې پېښور کښې د ډاکټر خان کور ته بوتلو. ګټې ښمير کښې خاموشه، منظم او ساده پښتانه د ده لیدو د پاره د سړکونو په څنډه ولاړ وو. ګاندهي د دوی په لیدو خوشحاله وو. په کلونو ګاندهي د اسې حالاتو سره مخ وو چې ټول هندوستان کښې په خلکو د ده سره نزدې کېدل د ځان د پاره برکت ګڼلو د ده ترخپو به پرېوتل ولې د پښتنو دا دستور او داعادت نه وو، هغوی ته باچا خان د نظم و نسق او ضبط سبق ورکړې وو. هغوی به په خپل ځاې ولاړ وو او د سترګو او د مخ د تأثر نه يې د ګاندهي د پاره د احترام جذبه ښکاره وه. انسانو او ګېر چاپېره کلو کښې هم ګاندهي ته په دې ډول سترې مه شې اوېلې شول. په زرګونو خدائي خدمت ګاران په سور یونیفارم کښې د سړک په غاړه یو قطار کښې نېغ او خاموشه ولاړ وو او په موسکابې د ګاندهي په لیدو د خوشحالۍ څرګندونه کوله.

د باچاخان په مخ د خوشحالۍ آثار ښه ځرګند وو. دې په خپلو حوصله منډو او کلکه اولس غاوره وو. دا به دا حقیقت نه پېژنو. هر یو کلي کښې به اولس دَ خپل باچا د لیدو د پاره راتلو. دا سره به ښې دَ دوست او ملګري په حیث خبرې کولې د هغوی د روښ نه داسې ښکاریده لکه باچا خان دوی کښې د هر چا یو رشته دار وي.

ځنه کسانو به ورسره نوې تهالي شورو کړې. او ځنه کسانو به ورسره صلاح مشوره کوله. دغه ورځو کښې د مالیې نرخ سپوا کړې شوې وو، دوی به تپوس کولو چې آیا موږ د مالیې ورکولو نه انکار وکړو؟ دا ساده کلیوال نه خو د انګریز واکدار نه یریدل او نه د هغوی د وفادارو خانانو نه. دوی ځان د قوت او اختیار خښتن ګڼلو. ګاندهي د باچا خان او د دهٔ دَ عقیدتمندو نرمښځه د تړون او تعلق نه ډیر متأثره شو. دهٔ وروستو اولیکل چې زهٔ پښتونخوا کښې چرته هم لاړم:

" هلته هر یو سړي، نر او ښځې او ماشومانو د باچا خان سره مینه کوله. دوی به ډیر په آزادۍ سره دهٔ

نه ستړي مه شي وئيل. داسې ښکاريده لکه ده سره نژدې کيدل، ده سره نژدې کيناستل او خبرې اترې کول د دوی د نسلي وجه وه خان به د دوی نه مينځه څه منفرد نه ښکاريدو. د باچاخان او د ده پښتنو عقيدتمندو نه مينځه تعلق. زه نه يواځې حيران کړم بلکه زه ډير زيات خوشحاله هم شوم. موږ ته اوسه دا ليدلي دي چې د نوځ ديو جرنيل داسې تابعداري کيږي. ولې ما دا اُليدل چې پښتون باچاخان ته دَ جرنيل په شان تابعداري ورکوي فرق دا دې چې د يو جرنيل تابعداري د مجبورۍ له کبله کولې شي او د باچا خان تابعدارې د احترام او مينې دَ جذبې نه لاندې کولې شي.“

باچاخان به دوی نه (پښتنو) نه وئيل چې د انقلاب روح ګانډهي دې. دوی به چې چرته ايساريدل او اُوريدل پښتنو او سور يو نيفارم کښې خدائي خدمتګارانو په ګانډهي سره د خپلې مينې څرګندونه کوله. يو پښتون ده نه مردان کښې اُووې" چې تاچې د پښتنو سره څومره نيکي او مرسته کړې ده دا به موږ چرې هم هيره نکړو تا باچا خان د جلا وطنۍ په موده کښې شپږ کاله واردها کښې ميلمه اُسانلو، نه د هغې په بدل کښې زموږ شپږ مياشتې ميلمستيا

خوښوله کړه. ګاندهي د دغه د مینې منته وکړه.

بو بل کس ګاندهي ته دوی: "چې موږ بې علمه یو، موږ نادار یو. خو موږ د هیڅ څیز کمې نه محسوسوو دلې چې نا موږ ته د عدم تشدد سبق نیودلی دی"

ګاندهي د رنځورۍ په وجه خپله دوره لنډه کړه او د روانې کرمې کښې بې د ډیان وخت د پاره د راتلو وعده وکړه. ګاندهي بیا په تفصیل سره د خدائي خدمتګار د تنظیم د مطالعې او حاجاتو په غرض راغلې وو. ګاندهي د پښتنوخوا نه د وتلو په وخت دوی: "چې ناسو زړه ورتیا او ضبط او تنظیم د ټول هندوستان د پاره د بول مثال جوړې دی شي دغه اوومي چې زه ناسو ته په دې زده کړه د زړه د کومې نه اُمیادکي دکووم زه دا دعا خپل زړه کښې د خان سره ساتم چې د پښتنوخوا باتور اُولس به یواځې د هندوستان خپل رولره د انګریز د غلامۍ نه آزاد کړې بلکه ټولې نړۍ ته به عدم تشدد د عمل کولو زده کړه ورکړي."

ګاندهي اکتوبر کښې بیا راغلو. دغه د خدائي خدمتګارانو، په خاص ډول د تنظیم د افسرانو سره په تفصیل

خبرې اترې کول غوښتل. د ګاندهي دا خيال وو چې دَ دوی عدم تشدد لا پوخ نه دې. هندوستان کښې دَ ګاندهي د نورو پيروکارو په ډول دوی د عدم تشدد په ذريعه د مزاحمت کولو د خيال او فکر سره خو بلد وو ولې دوی په دې نه پوهيدل چې د عدم تشدد په ذريعه يوه معاشره څنګه پيداوارې جوړېدې شي.

شورو شورو کښې ګاندهي اتمانزو کښې دَ خان په باغ کښې ديره وو. زبان کار دې دومره کمزورې کړې وو چې دَه د اولس سره ملاقاتونه بند کړي وو ولې چې دَه د خبرو قوت نه لرو

باغ کښې د ګنو ميوو او آلوچو په ېټو کښې او د سيند په غاړه رو رو د ګرځيدو راګرځيدو نه پس د ده صحت ښه شوې وو"

يوه هفته پس ګاندهي او باچاخان د چارسدې د ضلعې دَ دولسو افسرانو سره د ارذو ېټو په منځ کښې خبرې اترې کولې. د خزان خوږه هوا را خوره شوې وه. خدائي خدمتګارو افسرانو ګهاتما ته اودې . چې زموږ عدم تشدد بيخي پوخ دې او موږ جوړ هم

د دې نه څنګ نه شو کولی.

ګاندهي د دوی نه تپوس وکړو چې آیا دا حقیقت نه دې چې ستاسو عدم تشدد به هغه وخت پورې قائم وي څو پورې چې باچا خان وي ؟

نا- داسې نه ده، خدائې دې نکړی که زموږ باچا خان هم په عدم تشدد عمل پرېښود، موږ به په دې کلک ولاړ یو دوی جواب ورکړو.

ګاندهي د دوی په خبرو پسې آخاندل. ګاندهي د پښتنو په حیا، رواداری او فطري انداز ډېر مثین وو.

ګاندهي دوی نه اورې چې داسې وخت کښې عدم تشدد کول چې تاسو دیو وسله بند دښمن سره مخا مخ یئ یوه قدرتي خبره ده. داسې وخت کښې خو بل څه کېدې نه شي. دا خو داسې عدم تشدد دې چې د کمزورئ نه کبله ېرې عمل کولی شي.

خدائي خدمتګاران افسران د ګاندهي په دې خبره پرېشانه شول. دوی د باچا خان په لور اُکتل او تپوس یې تر نه وکړو چې آیا ګاندهي چې تر زموږ د. هغې عدم تشدد یه بابله څه علم نشته د کوم مـ ـهره چې موږ د قصه خوانئ بازار او کوهاټ

کښې د ګونو په باران کښې کړې ده ؟

ګاندهي خپله خبره جاري د ساتله ده اووې چې ځما مقصد دا دې چې تاسو به خپل کښې په عدم تشدد څنګه عمل کوې ؟ ځما مقصد دا دې چې که د خپلو کمزورو کليوالو سره ستاسو جګړه راشي او هيڅوک داسې نشته چې ستاسو مخه اوهي، ما سوائې د دې نه چې ستاسو خپله اراده او ضبط تاسو په کليوالو د زور زياتي نه ايسارولي شي ـ داسې وخت کښې به تاسو څه کوې ؟

يو افسر ورته اووې چې مهاتما صيب! مونږ ستا په خبره پوه نه شو ـ ګاندهي ورته ووې چې ځما مقصد دا دې چې تاسو له په کار دي چې د چاقو او د ټوپک په ګوزارونو ځان مضبوت محسوس کړي. او که داسې نه وي، د چاقو او ټوپک نه بغير تاسو ځان کمزورې محسوس نو بيا غوره خبره دا ده چې بيا ټوپک او توره راواخلئ ګاندهي ووې چې د عدم تشدد مقصد دا دې چې د ټوپک او تورې نه بغير هم ځان مضبوت او بادر محسوس کړئ

" ګاندهي دوی ته ووې چې په ما او باچا خان دا الزام لګوې شي چې د عدم تشدد د پيهار کوبر

په ذریعه موږ د هندوستان سره بدي کوُو ولې چې
دَ دې په ذریعه د پښتونخوا په نورزن اولس نوره
او نهویک په دې غرض نښاته کوُو چې د دوی دَ
قوت او مرانې نه د هندوستان اُولس محرومه کړې
شي. ګاندهي ووې چې په موږ الزام لګوو نکي وائيَ
چې نول هندوستان کښې پښتونخوا د اِسلام یوه مضبوته
قلا ده. دوی وائيَ چې پښتون د نورې او نهویک
مرنې دې او زه ګاندهي چې ناسو نه دَ نهویک او
چاقو او نودې ګوزارولو کړم سبق ورکووم. دا زه په
اصل کښې د اسلام دغه مضبوته مورچه د ړنګولو
کوشش کووم او هندوستان کښې د اسلام تحفظ په
خطره کښې اچووم."

ګاندهي ووې چې زه دا الزام رد کووُم. ځما داسې هیڅ
اراده نشته چې د اسلام سره بدي وکړم. ده ووې چې:
"ځما دا پخه عقیده ده چې د عدم تشدد په ذریعه
په ناسو نه یوائې د ټول هندوستان بلکه د اسلامي
نړۍ په کار راشئ ولې چې دَ دې په ذریعه به ناسو
یو داسې روحاني قوت اُمومئ چې د هغې په زور
به ناسو نه یوائې د اسلام تحفظ وکړې شئ. بلکه دَ

نړۍ د نورو مذهبونو او عقیدو تحفظ به هم وکړي شي.
دا زه ځکه وایم چې ټول هندوستان کښې یو پښتون داسې اولس دې چې صبر، استقلال، رواداري، حوصله زړه ورتیا او جیالتیا. دا داسې خوبۍ دي چې د پښتون په برخه رسیدلي دي او په عدم تشدد عمل کول دَ کمزورۍ اولس کار نه شي کیدې.
ګاندهي غلې شو او دَ پښتنو د سنجیده مخونو په لوري وکتل. ده ووې چې که تاسو د دې قوت په راز نه یې رسیدلي او د تورې او ټوپک کینولو په وجه تاسو ځان کمزورې او بې بسه ګڼئ نو دا به ډېره غوره وي چې په عدم تشدد عمل کول پرېږدئ ولې چې زه دا نه غواړم چې د پښتون په څېر یو غاوره او بادر اولس دِ ځما دَ اثر لاندې کمزورې او بې بسه شي"
ګاندهي ووې چې نن ۸۰۰۰ ۱۷ سرکاري فوځ په موږ حکمراني کوي. ده ووې چې که خدائي خدمت ګاران په ربښتیا د عدم تشدد قوت او روحاني طاقت محسوسوي نو د هندوستان د آزادۍ د پاره په عدم تشدد ولاړ ۷۰۰۰ ۱ وګړي هم ډېر دي ولې چې داسې وګړو سره به د الله تعالیٰ مرسته ملګرې وي.

ولې که په عدم تشدد د عمل کولو دعوی س نکه کسان هم وکړي او د هغوی په زړونو کښې تشدد چې وهي دوی به هیڅ ونکړې شي. بلکه داسې وکړي بوه خطره جوړې دې شي.

د چارسدې یو خدائي خدمت کار د کا ندهي نه تپوس وکړو چې د زړه نه د تشدد ایستلو نه سناسو څه مراد دې؟

کاندهي ورته جواب ورکړو چې د دې مقصد په خپل زړه کښې دغصې او قهر په جذبې قابو موندل دي. دا په زړه کښې د غصې د جذبې نوغه ایستل دي. ده ورې چې که یوکس په ما حمله وکړي، ما ته تحمل وکړي او حما د سپکاوي هسه وکړي او ما ته غصه راشي د دې مقصد دا شو چې ما د زړه نه د غصې او قهر جذبه نه ده ختمه کړې. دا عدم تشدد یو داسې شې دې چې د دې په برکت سړې خپل زړه کښې یو قوت محسوس کړي. روحانی قوت اُمومي او سړې خپل رب وپیژني. یو داسې کس چې دَ خپل الله سره تعلق لري د هغه په زړه کښې غصه قهر او ویره نشي راپېدیدې. غصه قهر او ویره او کوکه دَ یو داسې کس کار دې چې نه ځان پیژني او نه الله پیژني؟

دماغ یکر خړه را خوره شوه. حجرې کښې سبوړې را
اُښ دې شوې. ګاندهي د خدائي خدمتګار تعریف یدې
ډول وکړو چې "یو خدائي خدمتګار هغه کس کیدې
شي چې خپله مرضي خپل رب ته وسپارې. د دې
مقصد دا شو چې یو خدائي خدمتګار به پوهېز کار
او محنتي وي. دهٔ اووې چې د ټوپې او ټوپک ګوزارولو
مقصد دا نه دې چې سړې دِ بیکاره کښېني هغه ته پکار
دې چې د کړیئې چلولو کار زده کړي، د کوڅو او کوروټو
د صفائي کار شورو کړي، د طبي امداد بنیادي کار زده
کړي او خپل الله په یاد کښې ساتي. ګاندهي ووې چې یو
داسې کس چې په رښتیا سره په عدم تشدد ولاړ دې
هغه به هرې ساه اخستو سره الله یاد وي. دهٔ ووې
چې زهٔ د نېږو ټلو کالو راسې داسې کوشش اواوس
په خوب کښې هم الله یاد ږوم.

ګاندهي ووې چې د سور یونیفارم په اچولو څوک
خدائي خدمتګار نه شي جوړې دې. او نه د خدائي
خدمتګارو په صف کښې په اُدریدو څوک خدائي
خدمتګار جوړې دې شي دهٔ اُووې چې دا یو داسې
عمل دې چې یو کس ځان کښې د الله قوت محسوس کړي

دا هغه قوّت دې چې دَ تپوپک او نورې د قوّت نه جُدا احساس لري. دا ووې ناسو اوس د عدم تشدد درشلې پورې را رسيدلي يې دا هم ستاسو د پاره يوه لويه کارنامه ده اوچې تاسو کله په مکمل ډول د عدم تشدد په کور ور دننه شئ نو تاسو به ځان بېخي بدل محسوس کړئ.

پنځلسم اکتوبر پورې د کانډهي صحت نور ښه شوې وه او دوئ د پښتونخوا د سويلي ضلعو دورة په هغه ويکن کښې شورو کړه چې چوا هرلال نهرو دوئ ته ورکړې وو. دوئ به په کلو کښې اُدريدل، کليوالو سره به يې خبرې کولې او بيا به يې سفرجاري ساتلو. دوئ د کوهاټ په ديې ورداوريدل. د کرم وادئ ته ورغلل، هلته يې ځائې په ځائې کښې و اولسي غونډو ته تقريرونه وکړل دا يوې جلسې ته د تقرير کولو په وخت ووې چې تاسو ته پته ده چې پښتون ته د هندوستان په سيمه په کرم نظر کتلې شي؟ دا ووې چې څوک ستاسو نوم واوري د هغوئ رنګونه زيړ شي. ميانده خپل ماشومان ستاسو په نامه بيږي خو په عدم تشدد ولاړ پښتون څو د ګلاب يو داسې ګل دې چې د هغه خوشبوئي په ټوله نړئ کښې خوره ده. اوکه پښتون په صحي ډول

په عدم تشدد ولاړ پاڅي ښور د ده خوشبوئي به دَ هندوستان د اولس په زړونو ورد ننه شي او هغوی به د غلامۍ نه آزاد کړي. ده ووې چې اې پښتنو! دَ هندوستان د آزادۍ ناوې ستاسو د عدم تشدم د مرانې په انتظار ولاړه ده. داکار يو تاسو کولې شئ.

دواړه ګاندهيان د سويل وچې او پې هغې سيمې ډېره جانو پهٔ لور ورغلل. خدائي خدمت ګاران په ميلونو اُږدو قطارونو کښې د دوی د ليدو د پاره د پاره ولاړ وو.

اُږده اُږده او رعب ناکه وزيري او اورکزی د خپلو مضبوټو او محفوظو ځايونو نه ټوپک په اُږده د سړکونو په څنډو د دوی د استقبال د پاره ولاړ وو. ډېر به داسې وو چې ډولونه او سرنې ګاڼي به يې دَ دوی په ليدو غږولې. دغه سيمو کښې داسې بنکاريده لکه يونختې وي او ميله لګيدلې وي. دَ اُولس په مخونو د خوشحالۍ آثار ښه څرګند وو.

په څليرښتم دوی بنوں ته اُرسيدل اوس اوس وزيري قبائلو د بنوں ښار لوټلې وو. ځنه سوداګر يې وژلې وو. د بنوں په اولس د ډېری ورېژې خورې وې دوی هلته د خلکو سره اُليدل، غوندو نه يې تقريرونه

وکړل او اولس ته یې غوږ وکړو چې وږیان بنیادمان دي، ستاسو په شان بنیادمان دي. دهٔ ووې چې که ما ته اجازت راکړې شو نو زهٔ د هغوی سره اُسېدو ته تیار یم. د هغوی سره به خبرې اترې وکړم. دا څوک وائي چې وږیږې په مینه او دلیل نه پوهیږي؟

د میاشتې په آخره کښې خان او ګاندهي اُتمانزو ته واپس شول.

د باچا خان په باغونو کښې ونو بوټو پخې څنډلې وې. دوی به د خان په څمکه کرځېدل راکرځېدل او د هندوستان د سیاست په بابله به یې خبرې اترې کولې یوه ورځ د سیند په غاړهٔ دوی د خدائي خدمتکارانو په حقله خبرې شورو کړې. ګاندهي جي د باچا خان نه تپوس وکړو چې ستا خدائي خدمتګاران په عدم تشدد څومره کلک ولاړ دي؟

څا خپل تاثر دا دې، باچا خان اووې چې تکه څنګه چې تاسو خپله د هغوی خبرې واورېدې هغوی هغه معیار ته نه رسیدلي چې تاسو یې ذکر کوې. دوی د تشدد وجود د خپل زړهٔ نه وینتلې نه دي ولې په دې بابله د دوی په خلوص او اراده شک نه شي کیدې.

که ددې نه موقع ورکړې شي، ځما خیال دا دې چې دا بخه شکل اُومي، خو د پښتون د پاره په مکمل ډول په عدم تشدد عمل کول کښې ډېر وخت او سفر پانې ږو. دَ پښتنو قبیلو او خاندانونو تر مېنځه په دښمنو او جنګونو به باچاخان همیشه زهیر او غمجن وو. ددې دوارړه څه وخت پورې خاموشه روان وو. بیا باچا خان دا خاموشي مانه کړه. دَه کاندهي ته مخ ور واړه ولوچې ګرانه ګهانما!" نه پخپلو سترګو وینې چې دا ځمکه ډېره آباده او مړه ده. دلته هر څنګه میوه دانه کیږي که دَ پښتنو تر مینځه دښمنۍ او ترېګنۍ ورک شي نو دَ پښتونخوا دا وړوکې ټوټه دَ دې نړۍ په مخ د جنت یوه برخه جوړیدې شي. زموږ بدقسمتي دا ده چې دا دښمنۍ او ترېګنۍ په موږ د یو آفت په څېر را نازله شوې ده. تشدد د پښتون د مزاج او طبیعت هغه بنیادي خرابي ده چې دَ ده ټولې خوبې خوري. د دې تشدد او خپلو کښې دَ دښمنو په وجه د پښتنو اتحاد او اتفاق د موږو مړدو راسې تالا ترغا شوي دي. د یو پښتون ټول قوت او فکر په دې کښې تیر شي چې هغه به د خپل رید مړې څنګه ټریې کړي هغه د دې فکر لاندې مغلوبه پروت دې.

چې د دور نړلوړا د پر ګخنګ لاره به څنګه نیسي او دغه وجه ده چې موږ پانې راغلي یو. باچا خان ورانديې ووې چې که چرې موږ د دې لعنت نه ځان خلاص کړو نو موږ کښې دومره قوت شته چې د ځمکې په مخ یو ښه کردار ادا کولې شو او لکه د آسمان دستورو ځلیدې شو؟

ګاندهي څه جواب ورنکړو او د سینه پورې غاړې په ورېې کتل. خان ورته خپل زړه راښکاره کړو. ده ورانديې ووې چې:

" دا ځما پوخ یقین دې چې څو پورې د پښتون او پښتونخوا تعلق دې، د عدم تشدد تحریک یوه تحفه ده چې الله تعالیٰ موږ ته را لیږلي ده. دا زه د خپلې تجربې په رڼا کښې وایم چې د عدم تشدد نه بغیر د پښتون د نجات بله لاره نشته.

ده ووې چې یو وخت وو چې موږ دومره بې زړه او بې خونده شوې وُو چې د انګریز په لیدو به پښتون یریدو او نړیدو خو اوس زموږ ماشومان هم چې فرنګي ووینې نو ورته وائي چې اې فرنګیه! ته اوس هم لا زموږ په خاوره ګرځې. کله به ورکیږې، وا یه کنه؟

انګرېز دَ منشدد پښتون په ځائې د هغې پښتون نه زيات يرېږي چې په عدم تشدد ولاړ وي. هغوئ وائې چې په عدم تشدد ولاړ پښتون د هغوئ (فرنګي) د پاره زيات خطرناک دې.“

ګاندهي په دې موقع باچا خان نه مشوره ورکړه چې خپلو رضاکارو نه تعميري پروګرام ورکړه. ګاندهي د پښتونخوا د دورې په دوران کښې داسې نخه پروګرام نه وويلې. ګاندهي ووې چې دې کښې شک نشته چې پښتون نه عدم تشدد په ذريعه د جنګيدو چل زده دې. اوس دوئ نه دا هم ښودل په کار دي چې د عدم تشدد دا عمل دې زوند په نورو معاملو کښې روان کړي او دا يو ګران کار دې ولې چې امن کښې د جنګ جګړې خوند او رنګ نشته. ګاندهي ووې چې دَ جنګ د پاره انسان هميشه ځان مجبوره کښي او ځکه نن نړوله لړئ د وير او فساد او جنګ جګړو او تباه کارو نه ډکه ده.

ګاندهي ووې چې خدائي خدمت ګارانو له په کار دي چې وړو کو صنعتونو نه لاس واچوي په کور د کېږې جوړولو طريقه زده کړي. ګاندهي ليدلي وو چې ډيرو ګمو رضاکارانو د خپل لاس جوړې کړې اچولي وې.

خان د ګاندهي د خبرې سره اتفاق وکړو. ده ووې چې په دې لړ کښې ما اُتمانزو کښې د يوه مرکز پرانستو منصوبه تياره کړې ده. ده ووې چې ځما اراده دا ده چې زه يو مثالي کلي جوړ کړم.

د خدائي خدمتګارانو په مرکز کښې به موږ ځان ته پخپلو خپو د اُدريدو، په خپل کور د پوره کيدو هدف ټاکو: چې هغه کېږه په کار راهستي شي چې موږ يې په خپله جوړه کړو. يوا ځې هغه ميوه دانه او سبزيانې اُخوړې شي چې زموږ په خپله خاوره پيدا کيږي. او په دغه ډول به دي مرکز کښې هغوی ته دا زده کړه ورکولې شي چې د يو تام په خير موږ څنګه پخپل ځان باور کولې شو. باچاخان ووې چې د يو باعزته او دروند اولس سره دا خوند نه کوي چې د نورو اُلسونو جوړ شيان او پيداوار استعمال کړي.

ګاندهي ورته زر په بيړه ووې چې خدائي خدمتګارانو ته په کار دي چې د يو بل سره خپو، نوښو ديوالونو او کوندنو جوړولو کښې لاس امداد کوي.

باچاخان ووې چې دا زموږ پروګرام کښې شامل دي.

دګاندهي دا خبره خوښه شوه او باچاخان ته يې تجويز وړاندې کړو چې د خدائي خدمت ګارانو بوه ډله واردها ته راولېږه چې دوی هلته په ګډه د کارکونو ترسنځ ايله، د صفائی کار او بنيادي تعليم ترڅ سره کړي.

باچاخان د ګاندهي جي په دې پېش کش ډېر خوشحاله شو. ګاندهي ورته بيا دوې چې ځو پورې د ټول کارونه په خپله زده نکړې. دې پروګرام کښې کاميابي موندل ګرانه دځ.

ښرګه د مغرب په لور د کوه سپيد په څوکه وړاړه وو هوا چېرة تندی سره يخه شوه او دوی دواړه د خپلې ديرې په لوس راواوريدل.

ګاندهي وايلې ښې ده نه دوې. چې دا کاني نه ده که يو کس خپله وسله ګوزار کړي. عدم تشدد داوچتې درجې يو اعلیٰ اصول دې دا د روح قوت دې. داسې نکه يو سړې ځان کښې خدائي قوت پيدا کړي. دوی د آلوچو په پټو کښې د اونو په ولو تندی سره پورې وتل. ګاندهي ووې چې که يو سړې د غنمو د دانې برابر هم يو رښتونی خدائي خدمتګار شي او په عدم تشدد بلاړ پاتې شي نو د ټولې معاشرې د بارة ښجنور

او د برکت سبب جوړې دې شي دغه په تلو تلو کښې د اوچو د باغ په یوه غاړه اُدریدل. گاندهي د باچا خان په لور وکتل چې گوره! که نه یواځې انسانان و کښې هم د عدم تشدد په ذریعه معاملې سمې رې کړې نو ستا د تشدد ټوله مسئله به هواره شي. ده ورې چې د عدم تشدد بنیادي اُصول دا دې چې کوم یو شې، کومه یوه خبره ستا په حق کښې غوره وي هغه هم دا سې د هر چا په حق کښې غوره وي. گاندهي اووې چې زموږ تعلقات د نورو سره هم بدلیدې شي که موږ ورته اُوایو چې موږ خپل حفاظت پخپله کولې شو. تاسو چې زموږ د تحفظ د پاره کوم پولس او فوځ ساتلې دې موږ ته د دې ضرورت نشته.

څنگه چې تیاره په وادۍ خوریده گاندهي او باچاخان ساده خوراک وخوړو او چرته د نکو غرونو کښې پردت یو لوړې کلي کښې څه وخت تیرولو په حفله ښې خبرې اترې کولې. باچاخان ورته او وې چې گاندهي جي! سوات به ضرور وینې سوات زموږ د پښتونخوا جنت دې یقین به دِ هله راشي چې په خپلو سترگو هلته د قدرت د حسن او ښائست ننداره وکړې. باچاخان ورته ټولو

کښې ووې چې هسې نه چې هم هلته چرې پاتې شي بیا به دِ خپل پیر وکار لټوي او نه به نه وې بیا به څه چل کیږي؟ باچا خان ورته په خندا ووې.

دا دوارۀ ګاندهیان او ملکرې د یو بل نه متاثره وو. باچا خان به د ګاندهي احترام کولو او د دهٔ مشورې نه به یې د قدر په نظر کتل هم داسې ګاندهي د باچاخان احترام کولو. دا دوارۀ د هندوستان د آزادۍ د تحریک سربکران هم وو او دوارۀ ملګرې هم وو د سنجیده خبرو اترو او لویو لویو فیصلو نه علاوه به یې کله نه کله د یو بل سره ټوقې کولې. د یو بل په لیدو به خوشحالیدل او د یو بل نه په جدا کیدو به ز هیر بدل.

په دویم نومبر ګاندهي د پښتونخوا د غېږنې خاورې نه قطبي هندوستان ته روانیدو نه نیار شو. دۀ پیښور کښې خدائي خدمت ګارو ته ووې: "خدائي خدمتګارو په عدم تشدد عمل کولو تر کښې هغه حد پورې تښه پر مخنګ کړې دې څومره پورې چې دوی په دې پوه دې. ولې دوی به د دې نه یو قدم وړاندې تګ کوی تاسو له په کار دي چې د عدم تشدد په حقله خپل فکر پراخه کړې او داسې په دې د عمل

کونو میدان هم پرانخه کړي. بهر حال ناسوچي ټومره پر مخنګ کړي دي دا د ستاينې وړ دي او ضرورت د دې خبرې دي چې دا تجربه جاري آسانلې شي. که الله ته منظوره وي د خدائي خدمتګارو دا تحريک په کاميابي مومي."

د پښتونخوا يه ټنډه د تيکسلا نه ګاندهي ريل ګاډي کښې د واردها په لور روان شو. چې کله ګاډې د پنجاب په سيمه ورګډ شو، ګاندهي د هغې ملګرې په بايله چې ده ورسنو پښتونخوا کښې پرلېښې وو آ ليکل.

" د خدائي خدمتګارو تحريک را روانو وختونو کښې کاميابي مومي يا نه مومي دا بيله خبره ده ټومره پورې چې د دې تنظيم د مشر تعلق دې، دا حقيقت خه شک نلري چې هغه ځان په د ښتيا سره الله تعالیٰ ته سپارلې دي. د ده دا پخه عقيده ده چې الله تعالیٰ ما ته د هر چانه نزدې ده او دا هم وائي چې ځما تحريک هله کاميابيدې شي که د الله تعالیٰ مرضي زموږه ملګرې وي ده په مکمل ډول خپل ځان او د خپل عمل نتيجې خپل رب ته ورسپارلي دي او بيا چې څه کيږي د هغې پرواه نه کوي.

گاندهي اُلیکلي چې: کله موږ په ټیکسلا جدا شول زموږ په سترګو کښې اوښکې وې ما ته په کار دي چې زر زر د پښتونخوا دوره کووم. باقي ټول هندوستان په د نښتوني ټوکه په عدم تشدد عمل کولو کښې ناکامه کیدلی شي ولې دا قوي اُمید دې چې د پښتونخوا اُولس به د اور په دې سیند پورې وتو کښې بریالي شي.

دا ځکه چې باچا خان یو داسې مشر دې چې پخپلو رضاکارو ډیر ګران دې او د ده هره یوه خبره د ده د رضاکارو د پاره د یوه داسې حکم اثر لري چې هغوی یې ډیر په خوشحالۍ عمل کوي. ټول هندوستان کښې بل داسې مشر نشته چې هغه خپلو کسانو نه څه اُوائي او هغه کارونه په هغه وخت اوشي. دې د عدم تشدد په بابله نشې خبرې نه کوي د ده روح او زړه په دې فلسفه او فکر لړلي دې پرېږده چې شک کوي. ما چې د پښتونخوا په سیمه په دې ټولو هغتو کښې څه اُلیدل دې زه حیران کړې یم. که شک من دا هر څه پخپلو سترګو اُویني نو د هغوی شکونه به داسې ورک شي څنګه چې د سترګو په راختو تیاره ورکه شي.

څوارلسم باب

# دَ باچاخانُ دجد وجهد نتيجه

(۱۹۳۹ء ـ ۱۹۴۷ء)

رسول الله صلی الله علیه و سلّم ته هم مشکلات ور پېښ وو خو دې چرته مایوسه شوې نه دَو او اخر بریالي شو. دهٔ مونږ ته دَ اُمید او مسلسل جد و جهد سبق ور کړې دې. که چرې مونږ دَ خپلو مشکلاتو مقابله په صبر او استقلال سره اُو کړو نو داسې څه وجه نه ښکاري چې مونږ د ولې ناکامه شو. د آزادۍ د پاره جنګ کول یوه صحي او جائزه خبره ده او د غلامۍ زنځیرونه شلولو د پاره لاس خپې وهل یو د ښتوني او عظیم کار دې»

(حضرت باچاخان)

د کال ۱۹۳۹ء په دړومبني ستمبر د نازي جرمني فوځونو د پولینډ پوله وڅنوله. په دویم ستمبر د لندن حکومت

د جرمني خلاف د جنګ اعلان وکړو او هم داسې نوي دلي کښې د برطانيې وائسرائې لارډ لِن لتګو هم د خپل هيواد په مرسته کښې د جرمني خلاف اعلانِ جنګ وکړو. نه ورسره چا مشوره وکړه. او نه څه صلاح، چې درې سوه مليونه هندوستانيان په دغه سکړ د خويه را پاخيدل نو ورته معلومه شوه چې د نړۍ په بله غاړه دوی په جنګ اخته کړې شوي دي.

دوه هفتې وروستو د کانګريس ورکنګ کميټۍ اعلان وکړو چې دا د فاشت يرغل غندنه کوي خو کانګرس به په يو شرط د برطانيې د جنګ په کوشِشونو کښې مرسته کوي" يو آزاد جمهوري هندوستان به ډيره په خوشحالۍ سره د باهمي دفاع په غرض د جرمني د يرغل خلاف د نورو آزادو هيوادونو ملګرتيا وکړي" د ايمپائر د پاره د جنګيدو نه آکاهو په کار دا چې بهارت بو آزاد هيواد وي. ولې د انګريز ارادې څه دي؟

د هند وائسرائې لارډ لِن لتګو جواب کښې ووې چې مونږ هغه وخت پورې څه نشو ويلې خو پورې

چې جنګ ختم شوی نه وي . چې کله جنګ ودرېږي نو د بهارت د مستقبل په حقله د خبرو اترو د پاره به ډېر وخت وي. اوس د ایمپائر د دفاع کولو په غرض د جرمنۍ خلاف زمونږ سره جنګ کښې شریک شي .

شپږ ورځې پس د کانګرس ورکنګ کمېټۍ فیصله وکړه چې د فرنګي به هغه وخت پورې مرسته نشي کولې څو پورې چې د بهارت په حقله دوی خپله اراده او منصوبه ښکاره او واضحه نکړي.

د کانګرس ورکنګ کمېټۍ د کانګرس ټولو وزارتونو او پښتونخوا کښې ډاکټر خان صیب ته هدایت ورکړو چې د جنګ خلاف د احتجاج په توګه د استعفی ورکړي شي. د کانګرس او راج ترمینځه د اوو کالو د امن نه پس یو ځل بیا د جنګ تیارۍ کولې شوې.

په بل لور د بهارت په کلو او بانډو کښې او هره یوه صوبه کښې د یو بل جنګ ـــ د نه ختمیدونکي جنګ تیارۍ هم کولې شوې دا جنګ د بهارت د دوو غټو او لویو مذهبي ټبونو مینځه وُو ـ د هندو او مسلمان ترمینځه ـ دا دواړه مذهبي ټبې په سلونو

کلونو د یو بل سره امن کښې پاتې شوي وې خو دوی اوس د فرنګي د" تقسیم کړه او حکومت کوه" د پالیسی د اثر لاندې راغلي وُو.

کال ۱۸۵۹ء کښې د بمبئ ګورنر ماؤنټ سټورټ الفنسټن خپلو افسرانو ته دا هدایت ورکړې وُو چې د رومیانو په دې خبره عمل کوې" چې که تاسو په نورو اُلسونو حکومت او راج کول غواړی نو دغه اُلسونه خپلو کښې تقسیم کړی" دې کښې څه شک نشته چې د هندوانو او مسلمانانو رسم او رواجونو کښې فرق وُو ولې د پنځو سوو کلونو راسې د دوی تاریخ یو وُو. څنګه دا سې صوبې لکه بنګال کښې د دوی لباس او ژبه هم یوه وه او د یو نابلده کس د پاره دوی کښې څه فرق کول ممکن نه وُو خو د فرنګي والمت د پاره د هندو او مسلمانانو غټه کمزوري د دوی تر مینځه دغه اختلافات وُو.

مسلم لیګ ۱۹۰۹ء کښې وجود کښې راغلي وو او د رومبني دوئ جنګ نه پس پې بنیادونه لګیدلي وُو کال ۱۹۲۰ء کښې کانګریس او مسلم لیګ د فرنګي ملګرتیا نه کولو په تحریک کښې ملګرې وو او د دې نه پس

دا د یو بل رقیبان شول ـــ د دوی تر مینځه فرق دا ؤو چې کانګریس آزادي غوښته او د فرنګي د سرپرستي ملګرتیا نه کولو په پالیسۍ روان وُو ـــ مسلم لیګ په بل لور ایمپائر کښې دننه د ډومینین درجه غوښته او د تاج او د راج د ملګرتیا په پالیسۍ روان وو ـــ دا هغه وخت وُو چې خدائي خدمتګار هغه یواځنې مسلمان تنظیم وو چې د کال ۱۹۲۰ء نه پس ښه په ډاګه د فرنګي د راج او واک خلاف وُو.

د نولس سوه دیرشمې لس کلیزه آخره کښې آزادي موندل د یو حقیقت په ډول ښکاره شو. د یو آزاد مسلمان هیواد د پاره تحریک زور او قوّت حاصل کړو. د کال ۱۹۴۰ء په مارچ کښې مسلم لیګ د لاهور په اجلاس کښې د یو آزاد او خپلواکه مسلمان ریاست غوښتنه اُوکړه.

د لیګ صدر محمد علی جناح اعلان وکړو چې مسلمان ځانته یو قام دې او په کار دہ چې د دوی خپل یو هیواد وي، د دوی خپله خاوره او خپل حکومت او خپلواکي وي. پاکستان به په هغه صوبو مشتمل وي

چرته چې مسلمان ګڼ شمير کښې دي۔ دې کښې به د بنګال، کشمير، آسام، پنجاب، سنده، بلوچستان او د پښتونخوا صوبې شاملې وي۔ ليګ خان او دَ دهٔ خدائي خدمتګارانو ته دَ هندوانو خلاف جنګ کښې د لاس کولو بلنه ورکړه۔

خان ووې چې داسې نشي کيدې ځکه چې د مسلمان دښمن هندو نه دې۔ فرنګي د مسلمان دښمن دې ده ليګ ته ووې چې کله فرنګي ورک شي او دا وطن آزاد شي هلو مسلمان او هندو متحده هندوستان کښې يو ځائې پاتې کيدې شي۔ دا دوارهٔ اُلسونه ورانده هم يو ځائې پاتې شوي دي او په پيړو پيړو د يو بل ګاونډ کښې پاتې دي۔ ده ليګ ته بلنه ورکړه چې دَ فرنګي خلاف جنګ کښې د کانګريس سره ملګرتيا وکړي۔

ليګ د باچا خان دا پيش کش رد کړو چې ليګ د داسې کانګريس مرستيال نشي جوړېږي دې چې دَ هندوانو د غلبې لاندې وي۔ مسلم ليګ د باچا خان په خيټ د يو سنې مسلمان خلاف پراپيګنډه شورو کړه۔ دوى به وئيل چې "باچا خان هندو دې" دَ کانګريس او مسلم ليګ تر مينځه اختلاف نور سيوا شول د هندو او مسلمان تر مينځه تاؤ تريخوالې نور زيات شو.

۱۹۴۰ کښې جرمني په فرانس قابض شو. ورپسې د انګلستان وار ؤو د کانګریس ورکنګ کمیټۍ په دې خبره بحث وکړو چې د حملې په صورت کښې به بهارت خپله دفاع په کوم ډول کوي؟ آیا دا به خپله دفاع د عدم تشدد په ذریعه کوي او که د تشدد په ذریعه.

ګاندهي او باچا خان دا دلیل ورکړو چې دا هلته د سره څه مسئله نه ده ځکه چې "عدم تشدد" دا سې څه حکمت عملي نه ده چې کله ضرورت وي. سرېې د ترنه لاس په سر شي. دا د ژوند یوه لاره ده یو اخلاق دې. دا د ژوند په ټولو اړخونو لاګو دې او د دې نه د هر یو ضرورت په وخت کار اخستل په کار ده. که بهارت د خپلې آزادۍ حفاظت د وسلې په ذریعه کوي نو دا خپله آزادي څنګه د عدم تشدد په ذریعه ګټلې شي د تشدد او د عدم تشدد په سوال کمیټۍ د اختلافاتو ښکار شوه ځکه چې کاله کښې په ړومبني وار د آزادۍ د تحریک نومیالي نهرو، پټیل، آزاد او راج ګوپال اچاریه د ګاندهي د پالیسۍ خلاف شول. د دوی دلیل دا ؤو چې د عدم تشدد په ذریعه خو آزادي موندې شي

ولې د دې په ذريعه د جرګې د دښمن لاره نيول ممکن نشي کيدې ورکنګ کميټۍ دا غمزن قرار داد منظور کړو چې " دَ دې د پاره دګاندهي جي په لاره تګ ګران دې"

ګاندهي خپله لاره جدا کړه۔ ده کانګريس ته ووې چې زهٔ به ستاسو هغه وخت ملګرتيا کوؤم کله چې تاسو په عدم تشدد عمل کوې د عدم تشدد په بابله باچا خان سخته رويه اختيار کړه۔ ده ووې چې که چرې کانګريس په اُصولي ډول هم د عدم تشدد دَ لارې نه بې لارې شو نو دې به د کانګريس مرستيال نه وي۔ دَ باچا خان رويه ځکه سخته وه چې که دې يو اېنچ هم د دغې لارې اخوا دېخوا شو نو پښتونخوا به لمبه شي۔ هلته به د هندو او مسلمان ترمېنځه ناؤ ترېخوالې د وينو درياب شي۔

د باچا خان فيصله کړندې او خبره لنډه وه۔ ده ووې " چې زه دې کميټۍ کښې نور نهٔ شم پاتې کيدې" زه استعفیٰ ورکوم۔ دهٔ ووې چې زهٔ دا خبره صفا کوُل غواړم چې زهٔ په عدم تشدد کلکه عقيدهٔ لرم او ما خپلو خدائي خدمتګارو ته د دې تبليغ کړې دې

دا زمونږ په ژوند خوږا دي او دا یو پائیداره اومستقل قدر دې ده ووې چې خدائي خدمتګارانو ته هغه څه کیدل په کار دي څه چې دَ دوی دَ قوم نه بسکاره ده د الله تعالیٰ او دَ اِنسانیّت خدمتګاران دا خپل سرونه خو ورکوي ولې د بل سر نه پریکوي.

د کال ۱۹۴۰ء جولائي کښې کانګرلیس بیا دا پیښش کش وکړو چې مونږ د انګریزي واکمن سره د جرمني خلاف جنګ کولو ته تیاره یو، هندوستانیان به فوځ کښې شامل شي او د اتحادیان به مضبوطه کړي که چرې مونږ ته خود اختیاره حکومت راکړې شي.

چرچل ووې چې داسې نه شي کیدې. چرچل وزیر اعظم وو. ده ووې چې زۀ په دې غرض د انګلستان د باچا اول وزیر نه یم جوړ شوې چې د ایمپائر په ټریدو لاس پورې کړم. ده ته بیا شوې وخت نه کتل خو دا خبره او دا حقیقت ښه جوت وو چې دَ عظمت او دبدبې هغه وخت تیر شوې وو ـــ دَ انګلستان جنګ په آتم اګست شورو شوې وو او دَ مرګ او ژوند د شپو ورځو نه تیریدو.

د چرچل د سختي روې په وجه کانګرلیس بیا دَ

گاندهي په لاره روان شو. دې او باچا خان بيا دَ ورکنګ کميټۍ غړي جوړ شول کمېټۍ ګاندهي ته ووې چې يوه بله ستياګره کښې د اُولس لاره سمه کړه. ګاندهي ورته ووې چې نرهٔ به په دې خبره غورکوم

خان د سياست نه ځان د دې ته آسانلو. ده خپل وخت خپل اُولس د ناداری او ناچارۍ د تيارونه را ايستلو ته ورکړو. دې به هميشه د پښتو په نادارۍ غمژن وو. دا دَ دهٔ ارمان وُو چې پښتون پخپله خاوره نبيرازه او آباد شي او د مفلسۍ دَ زنځيرونو نه ... سپکه شي.

ده د ګاندهي سره آشرم کښې د تعميري پروګرام په بابله يو فکر جوړ کړې وُو. دَ دې تعميري پروګرام مقصد دا وُو چې د يو کلي معيشت په خپلو خپو اُدرَوي او د پښتون د مزاج نه جنګ، تشدد آباسي.

دهٔ دَ کلي د خدمت د پاره د اُتمانزو سره نزدې يو مرکز پرانستو. ده دلته د ځان د پاره يو وړوکې کچه خپر جوړ کړو او دائې خپل صدر دفتر وګرځولو. دلته ده دَ سياست د هلوځلو نه ځنګ ته خاموشۍ سره کار کولې شو.

دهٔ به د ښځو د حقونو او د سړو سره دَ دوی دَ
اُوږه په اُوږه کار کولو د پاره خپل غږ اُچتولو۔ دَ
کوهاټ سره نژدې د ښځو یوې جلسې ته د تقریر کولو
په وخت دهٔ ووې چې:

"تاسو ته به دې هیواد کښې د خپلو رورنو سره
سم حقونه حاصل وي۔ مونږ د یو ګاډې د دوو پایو
په شان یُو۔ او چې څو پورې مونږ د یو بل سره خواه
په خواه روان نه یو، زمونږ دَ دې ګاډې حرکت او
پرمختګ ګران دې"

خان د کیمپونو لګولو هغتې شروع کړې دَا دَ دهٔ
خپله طریقه وه او مقصد ئې دا ؤو چې خدائي خدمت
ګارانو ته دَ تعمیري پروګرام زده کړه ورکړې وې پروګرام
کښې د کلي په سطح دَ یو بل سره کار کښې لاس امداد
کول وُو۔ د کلي د کوڅو چنو صفائي، خپلې کشالې د خبرو
اترو په ذریعه هوارَول، د یو بل خلاف د تشدد
کولو نه څنګ کول او خپلو ماشومانو، جینکو او هلکانو
ته تعلیم ورکول شامل وُو۔ ماري برچې یوه فرنګۍ
مشنرۍ استاذه وه، خلورمې لس کلیزه کښې داسې یو
کیمپ کښې ګډون وکړو او په دې حقله لیکي چې:

" سحر وختي يخې يخنه کښې دَ چايو څکلو نه پس د دوو ګهنټو د پاره د کلي د صفائي پروګرام وُو. يو پښتون ځلمي ماته ووې چې زۀ په کومه ډله کښې شامل يم دې د نهاني صفائي هم وکړو. باقي ورځ کښې په ګهاړه د کپړې جوړ ولو کار وکړې شو پرښتو نه اُشول د بيرغ اُچتولو د سنورې وشوې، غونډې وشوې ـ او دواړه وخته، غرمه او مابنام دَ کيمپ خلکو په شريکه ساده خوراک وخوړو. دې کيمپ کښې د خلورو سوو خدائي خدمتګارو نه علاوه يو سل ميلمانه هم وُو چې د بلوچستان، کشمير او پنجاب نه راغلي وُو بيا د پښتنو دا مشر هغه خيمې ته راغلو چرته چې مونږ ټول جمع شوي وُو ـ چې کله دې راننوتو چپه چپيا خوره شوه او چې کله ده خبرې شورو کړې دا خاموشي نوره زوره شوه او ډېر په پام او خاموشۍ سره دې واوريدې شو. کله کله به دَ دۀ په خبره په يو ځائ او يو آواز کښې چغې جوړې شوې "

دا ورانډې ليکي چې د پښتون کيمپ انداز دَ ګاندهي دَ آشرم نه جدا کيفيّت لرو ـ د ګاندهي په آشرم کښې به د خاموشۍ ماحول وُو ولې دَ پښتنو په کيمپ کښې

خوښي، مستي، جوش او خروش او د تُوند حرارت غالب وُو. دلته دَ ډولونو او سُرنو آوازُ خور وُو ـــــ کيمپ کښې د ننه او بهر دَ ميلې کيفيّت وُو.

دکيمپ د دودې نه پس ماري بر اُتمانزو کښې دَ جينکو يو سکول ته لاړو.

د جينکو سکول د پښتونخوا په سيمه عجيبه غونډې ښکاريدو. بيا خان دې ته بلنه ورکړه چې اُتمانزو کښې ځما په کورکښې يو خو ورځې تيرې کړه دې د باچا خان په لوڼې او پړاخه کور کښې خو ورځې تيرې کړې او په پټو، باغونو او د غرونو ننداره هې اُکړه او دَ باچا خان د ځوئ ولي خان سره به هې خبرې اترې کولې دا ليکي چې" ما د.ولي نه تپوس وکړو چې تا ته دېخوانو ورځو څه خبرې يادی دي"

ده ووې چې زهٔ دوئمې لس کليزه کښې ډير وړوکې وُوم او څه راته ياد نه دي خو کال ۱۹۳۱ء کښې حالت ډير بد وُو. ده ته ياد ؤو چې د اُتمانزو نه فوځ څنګه تاؤ شوې وُو. دهٔ ووې چې که څناور به هم دکور دَ چار ديوارۍ نه را وُوتو، د فرنګي په ګولو به سورې شو هيڅوک د کاد کسب د پاره د کوره بهر نشو وتلې د دې

محاصري نتيجه دا شوه چې فصلونو او ځناورو ته نقصان ورسيدو او په بل لور د کلي کوځي د ګند نه ډکې شوې ــ ده ووې چې خلک به سخت وهلې شول ـ زه په خپله د فرنګ نوځيانو دومره اوهلم چې بې هوشه شوم ـ

ماري بر وائي چې بل سحر باچا خان د کور د نورو بنديانو نه وختي را پاځيدلې وو ، دې د ملازمانو سره ګډيا ووکار هې کولو ، کور کښې د ننه او بهر ېې جارو اوهله ـ او بيا باغ کښې د کارکونو نه اکاهو خان د يوې کهنټي د پاره په کهډوه کار وکړو خان بهاته ووې چې زه بې کاره نشم پاتې کيدې ـ ټوله ورځ خلک راتلل د کيمپ په بابله به ېې ده سره خبرې کولې او د خلکو سره به ېې داسې ګپ لګولو لکه دا ټول دَ ده دَ ورکوالي ملګري وي ـ

مابنام د باچا خان ځوئ غني خان ځما ملګرې شو ما ترې نه تپوس وکړو " چې ستاسو پلار د هميشه دپاره داسې امن ناکه دې ؟ غني را ته ووې چې نا داسې نه دے ـ چې کله زه وړوکې وم ، ده به نه [illegible] او ښه به ېې مړلم ـ ده ووې چې ځما پلار نيه

هر هغه چاسره په جنګ وُو چې دَ دهٔ په خیال کښې بد معاش وُو"

دَ غني دَ دې خبرې نه دا اندازه لګول څه ګرانه نه ده چې د خان په ژوند کښې څومره لوې بدلون راغلې وو. دَ خان عمر درویشت کاله وُو چې کله غني پیدا شو. موږ د مهاتما ګاندهي په ژوند کښې هم دومره تاوَ تریخوالي ونیو. کله چې دَ دهٔ عمر د شلو او څلویښتو کالو په مینځ مینځ کښې وُو. وائي چې ګاندهي به دې عمر کښې د خپلې ښځې سره تل اخته وُو او په کور کښې به یې شور شغب او ډېر غریب جوړ کړې وُو ګاندهي په دغه عمر کښې ښه ګرم مزاجه وُو خان خپله هم دا مني "چې کله زهٔ هلک ووم زه ډېر زیات ګرم مزاجه ووم. د پښتنو ګرمه او تودو وینه څما رګونو کښې اوریده اوریده ماچې دَ الله دَ رَسول صلی الله علیه وسلم دَ ژوند مطالعه وکړه چې سختو حالاتو کښې هغه څنګه پرسکونه پاتې شوې دې. دَ عدم تشدد پرومبې سبق ما د خپل رسولؐ د ژوند نه اخذ کړې دې. د ګاندهي په خیر، باچا خان هم څه د آکاهو نه په عدم تشدد نه وُو ولاړ. دې دپښتنو

ؤو ـ څوک چې د هندوستان د اُلسونو په بابله څه لږ ډېر معلومات لري هغوئه پوه دي چې پښتون څوک دي. او څنګه مزاج لري. موږ دا اندازه کولې شو چې خان ښه په شعوري توګه خپل مزاج او طبيعت د عدم تشدد په لور واړولو. او بيا يې ټول عمر کلک پاتې شو.

د پښتنو سره په څنګ کارکولو دوران کښې د خان په ژوند کښې په زړګونو داسې وړې وړې تبديلې راغلې وي ـ د اُتمانزو د مفرور مرتضیٰ خان په ځې کسان، چې د چا په بابله غني خان خپل کتاب "دي پټهانز" کښې ليکلي دي، د خدائي خدمت ګارانو په تنظيم کښې د جيل تيرولو نه پس کماندان جوړ شو. دې مفرور يو عطا خان وژلې ؤو دهٔ کښې د باچا خان په ځې پوخ بدلون نه ؤو راغلې. د دهٔ د پاره په يو وخت يو بزرګ او خان جوړيدل ګران ؤو ـ بهرحال دا متشدد پښتون چې ډاکو ؤو، قاتل ؤو، د پښتنو څوا په يو چيل کښې د دهٔ په ژوند کښې بدلون راغې او د دهٔ په ژوند کښې يو مستقل اثر پرېښود.

غني د مرتضی نه تپوس وکړو چې يو بچواني مفرور د عدم تشدد په لاره څنګه روانيدې شي؟ ده ورته ووې د روحاني قوت په ذريعه داسې کيدې شي دا هغه قوت دې چې د انسان مخفي قوتونو نه تشکل او توان ورکوي. ده غني ته ووې چې دغه څلورو کالو کښې زه يو وړوکې غونډې بزرګ شوم. ما دې دوران کښې دا کوشش وکړو چې زه د خپلو ارمانونو او خواهشونو په ځائې د خپلو خوبونو مطابق ژوندتيرکړم دا يو لوئې کار وو دا يوه معجزه وه. ما د غورو اميدونو د پاره غوره موقعې نظر انداز کړې. ما هغه نيکلې بنکلې جينکو ته څه اُ نه وئيل چا چه په ما باور او اعتماد وکړو. مرتضی په غير ارادې توګه د عدم تشدد د قوت څرګندونه کوي ــ عدم تشدد د انسان سره د انسان د مينې او محبت عملي مظاهره ده.

او ته هغه څوک نشې ژوبل کولې څوک چې په تا باور کوي، په تا اعتبار کوي ــ دا د هيبت ډک مفرور يو وار بيا قيدي شو دې په دوئيم ځل جيل نه ورننه کوزې شو. خو دا وار دې مفرور نه وو. دې خدائي خدمتګار وو او د خپل اولس د پاره د آزادۍ په

تالاش او لتهون کښې جیل ته ورد ننه شوي وُو.

باچا خان ته په امن ناکه ذوکه د کار کولو ډیر وخت حاصل نه شو. د کال ۱۹۴۱ء دسمبر کښې جاپان په پرل هاربر حمله وکړه او د سویل مشرقي ایشیا په لوړېې بر مخنګ شورو کړو. وړاندې ملایا راپرلوټه او وړلپسې سنګاپور را ددبل شو او بیا د ۱۹۴۲ء مارچ کښې رنګون هم جاپان ته مخه ورکړه. د دې مطلب دا وُو چې جاپان د هندوستان تر پولې را رسیدلې وُو.

د انګلستان حکومت یو وارې بیا د جنګ دپاره د کانګرس د مرستې تر لاسه کولو کوشش وکړو خو پدې بابله څه روغه را نغله کانګرس ته د اول جنګ عظیم نه پس دَ هندوستان سره د فرنګي رویه یاده وه او په دا وجه یې غوښتل چې هندوستان ته ځینه حقونه په سمدستي ذوکه ورکړې شي ولې چرچل دې خبرې د پاره تیار نه وُو چې په هندوستان دِ موټې ارت کړې شي. د کال ۱۹۴۲ء جولائي کښې ګاندهي تجویز وړاندې کړو چې د فرنګي نه د خلاصون دپاره د یو زور ور تحریک اُچلولې شي. د دې نه اَګاهو د سول نافرمانۍ د تحریکونو مقصد به د یو خاص

قانون یا د یوې کشالې په بابله خپل خپګان او احتجاج
ښکاره کړل وو. ګاندهي دا فیصله کړې وه چې د
دې تحریک مقصد به یک نیم او بیله واضحه وي.
هغه دا چې انګریزې ته اوسپلي شي» چې بهارت خوشي
کړه؟

انګریز د دې تحریک په مقصد پوه شو. کال ۱۹۴۲ء کښې
په ۹. اګست ګاندهي او د کانګریس د ورکنګ کمیټۍ ټول
غړي اُنیول شول. د دوی نه علاوه ټول ملک کښې
د کانګریس په سلونو مشران ګرفتار کړې شول.

د پښتونخوا په سیمه خدائي خدمتګاران د کانګریس
بیرغ په لاس په سرکاري دفترو او عدالتونو ور غلل
دوی د سرکار خلاف نارې وهلې. داسې نارې وهل
د فرنټیر کرائمز ریګولیشن لاندې یو جرم وو. حکومت
ټول عمارتونه اُنیول او چې چا خدائي خدمتګار به
عمارت ته د ننوتو کوشش کولو هغه وهلې او ټکولې
شول. ډاکټر خان صیب چې دې کاله اګاهو پښې
د صوبې د اعلی وزارت نه استعفی ورکړې وه اوس خپل
سور قمیص واچولو او د انډین سول سروس په هیڅ کوادټر
ور ننوتو دا هغه دفتر وو چې دې کاله اګاهو د ده د

حکم لاندې وُو. دهٔ هلته دَ فرنګی د جنګ د کوششونو
خلاف یو تقریر کول غوښتل.

ډاکټر خان به هم ځان ګرفتاریٔ ته وړاندې کولو ځکه چې
کله به هم دې یو کلي ته لاړو، سرکار به دې هلته
ګیر کړو، موټر کښې به یې داچولو او پیښور ته به یې
را ورسولو او خوشې به یې کړو. دې په دې طریقه تنګ
شو او د چارسدې نه د پنځوسو رضاکارو سره مردان کښې
په یو عدالت د چاپې وهلو د پاره روان شو. د دوی
هلته د پولس سره ټکاخ شول. دوی ټهلو کښې لاسونه
کنجې کړل. او سم په مخه روان پاتې شول. پولس په کوتکو
د دوی وهل شورو کړل. دې وهلو کښې د خان صیب
دوه هډوکي مات شول. دې ګرفتار کړې شو او دَهرې
پور جیل ته اُلیږلې شو. دا هغه جیل دې چرته به چې
هغه قیدیان لیږلې شول چې د سرکار په نظر کښې
به د سختې سزا مستحق ګرځیدلي وو.

د کال نر آخره پورې ټیپیته زره هندوستانیان
جیلونو کښې اچولي شوي وُو. حکومت د جنګ دَحالاتو
په وجه دَ وړاندې نه یرې په سر اخستې وو او برما
کښې دَ جاپان د لاسه په خطره کښې وو. څه دَ

جنګ یړه او نخه دَ جاپان یړه وه چې حکومت او نبسکي بهیونکي ګیس، کوتنکو چلولو او د ګولو چلولو نه کار اخستل شورو کړل. مقصد یې دا ؤو چې د هندوستانیانو حوصلې ماتې کړې شي. او دَ دوی مظاهرې او احتجاجونه خاموشه کړې شي. ګاندهي او د کانګرس ټول ټیادت په جیل کښې ؤو. په ټول هندوستان کښې د تشدد اور خور شو. په ټهانو، ډاکخانو، دَ ریل په سټیشنونو حملې شورو شوې د فرنګي د واک او اختیار هره یوه نښه تباه کړې شوه. دَ تار او ټیلیفون تارونه اُشلولې شول.

انګلستان دَ دې کاروایو جواب په قوت سره ورکړو چرچل دا خبره منلې وه چې دا وخت غټ شمیر کښې سپین پوستي فوځ د هندوستان په خاوره پروت وو.

دا یوه معجزه وه چې پښتونخوا داسې حالاتو کښې خاموشه پاتې شوه. یکمنګ او چا پې جاري وې ولې دَ تشدد او ورانکارۍ پیښې نه وې. په دې موقع څنه رضاکارو د باچا خان نه تپوس وکړو. چې مونږ د مواصلاتو تارونه شلول غواړو د رضاکارو دلیل دا ؤو چې دا خو د چا ذات ته نقصان رسول نه دي. باچا خان ورته اوویل چې که تاسو داسې کول غواړئ ستاسو خوښه ده

خوچې کله داسې وکړې نو بیا به تهانو کښې حاضر شي او هلته به د خپل ورانۍ اقرار هم وکړي. ده ووې چې داسې کولو سره به د رضاکاردو اخلاقي جرأت نور مضبوت شي دوی د خپل باچا په نه ماتیدونکي عدم تشدد سرونه اُخوزول.

د جنګ باقي ورځو کښې د هندوستان سیاسی مشران جیلونو کښې اُسانلې شول او د فرنګي زور ظلم د آزادی تحریک قابو کښې کړو. چې د جنګ خاتمه را نزدې شوه د فرنګي رویې کښې نرمې راغله. د اُولس جذبات د آزادی په حق کښې وُو د کال ۱۹۴۵ء ګرمو پورې ټول سیاسی قیدیان را خوشي کړې شوي وُو. د لیبر پارټۍ حکومت چې هندوستان ته یې د آزادی ورکولو وعده کړې وه منتخب شوې وو او چرچل د وزیر اعظم په حیث ریټائر شوې وُو. د کال ۱۹۴۵ء مارچ کښې ډاکټر خان صیب یو وار بیا هغه وخت د پښتونخوا وزیر اعلیٰ جوړ شوې وُو کله چې د لیګ د وزارت خلاف د عدم اعتماد ووټ منظور شوې وو.

د جاپان د راپریوتو نه سمدستي پس د لندن نوې سرکار خپله دا اراده څرګنده کړه " چې هندوستان

نه به زړ خود اختیاره حکومت ورکړې شي" په عملي توګه آزادي ګڼلې شوې وه خو دا سوال را پیدا شوې وُو چې چا ته اِقتدار منتقل کړې شي؟ دا یو علمي سوال نه وُو ولې چې کانګرلس او مسلم لیګ یو مخلوط حکومت جوړ ولو کښې پاتې راغلي وُو۔ د مسلم لیګ غوښتنه دا وه چې دا دِ دَ هندوستان دَ مسلمانانو یواځنې نمائنده تنظیم وګڼلې شي۔ خو کانګرلس دا خبره نه منله۔ کانګرلس کښې د مسلمانانو شمیر درې فیصده وُو۔ کانګرلس د مسلمانانو او هندوانو یو شریک هیواد یو متحده ملک غوښتو۔ مسلم لیګ بیخي یو مسلمان ملک غوښتو او داسې مخلوط حکومت ته تیار نه وُو چې چرته د فرنګي ځائې هندو اُنیسي۔

کله چې دَ لیګ دَ شمولیّت نه بغیر یو عبوری حکومت جوړ کړې شو نو لیګ د دې حکومت د بائیکاټ کولو غږ ورکړو او د احتجاج په توګه یې د کال ۱۹۴۶ اتلسم اګست د راست اقدام" ورځ اُتاکله۔ په دې ورځ قطبي هندوستان لمبه واخسته۔ کلکتې کښې د هندوانو او مسلمانانو ترمینځه فساد شروع شو۔ دَ دواړو فرقو ګرم جوشه کسانو نبادا په سر اوچت کړو۔ دوکالونه اوسوزولی

شول اُولس بې وسه وُو. دَ څلورو ورځو د فسادونو نه پس بنارس غلې شو.

د نمرختيز بنګال نواکلي بنارس کښې مسلمانانو خپل بدل واخستو. هندوان اُوهلې شول، اُوژلې شول او په زبردستۍ مسلمانان کړې شول. ګاندهي دا ټول تشدد په خپلو سترګو اُليدو. دا وخت دَ دهٔ عمر شپېز اويا کاله وُو او په سېږه هم ناروغه وُو خو دې يو غلې تماشګير نشو پاتې کېدې. دهٔ نواکلي ته د تلو اعلان وکړو. د کانګرليس مشرانو دهٔ ته هلته دَ نه تلو مشوره ورکړه دهٔ ورته ووې چې زهٔ دومره پوهه يم چې څو پورې زهٔ هلته لاړ نشم زهٔ به بې آرامه وُوم.

د ګاندهي سره هيڅ منصوبه او پروګرام نه وُو. دې دَ نواکلي په انګار بنارکښې بغير دَ څه حفاظت ودننوتو. دَ دهٔ په سينه کښې د مسلمان او هندو دپاره د مينې او محبّت نه سيوا هيڅ نه وُو. دهٔ اعلان وکړو چې زه به هغه وخت پورې دلته موجود وُوم څو پورې چې ما د نفرت او تکليف دا انګار مړ کړې نه وې دهٔ يوې غونډې نه ووې" چې که ضروري وي زهٔ به هم دلته مړ شم".

د فسادونو په دې وخت کښې اوس دَ هندوانو د بدل اخستو نمبر وُو۔ بهار کښې هندوانو په مسلمانانو داسې حمله وکړه چې بيخي نيست و نابودي کړل۔ گاندهي د نوا کلي نه باچا خان ته پيغام کښې ووې چې بهار ته ځان اُورسوه داسې د فسادونو په نود تنور کښې گاندهي او باچا خان د هندوستان يواځني سياسي مشران وُو۔ چې دَ اَمن قائمولو د پاره بې خپل ژوند په خطره کښې واچولو او دَ اَمن مشال بې بل اُساتلو۔

د گاندهي په څير د باچا خان سره هم د مينې محبّت او عدم تشدد وسله وه۔ دا خاموشه دروند او باوقاره انسان يو رينتونې ملنګ او پختون نقير او د غرونو نه دنګ انسان د لمبو په دې طوفان ورننونو۔ دهٔ دَ هغه ځايه گاندهي ته اُليکل چې" ستا دا خبره صحي ده چې زمونږ عدم تشدد آزماښت کښې کير دې"

دَ ندکونو په شمير کښې پوليس او د فوځ سپايان چې چرته اَمن او اَمان په ځائې کولو کښې پاتې راغلي وُو۔ هلته دَ دې دوه گاندهيانو مينې او محبت خپل جادو څرګند کړو۔ گاندهي حمسا په لاس د نواکلي په پنځوسو کلو اُګرځيدو۔ هر يو کلي کښې به دې د يو مسلمان په کور

میلمه وو. هغوی به چې څه خوړل هغه به دوی خوړل
هم دا چې د هغوی سره به عبادت کښې هم شریکیدو
مانړګو کښې به یو څو هندوان دَ دوی نه ګیر چاپیره
ناست وُو. رو رو ده ته دَ مسلمانانو راتګ هم شورو
شو. دوی به دوی ته هر یو مذهب کښې د الله دَ
وحدانیّت خبرې کولې. دوی به وئیل چې الله تعالیٰ
د ټولو یو دې. دَ چا د پاره راما دې او د چا د پاره
رحیم.

مارچ پورې نواکلي کښې اَمن قائم شوې وُو. هغه
هندوان چې دَ مسلمانانو د یرې تښتیدلي وُو. هغوی
په اَمن او سلامتیا خپلو کورونو او علاقو ته راستون
شول.

دَ بهار نقشه د نواکلي نه څه بدله نه وه. دلته هم
ژوند سپیره شوې وو، تباهي او بربادي خوره وه.
هر سړې په وېرکښې وُو. سرو مال غیر محفوظ وُو.

دلته باچا خان څادر په اُبږه کوڅه په کوڅه ګرځیدو
او کلیوالو ته به یې وئیل چې " دَ هندوستان نه بټوی
جوړه شوې ده" زهٔ چې اُوینم چې مونږ پخپل لاس
خپلو کورونو ته نیلي ورته کوؤ نو ځما زړهٔ دلګیر وي".

د هندوانو دَ زور او ظلم د لاسه مسلمانان د خپلو کورونو نه تبتيدلي وُو او هر څه تونه کورونو کښې پاتې وُو. دوی دومره يريدلي وو چې خپلو کورونو او علاقو ته واپس کيدو ته تيار نه وو. حالت دا وُو چې د مسلمان حکومت افسرانو هم دغه سيمو ته د تللو جرأت نشو کولې زه به ستاسو سره ځم او تاسو به خپلو کورونو او علاقو ته رسوُوم ۓ باچا خان د دې زيلي نشوي اُولس سره وعده وکړه او هم دې را ورانږدې شو او دا خلک بې تباه شوُو کلو ته واپس اُرسول

چې نوا کلي کښې اَمن قائم شوَ باچا خان گاندهي ته د بهار د راتلو بلنه ورکړه. دوی په پټنه کښې ديره شول او هر سحر به يو ضعيف موټر کښې وتل او دبهار د کلو دوره بې کوله ـ گاندهي په ستړه ناروغه وُو او په سبت کښې بېروت وو. چرته چې به دوی اُدريدل گاندهي به د هندوانو نه دا قول او لوظ اخستو چې دوی به بيا د مسلمانانو ودنو او خوېندو خلاف لاس نه اُچتوي. ده به هندوانو ته اکثر د خپل ملگري باچا خان مثال ورکولو چې ده څنګه پښتنو ته د عدم تشدد سبق ورکړی دې. ده به هندوانو ته وئيل چې پښتنون يو زړه ور

میړنې او بادر اولس دي. دا په زړه او تن مضبوت دي. تاسو هم دَ دغه اولس په لاره روان شئ او دَ هغوئ د عدم تشدد مړانه خپله کړئ.

دَ امن قائمولو دپاره عمل کښې یو وار د عبادت په یوه غونډه کښې د قرآن مجید په تلاوت یو هندو اعتراض وکړو گاندهي پوهي ډیر خپه شو او ورته بې او ئیل چې داغیر معقول لیونتوب د هندو ازم څه خدمت نه شي کولې دهٔ ورته ووې «چې گورې تا څنګ سره دا باچا خان دې. دې یو پښتون دې یو مسلمان دې او د الله یو خدمتګار دې دَ دهٔ د وینې هره یوه قطره مسلمانه دهٔ، د دهٔ د بدن د غونښې یو یو اینچ مسلمان دې. نه دومره پته ستړګې یې چې دَ داسې لوی انسان د پاره هم ستا په زړه کښې څه احترام او لحاظ نشته"؟

هندوستان یو لوئې او پراخه وطن وُو گاندهیان دوه وو او ظاهره خبره ده چې دا دواړه هر ځائې ته نشو رسیدې. پنجاب کښې هندوانو او مسلمانانو سرنیزه په یو بل حملې شورو کړې. دا د تشدد جراثیم پښتونخوا ته هم اُرسیدل کله چې پیښور کښې هندوان په خطره کښې شول. ډاکټر خان لس زره خدائي خدمتګاران را اُبلل ــ

دې سرخپوښو ښتنو د هندونو او سکهانو حفاظت وکړو او ښار کښې بیې امن بحال اسانلو. خو فرقه ایز فسادونه جاري پاتې شول. چې د آزادۍ مونډلو ورځې را نږدې کیدې، هندوستان د خانه جنګۍ په لور کوزیدو. د ډیر دباؤ لاندې آخر کانګریس د مسلم لیګ دا غوښتنه اُمنله چې د مسلمانانو د پاره دِ ځان ته یو هیواد جوړ کړې شي.

په دوه ویشتم مارچ لارډ ماؤنټ بیټن دلی ته را اُرسیدو. دا هندوستان کښې د انګلستان شلم او اَخري وائسرائې وُو. دهٔ ته دا کار سپارلې شوې وُو. چې تندۍ سره او په منظم ډول هندوستان ته اقتدار منتقل کړه.

دَ دهٔ دَ راتګ نه یو کال اَګاهو دَ انګلستان د کابینې مشن د یو ښه تحقیق نه پس د هندوستان دَ نه تقسیمولو سفارش کړې وُو خو نښدد لګه د ځنګل دَ اور خوریدو او هیڅوک په دې نه پوهیدل چې دا څنګه ختم کړې شي. ماؤنټ بیټن د کانګریس او مسلم لیګ د قیادت سره د اوږدو ملاقاتونو نه پس په دې نتیجه را اورسیدو چې مانه د سپارلې شوي کار

د کامیابۍ د پاره دا ضروري ده چې بهارت دوه ریاستونو کښې اُویشلې شي- یو د هندوانو او بل د مسلمانانو ـ دهٔ یوه منصوبه تیاره کړه او د مسلم لیګ د تجویزونو مطابق دې منصوبه کښې تفصیلات شامل کړې شول ـــــ په اُصولي توګه دا خبره منلې شوې وه- چې هغه علاقې او صوبې چرته چې د مسلمانانو شمیر زیات دے هغه به د پاکستان برخه وي او چې چرته هندوان شمیر کښې سیوا دي هغه به د هندوستان برخه وي-

د ګاندهي په نظر کښې د هندوستان وشلې یوه سنګینه غلطي وه- د خانه جنګۍ نه هم یو بدتر کار وُو- د هندوستان د شلولو د پاره تشدد یو داسې خوفناک عمل وُو لکه یو جنګ او د تشدد نتیجه د دې نه سیوا هیڅ نشوه کیدې چې هندو او مسلمان دِ یو بل داسې زوبل کړي چې هلو ټول عمر د هیریدو جوګه نه وي- ګاندهي د ماؤنټ بیټن د منصوبې په جواب کښې یوه منصوبه تیاره کړه او مسلم لیګ ته یې بلنه ورکړه چې دې د مسلمانانو د مفاداتو تحفظ تر دې حده کولې شي چې کابینه دِ په مسلمانانو مشتمله وي- خو د ګاندهي په دې منصوبه هلو چا غوږ او نه کړولو- مسلم لیګ یې هم غور اُنکړو

کال ۱۹۴۷ء کښې په ۳۱ مارچ کانګرس په اصولي توګه د ماونټ بیټن منصوبه منظوره کړه. هندوستان دِ تقسیم کړې شي.

باچا خان او ګاندهي په دې اعتراض وکړو. د ګاندهي دليل دا وُو چې کله فرنګي د هندوستان نه اوځي نو هندوان او مسلمانان به متحده بهارت کښې خپل اختلافات هوار کړي. د هٔ وئيل چې د هندوستان د ويش سره به فرقه ايز تشدد ختم نه شي. د ويش سره به تشدد نور سيوا شي ځکه چې په لکونو هندوان به پاکستان کښې پاتې شي او هم داسې به هندوستان کښې په کروړونو مسلمانان پاتې شي.

دَ دهٔ دا اندازه صحي وه کله چې د ۱۹۴۷ء اګست کښې تقسيم په عمل کښې راغلو، د پاکستان نه هندوان دَ هندوستان په لور راغلل. دوئ هلته خپل هرڅه پرېښول او هم داسې د هندوستان نه دَ پاکستان د پاره مسلمانانو خپله کډه اوچته کړه. دا په تاريخ کښې تر ټولو لوئې هجرت وو. پنځلس ميليونو خلکو خپل کورونه پرېښول او دَ دې په نتيجه کښې چې کومه بد امني پيدا شوه هغې کښې د پنځو سوو زرو نه زيات کسان مړهٔ شول نګال

او پنجاب په مېنځ نیم کړې شول او چې د ولیش په عمل کښې کوم تشدد اُشو او څومره یره خوره شوه دَ هغې اثرات نن ورځ پورې موجود دي.

د باچا خان په نظر کښې د هندوستان د تقسیم مقصد دا وَو چې هغه یوائې پرېښودې شو. دا به د پښتونخوا صوبه مسلم لیګ ته اُسپارې. چې د خدائي خدمتګارو سره بې لس کاله جنګ کړې وَو. باچا خان او د هغه ملګري اکثر د ګاندهي او کانګرس طرفداره او مرستیال پاتې شوې وُو. او دَ مسلم لیګ سره بې اختلافات وُو د تقسیم مقصد دسلم لیګ د پاره دَ دې نه سیوا څه کېدله شو چې د باچا خان نه دې انتقام واخلي. دا یوه صحي خبره ده چې مسلم لیګ د باچا خان دَ اثر او حیثیت نه یربدلې وُو.

ګاندهي باچا خان ته دا یقین ورکړو چې زهٔ او هندوستان به تاسره خپل تعلق نه پرېکوُو. دهٔ باچا خان نه ووې چې "دا ځما اراده ده چې څنګه حالات لږ سم شي زه به د پښتونخوا دوره کوُم" دهٔ وئیل چې زهٔ به د پاسپورټ نه بغیر ځم ځکه چې زهٔ دهندوستان په تقسیم عقیده نلرم او که څوک ما قتل هم کړي نو زهٔ

به په خپل داسې مرګ ډېر خوشحاله شم که پاکستان جوړ شو نو ځما ځائې او اسوګنه به پاکستان کښې وي۔

ګاندهي ورورستو دا خبره اُمنله چې د باچا خان خفګان او دلګيرې ته ما نشو کتې د هغه په صدمه ځما زړه ټکوړ بدلو خو که څرې ځما د سترګو نه اوښکې روانې شوې نو دا به دَ بزدلۍ کار وُو او د هغه غير معمولي پښتون حوصله په ماته شوې وه۔ باچا خان نوي دلي کښې خپلو دوستانو ته ووې چې زهٔ داسې وينم چې پښتانه د هندوانو او مسلمانانو دواړو په نظر کښې اَچهوت شول۔ خو دې بيا هم د مستقبل څخه تشويش کښې نه وو۔

د کال ۱۹۴۷ء مئي کښې باچا خان او ګاندهي د تقسيم په لړ کښې د کانګريس د ورکنګ کميټي سره خبرو اترو د پاره دارالحکومت ډېر نه راغلي وُو ګاندهي دَ وائسرائي سره ګوخو واره په دې غرض ليدل کړي وُو چې وائسرائې په دې مائله کړي چې د هندوستان د تقسيمولو کار پرېږدي۔ ماؤنټ بيټن ده ته جواب کښې ووې چې ځما خپله خوښه هم دا ده چې هندوستان يو وي۔ دا متحد پاتې شي خو زهٔ خپله هم په دې کښې

بې وسه یم وې چې قائد اعظم محمد علی جناح او مسلم لیک د تقسیم نه کم په هیڅ څیز راضي نه دید

په ۷ مئ ګاندهي د انتها پسندو هندوانو د طبیعت خلاف د جناح کور ته ورغې دواړو مشرانو دوستانه ماحول کښې خبرې وکړې خو دواړه مشران د هندوستان د مستقبل په بابله جوړ نۀ شول. ګاندهي په یو غمګین او مستحکم آواز کښې ووې چې زۀ خو د تقسیم سوچ هم نه شم زغملې؟

د هندوستان تقسیم د هندوانو او مسلمانانو دواړو د پاره غلط وه او څو پورې چې هغه دا غلط او بې جوازه ګنړلو هغه پورې د هندوستان تقسیم د هغه خوښیدلې نشو.

ګاندهي د عبادت یوه غونډه کښې د هغه کسانو په جواب کښې چا چې د محمد علی جناح کور ته په تلو بد منلي وو اووې چې څه اشول که زۀ د هغه کور ته ورغلم. مولن ملګري هندوستانیان یو. دۀ دا دلیل رد کړو چې قرآن بنه کتاب نه دې ځکه چې څنګه لیونۍ مسلمانانو بنګال او پنجاب کښې د هندوانو سره زور ظلم کړې وو. هندوان هم دغه شان بهار کښې

پاکستان شوي وُو. ولې نه دې. سره د گيتا په عظمت کښې څه فرق را نغلو. دهٔ ووې چې د يو مذهبي کتاب په دې وجه نه لوستل چې د هغې د پيروکارو نه ستاسو نفرت دې، دا د يو صحي مذهب نفي ده. دارويه د هندو اِزم حفاظت نه کوي. دا يې تباه کوي.

د گاندهي څيره غمجنه وه. دا د کرمې يوه اُبده ورځ وه. د قائد اعظم محمد علی جناح سره د دهٔ د خبرو څه نتيجه را برسيره نه شوه او دې مايوسه شوې وُو دهٔ خپلې سترگې بند کړې او د دهٔ شونډې خوزيدې. دهٔ يو مضبوت آواز کښې ووې "چې يا خُدايه زهٔ خپل هر يو کار هله شروع کوُوم چې تا ياد کړم" دا د گاندهي د دُعا رومبنی کرښه وه او دا به د هرې ورځې وئيله او دا د قرآن وينا ده.

ته رحيم او کريم او مهربانه يې.

تا دا کائنات پيدا کړي دي.

ته مالک او آقا يې

زهٔ يواځې ستا تعريف کوُوم او يواځې ستا نه مدد غوارم.

ما په نيغه لاره روان کړې.

هغه لاره چې ستا ښه بنديان پرې تللي دي.

باچا خان د ګاندهي میلمه وو. نادوغه وُو او تبې نیولې وُو خو ده څه علاج کول هم نه غوښتل. ګاندهي او باچا خان دواړه یو شان ضدیان وُو. ده ته څنه هندوانو ملګرو ووې چې ډېر کار مکوه، ده هغوی ته ووې چې لږه موده پس به مونږ پښتانه هندوستان کښې غیبي ملګیان بللي شو. زمونږ د پښتونو کالو ملګرتیا او د آزادۍ د پاره شریک جد وجهد به د تاریخ یوه برخه شي دې پاکستان کښې دخیل مستقبل په بابله فکرمند وو.

په بله ورځ ګاندهي د نوي دلي نه کلکتې ته روانیدونکې وُو. هیڅ چا ته دا نه وه معلومه چې دَ آزادۍ دا دواړه نوریالی به بیا کله د یو بل سره ویني د دوی دواړو شخصیتونو ترمینځه تعلقات دا حقیقت په ګوته کوي چې باچا خان د ګاندهي جي د شخصیّت نه متأثره وُو او دَ دوی ترمینځه یوه ذاتي رشته جوړه شوې وه. ولې د ګاندهي په بابله داسې رائې قائمول هم څه زیاتي نه ده چې دې هم د باچا خان دَ شخصیّت نه ډېر زیات متأثره وُو.

ګاندهي او باچا خان په دغه شپه دَ یو بل سره

بڼدېا خبرې وکړې ګاندهي خپلې وېرې نه ووې
چې، باچا خان یو رښتونې فقیر دې. آزادي به راشي
خو دا باید پښتون به د خپلې آزادۍ نه محرومه نشي
دا که هر څومره دَ مایوسۍ خبره ده ولې باچا خان دَ
الله سړې دې.

په بله ورځ ګاندهي په ګاډي کښې کلکتې ته روان
شو. باچا خان ده سره سټېشن ته ورغلو. د آزادۍ دا
دواړه ځنګیالي چې په وخت پورته یو بل ته مخامخ ولاړ
وو او دواړه خاموشه وو. هندو مهاتما او پښتون
فقیر چې دَ فرنګي د واک او اختیار نه آزادي
موندلو د پاره د هیڅ قسم قرباني او جد وجهد نه
مخ وا نه ړولو، ئن او هم دا وخت د یو بل نه
په ژوندون د همیشه د پاره جُدا کیدونکي وو.

دا دواړه ننګیالي په سټېشن ولې خاموشه ولاړ دي؟
ځکه چې دَ دوی پېژندګلي دومره زړه ده او دا
د یو بل په مزاج او طبیعت دومره رسیدلي دي چې
دوی ته د خبرو اترو زیات ضرورت نشته دې.
دَ دوی روحونو ته دَ ژبې ضرورت نشته دا په
سترګو سترګو کښې د یو بل په مقصد رسي. دوی ته

خپله هم دا پته نشته چې بیا به کله ملاقات کیدې نشي ـ دا دواړه خدائي خدمتګاران وُو، د الله تعالیٰ خدمتګاران وُو. دوی به خپل خدمت جاري ساتي او دا فیصله به الله کوي چې دوی به خپل خدمت په کوم ډول او کوم شکل کښې جاري ساتي.

ګاډې د انجن په لوګو کښې پټ د سټیشن نه روان شو. باچا خان په سټیشن ولاړ پاتې شو او دَ ګاندهي ګاډې دو دو د نظر د حده اُوتو ـ دَ باچا خان په مخ سکون وُو. دَ ډیر ولاړندې ځان دَ اَلله تعالیٰ مرضیٰ ته سپارلې وو او ځکه ده کښې د صدمو او ناکامو او دَ ډغرو خوړلو او ډغرو ورکولو د زغم او برداشت ډیر زیات قوّت وُو ـ دهٔ ټول عمر کښې چرې هم دَ آرام کولو ضرورت نه وُو محسوس کړې او نه به دې چرته بیا د آرام ضرورت محسوس کړي. دَ دهٔ د پاره ژوند دَ یو مسلسل جد وجهد نوم وُو.

باچا خان دَ سټیشن په بورډ د ګاډو د تګ او را تګ وختونه ګُوکتل دې اُموسیدو. ولې او د څه د پاره په څه پسې اُموسیدو؟ دَ پښتونخوا

د پارې دوه ګهنټې پس یو ګاډې روانېدونکې وُو۔ دا د خپل اُولس سره د لیدو وخت وُو۔

دې د سټېشن په ګنړه ګونړه کښې ټکټ ګو ته ورغې۔ دَ دهٔ د کور شاته باغ کښې د خورمانو بوټو ګلونه سپړدي وُو۔ دَ دې نه ورانډې چې دا ګلونه مړاوي شي دې به څادر په اُبڼه او پنډوکې په لاس خپلې پښتونخوا نه ورګډ شي۔

تمّت بالخیر

# د حضرت باچا خان سره دوه نیمې کهنې

غني خټک

**یاد کېرنه** :. د حضرت باچا خان سره د پاسني عنوان ترلاندې دا تاریخي مرکه په اوه ورځني " هیواد " اخبار کښې چاپ شوې وه " فرنټیر پوسټ " کښې هم د دې اوږت لاین چاپ شوې ده. دا د حضرت باچا خان د مرګ نه اګاهو آخري تفصیلي مرکه وه دې په ۲۰ جنورۍ ۱۹۸۸ ء کښې په حق اُرسیدو او په دوه ویشتم جنورۍ جلال آباد کښې خاورو ته اُسپارلې شو او په دغه ډول بې په خپل مرګ د پښتنو تر مېنځه د انګریزانو را ښکلې کرښه د همیشه د پاره د خپو لاندې کړه. د مرکې په حقله تاثرات، د حضرت باچا خان د شخصیّت یوه تجزیه او سوال او جواب وړکولې شي.

دا د نهې ورځ او دیرشم دسمبر ۸۷ ؤو. چې زه د باچا خان د لیدو د پاره محمد نارې ته روان شوم. د لیدو نه وړاندې مې عجیبه عجیبه خیالونه مازغو ته راتلل. ویره راسره دا وه چې خان عبدالغفار خان به را سره څه خیرې اترې وکړي. اوکه نه؟ نن صبا د پښتنو دا لوې مشر د محمد نارې په پښو کښې د یوې ساده کوټۍ وړاندې ناست دې. دغه د خدائي خدمتګار تحریک لوې مرکز دې.

محمد ناړې چارسده ـ تخت بهائي روډ باندې د چارسدې نه تقريبًا دولس کلوميټره لرې دې. ټريفک ښه ډېر دې د پېښور نه تلو او راتلو کښې ځه تکليف نشته.

چې په محمد ناړې کوز شوم او تپوس مې وکړو چې دلته به غفار خان چرته وي؟ نو يوکس ځما په تپوس حيران غوندې شو. او د بل کس نه بې تپوس وکړو چې زمونږ په کلي کښې څوک غفار خان، نشته دې؟ هغه ځما نه تپوس وکړو چې ستا مطلب باچا خان خو نه دې؟ ما اوې چې او هم باچا خان صيب ليدل غوارم. هغوې راته لار نيغه کړه ځما ځيل احساس هغه وخت دا ؤو چې څوک به مې ليدو بچتور به راته معلوميدو ځکه چې د هغوې سره څنګ په څنګ يو داسې شخصيّت د باچا خان په صورت کښې ناست ؤو. چې د برصغير په تاريخ جوړيدو کښې بې يو غټ رلاس ؤو او دا پته نه لږي چې تاريخ به د دغې شخصيّت د نظرياتو په حقله څه فيصله ورکوي؟ ما چې يو ځل بيا تپوس وکړو، يوکس راته او وئيل چې باچا خان خو د صوابۍ په دوره باندې دې، خېر ناسو دغه پټو نه ورتاؤ شي، هلته سړي ناست دي هغوې به درته اووائي چې باچا خان چرته دې؟ ما چې دا واوريدل زړه مې پښو ته پريوتو ځکه چې د مودو مودو راسې مې دا اراده وه چې د عظيم پښتون مشر سره ليدل وکړم يو داسې مشر چې

هغوی ټول عمر بې د پښتنون د خير ښيګړې د پاره کار وکړو. د پښتنون ذَ اتحاد او اتفاق د پاره بې په ځان شپه او ورځ يوه کړه. د پښتنون د حق ګټلو د پاره بې د عمر يوه لويه برخه په جيلونو او زولنو کښې تيره کړه، نن هم د هغه په ژبه د پښتنو د اتفاق ترانه ده او په ماته ګوډه ستړه او کمزوري وجود نن هم د پښتنو په کوڅو کښې ګرځي او هغوی ته د خوب نه را ويښ کيدو غږ ورکوي ــــ دا ځان نه ذَ افسوس يو ډېر سوال دې چې پښتنون د دغې بې غرضه او خدائي خدمتګار په څومره خبرو

عمل وکړې شو؟

که نن ما د باچا خان سره ملاقات ونکړې شو خدائې خبر چې بيا به داسې موقع کله په لاس راشي؟ ځکه چې دا مې واوريدل چې باچا خان په دوره دې په زړه مې نياره شوه خو په هغه لور روان شوم او چې څنګه ذَ پټې په لور ورننوتم، باچا خان مې ذَ لرې نه او پيژند وچې بنه اوچت ناست وو. اګر چې باچا خان اوس د سلو کالو شوې دې خو بيا هم د هغوی تن بدن د عام سړي نه زيات نظر را کاتي. پلن مخ او پلنه سينه، مخ بې داسې ايغ نيغ دې لکه اوس هم ځوان وي. ورکوټي سپينه ږيره او د سر ويښته بې ټک سپين او بې مخې دي. سړي نه د سې ښکاري لکه د سر نه بې يو ويښته نوي پريوتي.

زۀ چې ورننزدې شوم نه پوهيږم چې هغه کوم يو احساس وو چې ماته ژړا راغله- غالبًا ما دا غونيستل چې د هغوی سره په دغه وخت ډير کسان ناست دي يا دا احساس هم کيدې شو چې دا څومره لوئې شخصيّت، يو اهم تاريخي وجود په څومره ساده ماحول کښې ناست دې. زۀ حقيقت دا دې چې اوس هم نه پوهيږم چې څۀ احساس ژړه غونګې وې شو؟ بيا هم چې زۀ ور اورسيدم، باچاخان لاس راکړو، يو کس په دغه وخت کښې د باچاخان سره نزدې د يوې وني په تنې ماتولو لګيا وو، دوه کسان ورسره نور ناست وو- دا يو صفا ستهره خاموشه او پرسکون ماحول وو- باچاخان د تخت پوش د پاسه په يوې ساده بړ ستن ناست وو. دَ سلېټي رنګ خامتا بې اچولې ده، په سينه باندې بې توليه پرته ده. يو کټ د تخت پوش کڅ اړخ ته پروت وو او بل کټ ورسره مخامخ پروت وو، د باچاخان د تخت پوش د سر سره جوخت يو ورکوټې شان ميز پروت وو- چې ور باندې يو دسترخوان پروت وو- که يو نابلده کس دغه ځائې ته لاړ شي نو د هغه خيال به دا وي چې دغه کچه دَ خاورو ورکوټې کوټه او د دغه کوټې په وړاندې ورکوټې صحن- دا به د يو غريب پښتون د ميلمنو ځائې وي خو داسې نه ده- دا دَ باچاخان د خدائي خدمتګار

تحریک نوي مرکز دې او د هغوی د وینا مطابق که څوک د کارکولو د پاره ځان د بې غرضه خدمت د پاره وقف کوي نو دغه مرکز به ښه جوړ کړې شي. مطلب دا چې اوس دا مرکز عارضی دې.

سحر باچا خان دغه ځائې ته راځي او ما بنام د خان عبدالولي خان کور ته ځي، هغوی به دلته شپه هم تیروله خو د ځامنو په خواستونو او د ډاکټرانو د هدایت په رڼا کښې اوس هلته شپه ځکه نه کوي چې د یخنۍ په وجه دغه کوټه ډیره یخه وي او د باچاخان د پاره په دې عمر کښې زیاته یخني تکلیف پیدا کولې شي.

د محمد ناړې سره جوخت مخامخ په پټو کښې یو څو کچه کوډونه دي. دا کوډونه د هغه خلکو دي څوک چې په دې پټو کښې کار کوي، دغه کچه کوډولو ځې ته یوه کچه کوټه ده چې ورکښې دوه یا درې کټه ځائیدې شي او هم دغې کوټې ځې ته د باچا خان تاریخي شخصیت لیدې شي د دغه ځائې نه ګیر چاپیره هواره او مره پټه تکه شنه زمکه ده. چې څومره نظر کار کوي هومره پورې شنه او آباد پټي په نظر راځي، هلته خاموشه خاموشي وي غلې غلیا وي هیڅ شور شغرب نه، هیڅ قسم آواز نه. په ټولو ټلارنیا کښې باچا خان د سکون نه ډک مخ نیولې نیمه

په نشتي سره ناست ؤو. چې ما ترنه تپوس وکړو چې
تاسو باندې د پښتون د عمل په وجه چرې مايوسي نه
ده راغلې باچا خان راته اووئيل چې زه مايوسه کيږم
نه، مايوسي په هغه کسانو باندې راځي څوک چې د ځان
د پاره کار کوي. څوک چې د خپل غرض او خپل مطلب
د پاره کار کوي زه خو د پښتون خدمت د خدائي خدمتګار
په حيث کوم زه به ولې مايوسه کيږم بيا هم د خبرو په
دوران کښې په دوه ددې موقع باچا خان د پښتنو د عمل
د هغوی په خوئ خصلت او بې اتفاقۍ باندې د خفګان
اظهار اوکړو. او دوئيل هې چې پښتون يو ناشکره قام دې
هغوی ووئيل چې وګوره د پښتون څنګه حال شو؟ په
افغانستان کښې ورباندې سيلاب راغې او د افغانيانو کور
وران شو، دلته په کراچۍ کښې پښتون نه ګوره څه ورسره
کيږي؟ دا ټولې د عذاب او د الله د قهر نښانې دي. کوم
يو قام چې د الله د قانون احترام نه کوي او ځان نه
پيژني، د هغوی سره هم داسې کارونه کيږي. د باچا خان
د خبرو اترو نه داسې ښکاريده لکه چې هغوی ته
قرآن په ياد وي او په تفسير هم پوهه وي. دَ خبرو اترو
په دوران کښې باچا خان ځا په يو دوه تپوسونو خفګان
ښکاره کړو او ځا سره هې د خبرو اترو کولو نه انکار وکړو
حو د ښتنو نه بيا هم کار واخستو او لکه د يو عظيم انسان

به د یو اسناد په حول بیا په خبرو شو او ځواب به یې مکمل کړ و. یو ځل راته وائی چې ښکاري داسې لکه یو پوخ مسلم لیګي یې او پوهه ځان دې نا پوهه کړې وي، په بل ځل راته وائي چې هسې بې مطلبه سوالونه کوې، سوالونه کول دې زده کړي دي او په بله موقع یې راته وویل چې خبره وې نه اورې ولې کوڼ شوې څه؟ چې ما ورته وویل چې"زما کتاب" زه او "زما جد و جهد" ما لوستلي دي نو باچا خان راته وائي چې نه دې دي لوستي که نا زما کتاب لوستلي وو، داسې سوالونه به دې نه کول.

چې زمونږ په خبرو کښې به خاموشي راغله، باچا خان به کله کله اخوا دیخوا لرې لرې کتل او داسې به ښکاریده لکه په ناسته ناسته د پټو د نظارې نه خوند اخلي او کله کله به یې اوچت په آسمان کښې کتل د باچاخان غوږونه او سترګې په صحي حالت کښې دي. په سترګو کښې یې یو نیغ بریق دې، نیغ ورته سړې نه شي کتې آوازې یې دونډ او صفا دي هسې د باچا خان خپل عادت دې چې سړي ته نیغ نه ګوري. غالبًا دا د هغوئی د علم نشل د فلسفې یوه برخه ده. د باچاخان په مخ د رنګینۍ والي څرګندې نښانې مونږ نشي. مشرې د هر چا خوښه وي کله نامې کول هم د چا بدې نه ښې او څوک نه غواړې چې په تاریخ کښې د هغه نوم تر و نلې وي، د مشرې [illegible]

ډیر کم خلق کولی شي. باچا خان د شلمې صدۍ د پښتنو هغه مشر دې چې د هغوۍ د تشخص د پاره هغه هر څنګه تکلیف په ځان غوره کړو او تن وخت پورې په آرام نه دې ناست ماته وائی چې کوره زه په ټول بدن کښې په درد اخته یم، کله څه بیمار یم او کله را باندې څه بیماري حمله وکړي، پښتو مې کار پرې ایښې دې خو چې کله زه په دوره روان شم ځما ټول تکلیفونه روغ جوړ تسي او جک جوړ سرې شم. د حضرت باچا خان د دغې خبرې نه داسې ښکاري لکه هغوۍ د پښتنو خدمت یو عبادت ګڼي. زه د باچا خان سره دوه نیمې ګهنټې ناست وم دې دوران کښې به کله هغوۍ پښې اوږدې کړې او کله به بې را غونډې کړې ډډه بې وهلې وه، باقي تن بدن بې ښه ښکاریده او سرې تر نه دا اندازه نکولی شي چې څونه بې ډیر دې او په حوصله ځوان دې. زموږ د خبرو په دوران کښې د باچا خان یو ځلمې نمسي راغلو، هغه ورسره ډیر په طبیعت خبرې کولې. نمسي ورته لاس ورکړو تپوس بې ترنه وکړو چې نائی ورته صبا څه وخت راویږم، د ټه حساب کتاب په حقله بې ورسره خبرې وکړې او بیا ورته وائی چې نیکه بابا ستا څه پیسې ځما سره دي، زه به ستا په ځائی پیسې ورکړم، بیا ورته باچا خان وائی چې زه به ورته دستخط وکړم بیا پیسې ورکړه نمسي ورته دوې

چې نیکه بابا دا څنګه چل دی چې زۀ دلته راشم کورکښې
نه مې زړۀ وشي باچا خان ورته وائي، چې دا ځما دکور
شامت راغلې دې. وخوړۀ، خپله هم وخوړۀ او دې میلمه
باندې ئې رماته اشاره هم وخوړه.

زۀ په دا پوهه نشوم چې باچاخان خپل وینبته کومنځ
کوي او که نه، هسې کله کله به ښې په دینبتو لاس اوهلو
او په شا به ئې لکه د ځلمو حوار کړل. چې د لاس
پلني پلنې پنجې به ښې په هوا کښې پرانستې نو د لاس
لکیرې به ښې صفا صفا ښکاریدې. ما چې ترنه د عمر
تپوس اوکړو راته وائي چې ځما په عمرکښې ستا څه
مطلب دې؟ چې ما په اسرار سره تپوس وکړو، باچاخان
راته وائې چې پنځه کم سل کاله عمر به مې وي. کیدې
شي دوه کم سل کاله وي او دا هم کیدې شي چې سل
کاله مې پوره کړي وي. د توکل معامله ده، په هغه وخت
کښې به عمر نه شو لیکلې ... وخت به خلق نالوستي
وو، لیک چا کولې شو؟ چې په اخر کښې مې ترنه آټوګراف
وغوښتو، باچاخان سکوت انکار وکړو. او وئیل ښې چې
زۀ لیډر نه یم، آټوګراف ورکول د لیډرانو کار ... د
سیاسي لیډرانو او مشرانو کار دې زۀ نه سیاسي لیډر
یم او نه مشر یم چې ما ورته بیا خواست وکړو ... ښې
را نه په بل خواه کړو او هیڅ ښې ونه وئیل.

زۀ چې د باچاخان صیب سره کیناستم، هغه وخت پاڅم دوه بجې وې چې را پاڅیدم څلور یا پاوٌ باندې څلور بجې د ماز دیګر شوې وې. چې څومره وخت تیر یدو د هغوی د شخصیت اثر په ما زیاتیدو. ما نه هغوی هیڅ تپوس ونکړو چې زۀ څوک یم او د کوم ځایٔ نه راغلې یم. زۀ د هغوی په تخت پوش د هغوی ښپو ته کیناستم، یوه شیبه غلې یم، باچاخان صیب په سوچ او فکر کښې ډوب وو ولې په مخ بې سکون نښه څرګند وو، زوره خاموشي مې ماته کړه او د خبرو تکل مې وکړو.

زۀ چې ستاسو د لیدو له پاره راغلې یم. د ډیرې مودې راسې مې دا اراده وه چې ستاسو سره ملاقات وکړم؟

باچاخان ما په دې خبره ماته څخاڅ شو او راته یې وویل چې ما د لیدو له پاره ولې راغلې؟ ما کښې تا څه لیدلي دي؟ زۀ څو څه ملا نه یم. خلک ملایانو ته ځي، زۀ څه شکرانې نه غوارم، او نه زیارت یم. بل داسې ځایٔ نه دو چې ته ورغلې وې؟

تپوس - ما هم دا خیال دې چې تاسو ملا نه یې خو ستاسو سیاسي شخصیت دومره درونه او غوپ دې، د برصغیر په تاریخ کښې ستاسو کردار دومره څرګند دې او بیا په تیره تیره د پښتو د شلمې صدۍ د سیاست په حواله سره ستاسو نوم دومره خوردې چې هیڅ یو سیاسي بحث ستاسو حوالې نه بغیر مکمل کیدې نه شي او بیا دا هم یو حقیقت

دې چې تاسو د پښتون مشر او د پښتون د بیدارئ د پاره دومره کار کړې دې او دومره زیاتې قربانۍ مو ورکړې دي چې که څوک څه لیدل غواړي نو هم ستاسو لیدل ضروري دي ؟

حضرت باچا خان:۔ دا ستاسو غلط خیال دې چې زهٔ د پښتنو مشر یم۔ ما چرې د ځان د پاره د مشرۍ دعوی نه ده کړې، زهٔ د پښتنو بابا هم نه یم۔ زهٔ خدائي خدمتګار یم۔ د خدائي د پاره د پښتنو خدمت کوُم په هغوئ مې هیڅ احسان نشته او نه د هغوئ نه د خپل خدمت په بدل کښې څهٔ غواړم۔ ما ته ګوره په دې عمر کښې چې زهٔ مات ګوډ یم، ښپې مې کار نه کوی او کله څه بیمار یم او کله څهٔ خو بیا هم زهٔ د پښتنو په کوڅو کښې د هغوئ په خدمت کښې ګرځم۔ دَ الله شان ته ګوره چې کله زهٔ په دوره روان شم زهٔ جک جوړ شم او ځا بیمارئ روغې جوړې شي۔

تپوس:۔ تاسو ولې داسې وایئ چې "زهٔ د پښتنو مشر نه یم" ستاسو دَ دې خبرې نه خو داسې ښکاري لکه تاسو باندې مایوسي غالبه راغلې وي ؟

حضرت باچا خان:۔ زهٔ مایوسه کیږم نه۔ زهٔ په ژوند کښې چرته هم مایوسه شوې نه یم۔ مایوسه کیږي هغه خلق څوک چې د ځان د پاره کار کوي،

د خپل غرض او فائدې د پاره کار کوي او چې کله يې خپل غرض سرته نه رسي مايوسي دربانديې راشي زه نو چې چرته هم ځم، چرته ډوډۍ نه خورم چائې نه څښم. د خدائې د پاره کرځم. هسې پښتون ناشکره قام دې. دَ چا ښيګړه نه مني، تو بورولي کوي، دښمني کوي، په رواجونو بانديې مال دولت خرځ کوي، هرڅه کوي نو په اتفاق کيږي نه اوځکه نن ور بانديې تسما تسم تکليفونه راغلي دي. چې کله يې ځان وپيژندو دنيا به يې ومني. ګوره په افغانستان سيلاب راغے او نن د افغانستان خلق د سيلاب د چپولاندې دي. کراچۍ کښې ګوره په پښتون څه وشول؟ ځان نه پيژني، نا شکره قام دې.

تپوس:- او که ځان وپيژني؟

حضرت باچاخان:- بيا بهادر قام دې، په دنيا کښې دَ هيڅا نه په څه کم نه دې. نن ګوره امريکه چرته ورسيده جاپان څومره په ترقۍ دې. پښتون د امريکې يا جاپاني نه په څه کم نه دې (چې باچاخان دا خبرې کولې ځما پام يې د دوه ماشومانو په لوړ راګرځولو څوک چې جوخت په خواه کښې تيريدل) ګوره! دغه ماشومانو ته دې يخنۍ نه ګوره او دَ دوۍ بې ښلو پښو او بې ښلو وجود ته ګوره." دا نن د پښتون حال شو."

تپوس:۔ تاسو په دې حقله څهٔ وئیل غواړئ چې د پښتون خپل پریس، اخبار یا رساله نشته او په دا وجه دوئ سخت په تاوان کښې دي۔ دَ خپل پریس دَ نشوالي په وجه پښتون ته د جرم په حیث کتلې شي؟

حضرت باچاخان:۔ زهٔ چې د افغانستان نه راغلم، ځما دا خیال وو چې زهٔ د یو ښه معیار د یورپ د معیار یو اخبار وباسم۔ ما د ډیکلیریشن د پاره درخواست ورکړ وځما درخواست ځکه نا منظور شو چې حکومت نه غواړي چې زمونږ خپل ښه اخبار وي۔ ما نه وایٔ چې د اخبارنوم به "پښتون" نه وي۔

تپوس:۔ چې د اخبار ضرورت دې "په پښتون" باندې زور ولې؟

حضرت باچاخان:۔ "اخر که نوم پښتون وي نوڅه حرج دې خبره دا ده چې پنجاب مونږ غلامان ساتل غواړي طاقت ټول د اسلام آباد سره دې۔ ګوره کنه د صوبې د حکومت دومره طاقت هم نشته چې مونږ ته د اخبار اجازه راکړي هسې یوه خبره بله هم ده او هغه دا چې پښتون د اخبار رسالې کار کسب نه کوي په هر کار باندې مال خرچ کوي ولې په کتاب یا په اخبار پیسه نه خرچ کوي د نوم او نمائش د پاره پیسه خرڅ کوي۔

تپوس:۔ خبره جي دا ده چې دَ اخننوجوګه اخبار

هلتهو نشته مثلاً تاسو وکوری "شهباز" اخبار به پښتو خلقو لوستو او اوس ورته کوري هم نه ؟

حضرت باچا خان:- او د شهباز معیار خو د پنجاب او د اُردو د اخبارونو نه هم ښکته پرېوتي دي.

تپوس:- د يو ښه او مؤثر پرلیس نه بغیر د قام په فکر کښې يو والي نشي راتلي ؟

حضرت باچا خان:- که څوک داسې وي چې د قام د پاره کارکول غواړي، د ځان د پاره اخبار نه چلوي، غریب وي او د خدمت جذبه لري او اخبار، يو ښه اخبار چلولي شي نو زه د هغه مدد نه تیار یم، پیسې ورکولو ته تیاریم څوک چې وي ځان د خدمت د پاره وقف کولي شي راوړاندې دِ شي.

تپوس:- تاسو به د اخبار د پاره فنډ ورکړی ؟

حضرت باچا خان:- او.

تپوس:- ځنه خلق دا خیال کوي چې ستاسو د عدم تشدد فلسفې پښتون ته نقصان ورکړو ؟

حضرت باچا خان:- چې څوک دا خیال کوي هغوی به بې کوي ما چې کوم وخت کښې د عدم تشدد پالیسي اختیار کړه، هغه وخت کښې انګرېز ښه په قوت کښې وو، انګرېز ظالم حکمران وو. هغه وخت د انګرېز ظلم او زور پښتون بې زړه کړي وو او عدم تشدد په پښتون کښې زړه ورتیا را ژوندې کړه

عدم تشدد په سړي کښې د مزاحمت قوت زیاتوي، سړي ته حوصله ورکوي، په سړي کښې استقلال زیاتوي او اخلاقي جرأت پیدا کوي.

تپوس:- جي! تاسو خپل کتاب کښې هم په دې خفله ذکر کړې دې.

حضرت باچاخان:- که تاسو څما کتاب لوستې وُو- د دې تپوس ضرورت به نه وو، تاسو څما کتاب نه دې لوستې، په توکل خبرې کوې.

تپوس:- خفیفت دا دې چې ما ستاسو کتاب "زګه او زما جد وجهد" لوستې دې، ستاسو په کتاب کښې ډیر څه موند ې شي، د لوستو ورکښې ډیر څه دي څو اوس ورباندې پابندي دګه؟

حضرت باچا خان:- ما دا کتاب د پښتنو د پاره لیکلې وو، ما د ذاتي فائدې د پاره نه دې لیکلې. دې کتاب کښې د لیکلو نه ډیر څه پاتې شوي دي. ما دا یو سوتنل کتاب لیکلې دې. د دې مقصد د پاره چې پښتون کښې سوتنل څوئې خصلت پیدا شي څو لکه څنګه چې ما وړاندې د وښل پښتون په کتاب او اخبار پیسه نه ورکوي. او ګوره څما په کتاب کښې څه داسې مواد دې چې پابندي ورباندې ولګولې شوه؟ د کتاب ګناه دا وه چې دا غفار خان لیکلې دُو. ستاسو په ملک کښې زوړ ور هوښیاران خلق دي. (په دې خبره باچا خان د موسیدو) او چې په کوم کتاب پابندي ولږي هغه زیات په شوق سره لتهولې

شي. څو پښتون د لوستوکار نه کړي.

تپوس:- د پښتون د ځلمي ګوُل دا خیال دې چې د اسلام
نوم د استحصال د پاره په کار را وستې شي؟

حضرت باچاخان:- دکوم اسلام خبرې کړې، اسلام خو ک
ملایانو دلاسه ختم شو. دې خبرې ته ستاسو پام نه دې چې
په اسلامي ملک کښې زور نه وي، جبر نه وي، زیاتي نه وي.
بې انصافي نه وي دلته خو قسما قسم اخلاقي مرضونه عام شوي
دي. یو ځل ضیاء الحق ماته لیده و ته راغلې وو د اسلام زندګا
باد نارې مې غوږدلو ته راغلې ما نې نه تپوس وکړو چې یا
هلکه دا بیا دَ اسلام په نوم څه لوبه جوړه کړې ده؟ اسلام
خو دلته د هر چا د خپلې خوښې څیز جوړ شوې دې، دې کښې
شک نشته چې د اسلام په نوم، پښتون د اسلام نه لرې
کړې شو چې د اسلام نه لرې شو، قومیت بې خراب شو.

تپوس:- په کراچۍ کښې په پښتون باندې بدې ورځې راغلي
دي، وهل هم خوري او بدنام هم شول. ستاسو په دې حقله
څه خیال دې؟

حضرت باچاخان:- په دې حقله ځما د اخبار بیانونه دلوله
ما چې څه وئیل غوښتل هغه مې وئیلي دي.

تپوس:- تاسو چې د پښتونستان غږ په لنډه تنګ وخت
کښې وکړو، دا په غوره نه وه چې د تقسیم نه دیر وړاندې
تاسو دا غږ کړې وُو؟

حضرت باچاخان:۔ د شکل نه سم هوښیار سړي ښکاري، خو ذهن دې د مسلم لیگ دې. دا سوال نا پوه خلق را پورته کوي۔ چې کله د برصغیر د تقسیم فارمولا منظوره شوه، ما ته محسوسه شوه چې هندو ما ته دوکه راکړه، لارډ ماؤنټ بیټن د ریفرنډم تجویز وړاندې کړو، ما ورته ووئیل چې برصغیر پریکوې شي نو زمونږ د پاره هډو د خوښې ضرورت نشته ولې چې د تقسیم په صورت کښې مونږ د بهارت سره اوسیدې نشو او کنه خا مخا د ریفرنډم شوق لرې او شرط پوره کول غواړې نو بیا ریفرنډم په دې سوال په کار دے چې د صوبې خلق د پاکستان سره اوسیدل غواړي او که نه پښتونستان غواړي دا ریفرنډم په مونږ را وتپلې شو، هډو ضرورت یې نه وو۔ او هم دا وجه وه چې ما د ریفرنډم مخالفت وکړو۔ او چې د کله نه پاکستان جوړ شو، وراني چې هر څه کیږي د باچا خان په حساب کتاب کښې اچولې شي۔

تپوس:۔ د موجوده سیاسي حالت په حقله ستاسو څه خیال دے ؟

حضرت باچاخان:۔ د جناح پاکستان وران شوې دې په پاتې شوې ټوټې کښې پنجاب غالب اکثریت لري. ورکوټې درې صوبې سنده، بلوچستان او پښتونخوا د غلامانو په څیر ژوند تیروي. اوس مونږ په دوه شرطونو یوځاې اوسیدل غواړو۔ اول دا چې د مستقبل په آئین او دستور جوړولو

کښې به تیولې صوبې شریکې ساتلې شي او دوئیم دا چې زمونږ په صوبه کښې څه دي دا به زمونږ وي، پنجاب به دربانديې ډاکه نه اچوي. کوره زمونږه صوبه یوه مالداره صوبه ده خو د مالدارۍ فائدې پنجاب ته رسي. ماته د کنفیډریشن واله، حفیظ پیرزاده او ممتاز بهټو راغلي وو، هغوی ځما سره خبرې اترې وکړې، ما هغوی ته او وئیل چې په دوبې به تاسو ته څوک حکومت درکړي. عجیب هم دوبې کتهلي وو هغه ته چا حکومت ورکړو ؟ د لته خو یوه صوبه پنجاب حکومت کوي.

تپوس:- تاسو د پښتون د اتفاق او یو والي د پاره ډیر زیات کار کړې دې، ستاسو څه خیال دې چې ستاسو د مرګ نه وروستو به د پښتون څه حال وي ؟

حضرت باچاخان:- دا فکر ځما کار نه دې، د مستقبل په حقله فکر کول ستاسو کار دې. یاد لرې چې هر یو کار چې په اتفاق وي، برکت ناک وي خو ماته خو دا سې ښکاري لکه پښتون باندې د خدائې قهر وي ځکه وربانديې تکلیفونه راغلي دي چې کوم قام بې عمله او بې کرداره شي، الله وربانديې د تکلیف شپې ورځې نازلې کړي. (په دې موقع باچا خان د قرآن آیتونه ولوستل او ترجمه بې وکړه)

تپوس:- جي ! خلق وائي چې تاسو سخت شوم یې ؟ دا حقیقت دې ؟

حضرت بلچاخان:- که زه شوم یم، سخي څه ته وائي؟ ماته په اوس د سخي تعریف کوئ.

تپوس:- زه نه وایم، خلق وائي، د یو بل نه اوریدلي خبره ده؟

حضرت بلچاخان:- نو څو چې تا د سخي تعریف نه وي کړي ځما سره به خبرې نه کوې.

تپوس:- سخي داسې کس ته وائي چې د غریبانو مدد کوي د هغوی سره لاس او اخلاص کوي او که څوک ورته سوال وکړي، مایوسه کوي به ئې نه؟ دې ته سخي وائي؟

حضرت بلچاخان:- که د سخي تعریف دغه وي، زه سخي یم.

تپوس:- او چې تاسو د پښتنو ډیر خدمت کړی دې؟

حضرت بلچاخان:- د خدمت خبره نه کوم، د ورکړې خبره کوم. زه په یو لاس ورکړه درکوم او بل لاس ته به ئې پته نه وي او خلق چې څه ورکوي وړاندې د تصویر ویستو بند وبست وکړي د ځان تشهیر کوي. یوه خبره یاده لره چې یو خوددار او غیرتي انسان هیڅ چا ته لاس نه نیسي او که څوک څه ورکوي، نه به ئې اخلي داسې ما ډیر کسان لیدلي دي چې هغوی د چا د لاس نه هیڅ نه اخلي.

تپوس:- تاسو خو ماته هلته د چائیو سره ونکړو؟

حضرت بلچاخان:- چې ته راغلې [illegible] نه د ډوډۍ تپوس وکړو، چې ډوډۍ دې نه خوړله د چائیو د پاره به دې ویلي

دوه او ستا په خولې څه چل نشوې وو ؟

تپوس:۔ ناسو به ما ته اټوګراف راکړئ ؟

حضرت باچاخان:۔ اټوګراف لیډران ورکوي سیاست کاران ورکوي زۀ سیاست کار نه یم او نه لیډر او نه شریم۔ زۀ خدائي خدمتګار یم۔ ما چرته چا ته اټوګراف نۀ دې ورکړې۔

څلور بجې شوې وې، وخت داسې تېر شوې وو لکه یو ساعت، زۀ راپاځیدم د حضرت باچاخان نه مې اجازت واخستو او هلته موجود دوه کسانو نه مې لاس ورکړو او روان شوم۔ د ماز دیګر سیورې راخوریدونکي وې، چې لږ لاړم په شامې وګتل بجې تاجه بادشاه حضرت باچاخان په تخت پوش ناست د آسمان په لورې ګورې او چت کتل او په دې سوچ کښې روان شوم چې که باچاخان یو لوئې انسان نه دې نو څوک لوئې انسان کیدې شي ؟

# منته او دُعا

زهٔ دَ دوي الله دېره منته کوُم چې ما ته يې د حضرت باچا خان د خدمت کولو توفيق دا کړو زهٔ لاس په دعا يم چې زهٔ داسې نور خدمت اکړې شم. دامې هم د زړهٔ دعا ده چې پښتنو شاعرانو او ليکوالو ته دِ الله تعالیٰ توفيق ورکړي چې د پښتو ژبې، ادب او د خپلو قامي مشرانو خدمت اُکړې شي او دا زړهٔ او در نه ژبه ترقيامته پورې آباده او شادابه پاتې شي.

زهٔ د خپلو ماشومانو او خپل ټبر هم منته کوُم چې ځما د ليک لوست وخت يې هميشه ځما ذاتي وخت کنلې دې او ځما ډاډګيرنه يې کړې ده.

په خاص ډول دَ دې کتاب د کاتب شمس العارفين دَ زړهٔ د اخلاصه منته چې يو ښه ملګرې او دوست هم ثابت شو او دې لړکښې يې ځما سره ټس يک کوشتونه اوکړل.

غني ختک

سپين خاک۔ تحصيل نوښار

# پېژندګلي

د پښتو ادب او پښتون قوميت په هغه ختذمتګارو کښې چې د هرې طمعې او لالچ نه بغير د پښتو خدمت کوي، د عبدالغنی خان خټک نوم لکه د يو ځلانده ستوري پرقيږي. که زه دا خبره اوکړم چې دهٔ خپل ژوند د پښتو ادب، تاريخ او ثقافت د ښکاره کولو د پاره وقف کړے دے نو بې ځايه به نه وي. د پښتو تاريخ ئې د دلچسپۍ خصوصي ميدان دے.

په دے لړ کښې ئې په پښتو، اردو او انګريزۍ ژبه کښې بے شميره مضمونونه او ليکونه په مختلفو مجلو او اخبارونو کښې خواره شوے دي. څه موده وړاندې په کوټه کښې د پښتو عالمی کانفرنس له اړخه د دهٔ د خدمتونو د اعتراف په توګه دهٔ ته ايوارډ هم ورکړے شوے دے.

د ضلع نوښار د سپين خاک په خاؤره زيږيدونکے دغه سور سپين ځوان نن صبا د مارګلې په لمن کښې د اسلام آباد په ښار کښې د سرکاري وظيفې سر ته رسؤلو سره سره د پښتو او پښتنو په خدمت کښې بوخت دے. دهٔ د دغه خدمت شورو په اسلام آباد کښې د جوړيدونکې "پښتون وررولي" نومې تنظيم نه اوکړه. روستو دغلته د ادبی ملګرو يو تنظيم "پښتو ادبی سوسائيټی" چې کله جوړيدله نو دے ئې په بنيادي تيګه اينښودونکو کښې شامل شو او پرله پسې څو کاله د دغه ټولنې بلامقابله چئيرمين اوټاکلے شو.

پښتون قوم نه يواځې د ده دغه خدمتونو ته د قدر په سترګه ګوري بلکه دا طمع ترې لري چې دے به هم دغه شان د پښتون قوم د پاره د جبر په تيارو کښې لکه د ځلنده مشال رڼاګانې خوروي.

فيض محمد ګدون (رياض سعودي عربستان)